د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د
تالیف لوی ریاست

# د ښوونکي کتاب
# د پښتو ژبې د تدریس لارښود
## یوولسم ټولګی




Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او
د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د
تأليف لوی رياست

# د ښوونکي لارښود
# پښتو ژبه او ادبيات
## يوولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۲هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ليکوالان:**

ــ مؤلف محمد سهراب ديدار

ــ مؤلف ميرويس ځدراڼ

ــ مؤلف محمد عزيز حسين خېل

ــ د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني

**د ژبې اډيټور:**

ــ محمد قاسم هيله من

**ديني، سياسي او فرهنگي کمېټه:**

ــ حبيب الله راحل د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د پراختيا په لوی رياست کې سلاکار.

**د څارنې کمېټه:**

ــ دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين

ــ دکتور شيرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول

ــ د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

**کمپوز:**

ــ صدرالدين ابراهيم خېل

**ډيزاين:**

ــ صفت الله مومند

**د چاپ د سمون چارې:** محمد کبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئيس

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مودی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزیر پیغام

## گرانو استادانو او ښوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې چمتوکیږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم د وخت له غوښتنوسره سم علمي او رغنده پراختیا ومومي. البته نه ښايي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

د ښوونکی د لارښود دا کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، پر همدې بنسټ چمتو اوترتیب شوی دی. د تدریس د نوو میتودونو له مخې فعالیتونه او معلوماتي مواد په کې ورزیات شوي دي چې په ډاډ سره به د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو د فعال ساتلو لپاره گټور او اغېزمن وي.

هیله من یم د دې کتاب منځپانگه، چې د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تالیف او چمتو شوې، ستاسو درنو استادانو د گټې وړ وگرځي. له فرصت څخه په استفادې د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه غوښتنه کیږي د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې مرسته وکړي چې په دې توگه د پوهنې د نظام موخې او هیلې ترسره شي او ځوان نسل او هېواد ته ښې پایلې او برياوې ور په برخه کړي.

زموږ گران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونه مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو او ارزښتونو، د ټولنې د څرگندو اړتیاوو، ملي گټو او وطنپالنې له روحیې او د ساینس او ټکنالوژۍ له نوو علمي معیارونو سره سم پراختیا ومومي.

ددې سترې ملي موخې د تر لاسه کولو لپاره د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده گټورو وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي او د ښوونکي د لارښود کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه، چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې برخه اخیستې او همدارنگه له ملي او نړیوالو درنو موسسو او نورو ملگرو هېوادونو څخه، چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو، تدوین او د درسي او د ښوونکي لارښود کتابونو په چاپ او وېش کې یې مادي یا معنوي مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم او د لا نورو مرستو هیله یې لرم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** ........................ **مخ**


سریزه: ........................ ۱
ښوونیز یا تعلیمي نصاب څه شی دی؟ ........................ ۱
د افغانستان د پوهنې ښوونیزه او روزنیزه پالیسي ........................ ۲
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې عمومي موخې (هدفونه) ........................ ۴
د تدریس لارې چارې (ستراتیژي) او نمونې ........................ ۱۰
د پښتو ژبې د زده کړې د لوست کتابونه ........................ ۱۶
د مضمون د تدریس لارښود ........................ ۱۸
لومړی لوست: مناجات ........................ ۲۰
دویم لوست: سیرة النبيﷺ ........................ ۲۳
دریم لوست: د سولې ارزښت ........................ ۲۷
څلورم لوست ټولنه او نوی نسل ........................ ۳۰
پنځم لوست: تشبیه (د بیان علم) ........................ ۳۳
شپږم لوست: مېرمن ملاله ........................ ۳۷
اووم لوست: پښتو ډرامه ........................ ۴۰
اتم لوست: بایزید روښان ........................ ۴۶
نهم لوست: په افغانستان کې د مطبوعاتو لنډ بهیر ........................ ۵۵
لسم لوست: ترکیب او له جملې سره د هغه توپیر ........................ ۶۱
یوولسم لوست: پښتو قصیده: شیخ اسعد سوري ........................ ۶۷
دولسم لوست: د چاپېریال ساتنه ........................ ۷۲
دیارلسم لوست: د پښتو ادبیاتو دویمه دوره ........................ ۷۵
څوارلسم لوست: په ټولنیز ژوند کې د ښځو ونډه ........................ ۸۲
پنځلسم لوست: ژمنه: یوه روزنیزه کیسه ........................ ۸۶
شپاړسم لوست: د لیکنښو سمه کارونه ........................ ۹۰
اوولسم لوست: قیام الدین خادم ........................ ۹۳
اتلسم لوست: پښتو ادبي سبکونه (روښان، خوشحال خټک، حمید مومند، رحمان بابا) ........................ ۹۷
نولسم لوست: ادبي لیکونه: لور ته د چارلي چاپلن لیک ........................ ۱۰۲
شلم لوست: نشه یي توکي (هیرویین) ........................ ۱۰۷
یوویشتم لوست: درواغجنه ونه (یوه روزنیزه کیسه) ........................ ۱۱۰
دوه ویشتم لوست: ارزاني خېشکی ........................ ۱۱۶
درویشتم لوست: د معلولیت عوامل ........................ ۱۲۱
څلرویشتم لوست:مرادعلي صاحبزاده(رح) ........................ ۱۲۳
پنځه ویشتم لوست: په پښتو ادب کې د مېرمنو برخه ........................ ۱۲۷
شپږویشتم لوست: یوهان ولفګانګ فون ګویته ........................ ۱۳۱
اوویشتم لوست: د بشري حقوقو تاریخچه ........................ ۱۳۴
اته ویشتم لوست: ادبي معاصر نثر ........................ ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه:

## ښوونیز یا تعلیمي نصاب څه شی دی؟

په دې اړه چې تعلیمي نصاب څه شی دی، هرڅوک بېلابېل نظر لري، څوک يې درسي مفردات ګڼي او څوک يې درسي کتاب بولي. د ښوونې او روزنې پوهانو يې بېلا بېل تعريفونه کړي دي. تعليمي نصاب له ټاکلې پوهې، مهارتونو او ذهنيتونو څخه عبارت دی چې يوه تعليمي موسسه يې زده کړه د خپلو زده کوونکو لپاره په پام کې نيسي. په بله وينا تعليمي نصاب د يوې تعليمي موسسې د ښوونيزو او روزنيزو زده کړو د پروګرام ټولې زده کړې دي چې درسي کتاب، درسي مرستندويه توکي، د ښوونکي لارښود، تجربې او عملي کارونه پکې شامل دي. په لنډ ډول ويلای شو، چې ښوونيز يا تعليمي نصاب هغه لارښود دی چې د ښوونې او روزنې ټول فعاليتونه پکې شامل او تر لاسه کول يې هدف دی.

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې عمومي هدفونه، د افغاني ټولنې د ارزښتونو او د علم او پوهې د هراړخيزې پراختيا په پام کې نيولو سره ښوونې او روزنې ته د يوې ټولنې د اړتياوو پر بنسټ ټاکل شوي دي. تعليمي نصاب تل د بدلون په حالت کې دی او د بشري ټولنې ورځنيو غوښتنو ته د ځواب ويلو په خاطر لا پسې غوړېږي او پراختيا مومي.

هغه څه چې نن يې د ښوونې او روزنې د ماهرينو پام ځانته اړولی، ددې پوښتنې ځواب دی، د مفرداتو چمتو کوونکي او د درسي کتابونو ليکوال بايد په ټاکلو لارو چارو څه شی، څرنګه او څومره زده کونکو ته ورزده کړي چې په اوسني او راتلونکي ژوند کې يې ګټور وي؟

ټول په دې نظر دي چې کوچنيان په بېلابېلو شرايطو کې وده کوي او په راتلونکې کې له نوو موضوعګانو سره مخامخ کيږي. له دې امله زياتره ددې پېژندل ډېر سخت دي، چې هغوی ته د څه شي زده کړه اړينه او د څه شي ورته نه ده او د زده کړې تر ټولو اغېزمنه لاره کومه يوه ده.

له بله پلوه د ځوانۍ پېر د خپلواکې پرېکړې د نيولو، د مسؤوليت د منلو، راتلونکې ته د کتنې او په مسايلو کې بيا غور په څېر ځانګړتياوو له مخې دا پېر له نور پېرونو څخه جلا کوي. ځوانان له ټولنې سره رغنده راشه درشه او د لويانو نړۍ ته د ورننوتو لپاره د بېلابېلو وړتياوو موندلو ته اړتيا لري. هغوی بايد پوه شي هغه ټولنه څنګه ده چې دوی پکې اوسيږي او څومره پوهه او علمي وړتياوې ورته پکار دي. هغوی ځان پېژندنې ته اړتيا لري، پېښو او حوادثو ته څنګه ګوري، حقايق څنګه درک کولای شي، څنګه انتخاب کولای شي او څنګه عمل کوي؟ هغوی هغه پوهې ته اړتيا لري چې يې فکر کولو، مطالعې او په ټولنيز ژوند کې تحقيق ته وهڅوي.

پورته وينا ته په پام د (اړوند ټولګې) د درسي مفرداتو په چمتو کولو کې، په داسې حال کې چې له علمي اړتياوو سره تړاو لري، د زده کړې په نوو لارو چارو ټينګار شوی، ترڅو زده کړه د پخوانيو لارو چارو پرځای پر هغه زده کړې ډېر ټينګار وشي چې د فعالې،ګډې، ابتکاري او انتقادي زده کړې په لارو چارو ولاړه وي.

په فعالې او ګډې (مشارکتي) زده کړې يا فعالې زده کړې (Active Learning Method) کې ښوونکی د تدريس په بهير کې ستره ونډه لري. د ښوونکي دنده په دې نقش کې د معلوماتو او پوهې په لېږدونه پای ته نه رسيږي. هغه په زده کړې، تجربې، غور نيولو او حفظولو پورې تړلې نه بولي. په دې نقش کې ښوونکی د زده کړې لارښود او مرستندوی کوونکی دی. هغه د مطلبونو د يو اړخيز انتقال پر ځای د زده کړې پر لارو چارو، د تجربې په ترلاسه کولو او د مسئلې په حلولو ډېر ټينګارکوي. د ښوونکي د لارښود د کتاب يوه موخه هم د زده کړې لپاره د لارو چارو وړاندې کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي ددې لارښود د تاليف د نورو موخو او لاملونو په ترڅ کې د زده کړو د موخو څرګندول، د محتوا (متن) د ټاکلو اصول او د يوولسم ټولګي د پښتو ژبې د لوست د کتاب ارزول دي.

اړوند درسي کتاب د پښتو ژبې د زده کړې لپاره چمتو شوی او د زده کوونکو د زده کړې لپاره پکې د ډېرو تجربو رامنځته کول په پام کې نيول شوي دي، له دې امله د ښوونکي د لارښود د کتاب چمتو کول اړين بلل شوي دي. بايد ومنو چې تدريس او زده کړه يو ابتکاري او تجربي کار دی او نوښتګر او مبتکر ښوونکي په دې برخه کې نوي، نوي شيان او لارې چارې رامنځته کوي. دا بايد هم له ياده ونه ايستل شي چې د زده کړې د ستراتيژۍ په ټاکلو کې، موخو، د ارزونې لارو چارو، د زده کوونکو دګډون شونتيا او نورو اصولو ته، چې د ارواپېژندنې، د تربيتي ارواپوهنې او د زده کړې له ارواپوهنې سره په همغږۍ کې زموږ په وړاندې پراته دي، سمه پاملرنه وشي. له ياده ونه ايستل شي، چې متن د کومو اصولو له مخې وټاکل شي، د محتوا د همغږي کولو اصول کوم دي؟ د تدريس او ارزونې لارې چارې کومې دي او څه اهميت لري؟ دا چې د مهمو مفهومونو راايستل څنګه سرته رسيږي، د ښوونکی په دې لارښود کې څرګند شوي دي.

**د ښوونکي لارښود**

د ښوونکي لارښود د ښوونکو د زده کړې يوه وسيله ده؛ هغه کتاب دی چې له ښوونکي سره مرسته کوي د يو درسي ساعت او يا د تعليمي دورې په اوږدو کې د خپل تدريس پلان چمتو کړي.  د ښوونکي په لارښود کې د هر لوست عمومي او خصوصی موخې، د تدريس وسايل، لارې چارې، د زده کوونکو د انګېزې پارول، د ښوونکي فعاليتونه، د زده کوونکو فعاليتونه، د زده کوونکو د زده کړې د تحکيم برخه او  ارزونه او په پای کې د لوست په اړوند اضافي معلومات او اخځليکونه په پام کې نيول شوي دي. د ښوونکي لارښود ددې لپاره ليکل کيږي، چې ښوونکي د درسي پلان له جوړولو او د زده کړې په يو پړاو کې د ښوونې او روزنې له عمومي موخو سره بلد کړي. له ښوونکو سره مرسته وکړي د هر لوست مفاهيم  او موضوعات وپېژني، د لوست په اړوند ورته اضافي معلومات چمتو کړي، د هېواد په ټولو ښوونځيو کې د درسي کتاب د يو ډول او همغږي تدريس لپاره لاره هواره کړي او په دې توګه د افغانستان په ټولو ښوونځيو کې د لوست تدريس په پام کې نيول شوې دورې کې سرته ورسوي او درسي کتاب بشپړ کړي. دا خبره اړينه کړي، چې درسي کتاب، هغسې چې د هېواد په پلازمېنې يا د بل لوی ښار په کوم عصري ښوونځي کې تدريسيږي، د هېواد د لرې پرتو ولسواليو او بانډو په ښوونځيو کې  هم هماغسې يو ډول او يو راز تدريس شي او لکه چې ويل کيږي د يو متوازن  او هر اړخيز معارف لپاره په ټول هېواد کې لاره هواره کړي.

## د افغانستان د پوهنې ښوونيزه او روزنيزه پاليسي

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون په شپاړسمه، درې څلويښمه، څلور څلويښتمه، پنځه څلويښتمه، شپږ څلويښتمه او اووه څلويښتمه ماده کې د درج شوو احکامو او د افغانستان د پوهنې د قانون د شپږمې، اوومې مادې او نورو احکامو له مخې او د هېواد د معنوي او مادي اړتياوو او واقيعتونو ته په پام او د افغانستان د ښوونې او روزنې د نظام د اساسي ليکو د انځورولو په خاطر د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پوهنې ښوونيزه او روزنيزه  پاليسې په لاندې ټکو کې رانغاړل کيږي:

۱.  د خدایﷻ پالنې، د اسلامي احکامو او ارزښتونو تطبيق ته د پابندۍ، وطن دوستۍ، د ملي يووالي ټينګښت، ګډ ژوند او بشر دوستۍ په روحيې د هېواد د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او ځوانانو لپاره، که ښځينه وي يا نارينه، د ښوونې او روزنې د زمينو چمتو کول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. له خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، د ځمکنۍ بشپړتیا، اسلامي ورورولۍ، ملي پیوستون، له سولې سره د مینې او فرهنګي بډاینې څخه د دفاع، د توپیر او زور زیاتي د ټولو بڼو او ډولونو د له منځه وړلو د روحیې پیاوړتیا،

۳. د ښوونیزو او روزنیزو موسسو بیا رغاول، جوړول، پراختیا او سمبالول،

۴. په نړۍ کې له علمي مثبتو بدلونونو سره جوخت د هېواد د ښوونیز اوروزنیز سیستم پراختیا،

۵. د نورو هېوادونو له ښوونیزو اوروزنیزو رغندو او بریالیو تجربو څخه ګټه اخیستنه،

٦. د جنس، توکم، ژبې، مذهب، نژاد او ټولنیز دریځ له په پام کې نیولو پرته ټولو ته تر لومړنیو او منځنیـــو (۱–۹) ټولګیو پورې په جبري او وړیا توګه د لومړنیو زده کړو چمتو کول،

۷. په (دولتي او خصوصي) ښوونځیو کې په هغو ژبو تدریس، چې په اساسي قانون کې تسجیل شوي دي.

۸. د اسلام د سپیځلي دین له زده کړو، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ارزښتونو او د افغـــاني ټولنې له دودونو سره سم او د پیداګوژیکي اصولو او عملي تجربو ته په پام او د افغانستان د ښوونې او روزنې د کیفي ښــــه والي په خاطر د افغانستان د پوهنې سیستم د هلکانو او نجونو د جلاوالي پر بنسټ ولاړ دی. له دې امله ګــډه زده کــړه د لومړنۍ دورې له دریم ټولګي څخه وروسته د زده کړې په هیڅ یوه موسسه کې، که دولتي وي یا خصوصي، پــــه کورونـــو، ورزشي کلپونو او نورو ځایونو کې مجاز نه ده.

۹. د دریمو ژبو تدریس (د اساسي قانون ۱٦ ماده) په اړوندو سیمو کې د یو مضمون په توګه،

۱۰. د بېځایه شوو کورنیو، کډوالو او د ځانګړو اړتیاوو لرونکو زده کوونکو ته د ښوونې او روزنې د زمینو چمتـــو کول،

۱۱. د اسلامي زده کړو د مدرسو، عمومي زده کړو، حرفوي او مسلکي ښوونځیو او د ښوونکو د روزنې موســـسو پراخوالی او د هغوی سمبالول،

۱۲. د ښوونکو د علمي او مسلکي سویې لوړول،

۱۳. د ښوونکو د ژوندانه د حالت سمول،

۱۴. د بیسوادۍ د له منځه وړلو، د حیاتي سواد او د کارګري متممو ښوونځیو (نرینه او ښځینه) د پراخوالي لپـــاره هلې ځلې،

۱۵. د افغانستان د پلي شوو قوانینو په اډانه (چوکاټ) کې د پوهنې د مسلکي تخصصي، اداري ظرفیتونو په رغاولو، سمبالولو او لوړولو کې د هېوادونو، نړیوالو موسسو، غیر دولتي موسسو او اشخاصو له بې غرضه او بشر دوستانه مرســـتو او ونډې څخه ملاتړ،

۱٦. د متوازن معارف پیاوړتیا او د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ښوونیزو او روزنیزو امکاناتو ســـم او عادلانـــه ویش،

۱۷. د تاوتریخوالي، تبعیض، ناروا جګړو، نشه يي توکو، مسکراتو او اخلاقي مفاسدو په څېر د نـــاوړو پدېـــدو پـــر زیانونو د زده کوونکو خبرول،

۱۸. ازادۍ، سولې، سوله ییز ګډ ژوند، شورا او دموکراسۍ، بشري حقونو ته درناوی او د استوګنې د چاپیریـــال د ساتنې په څېر غوره ارزښتونو ته د زده کوونکو لارښوول،

۱۹. له اسلامي احکامو او ارزښتونو سره سم د نجونو ښوونې او روزنې ته هراړخیزه پاملرنه او د نجونو او هلکانو د ښوونځیو ترمنځ د توازن رعایت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰. خاصو زده کړو (ډېرو هوښيارو، ړندو، کڼو او ذهني وروسته پاتې زده کوونکو) ته پام او د ښوونې او روزنې لپاره يې اغيزمنې او ګټورې لارې چارې لټول،

۲۱. د هېواد د پلي شوو قانونونو په اړانه کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې د تعليمي نصاب، په (دولتي او خصوصي) ښوونځيو کې له تدريس او درسي موادو څخه د ګټې اخيستنې څارنه او نظارت،

۲۲. د ورزش، سپورت او بدني روزنې د ودې لپاره د زمينې چمتو کول،

۲۳. د علمي برياوو او مسلکي تجربو د راکړې ورکړې په موخه د تعليمي نصاب د پراختيا، د اسلامي زده کړو د معينيت او د ښوونکو د روزنې، د ساينس د مرکز د رياستونو او په هېواد کې د اړوندو پوهنتونونو او نورو ارګانونوتر منځ د اړيکو ټينګښت او د لا زياتې همغږۍ رامنځته کول،

۲۴. د افغاني ټولنې له اړتياوو سره سم د اسلامي زده کړو د مدرسو هراړخيزه وده، پراختيا او رغنده کول.

**د لوی خدای ﷻ په مرسته به د هېواد په پوهنه کې ددغې پاليسۍ په پلي کولو لاندې لوبې پايلې ترلاسه شي:**

- په اسلامي روحيې د هېواد د اولاد روزل، د الله جل جلاله د رضا ترلاسه کول او د يوې سوکاله او نېکمرغې ټولنې رامنځته کول،
- د ملي هويت ساتنه،
- د مسلمانو، هېوادپالو، ګټورو، ژمنو او متمدنو انسانانو په توګه د هېواد د اولاد سالمه روزنه،
- د نړۍ او ټولنې له علمي معيارونو سره سم د بريمن تطبيق په موخه د پوهې، مهارتونو او رغنده تفکر تر لاسه کول،
- د کار موندلو لپاره د لازمو وړتياوو د ترلاسه کولو او د کار مارکيټ ته په بري سره د ننوتو په منظور د زده کوونکو د پوهې د کچې لوړول،

## په افغانستان کې د ښوونې او روزنې عمومي موخې (هدفونه)

د هېواد د ښوونې او روزنې نظام د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د احکامو، د پوهنې د قانون او پاليسۍ پر بنسټ او د افغاني ټولنې اړتياوو او واقيعتونو ته په پام د زده کوونکو د سالمې روزنې په خاطر لاندې موخو ته ځان رسوي:

**الف ــ عقيدتي او اخلاقي موخې**

۱. د اسلام د سپېڅلي دين پر اساساتو او ارزښتونو د ايمان او عقيدې پياوړتيا، د قرآني زده کړو او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د حديثو پر بنسټ د اسلامي ليد پراخوالی،

۲. د خدای ﷻ د پېژندنې په منظور د ځان پېژندنې د روحيې پياوړتيا،

۳. پر ځان د ويسا او پر اخلاقي ښېګڼو د پابندۍ د روحيې پياوړتيا،

۴. د نظم او د دسپلين د منښت د روحيې وده او روزنه او د قانوني احکامو او ارزښتونو منل،

۵. د ديني، ټولنيزو، ښوونيزو او روزنيزو ارزښتونو په وړاندې مسؤوليت ته د غاړې ايښودلو د روحيې پياوړتيا،

**ب ــ د زده کړې او روزنې موخې**

۱. د زده کړې د مهارتونو لاسته راوړل او پياوړتيا، لکه: اوريدل، خبرې کول، لوستل، ليکل، په رسمي او بهرنيو ژبو کې د شمېر او حسن خط کارول،

۲. د پوهنو، فنونو او معاصرې ټکنالوژۍ زده کړه او د اړتيا وړ فردي او ټولنيزو مهارتونو ترلاسه کول،

۳. د زده کړې د وړتياوو وده او د زده کړې په اوږدو کې ځانې زده کړه او ارزونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. په علمي، ادبي، فرهنګي او فني ډګرونو کې د تفکر، استدلال، مطالعې، څیړنې، تشخیص او نوښت د وړتیـــاوو وده او پراختیا،

۵. د فردي او ټولنیزو ستونزو د پېژندلو او هوارۍ لپاره د وړتیاوو ترلاسه کول،

**ج ـــ فرهنګي، ادبي او هنري موخې**

۱. د فرهنګ، ادب او رغنده هنر په برخو کې د زده کوونکو د فطـــري وړتیـــاوو وده او پراختیـــا او د تـــاریخي، فرهنګي، ادبي میراثونو او شتمنیو د پېژندلو، ساتلو او د درناوي روحیه،

۲. د افغانستان، اسلامي تمدن او د نورو هېوادونو له تاریخ، ادب او فرهنګ سره پېژندګلوي،

۳. د فرهنګ، ملي هنرونو، د افغاني ټولنې د غوره او سالمو ادابو او دودونو پراختیا او د هغوی د اصالت ساتنه،

۴. د تمرین او یوکسیزو او ډله ییزو فعالیتونو له لارې د ادبي او هنري مهارتونو پراختیا،

**د ـــ مدني او ټولنیزې موخې**

۱. د خپلواکۍ، وطن دوستۍ او آزادۍ غوښتلو، د اسلامي ارزښتونو او ملي نوامیسو د ساتنې د روحیې پیاوړتیا او د انسانانو د حقوقو د عدالت او رعایت په بنسټ د کورنیو اړیکو ټینګښت،

۲. د اسلامي ورورولۍ، مرستې، سولې، ټولنیز عدالت، ملي او نړیوال پیوستون د روحیې پیاوړتیا،

۳. د خیر غوښتنې د حس پراختیا، د اخلاقي فضایلو لوړتیا او له زور زیاتي او ناروا جګړو سره ضدیت، له نشه یـــي توکو، مسکراتو، اخلاقي او ټولنېزو مفاسدو سره مبارزه،

۴. قانون ته د درناوي او د هغې د منښت د روحیې پیاوړتیا او د توکم، جنس، عمر، اقتصادي او تـــولنیز دریـــځ او سیاسي تړاو له په پام کې نیولو پرته د هېواد د ټولو اتباعو د قانوني حقوقو ملاتړ،

۵. په ټولنیزو اړیکو کې د زغم، سربښندنې او ایثار د روحې پراختیا او ټولنیزې ګټې پر فردي ګټو ړومبی کول،

٦. د انتقاد او انتقاد منلو، زغم او د نورو رایو ته د درناوي د روحیې پیاوړتیا،

۷. انساني کرامت ته د درناوي د روحیې پیاوړتیا او پراختیا، د اشخاصو د حرمت ساتل، د معاشرت او په تـــولنیزو اړیکو کې د ادابو او بشري حقونو رعایت،

۸. په سوله ییز او رغنده ډول د توپیرونو او شخړو د هوارولو د روحیې پیاوړتیا،

۹. د زغم او د نورو د منلو د فرهنګ پیاوړتیا،

۱۰. د بشري ټولنې له علمي او تخنیکي تجربو او مثبتو بریاوو څخه د ګټې اخیستنې د روحیې پیاوړتیا،

۱۱. د هر ډول تبعیض د ردولو او له منځه وړلو د روحیې پیاوړتیا او پراختیا،

۱۲. د ښځې انساني دریځ ته د درناوي د روحیې پیاوړتیا او له ښځو څخه ملاتړ،

۱۳. د مور پلار، مشرانو، ګاونډیانو، هېوادوالو او د نورو انسانانو حقونو ته د درناوي د روحیې پیاوړتیا،

۱۴. د استوګنې د چاپیریال او سمسورتیا د ساتنې د روحیې پیاوړتیا، پر ځارویو زړه سوی او طبیعي ژوندانه او نباتاتو ته پاملرنه.

۱۵. د اوبو د زیرمو د ساتنې د روحیې پیاوړتیا، د اوبو په کارولو کې زیاتي (افراط) نه کول او د ســـیندونو، ویـــالو، کاریزونو او ځاګانو د اوبو له ککړتیا څخه مخنیوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هـــ ـــ اقتصادي موخې**

۱. په انساني ژوند کې د اقتصاد پر ارزښت پوهېدل، د ټولنې پراختيا او اقتصادي ودې او له کورني اقتصاد او فردي سلوک سره د اقتصادي فعاليتونو تړاو ته پاملرنه،

۲. د کار پر ارزښت او اهميت پوهېدل او د بيوزلۍ د له منځه وړلو په خاطر په ګټورو دندو کې د کـــار د روحيـــې پياوړتيا،

۳. د سپما، قناعت، د روحيې رامنځته کول او د اسراف او تجمل مخنيوی.

۴. د هېواد د اقتصادي سرچينو پېژندل او له هغو څخه د استخراج په سمو لارو چارو پوهېـــدل او د ملـــي ګټـــو، شتمنيو او پانګو د ساتلو د روحيې پياوړتيا،

۵. د تکنالوژۍ له پرمختګ سره يوځای د بيلابيلو حرفو او توليدي دندو پيژندل، د ملي عايـــداتو د زيـــاتوالي او د بېکارۍ او د بل پر اوږو د بارېدو د مخنيوی په موخه د لاسي او سيمه ييزو صنايعو احيا او دودول،

۶. په معاملو او اقتصادي فعاليتونو کې د اخلاقي اصولو د رعايت د روحيې پياوړتيـــا او د نامـــشروعو اقتـــصادي فعاليتونو پر خلاف مبارزه،

۷. د حرفه يي فعاليتونو د زده کړې هڅول،

۸. د عرضې او تقاضا پر اړيکو د زده کوونکو د پوهې د کچې لوړول،

- د انصاف او د کار د اخلاقو دودول او پر کار د ګومارونکو او کارکوونکو ترمنځ د کار قانون ته درناوی.

**وـــ روغتيايي موخې**

۱. د پاک ساتنې (حفظ الصحې) او د فردي او ټولنيزې روغتيا په اړه د ژوند په لارو چارو پوهېدل،

۲. د عمومي حفظ الصحې او د چاپېريال د پاک ساتنې د روحيې پراختيا،

۳. له ناروغيو څخه د ساتلو په موخه له روغتيايي پوهې څخه برخمن کېدل او د اساسی مهارتونو پياوړي کول،

۴. د لارو چارو او شرايطو په رامنځته کولو د بدني او رواني روغتيا تامينول او د سالمو تفريحګانو لپـــاره د بـــدني روزنې، ورزش او د سمسور چاپېريال چمتو کول،

د مور او ماشوم روغتيا ته پاملرنه او د هغوی ننګه او ملاتړ.

**و ـــ ثانوي دوره (له ۱۰ – ۱۲ ټولګي)**

– د تيرو ښوونيزو او روزنيزو دورو د برياوو ځواکمنول او لوړو زده کړو ته چمتووالی،

– د تفکر د ځواک وده او لا پراختيا، په ديني مسايلو او اعتقادي بنسټونو کې ژور فکر او د معلوماتو تر لاسه کـــول او د ژوندانه د نظام په توګه د اسلام د دين له زده کړو سره د زده کوونکو زيات بلدول،

– د نفس پاکوالی او پر خدای جل جلاله او اسلامي لارښوونو باندي د ايمان پر بنسټ د اخلاقي فضيلتونو پيـــاوړي کول،

– په زده کوونکو کې د ښوونې او روزنې د روحيې پياوړتيا او د مناسبو زمينو چمتو کول،

– د پوهنو، بشري تجربو او پرمختللې تکنالوژۍ په مرسته په طبيعت کې د موجودو قوانينو او د نـــړۍ د اســـرارو د پيژندلو لپاره هلې ځلې،

– د رسمي او مورنۍ ژبې لا ښه زده کړه، د زده کوونکو د ادبي پوهې پراختيا او د بهرنيو ژبو زده کړه،

– د اړتيا وړ پوهنو او فنونو زده کړه او د فردي او ټولنيزو مهارتونو ترلاسه کول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

– له اسلامي ارزښتونو او د ملي فرهنګ له مثبتو غوښتنو سره سم له هنر سره د زده کوونکو بلدول او له هغو څخه معقوله ګټه اخيستل،

– د هېواد د ادبي، فرهنګي، هنري او تاريخي ميراثونو د ساتنې د روحيې وده،

– د مرستې روحيې او رغنده سياليو ته د زده کوونکو د مينې وده او پراختيا،

– د ملي نواميسو د ساتنې د روحيې پياوړتيا او د اسلامي حقوقو او اخلا قو پر بنسټ د کورنيو اړيکو د بنسټ ځواکمنول،

– د خير غوښتنې د حس پياوړتيا، د اخلاقي فضيلتونو او د سوله غوښتنې د فضايلو لوړتيا، له تاوتريخوالي او ناروا جګړو سره ضديت، له نشه يي توکو، الکولي څښاک او اخلاقي مفاسدو سره مبارزه،

– مسؤوليت ته د غاړې ايښودلو د روحيې پياوړتيا، د کورنيو او ټولنيزو چارو سم سرته رسول او په اسلامي، فرهنګي او ټولنيزو چارو کې ونډه اخيستل،

– په ټولنيزو اړيکو کې د زغم، سرښندنې او ځان تېرېدنې د روحيې پياوړتيا او ټولنيزو ګټو پر فردي ګټو لومړيتوب،

– د سبا ورځې لپاره د زده کوونکو چمتو کول، د کورنۍ د جوړښت له ارزښت او په هغې پورې له اړوندو شرعي احکامو څخه خبرتيا،

– د اقتصاد ارزښت ته پام او د زده کوونکو معنوي بشپړتيا او سوکالۍ ته د رسيدو د يوې وسيلې په توګه د هغې رغنده وده،

– د ښوونې او روزنې په بهير کې د ځاني ارزونې د وړتياوو ځواکمنول،

– له ورزش سره د زده کوونکو د مينې پارول او د بدني او رواني روغتيا څارنه،

– د فرهنګي يرغل په وړاندې له زده کوونکو سره مرسته او له بېځايه پيښو او تقليدونو څخه د هغوی د مخنيوي او د افغاني او اسلامي ارزښتونو او هويت د ساتلو له لارې د وخت مثبتو پرمختګونو او ټکنالوژۍ څخه د استفادې د روحيې پياوړتيا،

– د زده کوونکو د استعدادونو د روزلو په موخه په فرهنګي او ټولنيزو فعاليتونو کې د هغوی د ګډون د روحيې پياوړتيا،

– د مطالعې او دکتاب لوستلو د فرهنګ وده.

## د منځپانګې د غوره کولو لارې چارې

د منځپانګې په غوره کولو کې لاندې اصول په پام کې نيول شوي دي:

له اړتياوو او علاقه مندۍ سره همغږي، اعتبار (د منطقي، پرله پسې والی، له پلټنو او تاييد شوو کتابونو او له لومړنيو او مستندو سرچينو څخه ګټه)، د ټولګې دنده او بهر د زده کوونکو له عمر او ذهني وړتياوو سره سم د لازمو فرصتونو چمتو کول.

## د منځپانګې د تنظيم او ترتيب اصول

د منځپانګې په تنظيم او ترتيب کې له لاندې لارو چارو څخه ګټه پورته کيږي:

پرله پسېوالی، همغږي، د زده کوونکو د فردي او ټولنيزو اړتياوو تر منځ سمون، د تدريس د لارو چارو او منځپانګې تر منځ سمون،

## د لوست د اصلي پيغامونو په نښنه کول (Key Concepts)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ښايي د «اصلي پيغامونو» معنا او مفهوم وپېژنو. هر لوست پوهنيزه موخه يا موخې لري. دا موخه يا مــوخې د يوه يا څومفهومونو د زده کړې لپاره چمتو شوي دي. دا د لوست هماغه اصلي پيغامونه دي. ددې سريزې له مخې د لوســـت له اصلي پيغامونو څخه د ارزونې لپاره هم کار اخيستل کيږي؛ ځکه د زده کوونکو له خوا ددې عمل سرته رســـول دا معنـــا لري چې هغوی لومړنۍ پوهه ترلاسه کړې ده.

کېدای شي د مختلفو متنونو د زده کړې او مطالعې مهارت او وړتيا (د لوست د اصلي پيغامونو په نښه کـــول) د زده کړې او ارزونې په پړاو کې د يوه عمده مهارت په توګه وګڼل شي او په زده کوونکو کې د هغې رامنځته کـــول او پيـــاوړي کول يوه موخه بلل کيږي.

**د لوست لنډيز**

د «لنډيز» فعاليت هم پخپله يو اساسي مهارت دی او هم د ارزونې لپاره کارول کيږي، چې ښايي زده کوونکي يـــې زده کړي.

د «لوست د لنډولو» وړتيا د تفکر يو مهم مهارت دی. د لوست د لنډولو له لارې کېدای شي پراخ معلومات په لنـــډ ډول بيان شي، ترڅو د لوست د متن موخه اسانه په لاس راشي. لنډيز په لنډه وينا د لوست د اصلي مفهومونو بيان دی. لنډيز په يوه وينا کې د ټولو جزياتو نغښتل دي. د لنډيز توپير د لوست د اصلي پيغامونو له راايستلو ســـره دادی چـــې د اصـــلي مفهومونو د يادولو پر ځای زيار ايستل کيږي مفهومونه يو ځل بيلا بېل سره يوځای شي او بيا بېرته نوی متن لاسته راشي.

**د لنډيز لپاره ځينې لارښوونې**

۱– که غواړئ يو مطلب لنډ کړئ، زيار وباسئ له ليکلو او ياداشتولو پرته پرې پوه شئ.

۲ – تر مهمو کلمو او مفهومونو لاندې کرښه وکاږئ. په دې کار هغه معلومات مخې ته نه راځي چې ګټه يـــې لـــږه وي.

۳ – لنډيز په خپلو عبارتونو وليکئ. د اصلي متن د جوړښت په څېر يې مه ليکئ. په دې کار ډاډ تر لاسه کوئ چـــې خپل شخصي عقيدې مو په لنډيز کې نه دي راوستي. د لنډيز هره کلمه او عبارت بايد پر متن ولاړ وي. لنډيز بايد د ټول متن ۱۵ – ۲۰ سلنه وي.

۴ – له لنډيز څخه وروسته د خپل ډاډ لپاره هغه له اصلي متن سره پرتله کړئ.

**ارزول (Evaluation)**

ارزونه د زده کړې موخو ته د زده کوونکي د پرمختګ د معلومولو او ټاکلو لپاره له منظم بهير څخـــه عبـــارت دی. منظم بهير په دې معنا چې ارزونه ښايي د پلان له مخې منظمه سرته ورسيږي. په دې ترڅ کې د «زده کړې مـــوخې» ددې لپاره دي چې په ارزونه کې بايد د زده کړې موخې له وړاندې ټاکل شوې وي. په دې توګه د زده کړې ارزونه د تدريس لـــه څرنګوالي سره د مرستې، د ښوونکو په اړه د لوړپوړو چارواکو د پرېکړې، له زده کوونکو سره د مرستې او د تـــدريس پـــه برخه کې د پلټنې په اړه د لارو چارو د معلومولو په منظور سرته رسيږي.

په ارزونې کې اساسي لارې چارې په دې بنه وي چې د زده کړې د دورو موخو ته متوجـــه وي او پـــايلې يـــې زده کوونکو او ښوونکو ته د لارښونې او له هغوی سره د مرستې لپاره وکارول شي. همدا راز ارزونه ښايي موخـــو، د تـــدريس لارو چارو او د درسي مضمون بېلابېلو توکو ته په پام سرته ورسيږي.

ارزونه د زده کړې د بهير د سمون لپاره سرته رسيږي. د زده کوونکو په اړه قضاوت بايد د هغوی د کړنـــو، چـــال چلن او د شخصيت په اړه د هر اړخيزو معلوماتو پر بنسټ ترسره شي، نه دا چې د ازموينو د نومرو له مخې. له بل پلـــوه زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکي ښايي په ارزونه کې ورګډ شي، ترڅو خپل ځان پخپله وارزولای شي. په لنډ ډول باید د ارزونې لپاره غوښتونکي شرایط په پام کې ونیول شي.

**په زده کړه کې د ارزونې اهمیت او اړتیا**

د زده کړې ارزونه دوې ګټې لري:

۱ – زده کوونکي پوهیږي چې په زده کړه کې یې څومره پرمختګ کړی او څومره بریالیتوب یې ترلاسه کړی،

۲ – ښوونکی پوهیږي چې د مضمون تدریس یې څومره بریالی و.

له خپل بریالیتوب څخه د زده کوونکو خبرتیا ددې لامل کیږي چې زده کوونکي په سم ډول او ټاکلي لاره د خپل پرمختګ په اړه قضاوت وکړای شي او د زده کړې او بریالیتوب لپاره د زیات مسؤولیت احساس وکړي. زده کوونکي خپل کمزوري ټکي وپېژني او ویې مني او د هغې د له منځه وړلو لپاره زیار وباسي. که چېرته ارزونه په ښه نیت او سم ډول سرته ورسیږي، پر ځان د زده کوونکو ویسا پیاوړي کیږي.

د مضمون د تدریس له بریالیتوب څخه د ښوونکي خبرتیا ددې لامل کیږي چې ښوونکی د لاسته راغلو معلوماتو له مخې د درسي مضمون په کمزورو او قوي ټکو وپوهیږي او د تدریس لاره چاره د هغې له مخې سمه کړي او د تدریس فن د زده کړې په بېلابېلو لارو چارو او د تدریس د نوو مهارتونو د زده کړې له لارې بډای کړي.

**د ارزونې بڼې**

ارزونه د وخت او موخو له مخې په دریو ډلو ویشل کېدای شي:

تشخیصي، پرله پسې او وروستنۍ ارزونه.

الف: تشخیصي ارزونه د زده کړې په هر نوي پړاو کې د زده کوونکو د مخکنیو زده کړو او مهارتونو د معلومولو په موخه سرته رسیږي.

ب: پرله پسې ارزونه له منظمې او پرله پسې ارزونې څخه عبارت ده چې د ښوونیز کال په اوږدو کې په هر څپرکي یا لوست کې د زده کوونکو ترلاسه شوې زده کړه او پوهه ازمویل کیږي.

ج: وروستنۍ ارزونه د یوه ښوونیز کال په پای کې په هر ټولګي کې د زده کوونکو د مفهومونو او مهارتونو د زده کړې د معلومولو لپاره تر سره کیږي.

اړتیاوې:

د زده کړې د ګټورو پایلو د تر لاسه کولو او د پښتو ژبې د لوست د عمومي او خصوصي موخو د رښتینولۍ لپاره باید د تدریس پر مهال لاندې ټکو ته پام واړول شي:

- د زده کوونکو په ذهن کې د کتاب د بېلابېلو برخو د انسجام او پیوستون او د لوستونو د سمبالښت او عمومي مفهوم د څرګندولو د میتود لارې،

- د پښتو ژبې د زده کړې د لازمو او بنسټیزو توکو په ډلې کې د ژبې د مهارتونو (اورېدلو، خبرو کولو، لوستلو، لیکلو) پیاوړتیا،

- تر پام لاندې موخو ته د رسېدو په خاطر د تدریس لپاره د لارو چارو او مناسبو علمي بېلګو کارول،

- د زده کړې د پروګرام (فعال تدریس) د اړخونو او د زده کړې د محتوا د عملي کېدو لپاره د تمرینونو او فعالیتونو پر کارندې برخې ټینګار،

- د لوستونو د محتوا ارزولو ته پام او د محتوا (د لوست طرح) د چمتو کولو له لارې د هر لوست د هدف او د مناسب تدریس د لارې ټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تدریس لارې چارې (ستراتیژي) او نمونې

تدریس د پلان جوړولو یو ډول دی. له دې امله د پلان او طرحې د اصولو او بنسټونو تابع دی. زده کوونکــو تــه د کتاب د محتوا (لوست) د سم تدریس لپاره یوازې یو میتود موجود نه دی. که چېرته درسي پروګرام په منطقــي او اصــولي ډول جوړ شوی وي، نو د تدریس مناسبو لارو چارو ته هم اړتیا پیدا کېږي. له دې امله له ګرانو ښوونکو څخه هیله کېږي د هر لوست محتوا داسې وړاندې کړي چې :

۱ – په زده کوونکو کې ژبنۍ وړتیاوې (مهارتونه) (اورېدل، خبرې کول، لوستل، لیکل) پر ځان ویــسا، نوښــت، د څېړنې او ځیرتیا او د رواني – حرکتي مهارتونو خپلواکه روحیه پیاوړې شي.

۲– په زده کوونکو کې د نوښتګر او څېړنیز ذهن د راپیدا کېدو تر څنګ د هنري اثرونو د درک او تخلیق وســه او توان پیدا شي. د ښوونې روزنې او زده کړې څېړنو ښودلې ده چې په یو لوست کې د یو ځانګړې میتود کارول اغېزمن نــه دي. ښه به دا وي چې د پروګرام د جوړښت، د ژوند او د زده کوونکو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره موجود میتودونه پــه ګډه او تلفیقي توګه وکارول شي.

۳– ګډ او تلفیقي میتودونه دې داسې چمتو شي چې زده کوونکي د ټولګي په بحثونو او فعــالیتونو کــې د ځــان ازمایلو په ځوابونو کې ښکېل او شریک کړي. دا باید په یاد ولرو چې د ښوونکي او د درسي پروګرام اصــلي دنــده زده کوونکو ته د بشپړې او هراړخیزې ودې د زمینو چمتو کول او همدارنګه د زده کوونکو د فردي وړتیــاوو او اســتعدادونو پالل او هغوی ته وده ورکول دي چې په یوې ازادې ټولنې کې ارزښت او اهمیت لري. د زده کوونکو د **دننیو ځواکونــو خپلواکول او بشپړول** د ښوونې او روزنې اصلي موخه او **د ځان ډېره ښه او سمه پېژندنه** د هغې ډېر ستر ارمان ګڼل کېږي.

اوس له ګرانو ښوونکو سره د مرستې لپاره د تدریس په یو څو نمونو رڼا اچوو. هیله ده چې د ګټې وړ به وي.

۱ – د ګډ کار د تدریس میتود:

دې نمونې ته جان دیوي ګوته نیولې ده. وروسته نورو پوهانو هغه بشپړه کړه. ګډ تدریس د زده کــړې لپــاره د زده کوونکو ډله ییز کار ته ویل کېږي. ګډ تدریس د زده کړې یوه منظمه نمونه ده چې د یوې ډلې غړي په کې د پرلــه پــسې اړیکو د ټینګولو له لارې لوست زده کوي. په دې نمونې کې زده کوونکې د زده کړې په کار کې فعال ګډون کوي او لــه زده کړې سره یې مینه او علاقه پیاوړې کېږي.

پر ۵ – ٦ کسیزو ډلو باندې د زده کوونکو وېش او د هغو پوښتنو د ځوابونو په وړاندې د هغوی هــم نظــري ددې میتود ظاهري ښه ده چې ښوونکی یې هغوی ته سپاري.

په دې میتود کې ښوونکی لوست نه توضیح کوي، بلکې مخکې له مخکې جوړې شوې پوښــتنې پــر زده کوونکــو ویشي. په دې میتود کې د ښوونکي اصلي کار د مناسبو پوښتنو جوړول دي.

له بحث او خبرو اترو دمخه د ډلې هر غړی د نوي لوست په اړه خپل معلومات ارزوي. له هغې وروسته د لوست متن لوستل کېږي. وروسته هر زده کوونکی هغو پوښتنو ته ځوابونه وایي چې ورسره دي. د ډلو غړي تر هغې په خپل منځ کــې د پوښتنو په اړه بحث او خبرې اترې کوي چې توافق ته نه وي رسیدلي.

ښوونکي کولای شي له سمعي او بصري توکو څخه کار واخلي او د سم ځواب د پیدا کولو لپاره زده کوونکــو تــه لارښوونه وکړي. په پای کې د زده کوونکو د ډلو پوهه او پوښتنې ازمایل کېږي چې د زده کړې کچه وارزول شي. نــشي کېدای په دې میتود کې د یو غلي او ارام ټولګي توقع ولرو. ټوکې ټکالې او خندا د ټولګي فضا خوندوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲– مخکې له مخکې سازمانوونکي میتود:

د مخکې له مخکې سازمانوونکي میتود بنسټ د (آزویل) نظریه جوړوي.

په دې میتود کې د پېژندنې جوړښت او هغه بدلونونه چې د زده کړې په بهیر کې رامنځته کیږي، دزده کـړې اصـلي بنسټ گڼل کیږي. د پېژندنې له جوړښت څخه منظور د سازمان شوو اطلاعاتو، مفاهیمو او بهیرونو مجموعه ده چـې زده کوونکو لا له وړاندې د پښتو ژبې په لوستونو کې تر لاسه کړي دي.

دا میتود له زده شوو لوستونو سره د نوو لوستونو پر اړیکو ټینګار کوي. په دې معنا چې که نوي او تازه مطلبونه لـه مخکنیو مطلبونو سره تړاو ونه لري، زده کړه به بې معنا وي او د زده کوونکو په ذهن کې به ځای ونه نیسي. مخکـې لـه مخکې سازمانوونکی میتود د زده کوونکو د پېژندنې د جوړښت د پیاوړتیا او ټینګښت لپاره تدوین شوی دی. له دې مخکې چې نوي موضوع وړاندې شي، باید د مخکنیو موضوعګانو پر ټینګښت او پایښت یو څه زیاتوالی راشي. هره علمي برخـه د یو لړ مفهومونو جوړښت لري. دا مفهومونه د مرتبو د لړیو په بڼه جوړیږي. په دې ډول چې ددې جوړښت په لوړه څوکه کې عمومي مفاهیم او په ټیټه برخه کې یې جزئي مفاهیم راځي.

۳– د مفهوم د تر لاسه کولو میتود:

د مفهوم د تر لاسه کولو نظر (برونر) رامنځته کړ (۱۹۵٦). وروسته د ښوونې او روزنې نورو پوهانو هغه بشپړ کـړ. (بروس جویس) او ملګري یې د وروستنو پوهانو په ډلې کې وو چې دا نظریه یې وړاندې کړه (۱۹۹۲).

د ژب پېژندنې د ګرامر د تدریس لپاره له دې میتود څخه کار اخیستل کېدای شي.

۱ – د مفهوم د تر لاسه کولو د زده کړې لارې چارې:

ټولګې ته له ننوتلو دمخه زده کوونکو ته د تمرین او ښوولو لپاره نمونې، بېلګې او پوښتنې چمتو کړو.

۲– زده کوونکو ته په مفهومونو باندې د بحث کولو زمینه چمتو کړو چې د نوو موضوعګانو د درک لپـاره تیـار شي.

۳– (د مخکې له مخې سازمان شوي میتود) ته په پام کېدای شي داسې نمونې زده کوونکو ته وړاندې شـي چـې د پېژندلو په جوړښت او د ذهن په پیاوړتیا کې اغېزمن او موضوعګانو ته په ښې ورکولو کې هدفمندې وي.

۴– له زده کوونکو څخه وغواړو چې د نمونې په لیدو یې ذهن ته څه شی راغلی او تر هر څه د نمونې کومې برخـې ته یې زیات پام کړی او ولې یې دا پام کړی دی؟

۵– له زده کوونکو څخه دې غوښتنه وشي چې خپلې فرضیې او اټکلونه په څو کسیزو ډلو کې ولیکي.

۴– د استقرایي تفکر میتود:

دا میتود د (هیلداتابا) په نوم یو پوه ازمایلی دی. ددې میتود له مخې ښـوونکی د هدفمنـدو پوښـتنو لـه لارې زده کوونکي د لوست لوري ته بیایي. په دې کا ر د زده کوونکو ذهن له جزیي څخه کلي (استقرا) لوري ته ځي او د لوست پـه پای کې په تر پام لاندې مفهومونو باندې پوهیږي او ډاډ ترې تر لاسه کوي.

د استقرایي تفکر میتود د مفهوم د پیدا کولو له میتود سره ورته والی لري.

۵– د واحد (فردي – ډله ییز) کار میتود:

په دې میتود کې زده کوونکي له اورېدونکي سر بېره د ښوونکي له لارښوونې او د ډلې په مرسته کولای شي خپلـې زده کړې پیاوړې او په بشپړ ډول یې مهارتي اوکارنده کړي. په نوموړي میتود کې زده کوونکي په بـشپړ ډول فعـال او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي د وخت له زیاتې برخې څخه ګټه اخلي. د دېوالي جربدې، د هغې په مضمونونو غور کول او سمول، پرتله او داسې نور مهارتونه د کار د واحد میتود له لارې د تدریس وړ دي.

ښوونکی د یو لوست په هکله له لازمو څرګندونو وروسته کولای شي هرې کاري ډلې ته د بشپړولو لپاره یوه موضوع وسپاري. د کار په پای کې ډلې د خپل کار پایلې د خپل استازي له لارې ټولګي ته وړاندې کوي. په دې میتود کې کېدای شي آن د تدریس بهیر هم د کار ډلو ته وسپارل شي. د بېلګې په توګه، په لیک باندې د وینا تبدیلولو لپاره ټولګی په پنځو ډلو وېشل کیږي او هرې ډلې ته یوه وینا ورکول کیږي چې په لیک یې واړوي. په پای کې هره ډله هغه ټوپیرونه چې پام یې ورته اوښتی، تر خبرو اترو لاندې نیسي. په پای کې دا ټوپیرونه جمعبندي کیږي. کېدای شي دا کار له ټولګي بهر هم دوام وکړي. کورنۍ دنده هم د کاري ډلو په بڼې وسپارل شي.

۶- د پرتلې میتود

دا میتود په لیکوالۍ کې ډېر اغېزمن او فعال رول لري. د بېلګې په توګه، غواړو ((علمي لیکوالي)) او ((ادبي لیکوالي)) تدریس کړو. لومړی یوه علمي او ادبي لیکنه یوځای زده کوونکو ته ورکوو:

– علمي لیکنه:

((معمولا قید په یوې جملې کې د مبتدا یا صفت اندازه څرګندوي. کله یو قید د یو فعل په اړه څرګندونې کوي او یا ټوله جمله مقیدوي. کېدای شي دا څرګندونه پراخه وي... .))

- ادبي لیکنه:

((د هغوی کوډله د رود پر غاړه په نمناکو خاورو او وښو کې پټه وه. داسې بربښېده چې تا به ویل، منګولې یې په ځمکې کې منډلې او ترهغې لاندې یې په خپل زور ځان په ځمکه کې ټینګ کړی دی. باران یې سر او مخ پرېولی و.))

وروسته د هر متن په ځانګړتیاوو خبرې کوو او سره پرتله کوو یې.

- په لومړۍ لیکنه کې هره کلمه څرګنده او دقیقه معنا لري، خو په دویمه لیکنه کې کلمې څو، څو معنا ګانې لري.

- په لومړۍ لیکنه کې ادبي ښکلا، لکه تشبیه، استعاره، مجاز او نور نه تر سترګو کیږي، خو په دویمه لیکنه کې (کوډلې ... منګولې په ځمکې کې منډلې دي.) کارول شوې ده.

- په لومړۍ لیکنه کې پیغام په لږو او لنډو کلمو څرګند شوی دی، خو په دویمه لیکنه کې د یو پیغام څو اړخونو ته پام اړول شوی دی.

- او نور

د تدریس لپاره د پرتلې د میتود کارول او زده کوونکو ته د هغو لېږدول د یوې موضوع د تشریح او څرګندولو لپاره مناسب او د کارولو وړ دی. د پرتلې د میتود په واسطه د څو مسئلو یا موضوعګانو ترمنځ توپیرونه او ورته والی په ډېره اسانۍ بیانولای او څرګندولای شو.

۷- د ډله ییزو خبرو اترو میتود:

په دې میتود کې د داسې منظم او سنجول شوي بحث چې د یو ټولګي د ټولو زده کوونکو په خوښه وي، د لیکوالۍ د یو اړتیا په هکله مطرح کوو. په نوموړي میتود کې زده کوونکو ته فرصت ورکول کیږي چې د یوې موضوع یا مسئلې په اړه د خپلو نظریو او تجربو په هکله خبرې اترې وکړي. د بېلګې په توګه، د یوې سفرنامې په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکوو. لومړی په دې هکله یو لړ پوښتنې کوو. په لاندې ډول:

- سفرنامه څه شی دی؟

- څه ګټه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څو ډوله سفرنامې شته؟
- له کوم مهال راهیسې د سفرنامو په لیکلو پیل شوی دی؟
- په یوې سفرنامې کې څه ډول معلومات راټولیږي؟
- سفرنامه زموږ په ټولنیزو، تاریخي، ژبنیو او ادبي څېړنو کې څه مرسته کولای شي؟
- کومه یوه مشهوره سفرنامه پېژنئ؟
- یوه سفرنامه څنګه لیکلای شو؟
- د یوې سفرنامې د لیکلو لپاره باید کوم اصلونه په پام کې ونیول شي؟
- او نور

ښوونکی کولای شي زده کوونکو ته د لوست موضوع له وړاندې ووایي چې هغوی یوڅه معلومات راټول کړي. ښوونکی باید د خبرو اترو ځارنه وکړي او د ټولګي د وخت د ضایع کېدلو مخه ونیسي. همدارنګه هڅه دې وکړي چې خبرې اترې ساده او د پوهېدلو وړ وي.

په دې میتود کې د لوست له وړتیا پرته نورې وړتیاوې هم پیاوړې او غښتلې کیږي، لکه: د خلکو په وړاندې د نظر څرګندول، له خلکو سره د نظر همغږي کول، د نورو د نیوکو او انتقادونو په وړاندې زغم او د لاربښوونې وړتیا، د مسئلو پېژندل او د هغوی هوارولو ته د لارو چارو لټول، غوږ نیول او خبرې کول.

۸– د پوښتنو او ځوابونو میتود:

کېدای شي د یوه مهارت د تدریس بهیر د پوښتنو او ځوابونو له لارې تر سره شي. دا میتود اوږده مخینه لري. له میلاد څخه دمخه په پنځمې پېړۍ کې سقراط دا میتود کارولی دی.

ښوونکی کولای شي د لوست اساسي مفهومونه او معلومات د ټولګي پر درې ولیکي او د زده کوونکو په مرسته ورته ځوابونه پیدا کړي.

پوښتنې باید ساده او د لوست اصلي مفهومونه پکې نغښتل شوي وي؛ منطقي پیوستون (پرله پسې والی) پکې وي؛ د ټولګي خبرو اترو او د زده کوونکو ذهن ته لوری ورکړای شي؛ د زده کوونکو په ورکړ شوو ځوابونو کې توافق رامنځته شي؛ ټول زده کوونکي په کې په فعال ډول برخه واخلي او پوښتنې له ساده وو پیل او په سختو پای ته ورسیږي.

د بېلګې په توګه، غواړو په یوې لیکنې کې تشبیه وپېژنو. لومړی یو متن پر دره لیکو چې تشبیه په کې کارول شوې وي. لکه، ((ناڅاپه په خبرو راغی. خبرې یې د یوې ماشیندارې د ګولیو په څېر له خولې راووتې، لکه د تسپو تار چې وشلېږي.))

بیا یو څو پوښتنې کوو:

- خبرې له څه شي سره تشبیه شوي دي؟
- د خبرو او د ماشیندارې د ګولیو تر منځ څه اړیکې لیدل کیږي؟
- لیکوال ولې دا اړیکې په ګوته کړې دي؟
- ستاسو په اند خبرې له بل کوم شي سره پرتله کېدای شي؟

په پورته توګه د پوښتنو د ځوابونو له لارې تشبیه په ښه ډول تدریسولای شو.

۹ – د تمرین ورکولو میتود:

ښوونکی له هغه وروسته چې د لیکوالۍ یو مهارت یې تدریس کړ، زده کوونکي د یو یا څو تمرینونو له لارې د نوموړي مهارت کارونې ته هڅوي. د بېلګې په توګه د لیک نښو له تدریس وروسته ښوونکی زده کوونکو ته یو متن ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې  لیک نښې په کې نه وي کارول شوي او غوښتنه ترې کوي چې  هغې ته لازمې لیک نښې کښیږدي. یا داسې یومتن چې پراګرافونه یې بیل شوي نه وي او له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې  پراګرافونه د منطقي تسلسل له مخې جلا  کړي.

ښوونکی کولای شي له دې میتود څخه په پرله پسې توګه کار واخلي.

۱۰ – د (فردي – ډله ییزې) څېړنې میتود:

دا میتود زده کوونکو ته ورتیا ورکوي چې د فردي یا ډله ییزې څېړنې له لارې خپلې ستونزې هوارې کړي. د نوموړي میتود له لارې باید هر یو زده کوونکی د څېړنې اصول او بنسټونه زده کړي. په دې میتود کې باید ښوونکی مخکې له مخکې زده کوونکو ته د څېړنې لارې چارې زده کړي او پخپله هم ورباندې لاسبری وي. هغه فعالیتونه چې دا میتود په کې کارول کیږي، لاندې دي:

- د یوې موضوع د څېړلو لپاره له کتابتون څخه ګټه اخیستل،
- د یوې موضوع په اړه د مرکې یا پوښتنلیک له لارې څېړنه،
- کتابتون ته مراجعه او د یوې موضوع په اړه د ګڼو سرلیکونو ځانګړې کول،
- د یوې تاریخي ودانۍ په اړه د یوې پنځه کسیزې کاري او څېړنیزې ډلې جوړول،
- او نور.

۱۱ – د مسئلې د حل میتود:

په دې میتود کې منطقي تفکر پیاوړی کیږي. کېدای شي له دې لارې زده کوونکي ته ورزده کړای شي چې  د پدیدو تر منځ تازه اړیکې ومومي. دا میتود زده کوونکي ته ورزده کوي چې  په یوازې ځان او د منطقي تفکر له لارې د تر پام لاندې موضوع په هکله یوڅه  ولیکي.

د بېلګې په توګه، غواړو ((د لیکلو  ساده ترا میتود)) د مسئلې د حلولو د میتود د نمونې له لارې زده کوونکو ته ورزده کړو. ددې کار لپاره د لاندې پنځه ګونو پړاوونو د وهلو له لارې زده کوونکو ته وښیو چې  لیکوالي یواسان او شونی کار دی:

- د مسئلې ټاکل،
- د مسئلې د لاملونو په اړه ګومان یا د هغې ځانګړې کول،
- د حل شونو او ممکنو لارو په پام کې نیول،
- د حل د ترټولو ښې لارې غوره کول،
- د حل د ټاکلې لارې سرته رسول.

د بېلګې په توګه:

۱ – احمدنه پوهېد چې د فرهنګ په اړه لیکنه څنګه او له کومه ځایه پیل کړي؛ کومه موضوع په کې راولي او څنګه یې سرته ورسوي.

۲ – هغه لومړی هڅه وکړه د خپلې ښوونځي لاملونه له پامه تېرکړي. احمد کولای شي د فرهنګ په اړه خبرې وکړي، خو د خپلو خبرو د لیکلو وسه ورسره نشته.

۳ – احمد د ښوونکي او د خپلو مخکنیو زده کړو په مرسته د حل څو لارې په پام کې ونیولې:

الف– لومړی یې یو څو پوښتنې جوړې کړې او بیا یې هرې یوې ته لنډ، لنډ ځوابونه ولیکل او وروسته یې منظم کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب – د فرهنگ په اړه بنستيزې کلمې او مفهومونه يې راټول او هغوی ته يې پراختيا ورکړه. د هر مفهوم په اړه يې يو څو کرښې وليکلې او وروسته يې منظمې کړې.

ج – د فرهنگ په اړه يې له ځان سره يو څو دقيقې خبرې وکړې او هغه يې ثبتې کړې. وروسته يې هغه خبرې له ټيپ ريکارډر څخه د کاغذ په مخ وليکلې.

د – د تحقيق او مطالعې له لارې يې د فرهنگ په اړه ياداشتونه چمتو کړل. وروسته يې دا ياداشتونه تنظيم او د کـــار لنډيز يې د يوې مقالې په توگه وليکه او ټولگي ته يې وړاندې کړل.

۴ – احمد د موضوع د ماهيت له مخې د ((الف)) او ((د)) له لارو څخه گټه واخيسته.

۵ – هغه ددې کار لپاره لومړی څو پوښتنې جوړې کړې.

- فرهنگ څه شی دی؟
- د فرهنگ جوړوونکي عناصر کوم دي؟
- له سواد سره د فرهنگ اړيکې څه شی دي؟
- د فرهنگ د ساتلو لپاره بايد څه وکړو؟
- د يو هېواد د فرهنگ د غوړېدا لارې کومې دي؟

له هغې وروسته يې د هرې پوښتنې لپاره د تحقيق له ميتود او له منابعو څخه په گټې اخيستنې لنډ ځوابونه چمتو کړل. خپله ليکنه يې يوه پلا خپل يو ملگري ته ولوستله. په پای کې يې هغه اديت او له سره يې پاکه وليکله.

۱۲ – د تدريس عمومي نمونه

په اصل کې د تدريس عمومي نمونه د لوست د طرحې ډول دی او په عمومي مفهوم يو ټاکلی چوکـــاټ دی چـــې د تدريس مهم توکي په کې پيشبيني کېدای شي.

د تدريس ميتودونه د زده کوونکي د فعاليت يا نه فعاليت پر بنسټ په فعالو او غير فعالو دوو ډلو ويـــشل کيـــږي. د فعال ميتود په تدريس کې زده کوونکي پخپله د زده کړې په بهير کې گډون کوي او د هغې محور (شاگرد محـــوره) دی. په غيرفعال ميتود کې يا ښوونکی په پرله پسې خبرې کوي او کار کوي او زده کوونکی چوپ او بېحرکته پاتې کيږي (معلم محوره) او يا دا چې ښوونکی او زده کوونکي هر يو خپل، خپل کار کوي او يو د بل په کار کې لاس نه وهي.

څرگنده ده چې د زده کړې پرمختگ د زده کړې په بهير کې د زده کوونکي د برخې اخيستنې او فعاليـــت پـــورې تړلې دی. د تدريس عمومي نمونه د زده کړې د بهير د هر ډول سريزه گڼل کيږي.

دا نمونه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۶۱ کال کې (رابرت گليزر) معرفي کړې او پنځه پړاوونه لري:

۱ – د زده کړې د موخو ټاکل: د زده کړې د موخو (عمومي – جزيي) په ټاکلو کې دې پوهې، وړتيا او ذهنيت تـــه پام واړول شي.

– د مخکنيو زده کړو معلومول او د لوست د پيل ارزونه: ښوونکی د زده کړې لپاره د زده کوونکي له چمتـــوالي څخه د ډاډمن کېدو په موخه د هغوی مخکنۍ پوهه پيشبيني کوي او د څرگندو کړنو له لارې يې بيـــانوي. ښـــوونکی د زده کوونکو د مخکينۍ پوهې د معلومولو لپاره پوښتنې جوړوي چې له تدريس دمخه يې له زده کوونکو څخـــه کـــوي. لـــه دې ارزونې څخه لاس ته راغلي معلومات ښوونکی په دې پوهوي چې آيا زده کوونکي د نوي لوست زده کړې تـــه چمتـــوالی لري او که نه. آيا دې ته اړتيا شته چې د لوست له پيل څخه دمخه د تمرين په توگه يو څو پوښتنې وشي او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ – د زده کړې د وسایلو او میتود ټاکل: په دې پړاو کې باید د هر لوست د تدریس لپاره د هغې د وړ او مناسب میتود (توضیحي وینا، د رول لوبول، پلټنه او څېړنه، د رپوټ چمتو کول، مرکه، پوښتنې او ځوابونه او ...) ټاکنه واخیستل شي. همدارنګه د زده کړې له وسایلو او درسي مرستندویه موادو څخه استفاده وشي.

۴ – د شرایطو او د زده کړې د فعالیتونو سمبالښت: ښوونکی باید د تدریس په هکله لازم معلومات او امکانات پیشبیني او چمتو کړي. وروسته ټول شیان یو د بل تر څنګ داسې کښېږدي چې مولد، معنا لرونکي او منسجم وي.

## د پښتو ژبې د زده کړې د لوست کتابونه

د پښتو ژبې په نوو درسي کتابونو کې هر لوست له سرلیک او انځور پرته له درېو برخو څخه جوړ شوی دی:

– د لوست سریزه یا ورودي برخه،

– د لوست متن یا اصلي برخه،

– د لوست د پیاوړتیا او تحکیم برخه

لومړی، د لوست سریزه:

د لوست سریزه په عمومي توګه لوست ته د ننوتلو لاره پرانیزي. د لوست ارزښت په ګوته کوي او کله ناکله له تېر لوست سره د نوي لوست اړیکي ټینګوي او یو منطقي ارتباط تامینوي. کیدای شي دا برخه په یوې، دوو پوښتنو پیل شي او یا په پای کې یوه نیمه پوښتنه راشي. زده کوونکي نوموړو پوښتنو ته وار له واره ځوابونه نه وایي، بلکې هغه له ځان سره ساتي. دا پوښتنې زده کوونکو ته د لوست په اړه انګیزه ورکوي، د زده کوونکو فکر هڅوي، لوست ته زده کوونکي متوجه کوي او په دې توګه هغوی ځیر کیږي چې پوښتنه د لوست په کومه برخه کې ځوابیږي.

دویم، د متن برخه:

دا د لوست اصلي برخه ده. په دې برخه کې د لوست پیغام نغښتل شوی. د زده کوونکو پوهه پراخیږي، د نوو کلمو زېرمه یې زیاتوي، نوې مفکوره تر لاسه کوي او په دې توګه د نوو لیکنو او متنونو د لیکلو وړتیا مومي او ژبني مهارتونه یې پیاوړي کیږي. د لوست همدا برخه ده چې د زده کوونکو پوهه، وړتیا (مهارت) او ذهنیت پیاوړی کوي او په سلوک یې مثبت بدلون راولي.

دریم، د لوست د پیاوړتیا او تحکیم برخه:

په دې برخه کې د متن لنډیز، فعالیتونه او کورنۍ دنده راځي. د متن په لنډیز کې عموما د لوست مهمې برخې تکراریږي او زده کوونکو ته د لوست ارزښت په ګوته کوي. فعالیتونه د ښوونکو په لارښوونه پخپله د زده کوونکو له خوا ځوابیږي او ښوونکی له دې لارې د زده کوونکو د پوهې، وړتیا او ذهنیت د کچې په لوړولو کې مرسته کوي او په پای کې لوست ارزوي.

ښاغلی ښوونکی دې هڅه وکړي، د لوست پیل، که ممکن و، له تېر لوست، د تېر ټولګي له لوست یا بلې کومې اړوندې موضوع سره وتړي. په بېلابېلو پوښتنو او لارو چارو زده کوونکو ته د نوي لوست په اړه ذهنیت ورکړي. بیا دې د متن په لوستلو پیل وکړي. په ورو او څرګنده ژبه متن ولولي او د متن نوو کلمو ته دې د زده کوونکو پام واړوي. د لوست لنډیز دې په خپله ژبه زده کوونکو ته ووایي او د لوست پر څرګند پیغام دې زده کوونکي وپوهوي. د فعالیتونو په سرته رسولو کې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي او ټول زده کوونکي دې د لوست په فعالیتونو کې شریک کړي. هیڅ زده کوونکی دې له دې بهیر څخه نه بې برخې کیږي. د لوست په پای کې دې زده کوونکي وارزوي او ډاډ دې تر لاسه کړي چې د لوست پیغام زده کوونکو اخیستی وي او په پوهه، وړتیا او فکر کې یې مثبت بدلون راغلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې دې نه وي چې هر لوست د يوې اوونۍ لپاره چمتو شوى دى. ښاغلي ښوونکي کولاى شي، هر لوست د اوونۍ په ساعتونو وويشي او د ښه تدريس لپاره هره برخه پر زده کوونکو ښه تکرار کړي. د زيات تکرار او د هر زده کوونکي د فعالې ونډې اخيستلو په پايله کې زده کړه په زړه پورې سرته رسيږي.

د ښاغلو ښوونکو د تدريس خپلې تجربې د لوست په پرمخ وړلو کې ډېر مهم رول لري. ګران ښوونکي دې هڅه وکړي له خپلو تجربو څخه په ګټې اخيستنې د تدريس بهير ګټور کړي.

له ثانوي دورې (لسم، يوولسم او دولسم ټولګي) څخه فارغ زده کوونکي ښايي د پښتو ژبې د جوړښت او مخينې په اړه پوره معلومات ولري. په هر درسي ساعت کې د لوست تر څنګ بايد د وينا او خبرو وړتيا په ځان کې وروزي. سمه او رغنده ليک او وينا وکړي. داسې وروزل شي، چې له ستونزو پرته په راديو او تلويزيون کې وياندې وکړاى شي، شعر ولولي او ادبي ټوټه وړاندې کړي. ليکنه يې تر دې کچې پياوړې شوې وي، چې د يو غوښتنليک، خپلو خپلوانو ته ليک، د وثيقې، حجت ليک، تړونونو، د دوو تنو يا دوو يا زياتو ډلو تر منځ د هر راز جوړ جاړي د ليک د ليکلو، ... وړتيا ولري. د اړتيا په صورت کې بل چاته اړ نشي. ددې موخې ترلاسه کول د ښوونکي دنده ده او په هر درسي ساعت کې د هغه د کار او زيار په څرنګوالي اړه لري. ښايي درانه ښوونکي له زړه سوي او مسؤوليت څخه ډک چلند وکړي، له زده کوونکو سره ددې موخې په تر لاسه کولو کې مرسته وکړي او له دې لارې د افغانستان په راتلونکې کې د خپل کار او زيار او نه ستړې کېدونکو هلو ځلو روښانه انځور ننداره کړي.

يادداشت:

له مورنۍ ژبې پرته د پښتو لوست کتابونه دري ژبو سيمو ته هم ليکل شوي دي. د افغانستان د اساسي قانون د ۱۶ مادې له مخې پښتو او دري د افغانستان دوه رسمي ژبې دي. د افغانستان هر اوسيدونکى ښايي د خپلې مورنۍ ژبې ترڅنګ دا بله رسمي ژبه هم زده کړي. يو زده کوونکى بايد له ښوونځي څخه تر فراغت وروسته پردواړو ژبو وپوهيږي، افهام او تفهيم پرې وکړاى شي او د امکان تر بريده پرې خپلې اړتياوې پوره کړي. ددې موخو د تر لاسه کولو لپاره د دويمې ژبې په توګه د پښتو د لوست د کتابونو د تاليف په اړه له پوره غور او سوچ څخه کاراخيستل شوى. هڅه شوې هر لوست د زده کوونکو د عيني اړتياوو پر بنسټ چمتو شي ورځنۍ اړتياوې، د جملو جوړښت او ساده ګي، د نوو کلمو کارول، د جملو منطقي تسلسل او داسې نور په پام کې ونيول شي. که د پښتو دا کتابونه د ښاغلو ښوونکو له خوا په سمه او رغنده توګه تدريس شي، باور دى، چې له ښوونځي څخه تر فراغت وروسته به زده کوونکي وکړاى شي خپلې ورځنۍ اړتياوې له ستونزو پرته هوارې کړي.

ښايي يادونه وشي، چې په مورنۍ ژبې کې يو زده کوونکى خبرې کولاى شي او په اورېدلو يې مفهوم تر لاسه کولاى شي، خو يوازې لوستل او ليکل نشي کولاى. په داسې حال کې چې له مورنۍ ژبې پرته خبرې کول، اورېدل، لوستل او ليکل، څلور واړه، د زده کړې له لارې ترسره کيږي. په دې توګه د دويمې ژبې په زده کړه کې تر هرڅه دمخه پر خبرو کولو او پر خبرو پوهېدلو (اورېدلو) ټينګار کيږي. لوستل او ليکل په دويم پړاو کې راځي.

د دويمې ژبې په توګه د پښتو لوست په کتابونو کې د لوست د متن په پرتله په فعاليتونو او تمرينونو زيات زور اچول شوى دى. درانه ښوونکي دې، دې ټکي ته پوره پام وکړي، چې د متن د منځپانګې (محتوى) له مخې زده کوونکي ډېر فعال وساتي، د ټولګي مخې ته يې راوغواړي او خبرې پرې وکړي، که څه هم په لومړي سرکې دا خبرې پوره معنا ور نه کړي. په ورو ورو زده کوونکي له خبرو سره مينه پيدا کوي، خپلو نيمګړتياوو ته پام کوي، ډاډمن کيږي او له ډاره پرته د نورو په وړاندې خبرې کوي او د نورو پر خبرو ځان پوهوي. ښوونکي ته سپارښتنه کيږي، تر ډېره بريده په ټولګي کې له زده کوونکو سره په پښتو خبرې وکړي او هغوى هم وهڅوي، چې د پښتو په درسي په ساعت کې په پښتو وغږيږي. ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي دې د يو لوست موضوع د اووني په اوږدو کې بيا بيا تکرار کړي او ډاډ دې ترلاسه کړي، چې د زده کوونکو په خبرو کولو او سمو اوربدلو کې ښه والی راغلی دی. درانه ښوونکي دې د خپلو تدريسي تجربو له مخې له بېلا بېلو ميتودونو او لاروچارو څخه ګټه واخلي او هڅه دې وکړي لوست د زده کوونکو له ميني سره برابر چمتو کړي. د ټولګي دننه د غونډو جوړول، تمثيل، د مقالو ليکل، د جرېدو جوړول او د ورځنيو اړتياوو په اړه خبرې کول داسې فعاليتونه دي، چې زده کوونکي د ژبې زده کړې ته هڅوي او مرسته ورسره کوي.

د لوست په دې کتابونوکې د ورځنيو موضوعاتو په اړه يو لړ مرکې راغلې. ښوونکی دې دا مرکې په زده کوونکو سرته ورسوي. توپير نه کوي، که مرکې ټکي په ټکي د کتاب له متن سره سمون ونه لري. درانه ښوونکي دې زيار وکاږي، ددې مرکو په څېر نورې په زړه پورې موضوعګانې پيدا او زده کوونکو ته دې لارښوونه وکړي، چې په لنډو مرکو يې سرته ورسوي. دلته د ښوونکو مهارت، وړتيا، تجربه، مينه، مسؤوليت او نه ستړی کېدونکی کار خورا ډېر اغېزمن واقع کيږي. له دولسم ټولګي څخه د دويمې ژبې فارغ زده کوونکی بايد تر ډېرې کچې په پښتو خبرې وکړای شي، نورو ته خپل مفهوم او غوښتنه له ستونزو پرته ورسولای شي، د نورو پر خبرو او ويناوو پوه شي او هغه څه چې غواړي له ستونزې پرته پخپله وليکلای شي.

د داسې يوې ورځې په هيله، چې د افغانستان ټول وګړي له ستونزو پرته د يو واحد ولس په توګه يو د بل په ژبه وپوهيږي او خپلې اړتياوې پوره کړي.

د ثانوي دورې د پښتو ژبې درسي کتابونه د افغانستان د تعليمي نصاب د عمومي هدفونو پر بنسټ په دې موخه تاليف اوتدوين شوي دي چې زده کوونکي په ټولنيزو اړيکو کې د ژبې پر ارزښت، د معياري ژبې پر پېژندنې او د ملي، ديني او فرهنګي ارزښتونو په پياوړتيا کې د هغې په رول وپوهيږي. ښه او رغنده تدريس د زده کړې د عمومي پروګرام يوه برخه ده او ټاکلو موخو ته رسيدل اسانوي.

## د مضمون د تدريس لارښود

ددې لارښود په لومړي څپرکي کې د درسي مضمون له عموميا تو او لومړنيو خبرو او د تدريس او ارزونې له لارو چارو سره بلد شوئ. په دې څپرکي کې به د تدريس له کلني پلان او د هر لوست د تدريس له لارو چارو سره بلد شئ.

د تدريس کلنی پلان

د تدريس کلنی پلان څرګندوي چې د لوست کتاب پر يوه تعليمي کال څنګه ووېشل شي. زموږ په هېواد کې تعليمي کال د سړو او تودو سيمو لپاره يو له بله توپير کوي. په تودو سيمو کې تعليمي کال د مني د فصل په پيل پيليږي. د مرغومې د مياشتې په دوه اوونيو کې څلور نيم مياشتنۍ ازموينه اخيستل کيږي. وروستۍ دوه اوونۍ زده کوونکي رخصتيږي. د پسرلي د فصل په وروستۍ مياشت، يعني غبرګولي کې په دوو لومړنيو اوونيو کې ازموينه اخيستل کيږي او له هغې وروسته زده کوونکي د کال وروستي رخصتي اخلي.

په سړو سيمو کې تعليمي کال د وري په لومړۍ پيليږي. څلورنيم مياشتنۍ ازموينه د چنګاښ په مياشت کې اخيستل کيږي. زده کوونکي له ازموينې څخه وروسته د زمري په دوو لومړنيو اوونيو کې رخصتيږي. د تعليمي کال په پای کې د ليندۍ د مياشتې په لومړيو دوو اوونيو کې کلنۍ ازموينې پيليږي او له هغې وروسته زده کوونکي د ژمي په رخصتۍ ځي. تعليمي کال ۲۸ اوونۍ دوام مومي. د کلني پلان د تنظيم لپاره د لوست د کتاب مخونه پر ۲۸ سرليکونو وېشل کيږي. لاسته راغلې شمېره په يوې اوونۍ کې د لوست د کتاب د تدريس برخه څرګندوي. د هر لوست په ورځني پلان کې د هر لوست د زده کړې موخې، د تدريس او ارزونې لارې چارې، د تدريس توکي، د تدريس فعاليتونه (د لومړنيو فعاليتونو سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول، لکه سلام، روغبړ، د حاضرۍ اخیستل، د پخواني لوست پوښتنه، د انګېزې رامنځته کول، د نوي لوســـت وړانـــدې کول او د زده کوونکو د زده کړې ارزول)، د لوست د متن او پای په اړه پوښتنې او د زده کوونکو او ښـــوونکو لپـــاره د اضافي معلوماتو برخه جوړوي. هغه په ځیر وګورئ او په پوره زړه سوي او رغنده ډول یې د شونتیا تر کچې پـــر خپلـــو زده کوونکو عملي کړئ. د لسم، یوولسم او دولسم ټولګي د پښتو د لوست کتابونه ۲۸ لوسته لري. هر لوست  په یوې اوونـــۍ کې تدرسیږي. د وروستي ساعت په پای کې ښوونکی ډاډ تر لاسه کوي چې زده کوونکي د لوست ټولې موخې تـــر لاســـه کړي دي؛ پوهه یې زیاته شوې؛ ژبنۍ وړتیا یې پیاوړې شوې او ذهنیت یې مثبت بدلون موندلی دی. په دې موخو کې د ژبـــې زده کړه، خبرې کول او لوستل تر هرڅه دمخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی لوست

## د تدريس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليكونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | مناجات | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پای کې به زده كوونكي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– د منا جات په معنا، مطلب اومفهوم به پوه شي .<br>– مناجات به له حمد سره توپير كړای شي.<br>– د مناجا تو لوستل به زده کړي.<br>– د مناجاتو له ويلو سره به يې مينه پيدا شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په يوازې سر ځواب كړای شي. | |
| د تدريس لارې | لوستل، ليكل، پوښتنې او ځوابونه، انفرادي فعاليت، ډله ييزفعاليت | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوی توكي | درسي كتاب، كتابچه، تخته، تباشير، قلم او تخته پاک | |
| د ارزونې لارې او وسيلې | شفاهي پوښتنې، څارنه او د ښوونكي د يادداښت كتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | سلام، روغبړ او له زده كوونكو سره پيژندګلوي | ۴ دقيقې |
| د انګېزې رامنځته كول | ښوونكی د ژبې د زده کړې په اړه له زده كوونكو سره خبرې كوي او د هغې اهميت او ارزښت ته يې پام رااړوي. | ۶ دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
|---|---|---|
| ـ ښوونکی زده کوونکو ته د نوي تعليمي کال د رارسېدو له امله مبارکي او ښه راغلاست وايي او د هغوی د هڅو او د لوست د زده کړې د ګټو په اړه معلومات ورکوي. بيا له هر زده کوونکی څخه د تعليمي کال د پای د رخصتيو د تېرولو په اړه پوښتنې کوي. | ـ زده کوونکي د ښوونکي درناوی کوي. هر يو په خپل وار له ښوونکي او د زده کوونکوپه روزنه کې د هغه له نه ستړې کيدونکو هلو ځلو ستاينه کوي. بيا هر يو په خپل وار د تعليمي کال د رخصتيو د تېرولو به اړه لنډې خبرې کوي. | |
| ـ د نوي تعليمي کال په اړه زده کوونکو ته سپارښتنې کوي او په جلا جلا توګه يې لوست ويلو ته هڅوي او د زده کړې په اهميت او ارزښت يې پوهوي. | ـ زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نيسي او د هغه سپارښتنې مني. | |
| ـ په نوي تعليمي کال کې د پښتو ژبې د لا ښې زده کړې په اړه زده کوونکو ته خپل پلانونه څرګندوي او د ژبې د زده کړې موخې ورته بيانوي. | ـ زده کوونکي د ښوونکي پلانونه او د ژبې د زده کړې موخې ليکي، ځانونه پرې پوهوي او د تعليمي کال په اوږدو کې يې عملي کوي. | |
| ـ لا له همدې پيل څخه له زده کوونکو غواړي چې په خپلو ځانونو کې د خبرو او بيان ځواک پياوړی کړي، ښې او ادبي ليکنې وکړي او د نثر او شعر د ويلو او | ـ زده کوونکي د ژبې پر ارزښت ځانونه پوهوي او ګوري چې ښه وينا او ښه ليکنه څومره مهمه ده. د ښو ادبی ليکنو پر ځانګړتياوو ځانونه پوهوي او هوډ کوي چې د نثر او | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| لوستلو وړتیا په ځان کې ځواکمنه کړي. | شعر د ویلو وړتیا په ځان کې پیاوړې کړي. |
| ــ په ورځنیو چارو کې زیاتره د دوو تنو یا د یوې ټولنې د غړو تر منځ د ویونکي د اصلي پیغام د نه پوهېدو له امله ناندرۍ راولاړیږي. ښوونکی ددې نیمګړتیا د لېرې کولو لپاره د خبرو او ژبې له لارې په سم ډول د پیغام رسولو او د پوهولو او راپوهولو د تخنیک (Communication) پر اهمیت زده کوونکي پوهوي او د سوء تفاهم د راولاړیدو پر معنا او مفهوم یې پوهوي. | ــ زده کونکي د ناسم پوهاوي یا سوء تفاهم او په له منځه وړلو کې یې د وینا پراهمیت او ارزښت ځانونه پوهوي او هڅه کوي چې تل څرګندې او روښانه خبرې وکړي او په خپله وینا کې داسې کلمې وکاروي چې اورېدونکي ترې د هغه مطلب په ښه او سمه توګه واخیستلای شي او د ناسم پوهاوي مخه ونیولای شي. |
| ــ ښوونکی د همدې هڅونې له مخې د لوی خدایﷻ په نامه په نوي لوست پیل کوي. مناجات په ډېر زړه را کښونکي غږ لولي او له زده کوونکوغواړي د مناجات د لوستلو په ډول ځانونه وپوهوي. | ــ زده کوونکي متن ته غوږ نیسي او د مناجاتو د لوستلو او ویلو لارې چارې زده کوي. |
| ــ ښوونکی د مناجاتود متن پر ځانګړتیا زده کوونکي پوهوي. | ــ زده کوونکي د مناجات ځانګړتیاوې پېژني، له حمد، شعر او ساده نثر سره یې پر توپیرځانونه پوهوي. |
| ــ ښوونکی د متن له لوستلو وروسته د متن ستونزمنې برخې تشریح او نوې کلمې یې معنا کوي. | ــ زده کوونکي د متن پرستونزمنو برخو ځانونه پوهوي او د نوو کلمو معنا زده کوي. |
| ــ ښوونکي په پښتوادبیاتوکې د مناجاتو بېلګې راوړي او زده کوونکي پرې پوهوي. | ــ زده کوونکي هڅه کوي په پښتو ادبیاتو کې د مناجاتو بېلګې وګوري اوځینې یې له ځان سره یاداشت کړي. |
| ــ ښوونکی د زده کوونکو پوښتنو ته ځوابونه وایي. | ــ زده کوونکي په متن کې یا د متن په اړوند خپل معلومات بشپړوي او د ناڅرګندتیا په صورت کې له ښوونکي پوښتنه کوي. |
| ــ ښوونکی په لنډ ډول لوست تکراروي او زده کوونکي ارزوي. | ــ زده کوونکي د لوست پر لنډیز ځانونه پوهوي او د ښوونکي پوښتنوته ځوابونه ورکوي. |
| ــ ښوونکي ډاډ تر لاسه کوي چې د لوست پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې تر لاسه شوي دي. | ــ زده کوونکي ګوري چې په لوست کې یې کوم نوی شی زده کړی، د لیک او لوست وړتیا یې څومره ځواکمنه شوې او په فکر کې څومره بدلون راغلی دی. |
| ــ ښوونکی د لوست د فعالیتونو په ځوابولو کې له زده کوونکو سره مرسته کوي او په پای کې کورنۍ دنده ورکوي. | ــ زده کوونکي فعالیتونه ځوابوي او کورنۍ دنده اخلي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

مناجات پاک خدایﷻ ته له عجز او زارۍ څخه عبارت دی. په مناجات کې بنده خپله بېوسي اونیمګړتیا څرګندوي او له خدایﷻ څخه مغفرت او ښښنه غواړي.

په پښتو ادبیاتو کې بیټ نیکه (رح) لومړنی شخص و، چې د شعر په ژبه یې خدایﷻ ته زارۍ کړي او د خپلو نیمګړتیاوو د پوره کولو غوښتنه یې ځنې کړې ده. بیټ نیکه په ځینو لرغونو تاریخونوکې د(بیټ) (شیخ بیټني) اوشیخ بټن په نوم هم یاد شوی دی ، د ژوند وخت یې د۳۰۰ او ۴۰۰ کلونو ترمنځ اټکل شوی دی .بیټ نیکه دوه وروڼه یې درلودل چې مشریې سړبن او بل یې غرغښـــت نومیده . دپښتنو زیاتره قبایل همدغو نیکونو ته منسوب او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيتني، سرېني اوغرغبنتي با ندې مشهور د ي
و انک لعلی خلق عظیم [یقینا ته د لوړو اخلاقو خاوند یې. القلم سورت،۴ آیت]
(ربه، ای له ما څخه ماته نژدې او له ما څخه پر مابانديې مهربانه، ... ما وبښه، له ماسره له خپل کرم نه کار واخله، زما عمل ته مه ګوره، پر ما کار واچوه، زما تر وسې رابانديې بار واچوه، هغسې نه چې زما ترمخه دې پر نورو اچولي وو. زما له شان سره راسره برابره معامله وکړه، زما کړه پرما تاوان او ستا کرم پر ما احسان.)
د بقرې د سورت ۲۸۶ وروستی آیت : "لا یکلف الله نفسا الی وسعها. لها ما کسبت و علیها ماکتسبت. ربنا لا تواخذنا ان نسینا و اخطئنا. ربنا و لاتحمل علینا اصرا کما حملته علی الذین من قبلنا. ربنا و لا تحملنا ما لا طاقۀ لنا به. واعف عنا. واغفرلنا. وارحمنا. انت مولنا فانصرنا علی القوم الکفرین"
ژباړه: الله هیڅ نفس ته د هغه له وسې نه پورته مسؤولیت نه متوجه کوي. چا، چې څه ښه کړي دي، د هغو میوه د هماغه ده او چا، چې څه بدې کړې ده، د هغې ګناه پرهماغه ده. (مؤمنانو تاسو دا دعا وکړئ) . ای زموږ ربه، که له موږ نه څه هیره او خطا صادره شي، موږ پرې مه نیسه. څښتنه، پر موږ هغه پېټی مه ږده چې له موږ نه پر مخکنیو خلکو دې ایښی و.زموږ څښتنه، د کوم پېټي د پورته کولو چې په موږ کې وس نشته، هغه پر موږ مه ږده. له موږ سره اساني وکړه. وموږ له (ګناهونو) څخه تېر شه. پر موږ رحم وکړه. ته زموږ کار جوړوونکی یې. د کافرانو په مقابل کې زموږ مرسته وکړه."
د فعالیتونو په اړه معلومات او د پوښتنو ځوابونه
دیکلمه: په خواږه او ښکلي غږ د متن یا شعر لوستل
له ځانه مې پردی او خپل ځان ته مې نږدې کړه. مطلب یې دا دی چې ای خدایه ما له خپل نفس او هوس لرې کړه چې تا ته نږدې شم او ستا په عبادت بوخت شم.

**ښوونکي ته اضافي معلومات:**

د پښتو ادبیاتو د معاصرې دورې لیکوال او شاعر، ګل پا چا الفت د نورو موضعګانو تر څنګ مناجات هم ویلي او لیکلي دي. دلته د هغه دا لیکنه رااخلو:
لویه خدایه!
که زه ښه وکړم ،ته راسره ښه کوې. که بد وکړم د بدو سزا راکوې. که ستا مینه زما په زړه کې وي، په محبت راته ګورې. که زه بي مینې شم، ستامهرباني کمیږي.
ستا د رحمت بارا ن په ما با ندې هغه وخت وریږي چې زما په زړه کې رحم وي .زه چې هرڅه وکړم ته هماغسې راسره کوې.
نیکبختي اوبدبختي زما په عمل پورې اړه لري او جنت یا دوزخ ته تګ زما د عمل نتیجه ده.
زموږ عقل او فکر همدغه دی، موږ چې تاته په خپله آیینه کې وګورو ،ستا په باب دغه شا ن فکر کوو.که موږ ځا نته ونه ګورو، ستا لوی شا ن ته ګورو، ته زموږ له خیا ل اوفکرنه ډیر لوی یې .موږ چې د ځا ن غوند ې خلکو لپاره کالي نیسو ا و هغه د سرپه سترګو نه وینو یا به لنډ وي یابه اوږده. .پوهیږو چې ستاستاینه له موږ نه پوره نه ده. موږ ډیر واړه اوکوچني یو، ته ډیر لوی یې. دا زموږ کار دی چې د ښو په مقابل کې ښه وکړو او د بدو به مقابل کې بد. که موږ څوک ووهو حاکمان موږ وهي. که موږ په ځمکه کې غنم وشیندو او اوبه ورکړو، ډیر غنم را کوي او زموږ آوبه او دانه ځمکه هم بي عوضه نه پریږدي. که د یوه نیالګي پالنه او روزنه وکړو، خوږ ه میوه او یخ سیوری را کوي. که سوداګر ته پیسې ورکړو، هرڅه چې وغواړو راوړې یې. که له یوه ماشوم سره مینه وکړو، هغه له موږ سره مینه کوي. ستا شان له مخلوق نه ډیر اوچت دی. ستا اراده زموږ د ارادې تابع نه ده. ستا کړه زموږ له کړونه نه پیداکیږي . ستا محبت زموږ د محبت مولود (زیږنده) نه ده. ته خالق یې او موږ مخلوق یو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | داسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم سيرت | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پا ی کې به زده کوونکي لاندې موخې ترلاسه کړي:<br>– د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم د سيرت په اړه به معلومات پيدا کړي.<br>– د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم سيرت او اخلاق به د خپل ژوند د لارې مشال وګرځوي.<br>– د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم د سيرت او اخلاقو په اړه به نورو ته معلومات ورکړای شي.<br>– د ليک او وينا وړتيا به يې پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په يوازې سر، سرته ورسولای شي. | |
| د تدريس لار ې | لوستل، ليکل، اوريدل، پوښتنه او ځواب، ډله ييز کار او يوکسيزکار | |
| د تدريس وسيلې اومرستندوی توکي | درسي کتاب، کتابچه، تخته، تباشير، قلم او تخته پاک | |
| د ارزونې لارې او وسيلې | شفاهي پوښتنې، څارنه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | سلام، روغبړ، د کورنۍ دند ې ليد ل او د تير لوست ارزونه | ۴ دقيقې |
| د انګيزې رامنځته کول | – سيرت څه ته وايي؟<br>– د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم له سيرت څخه مو څومره په ځان کې عملي کړي دي؟ | ٦ دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زد ه کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
|---|---|---|
| – ښوونکي متن لولي. | – زده کوونکې ښوونکي ته غوږ نيسي او د متن ستونزمنې برخې په نښه کوي. | |
| – ښوونکی د متن پر ځينو برخو له زده کوونکو سره خبرې کوي. | – زده کوونکي د ښوونکي د څرګندونو يادداشت اخلي. | |
| – ښوونکی زده کوونکو ته وار ورکوي چې د متن يو، يو پراګراف ولولي. | – زده کوونکې په وار سره د متن يو، يو پراګراف لولي. | |
| – ښوونکی له څو تنو زده کوونکو څخه غواړي چې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د حضرت محمد صلی الله عليه | – څو تنه زده کوونکي په وار سره د ټولګي مخې ته راځي او د ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم د سيرت اواخلاقو په اړه خبرې کوي او څرګندوي چې ولې د پيغمبر سيرت او اخلاق د هر مسلمان د لارې مشال دی. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| وسلم د غوره اخلاقو په اړه خبرې وکړي.<br>- ښوونکی زده کوونکوته لارښوونه کوي چې د متن نوې کلمې پیدا او پر معنا یې ځانونه وپوهوي. | - زده کوونکي متن لولي اوپر نوو کلمو ځانونه پوهوي. |
| - ښوونکی زده کوونکي په مناسبو ډلو ویشي او دنده ورکوي چې په خپلو منځونوکې د محمد صلی الله علیه وسلم پر غوره اخلاقو باندې خبرې وکړي او وروسته دې یو تن د ډلې د خبرو لنډیز نورو ټولګیوالو ته واوروي. | - زده کوونکي په ډلو کې په خپل وار د ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر اخلاقو خبرې کوي. یو تن د ډلې د غړو خبرې لیکي او په پای کې د لنډیز په توګه نورو ته اوروري. په ډله کې هر زده کوونکی خپل نظر څرګندوي او په وار سره د ډلې مشري او د ډلې په استازیتوب وینا کوي. |
| - ښوونکي د متن لنډیز تکراروي او د لوست پر اصلي پیغام زده کوونکي پوهوي. | - زده کوونکي ګوري چې له لوست څخه کومه نوې پوهه تر لاسه کړه، د وینا او لیک ورتیا یې څومره توپیر وموند او په فکر کې د خپلو اخلاقو څومره بدلون راغلی. |
| - ښوونکی له یوڅو تنو زده کوونکوڅخه د لوست په اړه پوښتنې کوي او خپل لوست ارزوي. | - زده کوونکي په ډېره مینه د ښوونکي پوښتنو ته ځوابونه وایي. که اړتیا یې درلوده د لازیاتو معلوماتو لپاره دې له ښوونکي څخه پوښتنې وکړي. |
| - که اړتیا وه، ښوونکي د لوست د پای په فعالیتونو کې له زده کوونکو سره مرسته کوي. | - زده کوونکي د لوست د پای فعالیتونه په یوازې سر ځوابوي. |
| - په پای کې په خپله خوښه زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. له کورنۍ دندې څخه باید موخه د زده کوونکو د لیک او ورتیا پیاوړي کول وي. | - زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او په کورونو کې یې ځوابوي. هڅه کوي لیکنه یې ښکلې او ادبي رنګ ولري. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول**

سیرت د باطني او ظاهري خوی او اخلاقو او چال چلن مجموعه ده.

و انک لعلی خلق عظیم [یقینا ته د لوړو اخلاقو خاوند یې. القلم سورت،۴ آیت]

سیرت النبي: د هغه کتاب نوم دی چې د حضرت محمدﷺ سیرت او صورت په اړه په کې څرګندونې راغلي دي.

**د فعالیت د دریمې پوښتنې سم ځواب:**

هرکله به چې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمدﷺ مخې ته دوه کارونه پراته وو، نو ډېر اسانه به یې ترې غوره کاوه، په دې شرط چې په هغې کې به ګناه نغښتې نه وه. هیڅکله یې له چا څخه غچ نه اخیست، مګر داچې شریعت به تر پښنو لاندې شوی و. د خدای رسول له قهر او غوسې ډېر لیرې و. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ورکړه او سخا کې داسې مقام درلود چې د بل چا وسه ورته نه رسېده. وایي چې له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه داسې شی نه و غوښتل شوی چې هغه یې په وړاندې ((نه)) ویلې وي. ګران پیغمبر تر ټولو زړور و او تل به په سختو شرایطو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح، اضرېده.

**اضافي معلومات:**

**حضرت محمدﷺ د عبدالله زوی، د عبدالمطلب لمسی، د هاشم کړوسی او د مناف کودی دی. د رسولﷺ کورنۍ د ده د نېکه نوم هاشم بن عبد مناف ته منسوبه ده ،یعنې د «هاشم» په کورنۍ یا دېږ ي. حضرت محمدﷺ د دوشنبې په سهار د ربیع الاول په (۱۲) نېټه دنیا ته سترګې وغړولې.**

**له دې کبله چې اللهﷻ خپل رسول ته د شفاعت او لویې درجې لورینه کړې او مسلمانانو ته یې ښوونه کړې چې مینه ورسره وکړي، ځکه له هغه سره مینه له اللهﷻ سره مینه ګڼل کیږي. لکه چې الله تعالی د آل عمران د سورت په ۳۱ آیت کې فرمایي:**

**[ژباړه: ورته ووایه، که تاسې ربښتیا هم له الله جل جلاله سره مینه لرئ، نو له ما سره مینه وکړئ. الله پاک به تاسې خوښ او ګناهونه به درته وبښي.]**

**د همدغو ښوونو په رڼا کې زړونه د رسول اکرمﷺ د مینې په لور ورمات شو ل او د هغو چارو په لټه کې شول چې له رسول اللهﷺ سره یې اړیکې نژدې او بیا پخې کړي. نو ځکه مونږ ګورو چې د اسلام له پیل څخه مسلمانان د رسول اکرمﷺ د ښیګڼو په یا دولو او د هغه د ښکلو اخلا قو او سیرت د خپرولو په میدان کې یو له بل څخه ځان وړاندې کوي. د رسول اکرمﷺ سیرت د هغه له خبرو، کړنو او غوره خویونو او عاداتو څخه عبارت د ی. حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایي: د رسول اللهﷺ اخلاق قرآن و.هغه څوک چې د دومره لوړو اخلاقو څښتن وي، نو ځکه به د اللهﷻ د ټولو بندګانو د مینې او محبت نمونه وي. رسول اکرمﷺ د هومره سپیڅلو اخلاقو څښتن و چې د قلم په څوکه یې لیکل اسان کار نه دی. همدغه غوره والی و، چې زړونه ورته رامات او میړنې دې ته تیار وو چې د خپلو سرونو په بدل یې وژغوري. هغه چې ورسره نژد ي اوسیدل ترهغه پړاوه یې مینه ورسره وه چې د خپلو سرونو په قیمت یې هم د هغه د یو نوک ګریدل نشوای زغملای. دې مینې او محبت له دې بله هېڅ انګیزه نه درلوده چې دده په انډول ښکلې او زړه وړونکې خویونه یې په بل چا کې نه وو لیدلې. که څه هم د هغه مبارک د ټولو خویونو، عاداتو او کړنو بشپړه لیکنه زمونږ له وس پورته ده، بیا هم هڅه کوو چې په دې هکله نقل شوې روایات په لنډ ډول په لاند ې کرښو کې ولیکو:**

**د حضرت محمدﷺ ښایست:**

**د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمدﷺ په ځا نګړ یو صفتونو او زړه راښکونکو خویونوسمبال و چې د همدغه ویاړ، اخلاقو او صفاتو په وسیله یې د نړۍ ګوټ ګوټ ته د اسلام سپیڅلی دین ورساوه، ځکه خو یې اسماني کتاب د سترو اخلاقو یادونه کوي حضرت محمدﷺ د داسې ښکلو او نیکو ا خلاقو څښتن و چې زړونه ورته تسلیمیدل. دا یو څرګند حقیقت دی چې رسول اللهﷺ د ټول بشریت لپاره ستر لارښود و. د هغه په امانتدارۍ، رېښتینولۍ او صداقت د هغه وخت کا فرانو هم اعتراف کاوه. د ډېرو سپیڅلو او خوږو اخلاقو له امله صحابه کرامو ورسره دومره مینه درلود ه چې په خپله یې مرګ مانه، خو داسې یې نه غوښتل چې د هغه یو ویښته ته هم زیان ورسیږي. دلته د محمدﷺ د صفاتو او اخلاقوپه اړه په ترتیب سره له یو لړ باوري سرچینو څخه یو څو نظره را اخلو:**

**د نړۍ سردار حضرت محمدﷺ برابر قد درلود، لوړوالي ته مایل و، مبارکه څېره یې غنمرنګه وه، د سر ویښتان مبارک یې نه ډېر نیغ او نه ډېر ول ول وو، مخامخ غاښونه مبارک یې سره بېل بېل وو چې د خبرو پر وخت به یې رڼا کوله، سترګې مبارکې یې تورې او باڼه یې اوږده وو، وریځې مبارکې یې سره ښېلې وې، مبارک مخ یې غوښن و، پوزه مبارکه یې نرۍ اولوړه وه، سر مبارک یې هم برابر لږ غټ و، ږیره مبارکه یې دومره ګڼه وه چې سینه مبارکه یې پرې ډکیده (پټېده)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

.غاړه مبارکه يې هم تر ټولو خلکو ښا يسته وه، بدن مبارک يې نه ډېر ډ نګر او نه ډېر غټ و، برابر وجود يې درلود. په نور بدن يې ډېر ويښتا ن نه وو، د اوږو منځ او سينه مبارکه يې پرا خه وه، سينه اوګېډه مبارکه يې سره برابره(هواره) وه .د بدن بندونه مبارک يې غټ او مضبوط وو، د لاسونو ورغوى مبارک يې غوښن وو، د تلو په وخت کې به يې قدمونه په قوت سره اوچتول تا به ويل چې مخ پرځوږې روا ن دى او همېشه به يې ځمکې ته کتل. جابر بن سمرهؓ فرمايي چې د سترګو مبارکو په سپينو کې يې سرې کرښې وې، لوړه خندا يې نه کوله، سترګې به يې په رنجو توري ښکاريدي، خو په حقيقت کې به يې رانجه نه وو کړي. له بي بي عايشې رضى الله تعالى عنها څخه روايت دى چې نبي کريم به په تياره شپه کې هم داسې ليدل، لکه په رڼا کې. جابرؓ فرمايي: يوه شپه سپوږمۍ راختلي وه، رسول اللهﷺ ته مې وکتل او بيا مې سپوږمۍ ته وکتل، هغه سرې جامې اغوستې وې، زما په سترګو کې تر سپوږمۍ ښکلى اوځليدونکي بريښيد. انسؓ فرمايي: ما داسې خوږ بوى (مشک او عنبر) نه دى بوى کړى چې د رسول اللهﷺ تر بدنه دې خوږ وي. رسول اللهﷺ به چې کله له چا سره سترې مشي وکړه، ټوله ورځ به يې له لاسونو څخه خوږ بوى تلو، يا د کوم ماشوم پر سر چې به يې لاس کېښود، د ماشومانو په منځ کې به بيا پيژندل کېده، ځکه چې له هغه څخه به خوږ بوى تلو. رسول اللهﷺ يوه ورځ د انس بن مالکؓ په کور کې ويده و، رسول اللهﷺ خوله شو، د انس مور بي بي يوه شيشه راوړه او د هغه مبارک خوله يې پکې ټولوله. رسول اللهﷺ پوښتنه وکړه دا څه کوې؟ هغې ورته وويل: دا موږ په خپلو عطرو کې ګډوو، ځکه دا تر هر څه خوږ بويه او غوره دي. رسول اللهﷺ فرمايلي دي، يقينا زما سترګې ويدې کيږي، خو زړه مې ويښ (بيدار) وي. له انسؓ څخه روايت دى چې رسول اللهﷺ وفرمايل: اى خلکو! زه ستاسو امام يم له ما څخه په رکوع او سجده کې مه مخکې کيږئ، ځکه چې تاسو ماته مخکې هم ښکارئ او شاته هم. رسول اللهﷺ ډېرې داسې ځانګړنې درلودې چې اسلامي امت به يې د نورو پيغمبرانو د ځانګړنو په لړۍ کې ونه مومي، د دې ټولو فکري، روحي، صورتي او سيرتي ځا نګړنو په لړ کې يې لويه ځانګړنه داوه چې دده مبارک له بد ن څخه به هر لوري ته تل خوږ بوى او وږمې ته خپريدې، آن تر دې چې ډېر ځله به د ده خوږ بوى صحابه کرامو ته د ده راتګ زيرى ورکاوه .

**اخځليکونه:**

حقيقت لار، خپلواکه ديني، ملي، فرهنګي او ټولنيزه مياشتنى خپرونه، دريم کال، حمل، نهمه ګڼه ۱۳۸۹، لمريز کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم لوست

**د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه**

| دقيقې | د مطلبونو شرحه | د مطلبونو سرليکونه |
|---|---|---|
| | د سولې ارزښت | د لوست موضوع |
| | د لوست په پا ی کې به زده کوونکي لاند ې موخې تر لاسه کړي:<br>– د سولې پر معنا، مفهوم او ارزښت به پوه شي.<br>– له سولې سره مينه اوله جګړې څخه کرکه به پکې پياوړې شي.<br>– د سولې په اړتيا پوه شي.<br>– زده کوونکي به وپوهيږي چې د سولې په تامين کې بايد کومو اصولو ته پا م وشي.<br>– د سولې له تامين سره به يې مينه پيدا شي.<br>– د سولې په اړه به يې د وينا او ليک وړتيا پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په خپلواک ډول ځواب کړي. | د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې |
| | لوستل، ليکل، اوريد ل، پوښتنې، ځواب او ډله ييز کار | د تدريس لار ې |
| | درسي کتاب، کتابچه، تخته او تباشير | د تدريس وسيلې او مرستندوی توکي |
| | شفاهي پوښتنې، څارنه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه. | د ارزونې لارې او وسيلې |
| ۴ دقيقې | سلام ، روغبړ، د کورني کار ليدل او د تېر لوست ارزونه | د زده کړې او تدريس فعاليتونه |
| ٦ دقيقې | – ايا تاسو له چاسره له زړه بدوالي وروسته روغه کړې؟<br>– روغه جوړه، پخلاينه او سوله څنګه کلمې دي؟<br>– د سولې ارزښت په کوم وخت کې سړي ته څرګنديږي؟ | د انګيزې رامنځته کول |

| ۳۵ دقيقې د زده کوونکو فعاليتونه | د ښوونکي فعاليتونه |
|---|---|
| – زده کوونکي د نوي لوست متن ته غوږ نيسي.<br>– زده کوونکي غوږ نيسي چې د سولې ګټې کومې دي او جګړه څه تاوان لري. له ښوونکي سره دې ځان د نظر په وړاندې کولو سره شريک کړي.<br>– زده کوونکي متن له ځا ن سره لولي او پر مفهوم يې ځانونه پوهوي.<br>– څو تنه زده کوونکې د نوبت له مخې يو، يو پراګراف لولي | – ښوونکی متن لولي.<br>– ښوونکی د سولې د ارزښت او اړتيا په اړه له زده کوونکو سره خبرې کوي. د سولې پر ګټو او د جګړې پر تاوان او زيانونو زده کوونکي پوهوي. زده کوونکو ته وايي چې په جګړې کې هر راز معنوي او مادي شتمني له منځه ځي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې متن له ځان سره ولولي او پر مفهوم يې فکر وکړي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښوونکي يو څو تنه زده کوونکو ته وايي چې يو، يو پراګراف ولولي. ښوونکي د هغوی نيمګړتياوې سموي.
- ښوونکی څو تنه زده کوونکي په وار سره د ټولګي مخې ته رابولي چې د سولې د ګټو او د جګړو پر زيانونو يو، دوه دقيقې خبرې وکړي.
- ښوونکي دوه تنه زده کوونکي د ټولګي په وړاندې راغواړي چې د سولې او جګړې په اړه يو له بل سره مرکه وکړي.
- ښوونکی زده کوونکي په مناسبو ډلو ويشي او دنده ورکوي چې د لاندې موضوع په اړه په خپلو کې خبرې وکړي او په پای کې د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظر نورو ته څرګندوي: "څنګه کولای شو د خلکو په ذ هنونو کې د سولې ساتنې اصل ورروزو؟"
- ښوونکی پر دې ټکي رڼا اچوي چې په جګړې کې ښکېل ولسونه او هېوادونه ولې سولې ته اړتيا لري.
- ښوونکی دوه تنه داوطلب زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي او ورته وايي په دې اړه خبرې وکړي، چې د کور او کلي اختلافات څنګه هوارېدای شي؟
- ښوونکي متن په لنډوخبرو تکراروي او د پوښتنو له لارې ارزوي چې د لوست پوهنيزې، مهارتي او ذهيتي موخې لاس ته راغلي او که نه؟
- ښوونکي زده کوونکو ته دنده سپاري چې د سولې د ارزښت او د جګړې د زيانونو په اړه يوه ښکلې مقاله وليکي او په بله ورځ يې په ټولګي کې ولولي.

او د ښوونکي لارښوونو ته غوږ نيسي.

- څو زده کوونکي په وار سره د ټولګي مخې ته راځي او د سولې د ګټواو د جګړې پر زيانونو خبرې کوي.
- دوه، دوه تنه زده کوونکي په وار د ټولګيمخې ته راځي اود سولې او جګړې په اړه په خپلوکې خبرې کوي. موضوع باند ې په خپلو ډلو کې خبرې کوي.
- زده کوونکي په ډلو تقسيمېږي اود ورکړل شوې موضوع په اړه پخپلو کې خبرې کوي. بيا د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظر د ټولګي په وړاندې نورو زده کوونکو ته بيانوي. ټول زده کوونکي کولای شي له ډلو له استازو څخه خپلې پوښتنې وکړي.
- زده کوونکي سولې ته د ولسونو او هېوادونو د اړتيا په اړه د ښوونکي په بحث کې ځانونه شريکوي.
- زده کوونکي د خپلو شخصي تجربو له مخې د کور او کلي د خلکو تر منځ د (پولې، پټي، د اوبو لګولو، ګاونډيانو...) اختلافاتود هوارېدو پر لاروچاروخبرې کوي.
- زده کوونکي د لوست لنډيز ته غوږ نيسي او ګوري چې د سولې د ګټو او د جګړې د بدمرغيو په اړه يې په پوهه او وينا کې څومره بدلون راغلی دی.
- زده کووني د ښوونکي له لارښوونې سره سم د سولې د ارزښت او د جګړې د زيانونو په اړه په کورونو کې يوه ښکلې مقاله ليکي او په بله ورځ يې د پښتو مضمون په ساعت کې د نورو په وړاندې لولي.

**د متن د ستونزمنو برخو روښانو ل:**

له دې متل څخه:

"که زه وايم چې زه يم او ته وايې چې زه يم؛ نه به زه يم، نه به ته يې.

خو که زه وايم چې ته يې او ته وايې چې ته يې؛ هم به زه يم؛ هم به ته يې."

څخه موخه وحدت دی. په ځانځانی کې سرې تباه کيږي او په يووالي او وحدت کې سرې سوکاله او هوسا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم فعالیت:**

**د سولې په اصولو کې په یوې موضوع کې د ښکیلو دواړو یا ټولو لورو ګټو او زیانونو ته په متوازن او برابر ډول پام کیږي او یوازې یوه لوري ته ګټې اوامتیازونه، نه ورکول کیږي.**

**د سولې په اړه د خبرو اساسي ټکي هماغه دې چې جګړه او اختلاف یې رامنځته کړی دی.**

**د لاندې کلمومتن:**

**سوله، انساني، ژوند، بنسټ، سوله، رنګ او خوند، خوابدي، اړیکې، شلیږي، ژوند، ترخیږي.**

**[سوله د انساني ژوند بنسټ جوړوي. سوله ژوند ته رنګ او خوند ورکوي، خو دا رنګ او خوند هغه مهال سړي ته څرګندیږي چې سوله نه وي. سوله له دوو تنو څخه نیولې، بیا د کورنۍ د غړو، قومونو او ولسونو او په پای کې د یو هېواد دننه د استوګنو خلکو تر منځ د هغوی په ورځني ژوند اغیز کوي. که دوه تنه په خپل منځ کې پر یوه شي خوابدي شي، نو اړیکي یې شلیږي؛ که په یوې کورنۍ کې د پلار او مور، د مور او پلار او اولادونو یا د اولادونو په خپلمنځي اړیکو کې تاوتریخوالی راشي، ژوند یې ترخیږي.]**

**د اصطلاحګانو مفهوم:**

**د لاس غوټه په خولې پرانیستل: ځانته د یو کار پخپله سختول. که یو کار د سولې او تفاهم له لار هوار شي، جګړې ته اړتیا نه پیدا کوي.**

**د ټوپک په شپېلۍ خبرې کول: جنګ جګړه کول او یو بل پر ټوپک ویشتل.**

**د ژوند څرخ په ټپه درېدل: له ناخوالو او بدمرغیو سره لاس او ګرېوان کېدل، د پرمختګ نشتوالی**

**لاس په سر کېدل: تمه پرې کول، د یو کار له دوام څخه په نهیلۍ او مایوسۍ مخ اړول.**

**جګړه د هر ولس تدریجي ځان وژنه ده: یعني جګړه ورو، ورو ټوله مادي او معنوي شتمني له منځه وړي او ولسونه د بدمرغۍ، غم، کړاو او رنځ پر ټغر کښینوي.**

**اضافي معلومات:**

**اړتیا نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
| --- | --- | --- |
| د لوست موضوع | ټولنه او نوی نسل | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– په ټولنه کې د ځوان نسل (لوستو پېغلو او ځوانانو) پر اهميت او ارزښت به پوه شي.<br>– په ټولنيزو کارونو کې به په مسؤولانه ډول ونډه واخلي.<br>– د خپلې ټولنې په اصلاح او سمون کې به خپلې دندو اومسؤوليتونو ته پام وکړي.<br>– د موضوع په اړوند به په شفاهي او ليکلي ډول معلومات ورکړای شي.<br>– نورو پېغلو او ځوانانو ته به د لارې مشال شي.<br>– په خپلو کورونو، چم او ګاونډ کې به د ناسم دود، پر نشې د روږدې کېدو، د کوکنارو د کرکېلې او نورو ناوړو دودونو په مخنيوي کې له مشرانو سره مرستندوی شي.<br>– د ليک او وينا وړتيا به يې پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به له مرستې پرته ځواب کړای شي. | |
| د تدريس لارې | ليکل، لوستل، اوريدل، پوښتنه او ځواب او ډله ييز کار | |
| د تدريس وسيلې اومرستندوي توکي | درسي کتا ب، کتابچه، تباشيراو تخته | |
| د ارزونې لارې او وسيلې | شفاهي پوښتنې، څارنه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | سلام روغبړ، د کورنۍ کار ليدل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقيقې |
| د انګيزې رامنځته کول | – ځوان نسل چاته ويل کيږي؟<br>– وايي پېغلې او ځوانان د يوې ټولنې د ملا تير جوړوي. څه معنا؟<br>– تاسې د يوې پېغلې او ځوان په توګه په خپل کور، چم او ګاونډ څه کولای شئ؟<br>– له خپل ځان څخه ستاسو تمه او توقع څه شی ده؟ | ٦ دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| - ښوونکي د لوست د ورودي برخې له مخې د نوي یا ځوان نسل په اړه له زده کوونکو سره خبرې کوي. له ټولنې سره د هغوی اړیکي او په ټولنه کې د هغوی پر ارزښت رڼا اچوي. له څو تنو زده کوونکوڅخه غواړي په خپله خوښه د پېغلو او ځوانانو د دندو او مسؤولیتونو په اړوند خبرې وکړي. | - زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نیسي. په دې مطلب ځان پوهوي چې ځوان نسل څوک دی. په ټولنه کې د هغوی ارزښت ځانته مجسموي. د ښوونکي له لارښوونې سره سم څو تنه د نورو زده کوونکو په وړاندې په ټولنه کې د پېغلو او ځوانانو د ونډې په اړه خبرې کوي. | |
| - ښوونکی ورو، ورو او څرګند ډول متن لولي. په ټولنه کې د ښغلو اوځوانانو ارزښت د انسان په بدن کې د ملا د تیر یا شمزۍ له هډوکو سره پرتله کوي. څنګه چې انسان له شمزۍ پرته ودرېدای نشي او خوځښت نشي کولای، داسې یوه ټولنه هم له ځوانانو پرته پر خپلوپښو نشي ودرېدای. | - زده کوونکي متن ته غوږ نیسي او په دې ټکي ځانونه پوهوي چې ولې پېغلې اوځوانانو د ملا له تیر یا شمزۍ سره پرتله شوي دي. په دې اړه دې په عمومي خبرو اترو کې ځانونه ورګډه کړي. | |
| - ښوونکی پر څو تنو زده کوونکو یو، یو پراګراف متن لولي او د متن د لوستلو پر لارو چارو یې پوهوي. | - زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونو سره سم یو، یو پراګراف هغسې لولي، چې د تلویزون یو ویاند یې لولي. زده کوونکي هڅه کوي چې په ټولګي کې د متن د لوستلو له لارې په ځانونو کې د ویاندۍ وړتیا ورزوي. | |
| - ښوونکي په وار څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې د پېغلو او ځوانانو د اهمیت او ارزښت په اړه خپل نظر څرګند کړي. | - زده کوونکي په وار د ټولګي مخې ته ځي او د پېغلو او ځوانانو د ارزښت په اړه خپل نظر بیانوي. | |
| - ښوونکي زده کوونکي په ډلو ویشي او هرې ډلې ته دنده ورکوي چې په ټولنې کې د ښو کارونو د دودولو او د ناوړو دودونو (په ودونو او مړو کې بېځایه لګښتونو د مخنیوي، نشه یې توکو د کرکېلې او کارونې ...) په اړوند په خپلو کې خبرې وکړي او په پای کې د هرې ډلې یو تن استازی د خپلې ډلې پرېکړې د ټولګي په وړاندې نورو زده کوونکو ته ووایي. | - زده کوونکي په ډلوکې ځانونه تنظیموي او د ښوونکي له لارښوونو سره سم په ډله کې فعاله ونډه اخلي،خپل نظر څرګندوي او هغه لارې چارې په ګوته کوي چې ټولنه د نېکمرغۍ او سوکالۍ لوري ته بیایي. هر زده کوونکي مکلف دی چې خپل نظر وړاندې کړي. هرڅوک د نظر د ورکولو حق لري، په سم او ناسم نظر خبرې نه کیږي. د نورو نظر ته د درناوۍ حق لا له همدې ځایه باید په ځانونو کې وروزل شي. زده کوونکي دې په وار د ټولګي مشرتوب او استازیتوب وکړي، ترڅو یې وړتیا وروزل شي | |
| - ښوونکی دې دوو زده کوونکو ته دنده ورکړي، چې د ډلو پرېکړې یادداشت کړي. | . | |
| - ښوونکی د لوست لنډیز تکراروي او پر زده | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| کوونکو سپارښتنه کوي چې لومړی ځانونه وروزي او بیا د خپلې کورنۍ او ټولنې په اصلاح او سمون کې له مسؤولیت څخه ډک ګامونه واخلي. | – زده کوونکي د لوست لنډیزته غوږ ږدي او د ښوونکي لارښوونې د زړه په غوږونو اوري او عملي کوي یې. |
| – ښوونکی د پښتو د لوست په لومړي او دویم درسي ساعت کې پخپله خوښه او په دریمه ورځ د لوست د پای دنده وسپاري او په بله ورځ دې وګوري. | – زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او په بل درسي ساعت کې یې راوړي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

متن ستونزمنې برخې نه لري.

**اضافي معلومات:**

ځوانان د ټولنې هغه مهم پوړکی دی چې ټولنه د هغوی له غوښتنو سره سم حرکت کوي. ځکه ځوانان د فزیکي، فکري او بدني پلوه دومره پیاوړي او غښتلي دي چې نور څوک ورسره سیالی نشي کولای. پېغلې او ځوانان په عمومي توګه د ډیرو پاکو احساساتو خاوندان او د خپلو هېوادوالو د خدمت په لاره کې سرښندنو او هلو ځلو ته تیار دي. پېغلې او ځوانان ډېره انرژي لري. که چیرې له دوی سره لږه مرسته او لارښوونه وشي، کولای شي د ځان او هیواد لپاره خپله انرژي په یوه ډیره ګټور ه لاره وکاروي. که مناسبې لارښوونې ورته وشي او ښه وروزل شي، نو ټولنه به د سوکالۍ او نېکمرغۍ لوري ته یوسي. نن سبا ساینس او تکنالوژي ډیره پرمخ روانه ده، د نړۍ دا بیساری پرمختګ د تعلیمي سیستمونو دننه د بریالیو هڅو زیږنده ده. دا پرمختګونه د رسالتمندو ځوانانو د هاند او هڅو پایله ده. موږ غواړو د تعلیمي سیستم او فني زده کړو له لارې زموږ پېغلې او ځوانان خپل ځانونه د علم او تخنیک په نوو ګانو سمبال کړي، له هیواد سره د مینې پر بنسټ وروزل شي او د هیواد په بیا ودانولو کې د ټولو مخکښ شي. پېغلې او ځوانان د ټولنې د آبادۍ او پرمختګ ستر رسا لت پر غاړه لري، خو دا رسالت او د هغې سرته رسول په تشو خبرو نه کیږي، باید خپل تیر تاریخ مطالعه او د نړۍ اوسني شرایطو په پام کې ونیول شي. پېغلې او ځوانان باید ددې ټولنې د راتلونکي مسؤولیت منونکي مشران وي او خپل مسؤولیت د علم او پوهې او سالمې روزنې له لارې سرته ورسوي.

زموږ ځوانان او پېغلې کولای شي د پوهې اوسالمې روزنې په لاسته راوړلو د نړۍ د پرمختګ په کاروان کې مخکې لاړ شي او هم سره یو او یو موټی شي او د شیرشاه سوري په وینا له قومیت څخه ووځي اوملت جوړ کړي. زموږ ځوانان باید په هیوادکې د پرتو نیمګړتیاوو د لیرې کولو په لاره کې د ودانولو خواته هڅې وکړي او پرتې بدبختۍ په خپل یووالي اومیېنې سره له منځه یوسي. زموږ ځوانان باید دینداره، هیوادپال او د علم په ګاڼه سمبال وي او د هغوی ټول حرکتونه او عملي مهارتونه دټولنې د ابادۍ بنسټونه ټینګ کړي. راځئ چې د خپل هیواد ځوانان د خپل هیواد د راتلوونکي لپاره یوبل ته د وروري په پاکه روحیه وروزو او د تمدن له کاروان سره جوخت لاړ شي.

**اخځلیکونه:**


۱ــ ځوانان اوشخصیت جوړیدنه ، داکترتاج الدین (ملت مل)

۲ــ تلوسه ننګرهار، خپلواکه، کلتوري او معلوماتي خپرونه، څلورم کال، لومړۍ ګڼه، ۱۳۸۷ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم لوست

**تدریس وخت**: **په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه**

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | تشبيه | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پا ی کې به زده کوونکي لاند ې موخې تر لاسه کړی:<br>– زده کوونکي به د تشبيه پر معنا اومفهوم پوه شي.<br>– زده کوونکي به په شعر کې تشبيه وپېژني اوکله ناکله به يې پخپله هم وکاروي.<br>– زده کوونکي به په شعر کې د تشبيه د کارونې ښکلايي اړخ درک کړي.<br>– په زده کوونکو کې به د شعر د لوستلو قريحه پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به له مرستې پرته ځواب کړای شي. | |
| د تدريس لارې | لوستل، د شعر ديکلمه، اوريد ل، پوښتنه او ځواب او ډله ييز کار | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوی توکي | درسي کتا ب، دشعرونو يوه ټولګه يا دېوان، کتابچه، تباشير او تخته | |
| د ارزونې لارې او وسيلې | شفا هي پوښتنې، خارنه، د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | سلام، روغبړ، د کورني کار ليدل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقيقې |
| د انګيزې رامنځته کول | کله مو په شعر کې د تشبيه کلمه اوريدلې ده؟ | ٦ دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی د پښتوادبياتو د لرغوني دورې پرځانګړتياوو او پر هغې د اسلام د سپېڅلي دين او عربي ژبــې او ادب د اغېز په اړه لنډې خبرې کوي. ښـــوونکی پـــه خپلو خبرو کې دا څرګندوي چـــې ادبـــي صـــنعتونه (بديع، بيان،عروض او قافيه) له عربي ژبې څخه پښتو او دري ته رانوتي او پښتو شعر او ادب يې اغېـــزمن کړی دی. | – زد ه کوونکي د ښوونکي څرګندونو ته غوږ نيسي او پر دې ځانونه پوهوي چې د اسلام د سپېڅلي دين له راتګ وروسته عربي ژبې څومره زموږ افغاني ادبيات تر اغېز لاندې راوستي دي. | |
| – ښوونکی له زده کوونکو څخه د مشابه، تشابه، تشبيه او ورته والي د کلمو پوښتنه کوي او وروسته په لنډو جملو کې زده کوونکو ته تشبيه د يو ادبي صنعت پـــه توګه ورپېژني او په لوست پيل کوي. | – زده کوونکي د خپلو لومړنيو معلوماتو له مخې د ښوونکي پوښتنو ته ځواب وايي او دې ټکي ته پام کوي چې تشبيه د يو ادبي صنعت په توګه څه ته وايي. | |
| – ښوونکی لوست په مناسب غږ لولي او په هره برخـــه | – زده کوونکي له ښوونکي سره ملګرتيا کوي، لوست | |

| | |
|---|---|
| کې یو ښکلګه ییز شعر راوړي او زده کوونکو ته مشبه، مشبه به او د تشبیه توری ورپېژني. بیا له زده کوونکو غواړي پخپله داسې یو شعر پیدا کړي چې تشبیه پکې راغلې وي او پنځه واړه رکنونه یې وښودلای شي. | ته غوږنیسي، شعرونه اوري او پام کوي چې په شعرونو کې تشبیه او د هغې اړوند توکي څنګه وپېژني او پخپله یې ومومي. |
| – ښوونکی په شعرونو کې د تشبیه وجهه، د تشبیه غرض، ډولونه او نور اړخونه وڅیړي او پر زده کوونکو یې تر هغه مشق او تمرین کړي، چې هغوی وکړای شي پخپله یې په شعرونو کې ومومي او نورو ته یې څرګند کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم په شعرونو کې د تشبیه وجهه، د تشبیه غرض، ډولونه او اړخونه په نښه کوي او نورو ته یې څرګندوي. |
| – ښوونکی دې له مشق اوتمرین څخه وروسته یو، یو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته راوغواړي، شعر دې ورته ورکړي، زده کوونکی دې پر تخته ولیکي او ودې شني. | – یو، یو تن زده کوونکی د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي، شعر پر تخته لیکي او د تشبیه اړخونه او لوست پکې څیړي. نور زده کوونکي ورته پام کوي او د اړتیا په صورت کې ورسره مرسته کوي. زده کوونکي له اجازې او نوبت پرته خبرې نه کوي او د ټولګي نظم مراعاتوي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکي په ډلو وویشي او دنده دې ورکړي چې ټولو زده کوونکي شعرونه پیدا کړي او د تشبیه لوست په کې وڅیړي. ډېر تینګار دې پر هغو زده کوونکو وشي چې لږه مینه او وړتیا یې له ځانه ښودلې وي. | – زده کوونکي د پوهې د کچې په پام کې نیولو سره په ډلو کې تنظیمیږي او ورکړل شوې دنده څیړي او د خپل یو استازي په واسطه یې نورو ته اوروي. |
| – ښوونکی دې له زده کوونکو سره د فعالیتونو او په فعالیتونو پسې و راوړل شوو بیتونو په ځواب کې مرسته وکړي. | – زده کوونکي فعالیتونو ته ځوابونه وایي او که اړتیا وه له ښوونکي څخه مرسته غواړي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې په کورونو کې د پخوانیو شاعرانو یو یا څو شعري دیوانونه ومومي، شعرونه ترې راواخلي او د تشبیه لوست ټولې برخې دې پکې وڅیړي. | – زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او د ښوونکي له لارښوونو سره سم یې په کورنو کې سرته رسوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

**تشبیه:** په لغت کې تشابه او ورته ګڼلو ته ویل کیږي او په اصطلاح کې دور ته وایي. هغه اړیکې دي چې د یوه ځانګړي غرض لپاره یې ویونکي د دوو یا ډېرو ترمنځ د مشترکو صفتونو له امله د اداتو په واسطه څرګندوي. تشبیه په خبرو کې ښکلا، خوند او کیف زیاتوي. د تشبیه ارکان له مشبه، مشبه به، وجه شبه. عبارت دي. د تشبیه توري یا کلمې: په شا ن، غوند ې، په دود، په مثال، په رنګ، په څیر او نورې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه خس د سیلاب خلاص له ګمراهۍ یم

پر اوږو د رهبر سپـــــــــــور یم تر منزله

«د سیلاب، چې هر څیز په مخه راشي، له ځانه سره یې تر وروستي ځایه وړي. زه هم تر خپل منزله پورې د رهبر پر اوږو سپور یم.»

**اضافي معلومات:**

تشبیه: تشبیه په خبرو کې ښکلا، خوند او کیفیت زیاتوي او څرګندوي .که موږ د یوه شي لپاره یو صفت راوړو او وغواړو چې دغه صفت ښه څرګند شي، په ذ هن کې ښه مصور شي او یا د پیژندلو وړ شي، نو یو بل داسې شی پیدا کوو چې دغه صفت پکې لا زیات څرګندوي او بیا یې له هغه سره ورته بولو، لکه: که وغواړو چې د علم ښه والی او رڼا وښایو او ناپوهۍ تیاره او بدي څرګنده کړو، نو وایو: علم د لمر غوندې روښانه او جهل د تروږمۍ په څیر تیاره دی.

که ووایو: تورپیکۍ ښکلې ده. دا یوه عادي خبره ده، خو که ووایو تورپیکۍ د ګل غندې ښکلې ده، نو دلته له ګل سره تشبیه وشوه. په «تشبیه» کې اصل «مشبه به» وي په دې معنا چې د «مشبه وجه» پکې نسبت «مشبه» ته ډېره قوي وي. «مشبه او مشبه به» ته د «تشبیه» دوه خواوي یا اړخونه هم ویل کیږي.

د تشبیه ادات:

د تشبیه ادات هغه لفظ ته ویل کیږي چې تشبیه ترې څرګندیږي او مشبه او مشبه سره ترې. پښتو کې د تشبیه ادات دادي: ۱– لکه، ۲– غوندې، ۳– ورته، ۴– په شان، ۵– ته به وایې، ۷– په ډول، ۸– په رنګ، ۹– په دود، ۱۰– کټ مټ، ۱۱– داسې، ۱۲– هغسې، ۱۳– هسې، ۱۴– دغسې.

بېلګې یې دادي:

زلمی لکه زمری دی. ګلاب د یاقوت غوندې سور دی. د ګلالۍ څیره سورګل ته ورته ده. ځمکه د هندوانې په څیر ګرده ده. چمن د زمردو په شان شین دی. مالوچ داسې سپین دی ته به وایي چې واوره ده. ماشوم د ګل په ډول ښه ښکاري. سوډانی د کارغه په رنګ تور دی. شینواري د مومندو په دود مېلمه پال خلک دي. فیصل کټ مټ زبیر غوندې دی. په پسرلي کې غرونه داسې ښه ښکاري، لکه ګلدار ټوکر چې پرې غوړېدلی وي.

د تشبیه ډولونه:

لومړی ویش (د دواړو خواوو له مخې)

تشبیه د دواړو خواوو (مشبه او مشبه به) له مخې په دوه ډوله ده. ۱– حسي ۲– عقلي.

حسي تشبیه: حسي تشبیه هغې ته ویل کیږي چې د هغې درک او پیژندنه په پنځو څرګندو حواسو کیدای شي. او عقلي تشبیه هغې ته ویل کیږي چې درک او پیژندنه یې په عقل سره کیږي.

د تشبیه دویم وېش:

د تشبیه دویم وېش د افرادو او ترکیب له مخې دی چې د تشبیه دواړه خواوې (مشبه او مشبه به) به یا: مفردې وي، لکه د کارغه غوندې مخ چې (مخ) مشبه دی، (کارغه) مشبه به دی او دواړه مفرد دي. یا به مرکبې وي لکه د وړکتوب زد ه کړه لکه د کاڼي کرښه ده. (د وړکتوب زده کړه) مشبه د ه او مرکب دی او د (کاڼي کرښه) مشبه به ده او دا هم مرکبه ده. یا به مشبه مرکبه وي او مشبه به مفرده وي، لکه: د لیلا غاښونه د ږلۍ غوندې دي (دلیلا غاښونه) مشبه دي او مرکب دي (ږلۍ) مشبه به ده او مفرد ده. یا مشبه مفرده وي او مشبه به، به مرکبه وي، لکه: علم لکه د لمر رڼا ده. (علم) مشبه او مفرد دی (د لمر رڼا) مشبه به او مرکبه ده.

مفصله تشبیه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه تشبیه ده چې د مشبه وجه (د ورته والي لامل) پکې څرګند یاد شوی وي، لکه عبدالحمید بابا چې وایي:

لکه سر د پسه اور غابښـــونه سپین کا

ما له نــــــن له ډېره غمه خندا راغله

مجمله تشبیه:

دا هغه تشبیه ده چې د ورته والي لامل پکې څرګند نه وي یاد شوی، سپین ګل لکه زمری دی، چې زړورتیا پکې نه د ه یاد ه شوې

نږدې سپکه (قریبه مبتذله ) تشبیه:

دا هغه تشبیه ده چې څرګنده وي او له مشبه نه مشبه به ته ذ هن ډېر ژر او په اسانۍ سره انتقال کوي او کوم دقت او فکر ته اړتیا نه لري. لکه د ښکلي مخ تشبیه چې له سپوږمۍ سره ورکړي یا د اننګو تشبیه د ګلاب سره ورکړي.

ابتذال (سپکوالي) ته ویل کیږي، نو دې تشبیه ته ځکه قریبه مبتذله ویل کیږي چې د ورته والي لامل ډېر په اسانۍ سره او ډېر ژر پېژندل کیږي، نو په ذهن ډېره سپکه تمامیږي او د فکر او دقت درندوالي ته اړتیا نه پېښیږي.

لرې نا اشنا (بعید ه غریبه) تشبیه:

دا د مبتذ لې تشبیه په خلاف ده چې ډېره څرګنده نه وي او له مشبه نه مشبه به ته ذهن ژر او په اسانۍ سره نه راځي بلکه دقت او اند ته اړتیا پېښیږي

د تشبیه ګټې:

تشبیه د ډېرو غرضونو او ګټو لپاره راوړل کیږي او دا ټو ل په مشبه کې وي لکه تحسین، د پټ حال او وصف څرګندول، نااشنا اشنا ګرځول د اورېدونکي په ذهن کې ښه کښېنول، درونډ ګڼل، سپکاوی، نادر او سخت ګڼل او داسې نور.

د تشبیه ځینې بېلګې:

تشبیه یو داسې بحر دی چې ساحل نه لري او ځینې مشهورې او مستعملې بېلګې یې دادي.

لکه: د ښکلي مخ تشبیه له سپوږمۍ سره، د بد رنګ مخ له تبۍ او کارغه سره او د زلفو له مارانو سره، د زړور له زمري سره او د بې زړه له ګیدړ سره، د مکرجن او چلباز له ګیدړ سره او د کم عقل له خره سره، د جنګیالي او غورځنګي له باز سره، د غفلت له خوب سره او د علم او عدل له رڼا سره، د ناپوهۍ او ظلم له تیارې سره، د کلکوالي له تیږې، اوسپنې، فولادو او سندان سره، د نازکوالي د ګل او پیروي سره، د لوړوالی له غره او اسمان سره، د ټیټوالي له کندې، کوهي او تحت الثری سره، د نه کیدونکي، نه پیدا کیدونکي او نه راګرځېدونکي له عنقا سره، د پاریدلي او هیجان له طوفان سره، د غضب، غوسې او مصیبت له اور سره، د سوړوالي له واورې، ږلۍ او اوبو سره، د تېز اس له باد سره، د ښو خبرو له مرغلرو سره، د بې ځایه مداخله کوونکي له مچ سره، د زیان رسوونکي له مار او لړم سره، د سخي له حاتم طایي سره، د حریص له کارغه او ګونګټ سره، د ګړندي له باد سره، د ګرم او تېز له مرچک سره، د بې شرم او سپین سترګي له سپي سره، د ضدیت له ابوجهل سره، د رېښتوني له حضرت ابوبکرصدیقؓ سره، د عادل له حضرت عمر بن الخطابؓ او حضرت عمر بن عبدالعزیزؓ سره، د سخي له حضرت عثمانؓ سره، د زړور له حضرت علي کرم الله وجههُ سره، د ظالم له حجاج بن یوسف سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | پیغله ملالۍ | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې ترلاسه کړي:<br>– پیغله ملالۍ به د یوې افغانې اتلې په توګه وپیژني او د هغې له کارنامو څخه به خبر شي.<br>– د پیغلې ملالۍ له زړورتیا او سرښندنو څخه به زده کړه وکړي او د هېواد په ساتلو کې به هغه د ځان سرمشق کړي.<br>– د پیغلې ملالۍ د اتلولۍپه اړه به لیک او وینا وکړای شي.<br>– په عمومي توګه به یې د ژبې او لیک وړتیا پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په خپلواک ډول ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، اوریدل، پوښتنې او ځواب او انفرادي او ډله ییز کار. | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوي توکي | درسي کتا ب، کتابچه، تخته او تبا شیر | |
| د ارزونې لارې اووسیلې | شفا هي پوښتنې، څارنه او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | سلام، روغبړ، د کورنۍ کار لیدلو او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقیقې |
| د انګیزې رامنځ ته کول . | د هېواد په ساتلو کې د پیغلې ملالې په څېر د هېواد د باتورو او ننګیالیو زلمو د کارنامو په یادولو د نوي لوست زده کړې ته لار هوارول. | ۶ دقیقې |
| **د ښوونکي فعا لیتونه** | **د زده کوونکو فعالیتونه** | **۳۵ دقیقې** |
| – ښوونکي د لوست په پیل کې د هېواد د خپلواکۍ په ساتلو کې د پیغلو او زلمو د سرښندنو او د هېواد په تاریخ کې د پردیو دیرغلونو په وړاندې د ملي یووالي د اغېز په اړه خبرې کوي او هېواد په تېر تاریخ رڼا اچوي.<br>– د ګران هېواد له یرغلګرو سره د جګړې او سرښندنو په ډګرونو کې د افغاني مېرمنو ونډه او زړورتیا څرګندوي او د هغوی په ونډو خبرې کوي. افغاني مېرمنو د جګړې په ډګرونو کې یا پخپله ونډه اخیستې او یا یې غازیانو ته باروت، ګولۍ، اوبه او ډوډۍ وړې او یا یې د ټپیانو درملنه کړې. همداراز په | – زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نیسي او د اړتیا په صورت کې پوښتنې کوي. زده کوونکي د ملي یووالي اهمیت په ګوته کوي.<br>– زده کوونکي غوږ نیسي چې د هېواد د خپلواکۍ ګټلو له مبارزو څخه په ډک تاریخ کې د مېرمنو ونډه څومره درنه وه. زده کوونکي په ملي جګړو کې د افغاني مېرمنو په ګډون او څرنګوالي ځانونه پوهوي او په جګړو کې د حماسي سندرو او لنډیو اهمیت او ارزښت ځانونه پوهوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| خپلو ملي سندرو او پښتني لنډيو يې د هغوی وينې په جوش راوړستي او د غليم په وړاندې يې هرو مرو بري ته هڅولي دي. | |
| – ښوونکی لوست لولي او ځای ځای زده کوونکو ته معلومات ورکوي. | – زده کوونکي لوست ته غوږ نيسي او د نه پوهېدو په صورت کې له ښوونکي پوښتنې کوي. |
| – ښوونکي په هېواد کې د يادګاري څلو او د هغوی له ډلې څخه د ميوند واټ د نوموړکي سرتيري د څلي په اړه زده کوونکو معلومات ورکوي او د څلو د ودانولو پر اهميت او ارزښت يې پوهوي. | – زده زده کوونکي د يو بل په مرسته د هېواد د څلو او تاريخي ځايونو په اړه د ښوونکي معلومات اوري او خپل معلومات ورزياتوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې لوست له ځانه سره ولولي. | – زده کوونکي لوست له ځان سره لولي. |
| – ښوونکی څو تنه زده کوونکو ته بلنه ورکوي چې د لوست يوه يوه برخه د نورو په وړاندې ولولي. | – څو تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه لوست لولي. |
| – ښوونکی زده کوونکي په پنځو ډلو ويشي او د لوست د دويم فعاليت د اجرا دنده ورکوي. زده کوونکي هڅوي چې د ډلې په کار کې په فعال ډول برخه واخلي او خپل نظر څرګند کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم په ډلو کې ځانونه تنظيموي. په ورکړ شوې موضوع کې خپل نظر څرګندوي او دډلې په کار کې فعاله ونډه اخلي. هر زده کوونکي په وار د ډلې استازيتوب کوي او نورو ته د ډلې نظربيانوي. |
| – ښوونکی څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې د پيغلې ملالۍ د اتلولۍ کيسه په خپله ژبه نورو ته واوروي. | – څو تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د ټولګي مخې ته راځي او د پيغلې ملالۍ د اتلولۍ کيسه بيانوي. |
| – ښوونکي د لوست لنډيز بيانوي او د لوست د پای په فعاليتونو کې له زده کوونکو سره مرسته کوي. – ښوونکي زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د لوست د پای شعر په ښکلي نثر واړوي. | – ښوونکی د لوست لنډيز ته غوږ .دي او فعاليتونه ځوابوي. زده کوونکي د لوست د پای شعر په نثر اړوي او ليکي يې. |
| – ښوونکي زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | – زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي. |

**د لوست د پای د درېيم فعاليت ځواب:**

[له دې پورته څرګندونو داښکاري چې ملاله د ميوند په همدې تاريخي جګړې کې د شهادت مقام ته رسيدلې او تلپاتې نوم يې په برخه شوی دی. دغه ستره وياړلې کارنامه يې زموږ د هيواد په تاريخ کې په زرينو کرښو ليکل شوې. تر هغه چې افغان او افغانستان وي، له چابه نه هيريږي او په ډېر درناوي به لمانځل کيږي. ددې نوميالۍ او ننګيالۍ پيغلې قبر په ميوند کې معلوم او ډېر خلک يې زيارت ته ورځي.

روح دې يې تل ښاد او ياد وي!]

ښوونکي ته اضافي معلومات

**افغاني ميندې:** افغاني ميندې په ټولنه کې داسې د افتخار وړ ښځې تېرې شوې دي او يا اوس هم ژوند کوي چې د افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

نارینه ګانو پګړۍ او شملې پرې نېغې او لوړې دي. دا افغاني مېرمنې دي چې احمد شاه بابا، میرویس نېکه، بایزید روښان، غازي محمد اکبرخان، غازي محمد ایوب خان، غازي امیر امان الله خان، غازي محمدجانخان وردګ، محمد داود خان او د هغوی په څېر نور غښتلي اتلان یې روزلي دي. همدا افغاني مېرمنې دي، داسې باتور ځوانان یې په دې خاوره کې روزلي چې په میړانه یې د خپل هیواد دفاع کړې او هیوادوال پرې ویاړي، لکه زرغونه انا، نازو انا، مېرمن عینو، بي بي زینبه، سرداره غازي، توریالۍ، تورپیکۍ، غازي ادې، ملې اتله ملاله اوداسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم لوست

## د تدريس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | ډرامه څه ته وايي؟ | |
| **د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې** | د لوست په پای کې به زده ه کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړی:<br>– د پښتو ادبي نثر د يوې څانګې په توګه به ډرامه وپيژني.<br>– د ډرامې ادبي ارزښت او د ټولنې په سمون کې به د هغې ونډه وپيژني.<br>– د ډرامې کوميډې او تراژيدي برخې به وپيژني.<br>– د ډرامه ليکنې ورتيا به پکې وروزل شي.<br>– ژبنۍ او ليکنۍ ورتيا به يې پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په يوازې توګه سرته ورسولای شي. | |
| **د تدريس لارې** | لوستل، ليکل، اوريدل، پوښتنه او ځواب او ډله ييز کار | |
| **د تدريس وسيلې او مرستندوي توکي** | درسي کتا ب، کتابچه، تباشير، تخته او د ډرامې کومه نمونه | |
| **د ارزونې لارې او وسيلې** | شفاهي پوښتنې، څارنه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| **د زده کړې او تدريس فعاليتونه** | سلام، روغبړ او د کورني کار ليدل | ۴ دقيقې |
| **د انګيزې رامنځته کول** | – له زده کوونکو دې وپوښتل شي چې آيا د راديو يا تلويزيون له لارې يې کومه ډرامه ليدلې او يا اورېدلې، آيا کومه تمثيلي ټوټه يې ليدلې، آيا د ډرامې په اړه څه معلومات لري.<br>– دوه تنه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته وبلل شي چې د پلار او زوی په رولونو کې يوه موضوع ننداړې ته وړاندې کړي. | ٦ دقيقې |

| د ښوونکي فعا ليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی د ادبي نثر او د هغې د ډولونو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکوي. [د زياتومعلوماتو لپاره ۲۸ لوست وګورئ.] بيا په پښتو کې د ادبي نثر د پيل په اړه خبرې کوي. | – زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نيسي او د ادبي نثر پر مفهوم ځانونه پوهوي. | |
| – ښوونکی ډرامه تعريفوي او ډولونه يې بيانوي. د ستيج، راديوي او تلويزيوني ډرامې له بېلګو سره څرګندوي. | – زده کوونکي غوږ نيسي او د ډرامې په اړه نوي معلومات له ځانه سره ليکي. | |
| – ښوونکی د ډرامې د ژبې د څرنګوالي په اړه معلومات | – زده کوونکي غوږ نيسي او پوښتنې کوي، د بېلګې په | |

| | |
|---|---|
| ورکوي او د تراژيدي او کوميډي ډرامې تر منځ توپير او پر ليدونکو او اورېدونکو د هغې د اغېز په اړه څرګندونې کوي. | توګه ولې په ډرامه کې ځانګړې ژبه پکارېږي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې د ټولنې په سمون کې د ادبيانو او په تېره بيا د ډرامې رول څنګه دی. | – زده کوونکي پر دې ځانونه پوهوي چې پر خلکو د يوې ډرامې اغيز ولې تر بل هر څه ډېر دروند دی. |
| – ښوونکی په ډرامه کې د وخت، ځای او عمل حالتونه د بېلګو په وړاندې کولو روښانوي. | – زده کوونکي ځانونه پوهوي چې ځای، وخت اوعمل څنګه په ډرامې کې اهميت لرلای شي. |
| – ښوونکی په پښتو کې د ډرامې د مخينې او د هغو ليکوالانو نومونه يادوي چې ډرامې يې ليکلي دي. | – زده کوونکي د ډرامې د ليکوالو نومونه ليکي او د امکان په صورت کې يې د ډراموبېلګې لولي. |
| – ښوونکی لوست لولي او په هره برخه کې وړاندې شوي معلومات يو ځل بيا تکراروي او له زده کوونکو غواړي د ډرامې په ډولونو، محتوا او نورو ځانګړنو ځانونه پوه کړي. | – زه کوونکي لوست ته غوږ نيسي او ترلاسه شوي معلومات د لوست د متن له لارې پخوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د ډرامې بېلګه له ځانه سره ولولي او پرمحتوا يې ځانونه پوه کړي. | – زده کوونکي له لوست وروسته ليکل شوي ډرامه لولي او پر مفهوم يې ځانونه پوهوي. د وخت او امکان په صورت کې نومورې ډرامه په عملي توګه تمثيلوي. |
| – ښوونکی په وار.سره دوه، دوه داوطلب زده کوونکو ته بلنه ورکوي، چې د ټولګي په وړاندې د خپلې خوښې يوه موضوع د ډرامې په بڼه وړاندې کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم يوه لنډه موضوع ټاکي او تمثيلوي يې. |
| – ښوونکی زده کوونکي په مناسبو ډلو ويشي او هرې ډلې ته د يوې ډرامې د موضوع د پيداکولو، ليکلو او لوبولو دنده ورکوي او پرې يې عملي کوي. | – زده کوونکي په ډلو کې ځانونه تنظيموي او په ګروپي کار کې فعاله ونډه اخلي. |
| – ښوونکی د لوست لنډيز په يو، دوه زده کوونکو تکراروي او د فعاليتونو په ځوابولو کې ورسره مرسته کوي. | – دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د لوست لنډيزوايي او ټول زده کوونکي فعاليتونه ځوابوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته د يوې ډرامې د ليکلو دنده ورکوي. | – زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

د ادبي نثرد پېژندنې لپاره دې د همدې کتاب ۲۸ لوست ته مراجعه وشي.

**اضافي معلومات:**

## ډرامه (Drama)

ډرامه: يوه يوناني کلمه ده چې د (عمل) يا کړنې مانا لري. په ټولنيزه توګه ډرامه هغه ادبي اثر ته ويل کيږي چې د خبرو اترو په بڼه (فورم) ليکل کيږي او د تياتر لپاره جوړيږي. په دې پېژند (تعريف) کې ټول ډراماتيک ژانرونه شامل دي. په لويديځ کې ډرامه په ۱۸ پيړۍ کې د يوه ادبي ژانر په توګه رامنځته شوی. دا هغه مهال و چې د خلکو په نماينده گی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړې طبقې په وړاندې د ادب له لارې تبليغ او د ډرامو د ژانرونو په تمثيل کې د هغو پېښې او منازعات او غوښتنې مطرح کېدې. د لوړې طبقې پر ځای له عادي وګړو څخه لوبغاړي ټاکل کېدل پيل شوي او د ښکته پوړۍ د خلکو د ژوند د کړاوونو، بدو شرايطو او نابرابرو انساني کړو وړو په ښودلو او نندارېز ډول د ډرامې ژانر را پيل شوی دی.

ډرامه له ډېرو اړخونو حماسي ته ډېره نژدې ده، تر دې پورې چې په خپل اصل کې يو حماسي تخليق دی. توپير يې دا دی چې ډرامه د کيسه کوونکو له خبرو او الفاظو څخه بې برخې وي. په حماسي اثر کې داسې ښکاري لکه د لوستونکي په وړاندې چې مؤلف د کيسه کوونکي په ډول د پېښې تفصيل وړاندې کوي، اتل يا هيرو ښيي او له خپله اند ه(نظره) د پېښو او واقعاتو او منازعاتو شرح کوي. په ډرامه يا ننداره کې بيا دريمګړی وجود نه لري. په هغه کې لوبغاړی (پرسوناژ) او اکټور مستقيما د صحنې پرمخ عمل ترسره کوي. ننداره کوونکي په خپله هغې نتيجې ته رسيږي، چې په حماسي اثر کې د مؤلف له خوا وړاندې کيږي. يا په بله وينا په حماسي اثر کې د يوې پېښې کيسه او په ډرامه کې د هغې اجراء او عمل وړاندې کيږي. د کلاسيزم په دوره کې دکوميډۍ او تراژيډۍ ترمنځ ټينګې پولې او بريدونه موجود وو. داسې ژانر موجود نه و، چې د دواړو (تراژيدي او کوميډۍ) توکي او عناصر ولري. د ټيټې طبقې د ژوندانه ستونزې يوازې په کوميډ ي ژانر کې تمثيلېدې.

په ډرامه کې دغو توکو او عناصرو ته ځای ورکړ شوی چې د ننداري او ډرامې خورا مهمه نښه ده. د ډرامې دغه نښه د (ديدرو) ۱۷۱۳– ۱۷۸۴ د (ډراماتيک ادب په باره کې) په رسالې کې ښه څرګند ه ده. ډرامه کله د "جدي او اغېز ښښونکي" ژانر، کله بيا د (عادي انسان د تراژيدی) او کله د "جدي کوميډۍ" او په پای کې د "ډرامې" په نامه يادوي.

په هغه وخت کې ډرامه د هنري ځواک او ارزښت له پلوه د کلاسيزم د کوميډيو او تراژيډيو په نسبت بيخي کمزورې او کښته وه. د بېلګې په توګه د ديدرو "ولد زنا" او "د کورنۍ پلار" نومې ډرامې له ادبي اړخه نشي کولای، د هغه وخت د (کورنيل او رسين) د تراژيډيو او يا هم د موليېر د کوميډيو په ليکه کې ودريږي. همدا ډول د ليسنګ (Lessing) [۱۷۲۹– ۱۷۸۱] ډرامې په جرمني ادب کې د هغه د تراژيډيو او کوميډيو په وړاندې ډېرې کمزورې دي. له همدې کبله ځينې کره کتونکي د ډرامې لومړی بنسټ ايښودونکی شکسپير بولي.

ادبپوها ن وايي، د ډراماتيکو حرکاتو د پيدا کېدو تاريخ د ژبې له پيدايښت څخه هم لرغونی دی. لومړني انسانان چې لا د ژبې په افاده بشپړ قادر نه وو، کوم ښکار چې به يې ښکيل کړ، يا به يې چېرې خوراکي توکي او زېرمې موندې، نو له ډېرې خوښۍ به يې په ځانګړو حرکاتو او چيغو پيل وکړ. همدغه حرکات او پېښې د خپل وخت د ډراماتيکو نندارو حيثيت درلود.

هر وخت دغه ډول حرکتونه (ژستونه) د اخترونو د مېلو، جشنونو او ساعت تېريو په مهال د انساني کلتور د دودونو په توګه دوام درلود او دوام لري. له هغو زمانو را هيسې ډرامه د انسا ن د ژوند ملګرې ګڼل شوې ده. ډرامې ته د ژوندانه د مختلفو اړخونو( ژوندۍ کيسه) هم ويل کيږي. هغه ادبي ژانر ته ډرامه ويل کيږي چې پېښې د الفاظو او خبرو اترو په شکل کې له حرکاتو سره مل پر يوه ټاکلي ځای او ستيج باندې لېدونکو ته د لوبغاړو په وسيله په ژوندۍ بڼه وښودل شي. په دې ژانر کې ډېرې مهمې برخې عبارت دي، له:

۱– کوميډي (خندوونکي يا خوشحالوونکې) ډرامه

۲– تراژيدي ( د غم او خپګا ن) ډرامه.

دغه ژانرونه د څو ساعتونو لپاره ليدونکي يا نندارچيان بوخت ساتلی شي. د خوښۍ او خپګان شېبې ورته د ژوند او ريښتني انځور په ډول ورښيي، په داسې ډول چې د ليدونکو هيجان را پاروي او د ريښتني ژوند ګومان پرې کوي او په هنري ادبياتو کې د تخليق يوه په زړه پورې برخه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نړیواله کچه ډرامه اوږد تاریخ لري. د هرې سیمې او هیواد د ډرامې د شالید (پس منظر) له مخې سره توپیر لري. موږ له هغو څخه تېریږو. دلته یوازې په لنډه توګه د پښتو ډرامې یادونه کوو. په پښتو ژبه او دودونو کې هم داسې لوبې او ننداري موجودې وې او دي چې د ولسي تیاتر او د ولسي ډراماتیکو ننداړو بڼه لري. د ساري په ډول د (سپین ږیرې) لوبه چې د ودونو او خوښیو په مجلسونو کې له ټنګ ټکور سره یو ځای اجرا کیږي. یا د هنرمندانو یا ښځینه وو له لوري د ټوکو او مسخرو په ډول وړې وړې تمثیلي سندرې او لوبې چې د خندا او هیجان لامل ګرځي اوس هم په ولسي ادب کې شته. ډرامه په پښتو ادبیاتو کې د یو ځانګړي ژانر په توګه ډېر لرغونی تاریخ نه لري.

د لویدیځ د استعمار په راتګ او د لویدیځ تمد ن په نفوذ سره ډراماتیکو ژانرونو زموږ پښتو لیکلي ادب ته لاره پیدا کړه. په پوره باور سره دا نشو ویلای چې په پښتو ادب کې به تر ټولو لومړی کومه ډرامه د صحنې په مخ ښکاره شوي وي، خو د ثبتو شویو ډرامو په لړ کې تر ټولو مخکې د (عبرت) په نامه ډرامه ده چې په (۱۹۱۶م) کال کې قمر سرحدي لیکلی وه او له هغې وروسته بیا نوموړي ژانر په پښتو ادب کې وده وکړه.

پښتو ډرامې د پردیو تاړاکونو او د انګریزي استعمار د راتلو سره سم سر را پورته کړي او ود ه یې موندلې وه. پښتو لومړۍ ډرامه د عبدالاکبر اکبر (درې یتیمان) یا (تهذیب جدید تعلیم جدید) په نامه یوه انقلابي ډرامه ښودل شوې چې په (۱۹۲۷م) کال د اتمانزو د خپلواک ښوونځي د تاسیس د کلیزې په ویاړ په یوه ستره غونډ ه کې ننداړې ته وړاندې شوې و ه. د نوموړ ي مبارز دویمه ډرامه د (تربور) په نامه په ۱۹۲۸م کال، دریمه (د خدایي خدمتګار) په ۱۹۳۰ م کال کې د خلکو د راویښولو لپاره مبارز ې ته د رابللو په موخې لیکل شوې وې.

وروپسې بیا نورې ډرامې لکه د امیرنوازجلیا (درد)، (خدایي خدمتګار) د عبدالخالق خلیق ( د جنت مانۍ) د میاعبدالرزا ق (شهید ه سکینه) تراژیدي د عبدالخالق خلیق لیکل شوې. همدا ډول په بره پښتونخوا کې بیا د محمد اعظم ایاز ي (د افغان ازاد او د یو سپین ږیري یو له بله محکمه) چې موضوع یې د پښتو ژبې د رواجونو او عامولو لپاره تبلیغ کول او د نړۍ له ژبو سره سیال کولو ته وقف شوې ده. نوموړې ډرامه د کندهار په (پښتو) مجله کې د هغه مهال د ادبي ټولنې له خوا خپره شوې ده.

له دې وروسته بیا د پوهاند علامه حبیبي د (توریالۍ پښتنه) په نامه ډرامه لومړی ځل په ۱۳۱۵هــ ش کال په طلوع افغان کې خپره شوې ده. له دې را وروسته په پښتو ادب کې ډېرې ډرامې لیکل شوې او ډېرې ژباړې هم له نورو ژبو څخه ترسره شوې دي چې د پښتو ادب با غ یې رنګین کړی دی.

څرنګه مو چې ورته د مخه اشاره وکړه د ډرامې ژانر په دوو لویو برخو ویشل کیږي چې یوې ته (کومیډي ژانر) او بلې ته یې (تراژیدي ژانر) وایي.

تراژید ي:

د ډراماتیکو ژانرونو په لړ کې ډېر اوچت ژانر، تراژیدي ده. ددې ژانر بنسټ او پیدایښت د لرغوني یونان له ادب څخه را پیلیږي. تراژیدي په لرغوني یونا ن کې په پنځمه میلادي پېړۍ کې پراختیا موندلې وه. په هغه وخت کې مذهبي مراسم او ټولنیز دودونه د هنر په مختلفو بڼو او ژانرونو کې ترسره کیدل. په لرغوني یونان کې د تراژیدۍ پیدایښت بنسټ د رب النوع (دیونیسDionis)په ویاړ د ا خترونو په سندرو او نڅاګانو او د نمانځنې په دودونو ولاړ و. په هغه وخت کې د زراعت ښه تولید، ښه حاصل ورکوونکی کال، ښه موسم، د پسرلي راتګ ، د چارو ښه تنظیم او پرمختیا د (دیونیس) له نامه سره تړي او د هغه له برکته یې بولي. د (دیونیس) په ویاړ چې به کوم جشنونه جوړید ل په هغو کې به یو قرباني شوی (ورغومي) په اتیونو، نڅاګانو او د سندرو د (دیونیس) لوړ حضور ته وړاندې کېد ه. په دغو سندرو او کورسونو کې به هغه پیښې ستایل کېدې، چې به د یونانیانو په عقیده د (دیونیس) په ژوند کې واقع شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تراژيدي اصطلاح له دوو د (تراگوسTragus) يعني (ورغومی) او (Ode) ودې د (سندرې) په معنا چې ورڅخه د (ورغومي سندره) جوړيږي.
هغه سندرې چې د (ديونيس) کړاوونه، سرگرداني تکليفونه او د هغه مړينه پکې ستايل شوې وه تراژيدي بلل کېده. د همدې سندرې په اساس د تراژيدۍ بنسټ کېښودل شو.
همدا ډول هغه سندرې چې د نوموړي بيا ژوندي کيدل، په مرگ برى، په کړاوونو لاسبرى او د فتحو ستاينه د راتلونکي (کوميډۍ) بنسټ کېښود. په لرغوني يونان کې (ايسخيل) د تراژيدۍ پلار گڼل شوى دى. سوفوکل او يورويپد منځته راغلل چې ددغو ليکوالو د تجربو پر بنسټ د لرغوني يونا ن فيلسوف، مفکر او پوه ارسطو د تراژيدۍ ذاتي نښې او نښانې په گوته کړې. د ارسطو په قول په تراژيدۍ کې داسې پېښې تمثيليږي، چې په هغو کې حق، ربنتيا، فتح، د انساني عقل او احساس برياليتوب، د اخلاقي شهکار يوه ښکلا او لوړتيا څرگنديږي.
د ارسطو د وينا له مخې په تراژيدۍ کې تل د وېرې او خواخوږۍ احساس رامنځته کوي.
تراژيدي په لرغوني يونان کې پيدا او پرمختيا وموندله، خو په منځنيو پيړيو کې يې چندان بدلون نه دى موندلى. د رنسانس د دورې له پيل سره يې په مختلفو هېوادونو او ولسونو کې ځانگړې بڼې د هماغې ټولنې د ځانگړنو سره سم خپلې کړې او ډېره پراختيا يې وموندله. په اسپانيا کې (لوپي دي ويگه او کلديرون) په ۱۵۶۲ – ۱۵۳۵ م کال، په انگلستا ن کې لوى ليکوال (شکسپير) په فرانسه کې (کورنيل او راسين) په جرمني کې لويو ليکوالانو (گويته ، شيلر) او په روسيه کې پوشکين په دې اړه خورا په زړه پورې ليکنې کړې او نوموړى ژانر يې غني کړى دى. دوى په خپلو تراژيديو کې انساني لوړې موخې د انساني ژوند لوړتيا، کړاوونه، انگيرنې، اخلاقي معيارونه او ښېگڼې ټولنې ته وښودلې.
په تراژيد ۍ کې د مرکزي اتل يا هيرو برخه ليک تر ډېره مړينه وي او يا هم په داسې کړاوونو اخته کيږي چې په ليدونکو کې وير او خپگان رامنځته کوي چې همدغه د تراژيدۍ د ژانر ستره ځانگړنه گڼل شوې ده.

کوميډي:
د ډرامې په لړ کې بله ستره برخه د (کوميډي) ژانر جوړوي. کوميډي د يوناني ژبې له کلمې (Comodia) څخه اخيستل شوې چې د (سندرې، تمثيل يا ننداري) معنا لري. نوموړى ژانر هم په لرغوني يونان، پنځمه قبل الميلاد پيړۍ کې رامنځته شوې او هلته يې د يو ادبي ژانر په توگه وده کړې ده. د تراژيدۍ په څير دې ژانر هم د (ديونيس) په وياړ د خوښۍ سندرې او جشنونه د تراژيدۍ برعکس په دې ژانر کې ترسره کېدل. د لرغوني يونان کوميډۍ د ارستوفان (Aristofan) (۴۴۵ – ۳۸۵ ق،م) له نامه سره زيات تړاو لري. نوموړى د خپل وخت د کوميډ ي ژانر پلار گڼل شوى دى. په هغه وخت کې به کوميډي د درې تنو اکټورانو له خوا تمثيلېدله چې کورس او نڅاوې به ورسره ملگرې وو.
د لوبغاړو حيرانونکو نقابونو او ماسکونو به د ننداري چيانو ځانگړې پاملرنه ځانته اړوله.
ارستوفان په کوميډۍ کې ټولنيز او سياسي ستونزو ته ځاى ورکړ. نوموړي په ښکاره ډول په ټولنه کې هغه اداري عناصر او مناسبات وغندل چې د هغه په نظر به سم نه وو او ټولنې ته به يې زيان رساوه. د ده په کوميډۍ کې يوه مهمه موضوع هغه مهال د (سولې موضوع) وه چې تل ورته انسانا ن ترهر خه زياته اړه لري. په هغه وخت کې ارستوفان هغه اوږده او تباه کوونکې جگړه چې د (پلوپوني Peloponnei – ۴۳۱ – ۴۰۴ ق،م) په نامه روانه وه، په (اخرنيان – Axarnyan) او (لسيسترات – Lisistrat) نومو کوميډيو کې چې ډېرې مشهورې وي، سخته وغندله. دا هغه جگړې وې چې يوازې د زغرو، ترور او جگړه ييزو وسايلو موسسو خاوندان يې شتمن کول او نورو ته يې زيان رسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده په کوميډيو کې د ډېرو ټولنيزو نا خوالو څرګندونه کېدله، په کوميډيو کې به يې عادي خلکو او ساده څېرو ته ځای ورکاوه.

په شتمنو به يې ملنډې وهلې او د هغو غندنه به يې کوله، د ښو صفاتو لرونکي به يې تل ستايل، ده په کوميډۍ کې ټولنيز مضمون ورځا ی کړ.

د ارستوفا ن هره کوميډي له څو برخو څخه جوړه وه چې هغه برخې داوي:

لومړی: د کوميډۍ د پيل برخه يا سريزه (prologos) چې پکې د کوميډۍ موضوع څرګندېدله.

دويم: (پرودوس –parodos) د کوميډۍ د عمل د لامل صحنه.

دريېم: (اګو ن – agonos) د عمل ياکړنې د اجرا کولو صحنه.

څلورم: (ايکسود – exodus) د پايلې يا نتيجې ښوولو برخه.

په وروستيو برخو (اګو ن او ايکسود) ترمنځ د لوبغاړي له صحنې څخه وتل او پر ځای به يې يو (کورس) وړاندې کېده. سره د دې چې دغه ډو ل جوړښت له هغه وروسته بيا دوام نه مومي او په جوړښت کې يې په هره مرحله او پېړۍ کې بدلو ن را منځته کيږي. په (۱۸) پېړۍ کې د کوميډ ی ژانر بله د پرمختګ مرحله د فرانسوي ليکوال ٠موليير – Moleire) (۱۶۲۲ – ۱۶۷۳ م ) له نامه سره اړه لري. نوموړي په خپلو کوميډيو کې د ټولنې لپاره نصيحت، عبرت او اخلاقي درسونه ځای کړي دي. د لوړې طبقې عياشي، بد اخلاقي، رياکاري او د خلکو تېر ايستنه يې د کوميډي ژانر موضوع او هدف ګرځوي او غندي يې.

لنډه دا کوميډي د ډراماتيک تخليق يو ډول دی چې په هغې کې په ټولنيزو منفي پيښنو او کړو وړو پورې ملنډې وهل کيږي.

دغه ژانر هم د ټولنيزې روزنې لپاره د صحنې پرمخ په ژوندي ډول ننداره کوونکو ته وړاندې کيږي. د غندنې (هجوې) او ټوکو توکي (عناصر) پکې ډېره ونډه لري. په دې ډول ډرامه کې اتل يا هيرو په خپله مبارزه کې د پيښنو او کړاوونو څخه ژوندې او بريالی راوځي.

په کوميک ډول پيښې يوازې په الفاظو کې نه څرګنديږي، بلکې ورسره د عمل يووالی، د صحنې خندوونکی انځور (تصوير) او ترسيم هم لازمي وي. تل د خپل هيرو په سلوک او کرکتر کې هغه د ژوند عناصر او توکي را ټولوي چې د خندا موجب ګرځي. په کوميډي ژانر کې د هر پرسوناژ (کرکتر) لپاره بېلابېل انځور ړاندې کيږي.

**اخځليک:**

دوست شينواری، د ادب د تيورۍ اساسونه، کابل، دولتي مطبعه **۱۳۶۵**هـــ ش کال، مخ (**۲۳۳**).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | بایزید روښان | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | زده کوونکي به د لوست په پای کې لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– بایزید روښان به وپېژني او پښتو ادب ته به د هغه پرخدمتونو پوه شي.<br>– په روښاني غورځنګ او پښتو ادبیاتو ته به د هغې پر ارزښت پوه شي.<br>– د خیرالبیان د لیک ژبه (مسجع نثر) او محتوا به وپېژني.<br>– د روښاني غورځنګ په رامنځته کېدو او د هغه مهال د روانو حالاتو په اړه به خبرې وکړای شي.<br>– د لیک، لوست او وینا پیاوړتیا به یې ځواکمنه شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په خپلواک ډول ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، ویل، اورید ل، سوال او ځواب، ډله ییز کار او یوکسیزکار | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوي توکي | درسي کتاب، تخته، تبا شیر او تخته پاک | |
| د ارزونې لارې اووسیلې | شفاهي، عملي ارزونه، څارنه او د ښوونکي یادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | ۱ حوال پوښتنه، د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم او د کورنۍ دندې کتل | ۴ دقیقې |
| د انګیزې رامنځ ته کول | ښوونکي دې په پښتو ادبیاتو کې د روښاني پیر په ارزښت د معلوماتو ورکولو له لارې زده کوونکي لوست ته چمتو کړي. | ٦ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکي دې په روښاني پیر کې په روانوحالاتو د رڼا اچولو له لارې د روښاني غورځنګ په اړه زده کوونکو ته لنډ معلومات ورکړي او څرګنده دې کړي چې ولې هغه مهال د خپلواکۍ د تر لاسه کولو لپاره عرفاني او تصوفي لارو ته اړتیا لیدل کېده.<br>– ښوونکی دې زده کوونکو ته عرفاني او تصوفي لارې او پر خلکو د هغوی د اغېز په اړه څرګندونې وکړي.<br>– ښوونکی دې د پیر روښان د غورځنګ بهیر او د هغه د لارې د لارویانو په اړه زده کوونکو ته معلومات | – زده کوونکي دې د ښوونکي څرګندونو ته غوږ ونیسي او د هغه مهال پر حالاتو دې ځانونه پوه کړي.<br>– زده کوونکي د عرفان او تصوف پر معنا او پر خلکو د هغې د اغېزپه اړه ځانونه پوهوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ورکړي.<br>– ښوونکی دې زده کوونکو ته د پیر روښان او اخون درویزه د اړیکو په اړه معلومات ورکړي. | – زده کوونکي د پیرروښان غورځنګ او د روښان د وتلو پلویانو نومونه پېژني. |
| – ښوونکی دې د مسجع او عادي نثرونو تر منځ توپیر څرګند کړي او و دې وايي چې ولې پیر روښان خیرالبیان په مسجع نثر ولیکه. | – زده کوونکي پیر روښان او اخون درویزه پېژني او د هغوی تر منځ پر اړیکو ځانونه پوهوي.<br>– زده کوونکي مسجع نثر پېژني او پر دې نثر د خیرالبیان د لیکنې پر اړتیا ځانونه پوهوي. |
| – ښوونکی دې لوست ورو ورو ولولي اوځای ځای دې زده کوونکو ته معلومات ورکړي.<br>– ښوونکی دې څو تنه زده کوونکي په وار د ټولګي مخې ته راوبولي او ورته دې ووايي چې د روښاني غورځنګ د رامنځته کېدو د ضرورت په اړه یوه دقیقه خبرې وکړي. | – زده کوونکي لوست ته غوږ نیسي او پر ځینو برخو د نه پوهېدو پرمهال پوښتنې کوي.<br>– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او یوه یوه دقیقه خبرې کوي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته روښانه کړي چې ادبیات د ولسونو په ویښتیا کې څه ونډه لري. | |
| – ښوونکی دې د زده کوونکو پوښتنو ته ځوابونه ووايي او د فعالیتونو په ځوابولو کې دې ورسره مرسته وکړي.<br>زده کوونکی دې زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي. | – زده کوونکي د ولسونوپه ویښتیا کې د ادبیاتو په ونډې ځانونه پوهوي او له ښوونکي سره په خبرو اترو کې ځانونه شریکوي.<br>– زده کوونکي فعالیتونه ځوابوي او د اړتیا پر مهال له ښوونکي څخه پوښتنې کوي.<br>– زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانه کول:**

**التصوف:**

ځان په شرعي ادابو ښکلی کول، په داسې ډول چې له ظاهر څخه پر باطن حکم وشي او یا باطن چې له باطن څخه په ظاهر حکم وشي.

**تصوف:**

یو کړنلاره ده چې شتون یې د نفس سپیڅلتیا او د روح د لا لوړوالي لپاره په فضایلو ښکلي کېدو ته اړتیا لري.

**د تصوف علم:**

د هغو مبادیو مجموعه ده چې متصوفه ورباندې عقیده لري او دهغو ادابو مجموعه ده چې متصوف یې په خپلو ځانګړو مجتمعاتو کې کاروي.

**الصوفي:**

هغه چا ته ویل کیږي چې د تصوف د لارې لاروی وي او یا هغه چا ته ویل کیږي چې په تصوف کې پوره معلومات ولري. د دوی په حق کې مشهور خبره داده، دوی ته صوفي په دې خاطر ویل کیږي چې دغه ډول خلک د وړینو جامو په اغوستلو ځان ښایسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**التصوف:**

تصوف د باب مصدر دی او له الله تعالی سره د ربښتینولۍ، د دنیا له اغېز څخه د ازادۍ او له خلکو سره د ښــه او نیــک تعامل کولو په معنا دی. دا يې شرعي اړخ او بل اړخ يې دادی چې ځيني خلک يې ورداخلوي او وايي، تصوف له قــرآن او سنتو څخه د انحراف په معنا دی. لکه چې "وحدت الوجود"، "حلول" او د "شرعي تکاليفو" له منځه تلل او داسې نــور پکې راځي. دا اړخ يې کفر دی، ضلالت دی او انحراف دی.

**التصوف:**

د داسې اصولو لرونکی یو علم دی چې د ظاهري او باطني اعمالو د تصميم او سمون په نتيجه کې منځ ته راځي.

**التصوف:**

انساني پاکي او سپېڅلتيا ده چې ويلی شو په ټولو انساني ټولنو او تمدنونو کې په يوه بڼه، نه په يوه بڼــه شــتون لــري او ورڅخه پاکۍ ته د روح په ليوالتيا او له مادي قيوداتو او ناولتياوو څخه ژغورنې ته رغبت او د روحي او اخلاقي ســپېڅلتيا او کمال لوړوپوړيو ته يې د رسيدلو تعبير کيږي.

**د تصوف تعريفونه ډير زيات دي:**

ځينې علما يې په عملي اړخ ټينگار کوي، لکه هغه څوک چې د نفس په مجاهدې او د شهوتونو په وړاندې يې مقاومت تــه زياته پاملرنه کړې ده. لکه: ذکر، مراقبه، له نفس سره محاسبه او له دنيا سره بې رغبتي. ځينې وايي، تــصوف لــه کــم خوراک، الله تعالی ته له نژدېوالی او له خلکو څخه له لريوالي څخه عبارت دی. يا تصوف د حواسو ساتنې او پــه ترتيــب سره ساه اخيستنې ته ويل کيږي. ځينې نور علما يې بيا اخلاقي اړخ ته پام کوي، چې د تصوف له مهمو ارکانو څخه دي. د هر نيک خوی موندلو او له هر ناوړه خوی څخه ځان ساتلو ته تصوف وايي. ځينې عالمان بيا معروف تــه زيــات پــام اړولی دی او وايي چې تصوف عبارت دی له الهامي معروف څخه چې د صوفيه کرامو د اعتزار او فخر موضوع ده، لکــه چې شيخ عطار رحمة الله عليه وايې، تصوف د عمل او حال پايله ده، تکرار ته پکې اړتيا نشته او علم لدن دی، نه کــسبي. ځينې نور عالمان بيا وايي، تصوف له مخلوق سره د اړيکو پرې کول او د مخلوق له رب سره د اړيکو جوړول دي.

له ابوبکر شبلي رحمة الله عليه څخه پوښتنه وشوه چې تصوف څه ته وايي:

هغه وويل،يو له بل سره ښه کولو او له تکليف څخه مخ اړولو ته تصوف ويل کيږي. له دې هم ښه دا چې تصوف د زړونو خالي کول دی د علام الغيوب ذات لپاره او له هغه څخه هم ښه داده چې تصوف د الله ﷻ د امر تعظيم او د الله ﷻ په بنده گانو باندې شفقت ته ويل کيږي.

ابوبکر الغيري رحمة الله عليه وايي: تصوف له محارمو څخه ځان ساتنې او په ځان کې د مکارمو را ټولونی ته وايي.

**په پورته ډول د تصوف** زيات تعريفونه شوي، خو د يو جامع او کره تعريف وړاندې کول ســتونزمن بريــښي. د پورتــه تعريفونو ترڅنگ لاندې تعريف يو څه بشپړ بريښي.

«تصوف الله جل جلاله ته د شريعت د احکامو، له گناه او د متعال خدای له نافرمانۍ د لرېوالي له لارې د نفس د پــاکوالي او تزکيې په اړه له هلو ځلو څخه عبارت دی.»

د يادولو وړ خبره ده، چې د نبوت او کرامو اصحابو په زمانه کې د تصوف په نامه څه شی موجود نــه و. لــه دې املــه «تصوف» او «صوفي» په قران کريم او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په سنتو او د کرامو اصحابو او تابعينو په اثارو کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پیدا کیږي. تصوف د تابعینو له مهاله وروسته کارول شوی او خپور شوی دی. د نفس د پاکوالي، (د نفس تزکیه)، لـه معاصي او ګناهونو څخه لرېوالی، د ښو او نیکو کارونو سرته رسول، د عبادت تداوم، د ښو اخلاقو لرل او له خلکو سـره نیک چال چلن کول د اسلام د سپېڅلي دین نه بېلېدونکې برخې دي، چې تصوف هم پرې ټینګار کوي.

د تصوف په اړه بله خبره داده چې له بده مرغه له تصوف سره د طریقو له لارې زیات اعتقادي انحرافات یوځای شوي دي چې بدعتونه او ناسم رسم او رواجونه يې په اسلامي ټولنو کې رامنځته کړي دي.

د اسلام د دین د حقیقتونو او انحرافاتو او بدعتونو تر منځ توپیر د قران کریم احکام او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنتو او د اسلامي شریعت قواعد دي. هر هغه څه چې د اسلام له شریعت سره سمون لري، روا او هر هغه څه چې له هغې سـره مخالفت ولري، ناروا بلل کیږي.

****

**اورمړ:** دا قوم اصلا د سلطا ن محمود غزنوي په وخت کې له غزني څخه وزیرستا ن ته تللی دی .

**وزیرستان:** وزیرستان د افغانستان سهیل ختیځ ته د کرمې او ګومل تر منځ یوه قبایلي سیمه ده

**کاني ګورم:** کاني ګورم په وزیرستان کې یوه سیمه ده

**اخوند درویزه:** اخوند درویزه د اخوندګدا زوی او د زرم هجري کال په شاوخواکې يې ژوند کاوه. قبر یې د پیـښور پـه هزارخانۍ کې دی. د پیر روښان د نظر خلاف و. روانه شاعري يې کړې ده او د مخزن الاسلام د کتاب لیکوال دی .

**انصاري:** انصاري د اورمړو یوه پښه ده .

**سبک:** سبک لارې اوطریقې ته وایي او هغه ځانګړنې دي چې یولیکوال له هماغې لارې څخه په کار اخیستلو سره ادبي او هنري اثار رامنځته کوي او له نورو سره يې توپیر کولای شو

**جلا ل الدین اکبر:** په هند کې مغولي پا چا و چې ترمرګ وروسته يې زوی شا ه جها ن پاچا شو.

**اضافي معلومات:**

د لسمې هجري پیړۍ دریمه لسیزه وه چې مغولي بابر له اوسني افغانستان څخه وروسته د هند د نیولوپه فکرکې شـو. پـه دې وخت کې په هند کې د پښتنو لودي کورنۍ واکمنه وه. د لودي کورنۍ وروستی مشر ابراهیم لودي د مغولو په مقابـل کې ودرید . په ۱۵۲۵ م کال کې د پاني پت جګړه را منځته شوه. په دې جګړه کې په زرګونه پښتانه ووژل شول. پـه نتیجه کې جنګ د بابر په ګټه پای ته ورسید او د هغه وخت هندوستان يې په خپله واکمنۍ کې داخل کړ. په هندوسـتان باندې د بابر له واکمنۍ دمخه د بایزید پلار، شیخ عبدالله د پنجاب په جالندر نومې ځای کې اوسیدو او رسمي دنـده یـې درلوده.

بایزید روښان د پنجاب په جالندر کې په ۹۳۱هـ ق کال زیږیدلی دی. شیخ عبدالله په اووم پښت کې شیخ سراج الـدین انصاري ته رسیږي. د عبدالله نیکه او د بایزید د مور (بنین ) پلار سره وروڼه وو چې د لودیانو په وخت کې هند ته تللي او هلته يې رسمي دندې درلودې. شیخ عبدالله خپل زوی ملا پاینده ته کښیناوه او نوموړي ورته قران شریف وښود. له خپـل پلار، ملا پاینده، ملا سلیمان کالینجري او خواجه اسمعیل څخه يې د وخت دودیزې زده کړې وکړې. په ځوانۍ کې یـې له لودي کورنۍ څخه د(شمسیې) په نامه له یوې جلۍ سره واده وکړ. د مشر زوی، شیخ عمر له زیږیدو وروسـته کـاني ګورم ته راغی. کله چې يې د وخت علوم زده کړل او د ځوانۍ پړاو ته ورسید، نو ورسره جوخت د مغولـو پـرخلاف د مبارزې زمینه برابریدله.

هغه وخت چا د واکمن پرخلاف مخالف حرکت نه شو کولای. پیر روښان لازمه وبلله چې د پیرۍ مقام ته ځان ورسـوي، علمي مقام ترلاسه کړي او بیا د مغولو پرخلاف په مبارزه پیل وکړي. د پردیو یرغلګرو په وړاندې د پښتنو د مبـارزو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږد تاریخ کې د بایزید روښان مبارزه ډېره مشهوره ده. بایزید روښان د تاریخ په داسې وخت کې ژوند کاوه چې د مغولو واکمنۍ زور اخیستې او د پانې پت د جګړې په وخت کې اووه کلن و. مغولو په اوسیدونکو ډیر ظلمونه کول. په هـــم دې وخت کې د پیرې اومریدۍ طریقې په اوج کې روانې وې. بایزید روښان له مذ هبي عقیدې سره یو ځای ملي مبـــارزې ته ملا وتړله.

د بایزید روښان مبارزه ځا نګړی ارزښت لري. هغه وکړای شول له مذهبي عقیدې سره ملي مبارزه ملګري کـــړي. هغـــه خپلو مریدانوته نه یوازې دیني درسونه ورکول، بلکې د سیاسي واک د ترلاسه کولولپاره یې هم هڅول. د هغـــه وخـــت د شرایطو په پام کې نیولوسره یې لازمه ګڼله چې د ظالم او دښمن پرخلاف توري ته هم لاس کړي .

بایزید روښان خپله خزانه، خپل تشکیلات او خپل مهر درلود. پیر روښان نه یوازې د وخت په پیرۍ او مریدۍ او د مغولـــو پرخلاف مبارزو کې نامتو ونډه درلود ه، بلکې علمي، سیاسي، ادبي او روحاني شخصیت یې هم درلود. له دې امله ښه ده چې یو ځل د پیر روښان د ژوند او بیا یې د مبارزې په باره کې خبرې وکړو.

دده د قوم په باره کې ویل کیږي چې د سلطان محمود په زمانه کې د اورمړو قبیلې له سلطان محمود غزنوي سره ډیـــرې مرستې کړې وې. هغه هم ورسره د مرستې ژمنه وکړه او دوی ته یې وویل یو ځای خوښ کړئ او پکې واوســـیږئ. دوی په وزیرستان کې د کاني ګورم غرنۍ سیمه خوښه کړه. نوموړي سلطان ورته ګانۍ ګورم ورکړ او دوی هلته میشت شول. له هغه وخت نه د اورمړو قوم پکې اوسیږي او په خپلواکه ژبه خبرې کوي چې په تاریخي لحاظ له غزني نه هلته تللـــي او اوس هم هلته استوګن دي .بیا د بایزید کورنۍ د لودیانو په وخت کې د هند بنجاب ته تللي ده. کله چې بابر واکمن شـــو، دوی بیرته کاني ګورم ته راغلل. په مخزن الاسلام کې لیکي چې عبدالله اورمړ دی او بایزید په مهر کې بایزید انصاري یاد کړی دی. د دولت د دیوان په حاشیه کې یوه نامعلوم سړي لیکلي، دا چې روښان ځان ته انصاري ویل اوکه نه، نومـــوړی اورمړ دی. د قیام الدین خادم په وینا که انصاري هم وي، داچې څونسلونه یې په پښتنو کې تیرشوي، نو پښتون دی.

اوس راځو د هغه مبارزې ته. په هغه وخت کې بایزید روښان مجبور و چې لومړی مرید او بیا پیر شي او له دې لارې نه په استفادې د مغلو په وړاندې مبارزه وکړي. دغې پیښې د بایزید په ذهن او فکر کې بدلون راوست او په دې فکر کې شـــو چې باید د مغلو له ناروااوو نه خپله خاوره او خلک خلاص کړي.

پیر روښان په لنډه موده کې ډیر مریدان پیدا کړل او د هغه وخت د سیموخلک دده په فکر او مبارزې په نیت یوه شـــوی وو. په هغه وخت کې دده په مقابل کې اخوند درویزه ولاړ و. هغه د وحدت الشهود د تصوفي طریقې پیـــرو. نومـــوړی د پیرباباشاګرد و، چې په سید علي ترمذي مشهور او د وحدت الشهود د تصوفي طریقې پیر و. پیربابا د پیر روښان پر خلاف منفي تبلغا ت کول، د پیرتاریک نوم یې وربانديې کیښود، یو د بل په وړاندې یې اثار ولیکل، د بیلګې په توګه یې په مخزن الاسلام کې ډیرڅه وربانديې ولیکل. دغو اثارو له یوې خوا د مغولوپه خلاف مبارزې تودې کړې او له بلې خوا یې پـــښتو ژبه بډای او د مسجع نثر سبک یې رامنځته کړ.

روښان د دغو تبلیغاتو د شنډولو لپاره په خپلو اثارو کې دلایل وړاندې کړل او اثار یې ولیکل، خو عامه ذهنیونه بـــل خـــوا کیدل. د دغو منفي تبلیغاتو د له منځه وړلو لپاره روښان او د هغه پیروانو هم پراخې هلې ځلې وکړې. په هغه وخت کې د پیر روښان لیکلي اثار د منفي تبلیغاتو تر اغیز لاندې و. لوستونکو یوازې د هغو اثارو د مطالعې هڅه کوله چې هغه به د پیر روښان پرخلاف لیکل شوي وو

پیر روښان ډیر اثار ولیکل، لکه خیرالبیان، صراط التوحید، مقصود المومنین، مکتوبات پیر روښا ن، رسم الخـــط پـــښتو، تذکره میا روښان، تذکره د علم، فرحت المجتبی او معتبر اثر، حالنامه یې اوس موجود اوچاپ شوي ده. دده په اثارو کې ډیرنامتو اثر،خیرالبیا ن دی چې په هکله یې په درسي کتاب کې ډیرمعلومات راغلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښان د مغولو د ظلمونو پرخلاف په هره سیمه کې خپلو مریدانو ته د مبارزې لاربښوونه وکړه، ډېر ملي مبارزین راپاڅیدل اوپه کلونو یې د مغولو او د هغوی د پلویانو په مقابل کې خپلو ملي مبارزو ته دوام ورکړ .
با یزید روښان د ملي مبارزې په پراخ ډګر کې اتلولي وګټله او د پښتنو په تاریخ کې یې خپل نوم په زرینوکرښو ثبـــت او یوشمیر ادبي او عرفاني اثارېي و لیکل چې په درسي کتاب کې یې نومونه راغلي دي. ځینې یې د وختونو په اوږدوکې لـــه منځته تللي یا د مخالفینو لاسته ورغلي او ترې تم شوي دي.
بایزید د روښان ،پیر روښان، مسکین او انصاري په نومونو یاد شوی دی. اخوند درویزه هغه د پیرتاریک به نامه یاد کـــړی دی. بایزید روښان په ۱۵۷۲م کال کې د شینوارو په تور راغه کې جل وواهه، بیا په هشنغر کې مړ او هورې ښخ شـــو. وروسته یې زامنو قبر وکیندلو او د هغه جسد یې په صندوق کې له ځان سره ګرځولو. د یوسفزو په جګړه کې اباسیند ته واچول شو. احتمال لري چې قبر یې په وزیرستان کې وي
له روښان وروسته د نومورِي اولادې او پیروانو ۱۶۰ کاله مبارزه وکړه چې له کندهاره تر سواته او له اباسینه نه تر کابله یې د مبارزو سیمه وه. د هغوی د مبارزو او اتلولیو په ویاړ په ننګرهار په ولایت کې د احداد او الایي او د لغمان په ولایت کې د روښان په نامه لیسې نومول شوي دي. د مغولو پرخلاف دده د اولادې او پیروانو مبارزې آن تر شاه جهـــان پاچـــا پورې رواني وې. تر ټولو وروستی یې کریم داد و چې خپلې مبارزې ته یې دوام ورکړ.
د روښاني غورځنګ په هکله نه یوازې د هیواد په دننه، بلکې له هیواد نه بهر هم په نورو هیوادونـــوکې څیړنـــې شـــوې اوکیږي او ډېر اثار وربانديې لیکل شوي دي. د وخت په شرایطوکې یې دغه غورځنګ اړین، ملي، اصـــلاحي او کلتـــوري بللی دی.
موږ دا منو، چې پیر روښان یو سیاسي، ادبي او مذهبي مشر او د یوه ملي غورځنګ پر مخ وړونکـــی او د ادبـــي مکتـــب بنسټ ایښودونکی و. څرنګه چې ملي نهضت د مختلفو عواملو زېږنده ده؛ کله چې موږ په پیر روښان او دده په غورځنګ څه ویل غواړو؛ نو له دغو پوښتنو سره مخامخ کېږو، چې بایزید په څه راز محیط او ماحول کې ژوند کاوه او هغه عوامل، چې دی یې میدان ته راوکیښ او دده د تحریک موجب شول، څه شی وو؟
د بشریت تاریخ د وینو بهولو او د انسانانو د وژلو او پنا کولو په ډېرو ویرجنو پیښو لړلی دی؛ خو ظلم، تجـــاوز، تـــالا او تېری تل پر مظلومو خلکو کې اتلان پیدا کوي، تالا شوې ویرژلې ډله د هر تېري په مقابل کې خپله کرکـــه پـــه هـــر ډول راباسي، چې یو شکل یې د تاریخي اتلانو او ملي مېړونو راوتل او د خلکو ډله ییز غورځنګونه دي. داسې اتلان کله کله له وګړنی ډلې، مظلومو او استثمار شویو انسانانو د ویرژنو احساساتو او د ناورین وهلو وګړو خوږمنو جذباتو ښـــکارندوی او خواخوږي سره راځي او د دوی د خلاصون لپاره لاربښوونه او مشرتوب کوي. کله کله د سربازی او اتلولی چـــارې هـــم ترسره کوي.
په لسمي او یوولسمې پېړۍ کې بایزید روښان، دده کورنی، پیروان او یو شمېر معاصرین د هېـــواد د خپلـــواکۍ او ملـــي واکمنۍ د تر لاسه کولو په خاطر د وطنپالنې د پاک احساس له مخې نه ستړي کېدونکي مبارزې کړې. په دې لاره کې یې خپل سرونه قربان کړي او له بلې خوا د تصوف او مذهب په جامه کې یې ډېر پښتانه د خپلواکۍ په روحیه روزلي او هـــم یې په پښتو ادبیاتو کې د خپلو خلکو د ویـــښولو پـــه خـــاطر لـــه ارزښـــت څخـــه ډکـــه پانګـــه زیاتـــه کـــړې ده.
سره له دې چې دښمنانو هڅې کولې، تر څو د روښانیانو د ژوند کارنامې او مبارزې پټې کـــړي او پیـــر روښـــان د (پیـــر تاریک) په نامه ونوموي؛ خو دغو کارونو دښمنو ډلو ته د امید لار نه ده پرانستلې؛ بلکې د پیر روښان د ژوند او مبـــارزې په هکله یې د کورنیو لیکوالانو په څنګ کې ډېرو ناروېژانو، انګرېزانو، ایټالویانو، فرانـــسویانو، جرمنیـــانو او (پخـــواني شوروي اتحاد) یـــو شـــمېر ختـــیځ پېژنـــدونکیو هـــم ددغـــه مترقـــي غورځنـــګ پـــه هکلـــه لیکنـــې کـــړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښکاره خبره ده، چې په نړۍ کې ستر بدلونونه او انقلابونه د هغو کسانو له خوا رامنځته شــوي، چــې د محرومیــت دردونه یې لیدلي، په همدې اساس ویلای شو، چې روښاني غورځنګ (نهضت) د پردیو ځبېښاکګرو قوتونو پر ضد لومړنی ملي او مترقي غورځنګ دی، چې په آګاهانه توګه پیل او هڅه یې کوله د بابر د کورنۍ جرړې له بېخه وباسي. ددغه مترقي غورځنګ په سر کې پخپله پیر روښان ولاړ و.

روښانیانو د بایزید په لارښوونه د هندي مغولو د بشپړ له منځه وړلو او د پښتنو د پخواني برم د بیا تر لاسه کولو په خـــاطر داسې تحریک رامنځته کړ چې د پښتنو په تاریخ او ادب کې د (روښاني غورځنګ) په نامه ونومول شو. دغه غورځنګ له یوې خوا په افغانانو کې سیاسي شعور را ژوندی کړ او له بلې خوا یې دوی د هېواد د آزادولو لپاره د مغولو پر ضد مبارزې ته چمتو کړل.

بایزید له خپل تره شېخ خدا داد او خپلې مور سره په (۱۵۳۰ز کال) له هند څخه (کاني ګرم) ته راغی او پـــه دې ســیمه کې یې ژوند اختیار کړ. بایزید د خپـــل کوچنیـــوالي زیاتـــه مـــوده خپـــل تـــره، خـــدا داد ســـره تېـــره کـــړې ده. پیر روښان خپلې لومړنۍ زده کړې له خپل پلار او د هغه د شاګردانو خلیفه ملا پاینده او ملا سلیمان کالنجري په مرســـته سر ته رسولې دي او نورې زده کړې یې د کورنیو ستونزو له کبله سر ته ونه شوای رسولی، ولې بیا هـــم د روحانیـــت او پوهې په چاپېریال کې وروزل شو. ده له کوچنیوالي څخه د تصوف له مسلک سره پوره مینه درلوده، هڅه یې کوله چـــې دغې مرتبې ته د رسېدو په خاطر یو کامل پیر پیدا کړي.

د ځوانۍ په وخت کې هم له ډېرو اقتصادي ستونزو سره مخامخ شوی، ځان یې د سوداګرو له کاروان سره یو ځای کـــړی او د اسونو په خرڅولو او رانیولو یې لاس پورې کړی. د اسونو پېرودلو او رانیولو په خاطر یې ډېر عمر په سمرقند کې تېر کړی او له هغه ځایه څخه بېرته پنجاب ته راغی، څه موده یې دلته تېره کړې ده. په همدې وخت کـــې یـــې د اســـماعلیه پیروانو له ملا سلیمان سره هم لیدنه کړې، چې دغې لیدنې ورباندې پوره اغېزه وکړه او په راتلونکي کې یې د روښـــانیانو تحریک ته دده پوره پاملرنه راګرځولې وه.

کله چې بایزید د خپل تربور، خواجه اسماعیل څخه لاسنیوی وکړ، پلار یې د خپل زوی په دغه عمل خوښ نه و، دا ځکـــه چې پلار یې په نظر کې لرل بایزید د شېخ بهاوالدین ذکریا مرید شي؛ خو بایزید له خپل تـــصمیم څخـــه وانـــه وښـــت. کله چې بایزید د تصوف له مرحلو څخه د قربت او وصلت درجې ته رسېدلی و؛ خپل پلار او ورور (یعقـــوب) یـــې لـــه قاضیتوب او رشوت څخه منع کول. هماغه وو چې دده او د کورنۍ تر منځ فکري تضاد او مخالفت لا پسې ځرګند شـــو. کله چې بایزید له خپلې مېرمنې او کوچني زوی (عمر) سره خپل کلي (کاني ګرم) ته راستون شو؛ نو لـــه خپـــل پـــلار او خپلوانو سره یې په مناقشو لاس پورې کړ. ددغو مناقشو په ترڅ کې د دوی تر منځ د اختلاف څپې لا پسې تېزې شـــوې. بایزید خپل تبلیغ له خپل کلي څخه پیل کړ؛ خو د مبارزې او تبلیغ په لومړیو کلونو کې له سختو مخالفتونو سره مخـــامخ شو. په پای کې دې ته مجبور شو له خپل کلي څخه بلې خوا ته ولاړ شي، ننګرهار ته راغی، د سلطان احمد مومند کـــره دېره شو او د خپل مسلک په هکله یې پښتنو ته تبلیغ کاوه.

پیر روښان (تیرا) د خپل غورځنګ مرکز وټاکه او په لږه موده کې یې د خپل نظر ډېر زیات پلویان ومونـــدل. کلـــه چـــې روښان خپل دریځ او نفوذ په ټولنه کې درک کړ او په دې پوه شو، چې د مبارزې په سنګر کې یوازې نه دی؛ نو د مغولـــو پر ضد یې د خپل هېواد خپلواکي په ډاګه اعلان کړه، دا هغه وخت و، چې جلال الدین اکبر په هند او کابل کـــې داســـې لارې چارې لټولې، چې له یوې خوا خپل قدرت ټینګ کړي او له بلې خوا افغانان داسې سره پخپلو منځو کې ونـــښلوي، چې هېڅکله د یووالي او آزادۍ فکر ورته پیدا نشي. اکبر دغه هدف ته د رسېدو په خاطر (زر، زور او مـــذهب) د ځـــان ملګري کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحانيون يې ځکه د ځان ملګري کړل چې د اسلام په جامه کې پښتانه د اکبر اطاعت ته راوبولي. ددغه کـــار د ترســـره کولو په خاطر يې سيد علي ترمذي پښتونخوا ته ولېږه. خيبر او اټک د ګورګاني مغولو لپاره د سترګو اغزي و، ځکه ددغو سيمو خلکو تل د ډهلي مغولو پر ضد مبارزې جاري ساتلې. دغو سيمو ته د سياسي مقصد په خاطر د ســـيدعلي ترمـــذي راتګ اړين و. د ګورګاني مغولو ايجنټانو غوښتل په دغو سيمو کې د دين او روحانيت له لارې د ډهلي د دربار مخالفـــان بدنام او ناکام کړي او ددغو سيمو خلک د ډهلي د دربار اطاعت ته راوګرځوي.

پير روښان خپلو مريدانو او د نظر پلويانو ته په ډاګه د ګورګانيانو ظلم او د هغوی پر ضد تبليغ پيل کړ، هغـــوی تـــه يـــې لارښوونه او امر وکړ، چې نور د هندي ګورګانيانو له مريتوب څخه ځانونه وژغوري او د هغوی د ناروااوو پـــر وړانـــدې پولادي سنګر شي.

بايزيد روښان خپله د طريقت او روحانيت لاره د مغولو له جغ نه د خلاصون يوازېنۍ موثره او کاميابه لاره ګڼله. روښان او روښانيانو د مغولو پر ضد د خلکو د يووالي او پاڅون لاره داسې وټاکله، چې نارينه او ښځې په شعوري ډول د مغولو پـــر ضد يووالي او پاڅون کې ګډون وکړي. دی يوازېنی شخص و، چې د خپلو مبارزو په لړ کې يې د ښځو او نارينه وو لپاره مساوي حقوق اعلان کړي وو.

روښان خپل تېر وياړلي تاريخ ته افغانان متوجه کړل او ټينګار يې کاوه چې د مغولو پر ضد خپلې مبارزې جـــاري وســـاتي. پښتنو ته يې وويل: تاسو ډېر قوي ټبر ياست، ټولو سياسي قدرتونو ستاسو له زور او مټ څخه کار اخيستی، تاســـو يـــې د نورو پر وړاندې استعمال کړي ياست او هم يې بېرته پر تاسو حکمراني کړې، تاسو تر ډهلي پورې سلطنت درلود. اوس د مغولو مريان شوي ياست. د دوی ظلمونه ګالئ. راشئ، چې دا د غلامۍ کړۍ د تل لپاره له خپلې غاړې لرې او خپل ملـــي حکومت جوړ کړو. په دې توګه ډېرو افغانانو د مغولو پر وړاندې خپلې سينې ډال او له دوی سره يـــې ډېـــرې جګـــړې وکړې.

پير روښان د خپل ژوند تر پايه د خپلواکۍ ډيوه په لاس په افغانانو وګرځېده، د پښتنو زړور او په خپلواکۍ مَين بچيان لـــه دښمنانو سره د وطن د خپلواکۍ او اتلولۍ په روحيه په اشنغر، چوري، تور راغه او داسې نورو ســـيمو کـــې پـــه مېړانـــه وجنګېدل، چې د جګړې هر ډګر يې د دښمن په وينو رنګ کړ.

که څه هم د پير روښان ارمان دده په ژوند پوره نه شو او نه ده د آزادۍ خوند وليد، اما دده تبليغات او وسله والې جګړې بې تاثيره پاتې نشوې. په عمومي ډول يې پښتني شعور بيدار کړ او په ټوله پښتونخوا کې يې د آزادۍ نارې خورې کـــړې. لکه څنګه، چې مخکې اشاره وشوه پير روښان د خپل وخت سياسي، ادبي او مذهبي مشر او په سياست کې يې پوره لاس درلود، چې سياسي افکار يې کولای شو په لاندې درې اساسو بنا وبولو:

**لومړی د افغانانو آزادي:**

الف: د ظالمانو او ظلم پر وړاندې په کلکه سره مبارزه، د روښان د ***سيا***سي مبارزې او غورځنګ يو عمـــده عامـــل دا و، چې مغولو پر افغانانو ناوړه ظلمونه کول. ده د مغولو دغه ناوړه ظلمونه د سر په سترګو ليدل؛ نو هماغه وو، چې د افغانانو په ملاتړ او دفاع يې توره وکښله.

ب: له مغولو سره نه دوستي او اجتناب: دا په دې خاطر، چې روښان خپلو پيروانو او مريدانو ته ويل تاسو بايد له مغولـــو سره هېڅ ډول مرسته ونه کړئ.

ج: سربازي، قرباني او نه تسليمېدل: په دې پړاو کې د روښانيانو په سياسي تګلارې کې سر بايلل وو، چې پـــه دغـــه لاره کې د روښانيانو نارينه او ښځو خپل سرونه د خپلواکۍ په خاطر قربان کړي، پخپله ميا روښان، دده زوی جلالـــ الـــدين، احداد د روښان لمسی او نورو مريدانو او پيروانو يې په دې لاره کې سرونه ايښي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دویم د افغانانو د حکومت بیا جوړول:**

په دې برخه کې پیر روښان ته پوره څرګنده وه، چې افغانان یو زړور او غښتلی ټبر دی، چې پر هندوستان یې هم د خپلې امپراتورۍ دامې خپرې وې. په هغه وخت کې، چې روښان ژوند کاوه د افغانانو د اسارت دوره او هم د بابر او د هغه اولادې د ګنګا له غاړو څخه تر امو دریاب پورې واکمني درلوده او افغانان د اسارت په سور اور کې وریتېدل. پیر روښان پخپل ژوند کې د افغانانو سیاسي مشر و، روښانیانو سیاسي تشکیلات لرل دا ځکه چې پیر روښان پښتنو پخپل شرعي امامت منلی و او ده ته به یې شرعي عشر او خراج ورکاوه. د افغانانو حکومت یوه خزانه هم درلوده، عشر او مالیات به یې له خلکو څخه ټولول، لاسته راغلي عایدات به یې د ملي روغې جوړې په برخه کې لګول.

**دریم د افغانانو شاهنشاهي:**

روښانیانو سربېره پر دې چې یې غوښتل له خپل منځ څخه یو عادل امام او حکمران ولري او آزاد ژوند وکړي، دا عزم یې هم درلود، چې لومړی خپله واکمني ټینګه کړي او وروسته د غزنویانو او لودیانو په څېر بېرته هندوستان تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي او په دغه سیمه کې د پښتنو د پخواني عظمت ډیوه روښانه کړي.

پیر روښان خپلو پیروانو او مریدانو ته په غوڅه توګه یادونه کوله، چې حاکمه ډله ستاسو ستر دښمنه ده، لازمه ده، چې د دوی د چپاول او تېریو پر وړاندې نه پخلا کېدونکې مبارزه وکړو او تل به یې خپل پیروان د ګورګانیانو پر وړاندې په نه پخلا کېدونکې روحیه روزل.

له بلې خوا ده او دده پیروانو په پښتو ادب کې یوه لویه او ارزښتناکه پانګه زیاته کړې ده. د پیر روښان د سیاسي او ټولنیزو مبارزو تر څنګ ادبي او فرهنګي بدلونونه هم موازي راغله او پښتو ژبه، چې په هغه وخت کې درباري ژبه نه وه؛ بلکې عوامي ژبه بلل کېده، فرهنګي ژبې ته ارتقا وموندله، ښه تکړه شاعران پکې پیدا شول؛ لکه ارزاني، میرزا خان انصاري، دولت لواني او نور، چې د صوفیانه ادب په خصوصیت سره لوړ مقام لري. پخپله بایزید هم په دغه برخه کې لویه برخه لري.

پورتنۍ څېړنه موږ ته دا پایله را په ګوته کوي، چې بایزید له دې نړۍ څخه په ناکامۍ لاړ؛ خو د غورځنګ (نهضت) دانه یې لا تر اوسه په پښتونخوا کې د ودې او مېوې ورکولو په حال کې ده او پرله پسې د آزادۍ غوښتنې مبارزې او غورځنګونه؛ لکه: میرویس نیکه له کندهار کې، د خوشحال خان او ایمل ان غورځنګ په خیبر کې، د لوی احمدشاه بابا شاهنشاهي جوړېدل په هند کې وینو، چې د زورګیرو قوتونو په مقابل کې یې د خپلواکۍ بیرغونه رپولي دي. افغانانو ته دا ثابته شوې ده، چې د استقامت، یووالي او عزت نفس په لرلو سره کولای شو، چې خپل مرام ته ورسېږو. دا هغه عالي مفکوره ده، چې د هر غورځنګ او هرې دورې تحول د محیط او ماحول د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي عواملو له بدلون سره سره په نه شلېدونکې او نه پخلا کېدونکې بڼه دوام لري.

**اخځلیکونه:**


۱ـ حالنامه، میا روښا ن، مؤلف علي محمد مخلص کندهاري شینواری، د چاپ کاال ۱۳۸۸هـ ش کابل

۲ـ مخزن الاسلام د اخوند درویزه تالیف

۳ـ بایزید روښان، قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | په افغانستان کې د مطبوعاتو لنډه بهیر | |
| **د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې** | ددې لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– په هېواد کې به د مطبوعاتو پر مخینې او پراختیایي بهیر پوه شي.<br>– د ټولنې په پرمختګ کې به د رسنیو اړتیا، ارزښت او اهمیت وپېژني.<br>– د رسنیو بېلا بېلې بڼې به وپېژني.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>د لوست د پای فعالیتونه به پخپله ځواب کړای شي. | |
| **د تدریس لارې** | لوستل، لیکل، ویل، اوریدل، سوال او ځواب، ډله ییز کار او یوکسیزکار | |
| **د تدریس وسیلې اومرستندوی توکي** | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک، تباشیر، د امکان په صورت کې یوه، دوه ورځپاڼې او مجلې... | |
| **د زده کړې او تدریس فعالیتونه** | شفاهي، عملي، څارنه او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| **د ارزونې لارې اووسیلې** | احوا ل پوښتنه ، د ټولګي تنظیم او د کورنۍ دندې کتل | ۴ دقیقې |
| **د انګیزې رامنځ ته کول** | ښوونکي په دې انګیزوي پوښتنو د زده کوونکو پام لوست ته رااړوي:<br>– آیا کېدای شي رسنۍ د مثبت لوري پر ځای کله ناکله منفي اړخونه هم ولري؟ څنګه؟<br>– په هیواد کې مطبوعات د کوم پاچا په واکمنۍ کې رامنځته شول؟<br>په ملي یووالي کې د رسنیو د ارزښت په اړه څه پوهیږئ؟ | ۶ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه: | د زده کوونکو فعالیتونه: | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی دې د لوست له پیل څخه مخکې زده کوونکو ته رسنۍ او د هغې بېلابېلې بڼې وروپېژني. | – زده کوونکي د ښوونکي څرګندونو ته غوږ ونیسي او د بېلا بېلو رسنیو نومونه دې ولیکي. | |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته د رسنیو د اهمیت په اړه او دا چې ولې رسنیو ته د دولت د څلورم رکن په سترګه کتل کیږي، معلومات ورکړي. | – زده کوونکي دې د یو دولت د څلورم رکن په توګه د رسنیو پر اهمیت ځانونه پوه کړي. | |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته د رسنیو د ناپلویتوب د اړتیا په اړه خبرې وکړي او څرګنده دې کړي چې د ناپلیوتوب اصل د رسنیو په دندې او رسالت کې څومره ارزښت لري. | – زده کوونکي دې په دې ځانونه پوه کړي، ناپلویتوب یو خورا مهم او اړین اصل دی، چې رسنۍ یې ښایي په پام کې ونیسي. که نه، رسنۍ خپل ارزښت له لاسه ورکوي او د خلکو باور پرې له منځه ځي. | |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته په افغانستان کې د مطبوعاتو د رامنځته کولو د نظریې مخکښان | – زده کوونکي د هېواد هغه شخصیتونه پېژني چې رسنۍ یې د ټولنې د ویښتیا لپاره اړینې بللې او په هېواد کې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورووپېژني.

- ښوونکی دې د رسنيو د ښو او د برښنايي رسنيو او انترنيټ د رامنځته کېدو او د معلوماتو د راکړې ورکړې په اړه د رامنځته شوي انقلاب په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
- ښوونکی دې متن ورو، ورو ولولي او په هره برخه کې زده کوونکو ته څرګندونې وکړي. بيا دې زده کوونکو ته ووايي چې لوست له ځان سره ولولي او ناڅرګندې برخې دې په نښه او وروسته دې خپلې پوښتنې وکړي.
- ښوونکی دې زده کوونکو ته د غونډو د جوړولو، د غونډې د مشر، منشي او وياند د ټاکلو اصول وروښايي او په عملي توګه دې د لوست د پای څلورم فعاليت سرته ورسوي. پخپله دې غونډه وڅاري او د اړتيا په صورت کې دې لازمه لارښوونه وکړي.
- ښوونکی دې دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوغواړي چې په افغانستان کې د رسنيو د رامنځته کېدو په اړه نورو ته خپل معلومات وړاندې کړي.
- ښوونکی دې له زده کوونکو وپوښتي چې رسنۍ ولې د دولت د څلورم رکن په توګه ګڼل کيږي او د دولت نور درې رکنونه به کوم وي.
- ښوونکی دې له زده کوونکو وپوښتي چې د وينا يا بيان يا د مطبوعاتي ازادي څه شی ده او آيا دا ازادي پولې او بريدونه هم لري او که نه.
- ښوونکی دې زده کوونکو ته د ورځپاڼې، اوونيزې، پنځلس ورځنۍ، مياشتنۍ، درې مياشتنۍ، شپږ مياشتنۍ او کلنۍ خپرونو په اړه معلومات ورکړي او له زده کوونکو دې وغواړي چې په خپل ټولګي کې له پورته خپرونو څخه يوه جوړه کړي. يو تن دې د مسؤول چلوونکي، درې تنه دې د کتنپلاوي، يو تن دې د خبريال دنده واخلي او خپلې خپرونې ته دې د ټولو په

يې د هغې د رامنځته کولو سپارښتنه کړې ده.

- زده کوونکي د چاپي، صوتي، تصويري او برښنايي رسنيو پر ښو او مفهوم او د معلوماتو په راکړې ورکړې کې د انټرنيټ پر اسانتياوو ځانونه پوهوي.
- زده کوونکي لوست ته غوږ نيسي او ځای ځای په متن کې راغلي معلومات ذهن ته سپاري او د لوست پر مفهوم ځانونه پوهوي.
- زده کوونکي په ټولګي کې د کاري غونډو، په دموکراتيک ډول د غونډې د مشر، منشي او وياند د ټاکلو په لارو چارو ځانونه پوهوي، د هغوی دندې پېژني او په ټولګي کې په وار سره د پورته يوې دندې لپاره ځانونه نوموي او په عملي توګه کار کوي.
- دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او په افغانستان کې د رسنيو د رامنځته کېدو په اړه معلومات ورکوي.
- زده کوونکي د رسنيو پر اهميت ځانونه پوهوي او معلومات تر لاسه کوي، ولې رسنۍ دومره مهمې دي چې د دولت د څلورم رکن يا څلورمې قوې په توګه ورته کتل کيږي، نور درې رکنونه يا درې قوې يې حکومت (اجرايوي ځواک)، مقننه يا قانون جوړوونکی ځواک (پارلمان) او عدليه قوه يا (ستره محکمه ) دي.
- زده کوونکي د وينا يا بيان ازادي پېژني او پر دې ځانونه پوهوي چې وينا يا بيان تر کومې کچې ازادي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| خوښه یو ښه ادبي نوم غوره کړي. (د موقوته او غیر موقوته خپرونو په اصطلاح دې وپوهوي.) | |
| – ښوونکی دې له دې وروسته د پښتو مضمون په هر درسي ساعت کې یو، یو تن ته دنده وسپاري چې د ټولګي په وړاندې یوه یا دوه دقیقې ویاندې یا انانسري وکړي. | – زده کوونکي د موقوته او غیر موقوته خپرونو پر مفهومونو ځانونه پوهوي او په عملي توګه د ښوونکي له لارښوونو سره سم د یوې خپرونې په جوړولو کې ونډه اخلي. کېدای شي د ټولګي د زده کوونکو د شمېر او مینې له مخې له یوې څخه زیاتې خپرونې رامنځته شي. |
| – ښوونکی دې لوست په لنډو جملو کې یو وار بیا تکرار کړي او د فعالیتونو په ځوابولو کې دې له زده کوونکو سره تخنیکي مرسته وکړي. | – زده کوونکي یوې غونډې ته د وینا، انانسرۍ لپاره په ټولګي کې ځانونه چمتو کوي، د ټولګي مخې ته راځي او د راډیو یا تلویزیون د ویاندانو په څېر ویاندي (نطاقي) کوي. دې کار ته د پښتو مضمون په راتلونکوساعتونو کې دوام ورکوي. |
| – د اوونۍ د هر درسي ساعت د لوست په پای کې دې کورنۍ دنده ورکړي. | – زده کوونکي د لوست لنډیز ته غوږ نیسي او که پر کومې برخې نه وي پوهېدلی، پوښتنې کوي.<br><br>زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او له لارښوونې سره سم یې په کورونو کې سرته رسوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

رسنۍ، مطبوعات،میډیا (Media) ټول هغه وسایل او لارې چارې دي، چې له یو نسل څخه بل ته د فرهنګ په لېږدولو کې مرسته کوي، د خلکو ذهنونه روښانوي، خلک د هېواد له تازه او نوي حالت څخه خبروي، خپلو نیمګړتیاوو او ناسمو کړنو ته د حکومت او چارواکو پام راګرځوي، ټولنه یوې سوکاله، هوسا، سوله ییز ګډ ژوند، پوهاوي، زغم او د یو بل منلو ته چمتو کوي. ژمنې او متعهدې رسنۍ د ولسونو او پرګنو په حال او راتلونکي ډېره مثبته اغېزه کوي او سمې او رغنده لارې ته یې لارښوونه کوي.

رسنۍ عموما چاپي (ورځپاڼه، مجله، جریده)، غږیزې یا صوتي (راډیو، تلیفون)، تصویري (تلویزیون، سینما) ویب پاڼې، برښنالیک (برېښلیک)، انټرنیټ او نورې بڼې لري.

سراج الاخبار : د سراج الاخبار جریده په ۱۹۰۶م کال کې د جنورۍ په یوولسمه نیټه د مولوي عبدالرؤوف کندهاري له خوا له چاپه راووته. د لومړۍ ګڼې له خپریدو وروسته بنده شوه او بیا دویم ځل د محمود طرزي په مشرۍ په ۱۹۱۱م کال کې خپره شوه.

**مولوي عبدالرؤوف کندهاري:** مولوي عبد الروف کندهاری د مشروطه پاچاهۍ د غورځنګ له بنسټ ایښودونکو څخه و. د سراج الخبار لومړۍ ګڼه دده په مشرۍ خپره شوه.

**محمود طرزي:** د هیواد نامتو لیکوال، ژورنالست او سیاسي شخصیت و. د امیرعبدالرحمن په واکمنۍ کې له هیواده تبعید شوی و. کله چې هیواد ته راستون شو، د سراج الاخبار په نامه یې یوه جریده رامنځته کړه. په هیواد کې د ژورنالیزم د پلار په نامه یادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مولوي صالح محمد کندهاری:** مولوي صالح محمد کندهاری [۱۲٦۹ – ۱۳۳۹]کال کې په کندهار کې زيږيدلي. ځيني پښتو ليکنې لري.

**غلام محی الدين افغان:** غلام محی الدين افغا ن [۱۲۷۹–۱۳۳۹ هــ ق] د عبدالرشيد زوی، په کندهار کې زيږيدلي، په څو ژبو پوهيده. ليکوال او شاعر و. هند ته تبعيد شوی او هلته يې عصري زده کړې، کړي دي.

**امان افغان:** دا جريده په ۱۹۱۰م کال کې خپره شوه او په خپريدو سره يې په پښتو ادب کې نوې بنې (ژانرونه) رامنځته شول.

**عبدالهادي داوی:** داوی [۱۲۷۲ – ۱۳٦۱ هــ ش] سياسي او فرهنګي شخصيت او د کندهار اوسيدونکي و. په دولت کې يې دندې درلودې. د اميرعبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال کابل ته راغلي و. د زياتو اثارو خاوند دي.

**اتفاق اسلام:** يوه اوونيزه خپرونه وه، مسؤول مدير يې سرور جويا او په هرات کې خپريده.

**طلوع افغان:** يوه جريده ده چې په کندهار کې چاپ اوخپريږي.

**اصلاح:** په ۱۳۳۰کال کې تاسيس شوه او يوه دولتې ورځپاڼه ده.

**وږانګه:** دا اوونيزه خپرونه په ۱۳۴٦کال کې د اطلاعات اوکلتور وزارت له خوا په پکتيا کې خپره شوه.

**نيمروز:** دا جريده په ۱۳۳۳هــ کال کې خپره شوه. په دري او پښتو دواړو ژبو يې خپرونې کولې. په ۱۳۳۷ هــ ش کال کې يې نوم بدل شو او د هلمند نوم پرې کيښودل شو. لومړی مدير يې محمدابراهيم عطايي و.

**هلمند:** پنځلس مياشتنۍ خپرونه وه. په ۱۳۵۰کال کې د اطلاعات اوکلتور وزارت له خوا چاپ او په ۱۳۵۷ش کال کې له چاپ نه پاتي شوه.

**سنايي:** په ۱۲۵۱ش کال کې په غزني کې د اطلاعات اوکلتور وزارت له خوا چاپ او په ۱۳۵۷هش کال کې له چاپ څخه پاتي شوه.

**کندز:** په ۱۲۵۲هــ ش کال کې تاسيس او په ۱۳۵۷هــ ش کال کې له چاپ څخه پاتي شوه.

**ندايي خلق:** په ۱۳۲۹هــ ش کال کې تاسيس شوه. مدير يې ډاکتر عبدالرحمن محمودي و.

**انګار:** ۱۳۲۹ هــ ش کال په دلو کې په کابل کې خپره شوه او مسؤول مدير يې فيض محمد انګار و. په دري او پښتو يې خپرونې کولې.

**وطن:** د ۱۳۲۹کال په حوت کې خپره شوه. اوونيزه وه. ګل پاچا الفت يې مشر و.

**نيلاب:** په ۱۳۳۰کا ل کې خپره شوه او محمد فيروز يې مدير و. په دري اوپښتو يې خپرونې کولې.

**د افغانستان موقتي اداره:** په ۱۳۸۰ کال کې جوړه شوه.

د افغانستان انتقالي اداره: د ۱۳۸۱کال په چنګاښ کې جوړه شوه.

**اضافي معلومات:**

په بيلابيلو هيوادونوکې د مطبوعاتو سياسي، اجتماعي، فرهنګي جوړښت او د هغوی د ازادۍ حدود توپيرلري. په ځينو هيوادونوکې حکومت په رسنيو باندې حکومت کوي او په ځينوکې ورباندې څارنه اوکنترول لري او په ځينوکې بيا د هغه کنترول کمزوری دی.

که چيرې رسنيوته ازادي ورکړ شي او رسنۍ د قوانينو او خپل حقوقي رسالت په چوکاټ کې راشي، ويلای شو چې د دولت او خلکو تر منځ د ارتباط په برخه کې مهم رول سرته رسولای شي. مطبوعات د خپلې ټولنې په وړاندې رسالت او دنده لري چې د خلکو او ټولنې په خدمت کې وي. په افغانستان کې مطبوعات اوږده مخينه نه لري او پيل يې د امير

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیرعلي خان واکمنۍ ته رسیږي، چې د شمس النهار په نامه لومړۍ جریده د هغه امیر په وخت کې خپره شوه. له هغه وخت نه را په دې خوا زموږ په هیواد کې مطبوعات په بیلابیلو وختونوکې د شرایطو تر اغیز لاندې راغلي دي.
امیرشیرعلي خا ن د خپرونو د چاپ لپاره د کابل په بالا حصار کې د لیتوګرافۍ مطبعه جوړه کړه. یوه مجله به پکې په هره میاشت کې دوه، درې ځلې چاپیده. ژبه یې فارسي وه، خو سبک یې هندي او د اردو مطبوعاتو په ډول وه. د ارواښاد عبدالرووف بینوا په وینا د شمس النهار د جریدې دویم وار چاپ د سیدجمال الدین افغان په نوښت و چې د نورو اصلاحي پروګرامونو له پشنهاد سره یې د یوې جریدې د خپریدو وړاندیز هم کړی و. دویم ځلي خپرونه یې بیا د امیر محمدیعقوب خان په وخت کې په ۱۲۹٦هق کال بنده شوه .
زموږ په هیوادکې دویمه خپرونه د سراج الاخبار په نامه ورځپانه وه، چې د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ په وخت کې په کابل کې خپره شوه. [۱۲۵۸هش د جدي ۲۲] کله چې یې لومړۍ ګڼه خپره شوه، انتقادي مطالب په کې ډیر وو. ٦میاشتې یې خپرونې وکړې. د هغه وخت په انګریزانو یې نیوکې ډیرې وې. هغه هم بنده شو ه، خو د محمود طرزي په هلو ځلو یې بیرته په ۱۲۹۱هــ ق کال په خپرونو پیل وکړ. په ۱۲۹۷هــ ق کال کې د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته خصوصي خپرونې را منځته شوې. د ښځو لپاره خپرونې پیل شوې او د رادیوي خپرونو مرکز جوړشو. د امیر امان الله خان د واکمنۍ په وخت کې د لویې جرګې له خوا لومړی اساسي قانون جوړ شو. پرهغې سربیره د مطبوعاتو لومړی قانون هم رامنځته شو. غیردولتي خپرونې او مطبوعاتي محکمه جوړه شوه. له امان الله خان څخه وروسته، په ۱۳۰۸هــ ش کال کې واک ته د نادرخان د رسېدو په وخت کې مطبوعات تر څارنې لاندې ونیول شول. د مطبوعاتو د ازادۍ په باره کې ولیکل شول: «مطبوعات و اخبارات داخله که خلاف مذهب نباشد، مطابق اصولنامه مخصوص ازاد مي باشد.» د محمدظاهر شاه په وخت کې چې ۴۰ کاله یې دوام وکړ، لومړنی صدراعظم یې سردار محمدهاشم خا ن و. دا دوره ۱۳ کاله وه [۱۳۲۵-۱۳۱۲هــ ش] په دې دوره کې د هیواد مطبوعاتو بیلابیل پوځي امرونه ومنل. دا یوه سخته دوره وه چې ډیر مطبوعاتیان بندیان شول او ډیرې خپرونې وځنډېدې.
که څه هم په ۱۲۱۸هــ ش کال کې د مطبوعاتو خپلواک ریاست جوړ شو. د انیس او اصلاح خپرونې رامنځته شوې، خو د دولت تر سانسور لاندې وې او په همدغه دوره کې د خبر رسولو ریاست، باختر آژانس، هم جوړ شو چې کورني او بهرني خبرونه یې تنظیمول.
له هغه وروسته شاه محمودخان اووه کاله صدراعظم و. [۱۳۳۲-۱۳۲۵هــ ش ] په دې دوره کې مطبوعاتو ته پاملرنه وشوه او د مطبوعاتو قانون هم رامنځته شو. [۱۳۲۹هــ ش] په دې دوره کې غیر دولتي جریدې رامنځته شوې. په ۱۳۳۲کال کې سردار محمد داود خان صدراعظم شو. دده دوره [۱۳۴۲-۱۳۳۲هــ ش ] لس کاله وه. نوموړی د مطبوعاتو د ازادۍ مخالف و.
په ۱۳۴۲هــ ش کال کې داکترمحمد یوسف صدراعظم شو. په دې وخت کې یوه نوي سیاسي دوره پیل شوه. په دې دوره کې [۱۳۵۲-۱۳۴۲هــ ش ] د مطبوعاتو قانون بدل شو. دا دوره د دموکراسۍ پر دورې مشهوره شوه. په دې دوره کې مطبوعات د دولت له سانسور څخه ووتل او تر چاپ دمخه سا نسور له منځه لاړ.
د۱۳۵۲هــ ش کال د چنګاښ په ۲٦نیټه محمد داود خان جمهوري نظا م رامنځته کړ. په دې دوره کې د غیر دولتي ورځپاڼو مخه ونیول شوه او یوازې دولتي خپرونو ته پام وګرځول شو. په ۱۳۵۷ هــ ش کال کې په هېواد کې د ثور له کودتا وروسته د څلور حکومتونو په بهیر کې د نوي رامنځته شوي اساسي قانون په ۲۸ماده کې ولیکل شول: هیڅوک نشي کولای له حقوقو او دموکراتیکو ازادیوڅخه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د ګټو پرخلاف استفاده وکړي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داکتر نجيب الله د واکمنۍ په وخت کې د اساسي قانون په ۴۸ ماد ه کې وليکل شول: د افغانستان د جمهوريت اتباع د فکر او بيان د ازادۍ حق لري. د افغانستان اتباع کولای شي، له دغه حق څخه په علني او شفاهي او ليکلي ډول له قانون سره سم ګټه واخلي. په ۵۱ ماده کې ليکل شوي و، د انتقاد په خاطر تعقيب منع دی.
له هغه وروسته په هيواد کې د افغانستان اسلامي جمهوريت اعلان شو. له ۱۳۵۷کال څخه دمخه قوانين يې جاري کړل.
د طالبانو په وخت کې [۱۳۷۴هـ ش کال] مطبوعاتي فعاليتونه د اطلاعاتو اوکلتور وزارت تر څارنې لاندې شول. په دې وخت کې هم خصوصي مطبوعات تعطيل شول. يوازې دولتي خپرونې پاتي شوې او راديو يوازې دولتي خپرونې کولې. تلويزوني خپرونې بندې شوې.
په ۱۳۸۱ کال کې د نوې ادارې په جوړېدو د وينا او بيان ازادي خوندي شوه. په لسګونه تلويزيوني کانالونه، راديوي ستيشنونه جوړ او په سلګونه خپرونې او خبري رسنۍ د هېواد په مرکز او ولايتونو کې جوړې شوې او تر ننه دا لړۍ لا پسې ډېره توده روانه ده. بايد يادونه وشي چې د رسنيو لپاره تر بل هرڅه د رسنيو بې پرېوالی او ناپليوتوب ډېر اړين دی، که نه، رسنۍ خپل اصلي ارزښت او اهميت نه شي خپلولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | ترکیب او له جملې سره د هغه توپیر | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخو ته ورسيږي:<br>– د ژبې د ګرامر او نحوې په اړه به يې پوهه زیاته شي او په دې به وپوهيږي چې په يوې جملې کې د کلمو د ځای په بدلون د جملې معنا توپیر مومي.<br>– زده کوونکي به ترکیب، اصطلاح او جمله او د هغوی تر منځ توپیر وپېژني.<br>– زده کوونکي به پر دې وپوهيږي چې اصطلاحګانې د يوې ژبې لغوي پانګه جوړوي.<br>– د زده کوونکو ليک او وينا به پیاوړې شي.<br>– زده کوونکي به د لوست د پای فعالیتونه په خپله ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، ليکل، ويل، اوريد ل، سوال او ځواب، ډله ييز کار او يوکسيزکار | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک او تباشیر | |
| د ارزونې لارې او وسیلې | شفاهي، عملي، څارنه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | روغبړ او احوال پوښتنه، د حاضرۍ اخیستل او د کورنۍ دندې کتل | ۴ دقیقې |
| د انګیزې رامنځته کول | ښوونکی دې له څو تنو زده کوونکو څخه د جملې د جوړښت، د جملې او ترکیب د توپیر او د جملو د برخو په اړه پوښتنې وکړي. | ۶ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیت | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی دې تير لوست په څو پوښتنو وارزوي. | – زده کوونکي دې د ښوونکي پوښتنو ته ځواب ووايي. | |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته د ژبې ګرامر او په هغې کې د جملې په اړه معلومات ورکړي. | – زده کوونکي ګرامر، د هغې بېلا بېلې برخې او په هغې کې جمله وپېژني. | |
| – ښوونکی د جملې، عبارت، ترکیب او اصطلاح په توپیر زده کوونکي پوهوي. | – زده کوونکي جمله، عبارت، ترکیب او اصطلاح پېژني او توپیر يې بیانوي. | |
| – ښوونکی زده کوونکو ته د جملې د عمده برخو؛ اسمي (مسنداليه، مبتدا) او فعلي (فعلي، مسند، خبر) په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکوي او له زده کوونکو سره مرسته کوي | – زده کوونکي د جملې اساسي برخې (مبتدا او خبر) پېژني. هر زده کوونکی د ښوونکي په لارښوونه يوه، يوه جمله وايي او مبتدا او خبر يې په ګوته کوي. په همدې توګه ګوري چې که په يوې جملې کې د کلمې ځای بدلون ومومي، نو د جملو په | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| چې یو څو جملې ووایي او بیا یې مبتدا او خبر په ګوته کړي. همدا شان دې ښوونکی په جملو کې د کلمود ټاکلي ځای او د جملې په مفهوم کې د کلمو د ځای د بدلون د اهمیت په اړه معلومات ورکړي او په بېلګو کې دې وښیي. | مفهوم کې بدلون راځي او که نه. په یو څو جملو کې دې تمرین کړي. |
| – ښوونکی دې په جملو کې د کلمو د خج یا فشار، آهنګ او نورو نحوي برخو اغېز وڅېړي او زده کوونکو ته دې معلومات چمتو کړي. | – زده کوونکي خج یا فشار پېژني، لومړی په کلمو او بیا په جملو کې یې تمرینوي او د جملې په مفهوم کې یې توپیر پېژني. |
| – ښوونکی دې د ترکیب په اړه خبرې وکړي او د څو بېلګو په راوړلو دې له زده کوونکو سره د لا ښې زده کړې لپاره تمرین وکړي او د اصطلاح او ترکیب توپیر دې په بېلګو کې څرګند کړي. | – زده کوونکي ترکیب پېژني، تمرینوي یې او له عبارت او اصطلاح سره یې پر توپیر پوهیږي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته د یوې ژبې د لغوي پانګې په توګه اصطلاح وروپېژني او د ژبې په بډاینې کې دې د اصطلاح اغېز روښانه کړي. | – زده کوونکي د اصطلاح له پېژندو وروسته پر دې پوهیږي چې اصطلاحګانې د ژبې لغوي پانګه ده او د یوې ژبې بډاینه څرګندوي. |
| – ښوونکی دې له زده کووونکو وپوښتي چې عبارت او ترکیب جوړېدای شي، خو آیا اصطلاح هم جوړېدای شي؟ په دې برخه کې دې له زده کوونکو سره یو ځل بیا د عبارت، ترکیب او اصطلاح مفهومونه تکرار او په بېلګو کې دې تر هغه وکاروي، چې د زده کوونکو له زده کړې څخه ډاډ تر لاسه کړي. | – زده کوونکي په بېلګو کې څرګندوي چې عبارت او ترکیب جوړېدای شي، خو اصطلاحګانې د متلونو په څېر د یو ولس په فرهنګ کې پرته شتمني ده او نوي نه جوړیږي. زده کوونکي د لاښې زده کړې لپاره جمله، ترکیب، عبارت او اصطلاحګانې تمرینوي او په جملو کې یې کاروي. |
| – له دې وروسته دې ښوونکی د کتاب له مخې لوست ولولي او ځای ځای دې په اړوندو مفهومونو رڼا واچوي او پر زده کوونکو دې یې تکرار کړي. | – زده کوونکي لوست ته غوږ نیسي او ځای په ځای په لوست کې راغلي مفهومونه پېژني او د ښوونکي له لارښوونې سره سم هغه تکراروي. |
| – څو تنه زده کوونکي دې په وار وار د ټولګي مخې ته راوغواړي چې د جملې او د جملې د توکو په اړه خبرې وکړي او بېلګې دې وړاندې کړي. | – څو تنه زده کوونکي په وار د ټولګي مخې ته راځي او د جملو د توکو په اړه خبرې کوي او په بېلګو کې یې څرګندوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| – ښوونکی دې زده کوونکي په څو مناسبو ډلو وويشي او هرې ډلې ته دې دنده ورکړي چې د جملې اساسي برخې (مبتدا او خبر)، عبارتونه، ترکيبونه او اصطلاحګانې پيدا او وليکي.<br>– ښوونکی دې لوستل شوی لوست په لنډ ډول تکرار کړي او ددې ډاډ تر لاسه کړي چې زده کوونکو لوست ياد کړی دی.<br>– ښوونکی دې په لومړيو دوو ساعتونو کې زده کوونکو ته د لوست په اړوند کورنۍ دنده او په دريمه ورځ د لوست په پای کې راوړل شوې کورنۍ دنده وسپاري. | – زده کوونکي ځانونه په ډلو کې تنظيموي او د جملې پر اساسي توکو، عبارتونو، ترکيبونو او اصطلاحګانو خبرې کوي او د هرې يو تن استازې يې په وار د ټولګي په وړاندې نورو ته لولي.<br>زده کوونکي د لوست لنډيز ته غوږ ږدي او پر لوست د پوهېدو ډاډ ترلاسه کوي.<br>– زده کوونکي د ښوونکي پوښتنو ته ځوابونه وايي او پر لوست د پوهيدو ډاډ تر لاسه کوي.<br>– زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي. |

**د فعاليت په اړه معلومات او پوښتنو ته ځوابونه:**

کله چې د ترکيب او جملې د توپير په هکله خبرې کوو، نو بايد ترهرڅه لومړی د جملې او بيا د ترکيب په هکله يادونه وکړو. د دواړو ترمنځ توپير په خپله روښانه کيږي. لکه څنګه چې په درسي کتاب کې يادونه شوي ده، جمله يوه عربي کلمه ده او د مجموعې په نامه يادېږي. له پخوا نه د جملې ډيرتعريفونه شوي دي او زياتره يې د الفاظو په بدلون سره يوه موخه افاده کوي، خو ډيرو پوهانو د جملې په تعريف کې د يوناني پوه "ديونيسيوس تراکس" Diony Sius Thrax د جملې د تعريف پيروي کړې ده. نوموړی وايي جمله په نظم او نثرکې د الفاظو اوکلمو مجموعه ده چې يوه معنا او مفهوم افاده کوي. تر دې وروسته ډيرو پوهانو د نوموړي پوه همدغه تعريف منلی دی. ايراني پوه، خانلري بيا له پورتني تعريف څخه د نظم او نثر کلمې ايستلي دي، خو يوازي دومره يې ويلي دي، جمله د کلمو مجموعه ده چې بشپړ مفهوم ولري. د پوهانو له ډول، ډول تعريفونو څخه داسې ښکاري چې همدغه وروستی تعريف تر ډيره ځايه په ځای دی. کله چې د کلمو يوې د کلمو يوې مجموعې بشپړه او مکمله وينا ورکړه او لوستونکو ته پکې کومه پوښتنه پيدا نشوه، نو هغې ته جمله وايي. کېدای شي جمله له دوو يا زياتو کلمو څخه جوړه شوي وي.

د جملې د جوړښتي برخې معنا داده چې د جملې د جوړوونکو توکو په واسطه څرګنديږي. دغه جوړښتي معنا د کلمو، ترتيب او تنظيم بلل کيږي چې د جملې په کلمو پورې اړه نه لري. که چيرې فورمونو په منظم ډول ترتيب او تنظيم موندلی وي، نو بيا به جوړښتي معنا ولري چې په دې ترتيب د اواز برابروالی، فونيتيکي ځانګړنې او د فورمونو انتخاب راځي.

جمله د خبر، پوښتنې، تعجب او امر په ډول راتلای شي. هر نحوي واحد يې له دوو برخو: مبتداء او خبر يا مسند اليه او مسند څخه جوړ شوی وي. خو د اجزاوو له پلوه پر بسيط او مرکب شکل باندې ويشل کيږي. د جملې لپاره څلور ځانګړنې کارول شوي دي:

– قيده شوي نه وي،
– په وړو واحدونو ونه ويشل شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د جوړوونکو خواوو ترمنځ یې د نحوې له مخې ارتباط موجود وي،
– مبتداء اوخبر ولري.
په بشپړه جمله کې مبتدا او خبر دواړه راځي. د نحوي واحدونو په جوړولو کې لفظي واحدونه خپله برخه لري. دغه واحدونه د ځای او نورو ځانګړتیاوو له امله په ترکیبونو او جملو کې په نومونو، صفتونو، قیدونو، فعلونو او نورو ډولونو باندې ویشل کیږي. بیا دغه لفظي واحدونه خپلواک او ناخپلواک وي، روستاړی او مختاړی هم خپل ځای پیدا کوي .دغه لفظي واحدونه خپل ډولونه او ګرامري خصوصیات لري. په جمله کې نومونه اوفعلونه جلا جلا ډولونه لري او هر ډول راتګ په جمله کې بدلون رامنځته کوي.
په جمله کې چې کله مورفیم بدلون مومي، جمله ورسره بدلون کوي، ځکه ژبپوهان وایي که چیرې د مورفیمونو د راوړلو په وخت کې د ځا ی او وخت تناسب ونه پیژندل شي، اصلي معنا په لاس نشي راتلای. د پورتنیو لیکنو له مخې د جملې یو تعریف داسې کولای شو: جمله هغه نحوي واحد دی چې مبتداء، خبر، ټاکلی آهنګ، تون او لحن ولري. له دې امله د جملې په بیلولو کې نومورې برخې ځانګړی ارزښت لري.
اوس چې مو د جملې په اړه خبرې وکړي، ترکیب، غونډ یا عبارت بشپړ مفهوم نشي ادا کولای. که مورږ ووایو، احمد راغی. دا یوه ساده جمله ده؛ مبتدا او خبر لري. که څه هم د لا زیاتې څرګندونې لپاره به نورو پوښتنو ته هم اړتیا ولري، خو په سملاسي توګه مخاطب قناعت کولای شي. که چیرې ووایو، چې: راغی. نو اوریدونکي او لوستونکي ته پوښتنه پیدا کیږي، چې څوک راغی؟ بیا دغه خبر ځوابوي. که څه هم په یوه جمله کې له مبتدا سره او هم له خبر سره نور مورفیمونه؛ یعني کلمې په نحوي رابطه کې راتلای شي او جملې ته لا زیاته څرګندتیا ورکولای شي. دغه راز له خبرسره هم مورفیمونه راتلای شي او جمله لا زیاته بډایوي. که چیرې په یوه جمله کې مبتداء له خپلو اجزاوو سره له جملې سره رانه وړل شي او یوازې خبر راوړل شي، نو دغه خبر ته ترکیب یا غونډ یا عبارت وایي. که چیرې خبر رانه وړل شي او یوازې مبتداء له خپلو اجزاوو سره راوړل شي، نو بیا ورته ترکیب وایي؛ یعنې په ترکیب کې یا مبتداء وي او یا یوازې خبر. لکه چې ووایو: ښکلې جلی، لوړه جلی، توره جلی یا داچې ووایو؛ تیزه راغله، ورو راغله. د مبتداء او خبر برخه په یوازې ډول بشپړ مفهوم نشي ورکولای. له دې امله ورته ترکیب وایي.که چیرې په یوه ترکیب کې یوازې د مبتداء برخه راغلې وي، نو داسې ترکیب ته اسمي ترکیب وایي او که یوازې د خبر برخه راغلې وي، نو داسې ترکیب ته فعلي ترکیب وایي. یوازې یو ترکیب پوره معنا نشي ورکولای. ویلای شو چې ترکیب د دوو یا زیاتو خپلواکو او نا خپلواکو کلمو او مورفیمونو څخه جوړ شوي وي، چې برخې یې یو له بل سره ګرامري تړاو لري. د ترکیب ځانګړتیاوو ته په پام سره چې په درسي کتاب کې راغلي دي، اوس د جملې او ترکیب د توپیر په هکله ویلای شو چې په جمله کې مبتداء اوخبر دواړه غبرګ اوکله کله له خپلو ملحقاتو سره راځي، خو په ترکیب کې بیا داسې نه راځي. دغه برخې پکې کمزوري وي او یا نه وي.
لکه څنګه چې جملې ډولونه لري، دغه ډول ترکیبونه هم خپل ډولونه لري، لکه څنګه چې ساده اوبشپړې جملې لرو، دغه ډول ترکیبونه هم ساده او مکمل ترکیبونه لري. په پښتو ژبه کې ترکیبونه په اسمي او فعلي ترکیبونو ویشل شوي دي.
که لږ وړاندې لاړشو، وبه وایو چې جمله زماني اومکاني سیستم لري. که دغوسیستمونو ته ونه کتل شي، له جملې څخه معنا اخیستلای نشو. سیستم هغه نظم اوترتیب دی چې په تغییر سره یې د جملې په جوړښت کې هم بدلون راځي.
تردې ځایه پورې مو د جملې په هکله یوڅه ولوستل، اوس به د ترکیب یاعبارت په هکله وغږیږو.
دمخه مو وویل چې یوه بشپړه جمله مبتداء او خبر لري.که چیرې په داسې یوه جمله کې که هر ډول جمله وي، مبتدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرې کړو او يوازې خبر پاتې شي، نو بيا له جملې نه وځي او يو فعلي ترکيب بلل کيږي. که له جملې نه خبر ليرې شي؛ په دې سره هم يوازې مبتدا ته جمله نه ويل کيږي؛ بلکې د نوم ترکيب ورته ويل کيږي. په دې هکله په درسي کتاب کې هم مثال ورکړ شوی دی. لکه هلک ولويد. دا يوه ساده جمله ده، چې په دې کې هلک ته مبتداء ويل کيږي او لويدل د خبر په معنا راځي. که چيرې له هلک سره صفت يوځای شي او خبر ترې لرې شي او ووايو ښه او خوشحال هلک. د داسې کلمو يوځای کيدو ته، جمله نه ويل کيږي؛ بلکې د داسې کلمو ترکيب ته د نوم ترکيب وايي او په همدې ډول که مبتداء لرې شي او له فعل سره قيدونه او نورکلمات راوړل شي؛ نو بيا له مبتدا پرته ورته د فعل ترکيب يا عبارت وايي. لکه په زوره ولويد.

له پورته خبرو وروسته اوس د ترکيب په هکله ويلای شو چې ترکيب د دوو يا زياتو خپلواکو او ناخپلواکو کلمو له يوځای کيدو نه لاسته راځي او اجزا يې يوله بل سره ګرامري تړاو لري. ترکيبونه که له يوې خوا د جملې په جوړولوکې رول لري، د نحوي واحدونو په جوړولو کې هم رول سرته رسوي. د ترکيب ځانګړتياوو ته په پام سره، چې په درسي کتاب کې راغلي دي، ويلای شو ترکيبونه د معنا او جوړښت په پام کې نيولو په ټاکلو او ناټاکلو ترکيبونو باندې ويشل کيږي. په ټاکلو کې د اجزاوو ترکيب ثابت وي او په ځای يې بله کلمه راوړلای نشو، لکه دکابل پوهنتون، خو په ناټاکلوکې بيا د اجزاوو ټاکلی او ثابت نه وي. لکه د ملالۍ کميس او داسې نورې جملې.

له پورته خبرو وروسته د جملې او ترکيب د توپير په هکله ويلای شو چې په بشپړه جمله کې مبتداء او خبر له خپلو ټولو اجزاوو سره راځي، خو په ترکيب کې دغه برخې نيمګړې وي.

په پښتو ژبه کې ترکيبونه په عمومي ډول په اسمي او فعلي ترکيبونو باندې ويشل کيږي. بيا په خپله اسمي ترکيبونه هم په خپل ذات کې په څو برخو ويشل کيږي، لکه:

اضافي ترکيبونه ،توصيفي ترکيبونه ،عددي ترکيبونه ،قيدي ترکيبونه ،اداتي ترکيبونه

په اضافي ترکيبونوکې د يو نوم نسبت بل نوم يا ضمير ته شوي وي يا داچې د اضافت (د) په واسطه يې ارتباط پيدا کړی وي. په اضافي ترکيبونوکې يو نوم مضاعف اليه او بل يې مضاعف راځي.

د ترکيبونو بل ډول يې فعلي ترکيبونه دي او خپله فعلي ترکيبونه او لاندې ډولونه لري:

١. نوم + فعل
٢. نوم + د فعل مصدر
٣. قيد+ فعلي ترکيب
٤. عدد + کومکي فعل
٥. د يم او وم له کومکي فعلونه له صفتونوسره

اوس مو د جملې او ترکيبونو په هکله په لنډ ډول معلومات ترلاسه کړل. د اصطلاحاتو په هکله به هم يوڅه رڼا واچوو.

اصطلاحات په هره ژبه کې وي او د دولس مال او د ژبې شتمني بلل کيږي. اصطلاحات د متلونو په څير خلک په خبرو او محاورو کې کاروي او پوره خوند اوخوږوالی لري. اصطلاحات خپل خصوصيات لري. هره اصطلاح له يوې کيسې نه رازيږيدلې وي او د خبرو په وخت کې په سملاسي توګه نه جوړيږي. اصطلاحات له پخوا نه جوړ وي او خلک يې له يوبل نه زده کوي او په خپلو خبرو کې يې وايي. په پښتو ژبه کې هيڅوک اصطلاحاتو ته بدلون ورکولای نشي او بله داچې د هرې سيمې اصطلاحات جلاجلا وي، خو بيا هم له يوې سيمې نه بلې ته ليږديږي. په پښتو ژبه کې د ترکيب ښه ځانته غوره کوي، لکه لور په لوټه اچول، اوښ په ښده وهل او داسې نور مثالونه. د اصطلاحاتو کلمې په خپل ترکيب کې خپله معنا له لاسه ورکوي او که چيرې بيل بيل شي، خپله وروستۍ معنا هم له لاسه ورکوي. لکه، لار وهل، ژبه کول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښه نيول او لاس اخيستل، ... . دغه ډول اصطلاحات د ټکي په ټکي ژباړې وړ نه دي. په داسې ترکيبونوکې خپلې ځانګړتياوې موجود وي. له هغوی نه يوه داده چې داسې ترکيبونه د ژبې د لغاتو په برخه کې خپله ګرامري ځانګړتيا لري. په دې کې ثابت ترکيبونه د بشپړو جملو په ډول راځي. لکه، ابی مړه شوه او تبه يې وشليده. ځيني يې ثابتې نه وي او پوره معنا ترې لاسته نه راځي. لکه: د اسمان کټ، په جامو کې نه ځاييدل او نور.

په پښتو ژبه کې اصطلاحات هم په دوو ډولونو اسمي اوفعلي خواوو ويشلی شو.

اسمي برخه يې، لکه: د تروو مچ

فعلي برخه يې، لکه: لور په لوټه تېره کول

**اخځليکونه:**


۱ــ صديق الله رښتين، پښتو اشتقاقونه اوترکيبونه. د ۱۳۲۷هـــ ش کال چاپ

۲ــ پښتونحوه ،پوهندوی ډاکټر زرغونه رښتين زيور

۳ــ د پښتو ژبې لنډ ګرامر (صرف او نحوه) ، محقق سيد محی الدين هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسم لوست

## د تدريس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | | وخت |
|---|---|---|---|
| د لوست موضوع | پښتو قصيده: شيخ اسعد سوري | | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | زده کوونکي به د لوست په پای کې لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– په پښتوادبياتوکې به قصيده وپيژني او د هغې پر مخينې به پوه شي.<br>– د قصيدې جوړښت، برخې اوځرنگوالي به وپيژني.<br>– د موجودو سندونو له مخې به په پښتو ژبه کې د لاسته راغلې لومړۍ قصيدې ويونکی وپيژني.<br>– د ليک او وينا ځواک به يې غښتلی شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په خپلواک ډول ځواب کړای شي. | | |
| د تدريس لارې | لوستل، ليکل، ويل، اوريدل، سوا ل او ځواب، ډله ييزکار او يوکسيزکار | | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوې توکي | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک او تبا شير | | |
| د ارزونې لارې او وسيلې | شفاهي، عملي، ځارنه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | سلام، روغبړ، احوال پوښتنه، د حاضرۍ اخيستل، د ټولگي تنظيم او د کورنۍ دندې کتل | | ۴ دقيقې |
| د انگيزې رامنځ ته کول | – ښوونکي دې له زده کوونکوسره په لنډ ډول د نظم اونثر او د نظم د ډولونو په اړه خبرې وکړي او د يو څو پوښتنوپه ترڅ کې دې د زده کوونکو معلومات وارزوي. | | ۶ دقيقې |
| د ښوونکي فعاليتونه | | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
| – ښوونکي دې خپل لومړي فعاليت ته په دوام په پښتو ادبياتو کې د نظم او نثر او همدارنگه د قصيدې او د هغې د جوړښت په اړه معلومات ورکړي. | | – زده کوونکي دې د ښوونکو خبرو ته غوږ ونيسي، د نظم ډولونه دې يوه پلا بيا له پامه تېرکړي، نومونه دې ياد کړي او قصيده دې وپيژني. | |
| – ښوونکی دې د پټې خزانې او د هغه د ليکوال په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي. | | – زده کوونکي دې پټه خزانه، د هغې ليکوال، د پټې خزانې ارزښت د يو تاريخي ادبي کتاب په توگه وپيژني او له ښوونکي دې لا زيات معلومات وغواړي. | |
| – ښوونکی دې پښتو ادبياتو ته د قصيدې او د نظم د نورو ډولونو، لکه غزل، مثنوي، رباعي، ... د راتگ په اړه معلومات ورکړي. | | – زده کوونکي دې معلومات ترلاسه کړي چې قصيده، غزل، مثنوي، رباعي او نور نظمونو کله پښتو ادبياتو ته لاره پيدا کړه او لامل يې څه و. | |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته په پښتو ادبياتو کې د | | – زده کوونکي دې ځانونه وپوهوي چې لومړۍ لاسته راغلې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| لاسته راغلي لومړۍ قصېدې د ويونکي، شيخ اسعد سوري په اړه لنډ معلومات ورکړي. | قصېده چا ويلې، مضمون يې څه شی دی، شيخ اسعد سوري څوک و او دا قصېده يې ولې ويلې ده؟ |
| – ښوونکی دې نوی لوست ورو ورو ولولي. | – زده کوونکي دې لوست ته غوږ ونيسي او ستونزمن ځايونه او کلمې دې په نښه کړي. |
| – ښوونکی دې د قصېدې د لوستلو پر مهال د قصېدې د پيل، منځ او پای برخې زده کوونکو ته روښانه کړي. | – زده کوونکي دې د قصېدې جوړښت ته ځير شي، د هغې پيل، منځ او پای دې ومومي او سره بېل دې يې کړي. |
| – ښوونکی دې د قصېدې د ستونزمنو کلمو او بيتونو پر معنا زده کوونکي وپوهوي. | – زده کوونکي دې د لوست ستونزمنې کلې له ښوونکي وپوښتي او ځانونه دې پرې وپوهوي. |
| – ښوونکی دې هر زده کوونکی راوبولي چې د قصېدې څو بيتونه په سم ډول د نورو زده کوونکو په وړاندې ولولي. | – زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د قصېدې څو بيتونه ولولي. |
| – ښوونکي د تېر په څېر، د وخت په پام کې نيولو سره، دوه، درې تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوبولي چې د خپلې خوښې يوې موضوع په اړه يوه دقيقه خبرې يا وياندي وکړي. ښوونکی دې ورسره مرسته وکړي. | – زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راشي او د خپلې خوښې پر يوې موضوع دې يوه دقيقه خبرې وکړي او يا دې وياندي يا انانسري وکړي. د ښوونکي لارښوونو ته دې ځېر شي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکي په مناسبو ډلو وويشي. هرې ډلې ته دې دنده ورکړي او د هغوی د کار پرمختګ دې وڅاري. | – زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم ځانونه په ډلو کې تنظيم کړي. |
| – ښوونکی دې د لوست د پای فعاليتونه پر زده کوونکو کار وکړي او پخپله دې د يو سلاکار په توګه ورته د اړتيا په صورت کې لارښوونه وکړي. | – يو تن زده کوونکی دې نورو زده کوونکو ته د تشبيب په اړه معلومات ورکړي.<br>– يوتن زده کوونکی دې د قصېدې په متن کې اصلي ويرنه ولولي او په اړه دې يې څرګندونې وکړي.<br>– زده کوونکي دې په قصيده کې د شيخ اسعد سوري احساساتو ته پام او د هغې په اړه دې په وار خبرې وکړي.<br>– زده کوونکي دې په نوي لوست کې اسمي ترکيبونه پيدا کړي او د ترکيب او جملې پر توپير دې په وار خبرې وکړي. |
| – ښوونکی دې د تېر په څېر د پښتو د هر درسي ساعت په پای کې کورنۍ دنده ورکړي او د زده کوونکو وړتيا دې وارزوي. | – زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍدنده واخلي او په کورنو کې دې سرته ورسوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

**بغني:** د هلمند د زمینداور سیمه پخوا د بغني په نامه یادېده.

**آهنګران:** د غور د مرکز، چخچران د جنوب لویدیځ په لس کیلومترۍ کې یوه پرته سیمه ده.

**امیرمحمد سوري:** امیرمحمد سوري د علاء الدین حسین غوري ورور و. نوموړی د سلطان محمود غزنوي له خوا ونیول شو. وروسته امیرمحمد سوري په زندان کې له ډېره غیرته زهر وخوړل او مړ شو. علا ءالدین حسین غوري په **۵۵۶ هـ** کال کې د خپل ورور د غچ اخیستلو په موخه د غزني ښار ته اور واچاو او په علا ءالدین جهان سوز مشهور شو.

**غوریان:** تر اسلام دمخه په غورکې سیمه ییزه واکمني وه. له غوریانو څخه سلطان علاء الدین غوري د سلطان محمود غزنوي واکمني ماته کړه او د لومړي ځل لپاره یې د غوري دولت بنسټ کېښود. له **۶۰۲ هـ** کا ل نه تر لسم هـ پورې یې دوام وکړ. د هرات لوی جومات او منار جام د غوریانو په وخت کې جوړ شوي دي.

**غور:** د افغانستان په مرکزي برخه کې یو ولایت دی.

د غور امیران پر آل شنسب باندې مشهور دي. هغوی په دوو ډلو ویشل شوي وو: یوې ډلې په غورکې واکمني درلوده، چې پلازمینه یې فیروزکوه وه. بله ډله یې د غور په شمال کې پرته وه، چې په تخارستان یې حکومت کاوه او پلازمینه یې بامیان و.

**مثنوي:** هغه نظم دی چې هر بیت یې ځا نته جلا قافیه ولري.

**قصیده:** لغوي معنا یې قصد او اراده ده. په اصطلاح کې هغه شعر دی چې تر یوې مطلع لاندې ویل کېږي. د بیتونو شمېر یې له غزل څخه زیاتېږي او تر **۲۰۰** بیتونو پورې رسېږي.

**غزل:** هغه شعر دی چې له **۵** تر **۱۵** یا شلو پورې بیتونه ولري. په غزل کې شاعر د شعر په پای کې خپل نوم او تخلص راوړي، خو اوس دا دود کم شوی دی.

**رباعي:** هغه شعر دی چې څلور مسرۍ لري. دوی لومړۍ یې یو ډول قافیه او درېمه مسرۍ یې قافیه نه لري. څلورمه یې د لومړۍ او دویمې مسرۍ په څېر قافیه لري.

لرغوني پښتانه، د شیخ کته لیکلی کتاب دی، چې په پټه خزانه کې ترې ډېره ګټه اخیستل شوې ده.

شیخ کته :د شیخ یوسف زوی او د شیخ متي لمسی و. د لرغوني پښتانه کتاب یې لیکلی او محمد هوتک په پټه خزانه کې له نوموړي کتا ب نه استفاد ه کړې ده.

خوشحال خان خټک: د شهبازخان زوی او د یحیی خان لمسی دی. په **۱۰۲۲ هـ** کې زیږیدلی او په **۱۱۰۰ هـ** کې په حق رسیدلی دی. د پښتو ژبې نامتو شاعر او لیکوال و. د مستشرقینو په وینا یې تر**۲۵۰** زیا ت اثار لیکلي دي.

شاه حسین په **۱۱۱۴ هـ** . ق . کال د کلات په سیورې علاقه کې وزیږید. تر **۱۲** کلنۍ پورې یې د وخت زیاتره دودیز علوم له ملا یارمحمد څخه ولوستل. په **۱۴** کلنۍ کې یې پلار مړ شو. کله چې محمود پر ایران باندې لښکر کشي وکړه، د کندهار د چارو مشري یې ورته وسپارله. له هغه وروسته د نادر افشار تر برید پورې په همدغه مقام پاتې شو. په **۱۱۵۰** ق کال کې شاه حسین له خپل اولاد سره مازندران ته تبعید شو. نوموړي په **۱۱۵۲** کال د شعبان په میاشت کې په مازندران کې مړ شو.

خراسا ن: زموږ هیواد، افغانستان پخوا د آریانا او خراسان په نومونو یادېده، خو جغرافیایي موقعیت او سیاسي بریدونه یې د اوس په څېر نه و. د احمدشاه بابا په وخت کې د افغانستان په نامه ونومل شو، چې له آمو نه تر ډهلي پورې پراخ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټه خزانه د پښتوادبیاتو یو ډېر ارزښتناک کتاب دی. محمد هوتک د شاه حسین هوتک په لاربښوونه لیکلی، چې د پښتو ژبې د ادبیاتو تاریخ یې تر ۱۳۹هـ پورې ورسولو؛ ځکه موږ ته د پټې خزانې په واسطه د امیرکروړ شعر لاسته راغلی.
محمد هوتک په خپل لیکل شوې اثر، پټه خزانه کې د پښتو ژبې شاعران په درېو برخو وېشلي دي. په لومړۍ خزانه کې یې د ۲۲ تنو هغو شاعرانو پېژندنه او د شعرونو نمونې راغلي دي، چې تر هغه یې پخوا ژوند کړی و. په دویمه خزانه کې د ۲۱ تنو هغو شاعرانو پېژندنه راغلي ده، چې د محمد هوتک معاصر وو. په دریمه خزانه کې د شپږو تنو ښځینه شاعرانو، نازو توخي، حلیمي خټک، بي بي نیک بختې، بي بي زینب، زرغونې او رابعې پېژندنه او د شعرونو بېلګې راغلي دي.

**اضافي معلومات:**

د موجودو سندونو له مخې ویلای شو چې د اسلام له مبارک دین څخه پخوا هم په عربي ژبه کې قصیدې موجود وې. په هغو کې یې محتوا د اوښانو صفت، د طبیعت صفت او ستاینه، د غرني ژوند د کلو او کنډوالو او د هوسیو خرام په هکله خبرې کېدې. په عربو کې به شعر او شاعري په فصیحو او بلیغو الفاظو کې روانه وه. د عربو قصیدې تر بن امیه دورې پورې د محتوا له مخې په همدې ډول وې. کله چې د اسلام مبارک دین افغانستان ته راغی، دلته هم قیصدې پوره رواج وې. ډېر څېړونکې، د هغوی له ډلې څخه کریستن سن، په دې اند دی چې عربي قصیدو خپل خصوصیات درلودل او د فارسي د قصیدې قواعد له عربي څخه نه دي راغلي. ابوریحان البیروني هم په خپل کتاب الهند کې، چې د خلیل بن احمد د عروضو قواعد او د سانسکریت د پخوانیو اوزانو ترمنځ مطابقت څېړي، وایي نوموړي له سانسکریت نه اوزان راخیستي دي. له دې روایاتو څخه ښکاري چې تر اسلام دمخه هم په خراسان کې قصیده موجوده وه او خپل شعري وزنونه یې درلودل. له څېړونو څخه جوتیږي چې په فارسي کې هم قصیده په خپلو اوازانو او ځانګړتیاوو سره موجود وه. که چیرې داخبره ومنو، کله چې د دري ژبې په قصیده کې خپل اوزان او خپل خصوصیات موجود وو، او له عربي څخه یې اوزا ن اخیستي نه وي، نو پښتو قصیده خو د تاریخ په اوږدو کې له عربي ژبې څخه بیخي اغیزمنه نشو بللای. بیا خو په ډاګه ویلای شو چې پښتو قصیده خپل اوزا ن لري او خپلې ځانګړتیاوې یې له عربي نه را اخیستي نه دي. پخوا داسې فکرکیده چې زموږ په پښتو ژبه کې قصیده د خوشحال خان خټک له وخت څخه ده. کله چې پټه خزانه لاسته راغله او په هغې کې د شاه حسین په امر د محمدهوتک په زیار او زحمت پټه خزانه ولیکل شوه، دا ورڅخه ثابته شوه چې د مخه تر هغه هم په پښتو ادب کې قصیده موجود وه او د ځوانۍ دوره یې تیره کړي وه. لکه چې په پټې خزانې کې د امیرکړور پښتو شعر په لاس راغلی دی. امیر کروړ د غور د مندیش امیر و. (۱۳۹ هجري کال) په پټه خزانه کې لاسته راغلی شعر هم ډېر پوخ شعر دی او د شعر ډېرې ځانګړتیاوې پکې دي، نو هغه قصیده چې د پټې خزانې په واسطه لاسته راغلي ده، تر ټولو پخوانۍ قصیده نه ده. محمدهوتک دا قصیده د شیخ کټه له لرغوني پښتنانه کتاب څخه را نقل کړې ده. شیخ کټه نوموړې قصیده له تاریخ سوري څخه لیکلي ده. دا قصیده د شیخ اسعد سوري ده. کله چې د سبکتیګن کورنۍ په غزني کې واکمنه شوه، د سلطان محمود او ددغې غوري کورنۍ تر منځ اختلاف راغي. په دې وخت کې امیرمحمد سوري د غور امیر و. د مؤرخینو په وینا ۴۰۴ یا ۴۰۵ هـ ق کې سلطان محمود نوموړی په اهنګران کې ونیو او بندي یې کړ. سوري په بند کې له غیرته زهر وخوړل. (طبقات ناصری ۱جلد – ۱۱۷ مخ)

شیخ اسعد سوري د امیرمحمد سوري له درباریانو څخه و. شیخ اسعد سوري له ډېره غمه د هغه په مړینه قصیده وویله. د دغه قصیدې لومړۍ برخه تشبیب دی. په تشبیب کې ۱۹ بیته د فلک له تیري او ظلم نه شکایت شوی دی، چې متن یې په کتاب کې شته. وروسته لومړی شکایت کوي او بیا نیغ پرې ورځي او فلک له غیاب څخه حضور ته راوړي، چې د ادبي صنعت له مخې دا برخه ډېره خوږه ده. مثلا ورته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه تيرى څه ظلم کاندې اى فلکه ستا د لاسه نه دى هيڅ ګل بې له خار

او په ورستيو بيتونوکې لا تنديږي، وايي:

شين زرګى فلکه ولې لا ولاړ يې اى د غور غرونو په څه نه شوې غبار

په دې قصيده کې د مخاطب برخه ۱۱ بيته ده چې مخامخ فلک ته شکايت کوي اوپه پاى کې بيرته طبيعت ته ورګرځي.

د پښتو دوديز ننګ بيانوي او وياړنې ته يې فکر کيږي، لکه:

سخ په تا اى محمده! دغور لمر وې په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار

د غور په باعظمته امارت کې، چې د۵۸۰ هـــ ق شاوخوا کلونه يې نيولي وو، د بوللو د ويلو دود زيات و. په دغه دربار کې ښکارندوى ور مقا م درلود. کله چې سلطان معزالدين يا شهاب الدين د سلطان محمود په څير هند ته روان و، ښايي ښکارندوى به هم ورسره و. کله چې شهنشاه په اباسين تيرېده، نو ښکارندوى دده په ستاينه کې هم يوه بلله ويلي چې تشبيب يې داسې پيل کړى دى:

د پسرلى ښکلونکي بياکړل سينګارونه بيا يې ولونل په غرونو کې لعلونه

تر دې وروسته د ستاينې برخې ته وردانګي، چې ټوله برخه يې رزمي رنګ لري.

د روښانيانو په دوره کې قصيدې وده وکړه، خو ددې وخت قصيدې داسې شوې چې په محتوا کې يې بدلون راغى. د وحدت او تصوف برخه پکې زياته شوه. د خوشحال په وخت کې بيا تصوف ته دومره پاملرنه، نه وه.

مور د پير روښان په دوره کې د قصيدو ويلو په برخه کې د کريمداد، دولت، ارزاني او ميرزا نومونه يادولاى شو. د خوشحال خان په ديوان کې قصيدې زياتې دي. په دې دوره کې د اشرف خان، قادرخان، سکندرخان او نورو شاعرانو نومونه ليدلى شو. په دې دوره کې شعر او شاعري په مجموع کې له هندي سبک څخه اغيزمنه ده. دلته د شاعرۍ ډګر ډير ګرم دى. د غزل خواته ډير پام اړول شوى. که چيرې مور د پښتو ادب د شعر او شاعرۍ ډګر ته وګورو، د قصيدې بڼه لږه تته ښکاري او کېداى شي وجه يې دا وي چې زمور ځوان شاعران د قصيدې ليکلو ته د قلم پورته کول نه غواړي.

د ادب په ډګر کې د شعر او شاعرۍ غوښتنه داده چې د نظم ټولې خواوې په يو توازن کې حرکت وکړي.

يوه بله خبره هم د يادولو ور ده او هغه دا چې نن سبا زمور د ليکوالو شاعرانو ټوله پاملرنه د شعر او شاعرۍ تخليقي خواته ده. څيړنيزې خواوې يې لږې دي، نو زمور ليکوال او شاعران بايد دغو کمزورو برخو ته پام واړوي ترڅو زمور راتلونکې څيړونکي ددې وخت په ادبياتو کې دا تشه ونه ګوري.

**اخځليکونه:**


۱. کتاب فشرده تاريخ افغانستا ن، داکتر فاروق انصاري

۲. هوتکيها، عبدالرؤف بينوا

۳. تاريخ مختصر افغانستا ن، عبدالحي حبيبي

۴. پټه خزانه، د محمد هوتک ليکنه

۵. پښتانه شعراء، عبدالحي حبيبي

۶. د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده، پوهاند عبدالحي حبيبي، ۱۳۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم لوست

**د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه**

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | چاپیریال ساتنه | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | ددې لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– چاپیریال او د چاپیریال اړین توکي به وپېژني.<br>– د چاپیریال ساتنې پر ارزښت به پوه شي.<br>– د خپل چم ګاونډ د چاپیریال په ساتنې کې به په خپله ونډه واخلي او نور به هغې ته وهڅولای شي.<br>– د لیک او وینا وړتیا به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سر ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، ویل، اورید ل، سوا ل او ځواب، ډله ییز کار او یوکسیزکار | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوي توکي | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک او تباشیر | |
| د ارزونې لارې او وسیلې | شفاهي، عملي، څارنه، د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | احوا ل پوښتنه، د ټولګي تنظیم او د کورنۍ دندې کتل | ۴ دقیقې |
| د انګیزې رامنځ ته کول | ښوونکی د چاپیریال په اړه د یو څو پوښتنو له لارې د زده کوونکو پام د چاپیریال ارزښت ته اړوي او په لوست پیل کوي. | ۶ دقیقې |
| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
| – ښوونکی د یو څو بېلګو په وړاندې کولو سره زده کوونکو ته چاپیریال ورپېژني او ارزښت یې ور په ګوته کوي.<br>– ښوونکی په چاپیریال کې د نوي کېدونکو او نه نوي کېدونکو توکو او په نړۍ کې د نفوسو د ډېرېدو او د ژوند له پایښت سره د هغوی د اړیکو په اړه زده کوونکو ته مفصل معلومات وړاندې کوي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته د چاپیریال د پاک ساتنې پر ارزښت غږېږي او د ژوو پر ژوند د چاپیریال د ککړتیا اغېز څرګندوي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته سپارښتنه کوي، چې چاپیریال په کاله کې د هغوی د ناستې له ځایه | – زده کوونکي چاپیریال او د هغې ارزښت پېژني او پر دې ځانونه پوهوي چې کوم شیان او ځایونه په چاپیریال کې راځي.<br>– زده کوونکي په چاپیریال کې نوي کېدونکي او نه نوي کېدونکي توکي پېژني او خپله پوهه په دې ټکي څرخوي چې څنګه کولای شو د نفوسو ډېرښت ته پام هغه په سمه توګه ولګوو. د بېلګو له وړاندې کولو هر یو په بحث کې برخه اخلي.<br>– د چاپیریال د ککړتیا رواني ستونو ته په پام زده کوونکي د چاپیریال د پاک ساتلو لارې چارې لټوي او پر ژوندیو موجوداتو د ککړ چاپیریال اغېز بیانوي.<br>– زده کوونکي پر دې ټکي ځانونه پوهوي چې چاپیریال په کاله کې د ناستې له ځایه پیلیږي او همداسې تر | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلیږي، د کور انګړ، له کور بهر، کوڅه او کلي او همدارنګه بانډو او په ښارونو کې سړکونو، پارکونو او د اوسېدو ټولو ځایونو ته غځیږي.

– ښوونکی زده کوونکو ته د چاپېریال په ساتنې کې د هغوی دندې او مسؤولیت روښانوي او علمي زده کړه ورکوي او ټینګار کوي چې د چاپېریال ساتنه د یو ټاکلي فرد، ادارې یا ښاروالۍ دنده نه ده، بلکې د یوې ټولنې ټول افراد پکې ګډ مسؤولیت لري.
– ښوونکی د ایکولوژۍ مفهوم زده کوونکو ته څرګندوي.
– ښوونکی څو زده کوونکو ته دنده ورکوي چې په وار د نوي لوست یو، یو پراګراف ولولي. ښوونکی مرسته ورسره کوي.
– ښوونکی څو تنه زده کوونکي په وار د ټولګي مخې ته راغواړي چې د چاپېریال په اړه یوه، یوه دقیقه خبرې وکړي.
– ښوونکی زده کوونکي په مناسبو ډلو ویشي. هرې ډلې ته دنده ورکوي چې د چاپېریال د ارزښت او پاکوالي په اړه خپل نظر ولیکي او بیا د هرې ډلې استازې د ډلې د نظریاتو له توحید وروسته هغه نورو زده کوونکو ته واوروي.
– ښوونکی دوه تنه زده کوونکي رابولي چې په چاپېریال کې د ژوندیو او ناژوندیو موجوداتو تر منځ په اړیکو او پر چاپېریال د هغوی داغېز په اړه خبرې وکړي.
– ښوونکی د لوست لنډیز وایي او د چاپېریال پر ارزښت او پاکوالي ټینګار کوي، تر هغه چې زده کوونکي قناعت وکړي.
– ښوونکی د پښتو له درېو ساعتونو څخه د یو درسي ساعت په پای کې زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي چې په لوستل شوي متن کې صفت او موصوف په ګوته کړي.

کوره، انګړه، کوڅه، چم ګاونډ او کلو بانډو، دښتو، غرونو، سیندونو، سمندرونو او ځنګلونو پورې پراخیږي. دې ټکي ته پام کوي چې د چاپېریال کوم توکي تر نورو زیات د هغوی پر ژوند اغېز لري.

– زده کوونکي د چاپېریال د پاک تنې په اړه خپلې دندې او مسؤولیتونه پېژني او دا مفهوم ورته روښانیږي چې د چاپېریال په پاک ساتنې کې د هر فرد مسؤولیت تر نورو ړومبی دی.
– زده کوونکي د ایکولوژۍ پر مفهوم ځانونه پوهوي او پېلګې یې په چاپېریال کې ګوري.
– زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د نوي لوست یو، یو پراګراف لولي او پر مفهوم یې ځانونه پوهوي.
– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي په وړاندې د چاپېریال په اړه یوه، یوه دقیقه خبرې کوي.
– زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونو سره سم په ډلو کې ځانونه تنظیموي. یو نفر د ډلې د منشي په توګه ټاکي. هر غړی په وار په بحث کې ونډه اخلي او خپل نظر بیانوي. د ډلې منشي نظرونه توحېدوي او په خپل وار یې نورو ټولګیوالو ته اوروي.
– دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د چاپېریال د ژوندیو او ناژوندیو موجوداتو تر منځ په اړیکو او پر چاپېریال د هغوی د اغېز په اړه خپل نظر بیانوي.
– زده کوونکي د لوست لنډیزته غوږ او که کومه برخه ورته روښانه نه وي، نو له ښوونکي پوښتنې کوي. د ککړ او پاک چاپېریال پر توپیر ځانونه پوهوي.
– زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي او په لوستل شوي متن کې صفت او موصوف پیدا کوي او لیکي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول**

ایکولوژي – Ecology ، Eco-system

* د ۱۳۸۸ کال نومول شوي تازه معلومات د ملګرو ملتونو د سازمان له خپرونو څخه د انټرنیټ له لارې اخیستل شوي.

**اضافي معلومات:**

چاپیریال (Environment) زموږ شاوخوا پراته شیان له چاپیریال څخه عبارت دي. د کور، خونې یا د دفتر په ځای کې د کار شاوخوا، د کور شاوخوا، ویالې، لارې کوڅې، ښار، بازار، چمنونه، کروندې، ونې، باغونه، ځنګلونه، سیندونه، دښتې، بېدیاوې او ټول هغه شیان چې زموږ سترګو ته راځي، له چاپیریال څخه عبارت دي. پخوا د نفوسو شمیره لږه وه، د انسانانو چاپیریال هم پاک و. د وخت په تیریدو د نفوس په زیاتېدو د چاپیریال د ککړتیا نښې هم راښکاره شوې. نن څه ناڅه شل سلنه ډول ډول ناروغي له چاپیریال رامنځته کیږي. له دې امله د چاپیریال د ساتلو په اړه سپارښتنې زیاتې شوې او د پاکوالي په باره کې یې لارې چارې سنجول کیږي. د چاپیریال د پاک ساتنې موضوع هغومره ډېره اړینه ده، لکه چې یوانسان په ژوندانه کې څښاک او خوراک ته اړتیا لري. زموږ په ټولنه کې د چاپیریال د ساتلوپه اړه، لکه څنګه چې لازمه ده، اغیزمن کارونه شوي نه دي. د چاپیریال د ککړتیا په لاملونوکې تر زیاتې کچې پورې د نفوسو زیاتوالی او د اوسیدونکو بې پروایي شامله ده. د خځلو او کثافاتو دځای په ځای کولو په باره کې بې پروایي اویا د استوګنې په چاپیریال کې د هغوی د ځای په ځای کولو په لارو چارو نه پوهېدل. سربیره پر دې زموږ د ژوند چاپیریال د پرله پسې جګړو له امله ککړ شوی، ځنګلونه وهل شوي، زیاتره ژوي له منځه تللي او اوبه ککړې شوي دي. خځلې اوکثافت په هر ځای کې ډېرې ډېرې پراته دي او ببلا ببلې ساري ناروغۍ ترې راپورته کیږي. لازمه ده د چاپیریال په پاک ساتلوکې ټول په ګډه کار وکړو، د ځنګلونو د وهلو مخه ونیسو، نوې ونې کښینوو، د څښلو اوبو د پاکولو لپاره کار وکړو، هوا پاکه وساتو او د زهري ګیدو مخه یې ونیسو. نه یوازې هڅې بلکې د پارکونو، باغونو، اوبو، ویالو او خپل ښار په پاک ساتلو کې زیار وباسو. په صنعتي هېوادونو کې د ګازونو د شتون له امله هوا توده شوې ده. که دا تودوالی دوام ومومي او زیات شي، نو د ځمکو په حاصلاتو او د چاپیریال په سمسورتیا کې به ستونزې رامنځته شي. د څښلو او خړوبولو اوبه به لږي شي. په نباتاتو او ژوو کې به کموالی رامنځته شي. که چیرته سیانس او تکنالوژي پرمختګ کوي او ژوند ورسره سوکاله کیږي، نوله بلې خوا ورسره چاپیریال هم ککړیږي او ژوو ته ګواښ پیدا کوي. د کارخانو جوړېدل ښه خبره ده، خو دود یې هواککړوي. که د برښنا له وسایلو کاراخلو، باید وپوهیږو چې هغه زهري وړانګې لري، حافظه کمزوري کوي، هوښیارتیا ته زیا ن رسوي ، د لید توان کمزوری کوي او روغتیا ته زیان رسوي. په پای کې دې نتیجې ته رسیږو چې د چاپیریال د ککړتیا لاملونه ډېر دي. زموږ هیواد چې اوس یې له یوې خوا نفوس مخ په زیاتیدو دي، له بلې خوا ساینس او تکنالوژي مخ پر ودې روانه ده، که په دې برخه کې کار ونه کړو او پا م ورته ونه کړو، نوچاپیریا ل به لا ډېر ککړ شي. تر ټولو ښه خبره داده چې د ټولنې هر شخص د خپل کور پاکوالي ته پام وکړي. باید ورکشاپونه جوړشي او د چاپیریا ل د ساتنې په برخه کې د خلکو پوهه زیاته شي. په نړۍ کې له ناپاکه اوبو څخه د ورځې شاوخوا ۲۵۰۰۰ تنه خپل ژوند له لاسه ورکوي. زموږ هرهیوادوال باید د دغو ناپاکو اوبو پرځای د څښلو لپاره د پاکو اوبو د رامنځته کولو او برابرولو لپاره هڅه وکړي

**اخځلیکونه:**

سیمای محیط افغانستان، پوهاند دوکتور احمدشاه جلال

محیط زیست افغانستان، غلام محمد ملکیار ،۱۳۸۳کال

د ژوند چاپیریال، د چاپیریال ساتنې ملي اداره ، دریمه خلورمه، ۱۳۸۸کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیارلسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو څرګندونې | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | دپښتو ادبیاتو دویمه تاریخي دوره | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخو ته ورورسیږي:<br>– زده کوونکي به د پښتو ادبیاتو د تاریخي دورو په لړ کې دویمه تاریخي دوره وپېژني او د هغې په اړه به معلومات پیدا کړي.<br>– ددغې دورې د اثارو پر ځا نګړتیاوو به پوه شي او شاعران او لیکوال به یې وپېژني.<br>– د پښتو ادبیاتو د دویمې یا منځنۍ دورې بیلا بېل مهم پړاوونه به وپېژني.<br>– د پښتو ادبیاتو پر پرمختیایي بهیر به پوه شي.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای برخې فعالیتونه به په خپلواک ډول ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې چارې | لوستل، لیکل، پوښتنې او ځوابونه، ځا نګړې او ډله ییز کارونه | |
| د تدریس وسیلې اومرستندوي توکي | درسي کتابونه، پخواني دیوانونه، توره تخته، تباشیر او تخته پاک | |
| د ارزونې لارې او وسیلې وسیلې | شفاهي ارزونه، سوال او ځواب، څارنیزه ارزونه او لیکنۍ ارزونه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | احوال پوښتنه، د حاضرۍ اخیستل او د کورنۍ دندې کتل. | ۴ دقیقې |
| د انګېزې د رامنځته کول | زده کوونکو ته د ادبي تاریخي دورو د وېش په څرنګوالي او په دې اړوند د یو، دوه پوښتنو له لارې د زده کوونکو پام نوي لوست ته اړول کیږي. | ۶ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکي له څو تنو زده کوونکو غواړي چې د پښتو ادبیاتو د تاریخي دور په اړه خپل معلومات له نورو سره شریک کړي. | – درې تنه زده کوونکي د ښوونکي په مرسته خپل نظر وړاندې کوي. | |
| – ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې ولې یو شمېر پښتو لیکلي اثار زموږ په لاس کې نشته او یوازې نومونه یې راپاتې دي. | – زده کوونکي ښوونکي ته غوږ نیسي او د پردېو یرغلونو، د افغانانو خپلمنځي جګړو او بې پروایۍ په څېر نور لاملونه پیژني چې د زیاترو لیکلو ادبیاتو د له منځه تګ لامل شوي دي. | |
| – ښوونکی د منځنۍ دورې څلور مهم پړاوونه، ددې دورې لیکوال، د هغوی اثار، د هغوی د اثارو د محتوا | – زده کوونکي د پښتو ادبیاتو په دویمه دوره کې څلور مهم پړاوونه، د هر پړاو ځانګړتیاوې، شاعران او | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ترمنځ توپیر او د شعر او لیکوالۍ پرمختیایي بهیر زده کوونکو ته تشریح کوي. | لیکوال او د هغوی اثار او لیکنې پېژني اوځانونه پرې پوهوي. |
| – ښوونکی د پښتو نثر څرنګوالی(مسجع او روان نثرونه) او په دویمه دوره کې د هغې د ودې په څرنګوالي زده کوونکي پوهوي. | – زده کوونکي په پښتو نثر کې مسجع نثر او په هغه پېر کې د هغې اړتیا پېژني او د پښتو ادبیاتو پر ودې ځانونه پوهوي. |
| – ښوونکی په دویمه دوره کې پښتو شعر او نثر ته د خوشحال خټک او د هغه دکورنۍ پر خدمتونو اوهمدارنګه د هوتکیانو په دربار کې د پښتو ژبې په ودې رڼا اچوي او له بېلګو سره یې روښانوي. | – زده کوونکي پښتو ادبیاتو ته د خوشحال خټک او د هغه د کورنۍ د ستاینې وړ خدمتونه پېژني او د هوتکیانو په دربار کې د پښتو ژبې د ودې په اړه معلومات پیدا کوي او پټه خزانه او د هغې ارزښت پېژني. |
| – ښوونکی د ادبي تاریخي دورو د وېش او یو له بل څخه د جلاکېدو په څرنګوالي زده کوونکو ته معلومات ورکوي. | – زده کوونکي ځانونه پوهوي چې یوه تاریخي ادبي دوره له بلې هغې څنګه بېلیږي. |
| – ښوونکی نوی لوست په وار پر زده کوونکو لولي او پخپله ځای ځای د راغلو موضوعګانو په اړه معلومات وړاندې کوي. | – زده کوونکي په وار لوست لولي او د اړتیا په صورت کې پوښتنې کوي. |
| – ښوونکی په لنډه ډول د پښتو ادبیاتو په دویمې تاریخي دورې، لیکوالو، شاعرانو او د هغوی په اثارو خبرې کوي او لوست رانغاړي. | – زده کوونکي د لوست لنډیز ته غوږ ږدي او د دویمې ادبي دورې د ځانګړتیاوو، شاعرانواو لیکوالو د هغوی د اثارو په اړه خپل معلومات بشپړوي او ډاډ تر لاسه کوي چې د لوست په مفهوم پوه شوي دي. |
| – ښوونکی دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي او ورته وایي چې په وار سره د پښتو ادبي تاریخي دورو په اړه لنډې خبرې وکړي. | – دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښـــوونه د ټولګي مخې ته راځي او د ادبي تاریخي دورو په اړه لنډې خبرې کوي. |
| – ښوونکی زده کوونکي پر څلورو ډلو ویشي. هرې ډلې ته دنده ورکوي، چې په ترتیب سره د دویمې دورې له څلورو پړاوونو څخه په یو پړاو بحث وکړي، د هر پړاو ځانګړتیا وڅیړي، لیکوال او شاعران یې په ګوته کړي، د لیکلو اثارو نومونه یې واخلي او بیا دې د هرې ډلې استازی د نورو په وړاندې ولولي. | – زده کووني دښوونکي له لارښوونې سره سم ځانونه په ډلوکې تنظیموي. د هر پړاو پر ځانګړتیاوو خبرې کوي، د لیکوالو اوشاعرانو نومونه لیکي او بیا دي د هرې ډلې استازی د نورو په نماینده ګۍ د ټولګي په وړاندې بیان کړي. ټول زده کوونکي دې په بحث کې برخه واخلي. |
| – ښوونکی دې دوه، درې تنه زده کوونکی د ټولګي مخې ته راوبولي چې د خپلې خوښې پر یوې موضوع د پخوا په څېر یو، دوه دقیقې خبرې وکړي. | – دوه، دوه تنه زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه د ټولګي مخې ته راشي او د خپلې خوښې په یوې موضوع دې لنډې خبرې وکړي. |
| – ښوونکی دې یو تن زده کوونکی راوغواړي چې د پټې | – یو تن زده کوونکی د ښوونکی له لارښوونې سره سم د پټې خزانې په ارزښت خبرې کوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

خزانې د ارزښت په اړه معلومات وړاندې کړي.
- ښوونکی دې د لوست د پای فعالیتونه په وار پر زده کوونکو عملي کړي او پخپله دې د اړتیا په وخت کې لارښوونه اومرسته وکړي.

ښوونکی دې زده کوونکو ته په لومړیو دوو ساعتونو کې له لوست وروسته پخپله خوښه او په دریم ساعت کې د لوست د پای کورنۍ دنده ورکړي.

- زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم په فعال ډول د لوست د پای فعالیتونو په ځوابولو کې ونډه اخلي.

زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او په کورونو کې یې لیکي. هڅه دې وکړي چې لیکنه یې ښه، روانه او په زړه پورې وي. توپیر نه کوي که لنډه هم وي، خو باید منطقي تړاو ولري او مفهوم ځرګند کړي.

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

**بایزید روښا ن** د عبدالله زوی و. د مغلو په وړاندې یې مبارزه کړې. د خیرالبیان د کتاب لیکوال دی. قلمي نسخه یې د جرمني د تیوبینګن په کتابتون کې خوندي ده.

**ارزاني:** د پیرروښان مرید و. د برهان زوی دی. د شعر دیوان لري. په فارسي او هندي ژبه هم شعرونه لري. اخوند درویزه په تذکرة الابرار نومې کتاب کې د ارزاني یادونه کړې ده.

**علي محمد مخلص:** د میرزاخان انصاري ملګری و. د بایزید روښان نیمګړې حال نامه یې پوره کړې ده. تر روښان وروسته یې د هغه د کورنۍ احوال ورزیات کړی. په ۱۰۲۹هـــ ق کال کې هند ته تللی او د هند په رشیداباد کې استوګن شوی و.

**اخوند درویزه:** د اخوندګدا زوی و. د زر هجري په شاوخوا کې یې ژوند کاوه. قبر یې د پیښور په هزارخانۍ کې دی. د پیر روښان د عقیدې مخالف و. روانه شاعري یې کړې او د مخزن الاسلام د کتاب لیکوال دی.

**مسجع نثر:** سجع یا قافیه لرونکی نثر دی، چې وروستۍ کلمې یې د قافیو په ډول کارول شوي وي.

**قطعه:** مطلع اومقطع نه لري. کله چې د کوم شعر د سر او پای مسره ولویږي، نو بیا قطعه ورته وایي.

**مربع:** دوه بیتیز وي. په سرکې څلور بیته یو ډول قافیه لري. بیا وروسته درې بیته یو ډول قا فیه وي. وروستی نیم بیتی یې د لومړنیو څلورو بیتوپه څیر قافیه لري. د مخمس هر بند پنځه بیته لري. د لومړیو پنځو قافیه یې یو ډول وي. بیا وروسته د څلورو بیتو قافیه یې یو ډول وي او د پنځم بیت قافیه د لومړي بند په څیروي. مسد س، شپږ، شپږ مسرۍ لري. د لومړیو بیتونو قافیه یې یو ډول وي او وروسته بیا د پنځو بیتونو قافیه یو ډول وي او د شپږمې مسرۍ قافیه د لومړیو بیتونو په څیر وي. مثمن، د مثمن جوړښت کټ مټ د مسدس په څیر دی، خو د هر بند د مسرو شمیر یې اته وي.

معشر، هر بند یې لس مسرۍ وي. د وروستي بند ۹مسرۍ یې یوه قافیه لري او وروستی بند یې په قافیه کې د لومړي بند د مسرو له قافیو سره یوشان وي.

په ترکیب بند کې تر هر بند وروسته یوبیت راځي، خو د داسې بیتونو قافیه په ټولو بیتوکې توپیر لري.

د ترجیع بند د بیتونو شمیره د پنځو او لسو تر منځ وي. لومړی څو بیتونه وي، وروسته یو بیت راځي، چې د بیت د دواړو مسرو قا فیه یې یوشی وي. دا قافیه بیله وي او د بیت له هر بند نه تکراریږي.

خلاصه کیداني د میامحمد عمر خمکني ا ثر دی. د فقهي مسایل پکې دي.

**قصیده بردیه:** په دې قصیده کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صفت شوی دی او شرف الدین محمد لیکلې ده.

**یارمحمد هوتک** د کندهار له علماوو څخه و، په منطق او فقه کې یې شهرت درلود. د شاه حسین هوتک استاد و.

**فواید الشریعت:** د ا خوندقاسم پاپینې اثر دی. د اخوند درویزه پیرو و. د مخزن په سبک د فقهي مسایل پکې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**واصل روښاني:** د روښاني لړۍ یو نومیالی شاعر دی. د شعر دیوان لري. ژوند یې تر ۱۰۵۸هــ ق پورې یقیني دی.
**خواجه محمد:** په قوم بنگښ او د خوشحال خان د وخت شاعر او قصیده ویونکی دی.
**کریمداد بنگښ:** د پښتودیوان لرونکی شاعر دی. په پښتو او فارسي ژبو یې شعرونه ویلي دي. د هند په فرخ اباد کې اوسیدلی او ژوند یې تر ۱۰۵۶هق پورې باوري دی.
**دولت لواني:** نوم یې دولت الله لوانی او په دولت لوانی مشهور دی. شاعر او د دیوان لرونکی دی. ژوند یې د ۱۰۰۰هــ په شاوخوا کې اټکل شوی دی.
**قادر داد:** د محمد زمان زوی، د پیرداد لمسی، د کمال الدین کړوسی او د پیر روښان کودی دی. شاعر دی او قصیدې لري.
**بابوجان:** په گلشن روه کې یې یادونه شوي ده. قبر یې په یوسفزوکې دی او شاعر تیرشوی دی.
**خوشحال خټک:** په قوم خټک د شهبازخان زوی او د یحیی خان لمسی دی. په ۱۰۲۲کې زیږیدلی او په ۱۱۰۰هــ کې په حق رسیدلی. د پښتو ژبې نامتو شاعر او لیکوال و. د مستشرقینو په وینا تر۲۵۰ زیات اثار یې لیکلي دي.
دستارنامه د خوشحال خټک اثر دی، چې په ۱۰۷۶هــ ق کال کې د هند د رنتبور په زندان کې لیکل شوې. بازنامه، فالنامه، فضل نامه، طب نامه، بیاض، څنځیری، سوات نامه او داسې نور د خوشحال خان خټک د اثارو په ډله کې دي.
**اشرف خان:** د خوشحال خټک زوی او د هغه د سبک پیرو شاعر دی. د پلار په څیر یې له مغولو سره مبارزه کړې ده. لس کاله په بیجاپور کې د مغولو په بند کې و. هجري یې تخلص کاوه. د پښتو ژبې شاعر او مبارز تیر شوی دی.
**عبدالقادرخان:** د خوشحال خان خټک زوی او د هغه د سبک پیرو شاعر و. په ۱۰۶۲هــ کې زیږیدلی او په ۱۱۱۸هــ کې په حق رسیدلی دی.
**سکندرخان:** د خوشحال خټک زوی او د هغه د سبک پیرو شاعر دی.
**صدرخان:** د خوشحال خټک زوی او د هغه د سبک پیروشاعر دی چې په صدر خوشحال هم مشهور دی . د شعر دیوان لري او دغه راز د خسروشرین کیسه یې ژباړلې ده.
**بي بي حلیمه خټکه:** د خوشحال خټک لور او د هغه د سبک پیروه وه.
**افضل خان خټک:** د اشرف خان خټک زوی او د خوشحال خټک لمسی دی. د نیکه په څیر ادیب او شاعر و. د تاریخ مرصع نامتو کتاب یې لیکلی دی. دغه راز یې د کلیله او دمنه کتاب ژباړلی دی.
اشرف خلیل د خوشحال خټک د سبک پیرو و.
**عبدالرحمن مومند** یا رحمن بابا د پښتو نامتو صوفي شاعر د پیښور په بهادر کلي کې په ۱۰۲۴ هــ ق کې زیږیدلی، د شعر یو دیوان لري.
ماوراءالنهر، د سیحون (سند دریاب) او جیحون (اموسیند) ترمنځ پرته سیمه ده.
یونس خیبری، مهین خلیل، حافظ الپوري، میانعیم متي زی، نجیب سربندي او معزالله مومند د رحمن بابا د سبک پیروان وو.
معزالله، د ملک عبدالله زوی، د محبت خان کړوسی، د لنډي کوتل له اربابانو څخه و. د شعر دیوان یې د پېښور په اکاډمۍ کې خوندي دی، چې په ۱۱۵۹هــ کال کې لیکل شوی دی.
اخوند گدا د احمدشاه بابا د وخت شاعر و، د نافع المسلمین په نامه کتاب یې لیکلی او د رحما ن بابا د سبک پیر و.
عبدالعظیم سواتي، د رحمن بابا د سبک پیرو او د سوات اوسیدونکی و. په ۱۱۶۷هق کې په سوات کې زیږیدلی دی.
گرگین، د گرجستان و. د شاه حسین صفوي په وخت کې مسلمان شو، بیا یې له ایرا ن څخه کندهار ته د حاکم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه را ولېږه، چې وروسته د میرویس نیکه له خوا په کندهار کې ووژل شو.

**میرویس نیکه:** میرویس (۱۷۱۰-۱۷۰۹) د ښالم خان زوی و. مور یې نازو انا نومیده.په [۱۰۸۴ هـــ ق – ۱۶۷۳ ز] کال کې زیږیدلی دی. نوموړي د پردیو له واک څخه د خپلې خاورې د ژغورلو لپاره مبارزه پیل کړه او د افغانستان په یوه برخه کې یې ازادي ترلاسه کړه. په [ ۱۱۲۷ هـــ ق ] کال کې مړشوی دی او د کندهار د کوکران په سیمه کې ښخ شوی دی.

**نازو انا:** د کلات په تازي نومې ځای کې زیږیدلې ده. د میرویس خان مور وه. پرهیزګاره او شاعره ښځه تېره شوې او د شعر دوه زره بیتیز دیوان لري.

**شاه حسین** د میرویس خان نیکه زوی و چې د پټې خزانې کتاب دده په امر لیکل شوی دی.

**بي بي زینب:** د میرویس لور وه. د علم او پوهې څښتنه وه. د شعر دیوان یې ترلاسه شوی نه دی، خو شعرونه یې پټې خزانې خوندي کړي دي.

**ریدی خان:** د غیاث الدین زوی او پلار یې د میرویس نیکه ملګری و.

**محمود نامه:** د ریدي خان اثر او ۴۰۰۰ بیته لري.

داود هوتک د قادرخا ن زوی او د محمد هوتک پلار دی.

**بابوجان** د اخوند درویزه د زامنو معاصر و. د۱۰۵۰ هـــ کا ل په شاوخواکې ژوندی و. لومړی بېدینه او بیا مسلمان شوی و. د خیرالبیا ن او محزن الاسلام د سبک پیرو و. یو بل بابوجان هم شته  چې د کرم خان زوی او په اټغر کې اوسیده.

د شها اوګلان نکل په مثنوي لیکل شوی دی.

**اغراق**: د مبالغې یو ډول دی چې مدعا یې د عقل له مخې امکان لري، خو عادتا امکان نه لري.

**مبالغه:** که یو شاعر له اندازې څخه زیات د یو شي صفت وکړي، ښه والي او بدوالي ته یې شدت ورکړي.

**غلو:** د مبالغې یو ډول دی چې عقلا او عادتا امکان ونه لري.

**عبدالحمید مومند:** په قام مومند او د پښتو ژبې نامتو نازک خیال شاعر تیر شوی دی. د شعر دیوان او نور اثار لري.

**کامګار خټک:** په  ۱۱۶۵ هـــ ق کال کې وفات شوی دی. د اشرف خان لمسی دی .

**کاظم خان شیدا**، د افضل خان زوی او په ۱۱۳۵هـــ ق کال په اکوړه خټک کې زیږیدلی دی.  په  ۱۱۸۱ هـــ ق کال کې یې خپل دیوان بشپړ کړی دی. لفظي او معنوي صنایع په کې ډیرې دي.

**تیمورشاه:**  (۱۷۹۳-۱۷۷۳کال)  د لوی احمدشاه بابا زوی و. لومړی د هرات والي و. بیا په ۱۷۴۲ کال کې د پلار له مرګه وروسته پاچا شو. په ۱۷۹۳کال کې په پېښورکې ناروغه او کابل ته راغی. په همدغه کال کې مړشو. قبر یې په کابل کې دی.

**شاه شجاع:**  د تیمورشاه زوی، له ۱۸۰۳-۱۸۰۹ پورې  د لومړي ځل لپاره سلطنت کړی دی.

**پیرمحمدکاکړ:** د احمد شاه بابا د دربار شاعر و. د معرفة الافغاني کتاب یې لیکلي دي.

**حافظ ګل محمد مرغزی:** د پېښور د صوابۍ د سیمې اوسیدونکی و. احمدشاهي شاهنامه یې لیکلې ده.

ماخذونه:

افغا نستا ن در مسیرتاریخ، د غبار لیکنه، ۱۳۶۸

پښتانه شعراء، عبدالحي حبیبي

**اضافي معلوما ت:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخه ټولو لیکل شوو اثارو ته ادبیات ویل کیدل، خو د وخت په تیریدو او له څیړنو وروسته د اثارو او لیکنو لپاره ځانګې جلا شوې. یوازې هغه اثار د ادبیاتو تر چوکاټ لاندې راغلل، چې پکې هنري ارزښتونه موجود وي او تخیل او عواطفو ته پکې ځای ورکړ شوی وي. ادبیات پر یو ځانګړي خط روان نه وي. د ټولنې بیلابیل عوامل وربانديې اغیزکوي او د هغو عواملو تر اغیز لاندې پکې بدلون راځي. له دې امله د هر هیواد ادبات په دورو ویشل کیږي. په هره دوره کې ځانګړې خصوصیات وي. له دې امله ویلای شو چې د یوې دورې ادبي اثار له بلې سره توپیر لري او یوه له بلې څخه اغیزمنه وي. په دې معنا چې یوه له بلې څخه را زیږي. په یوه دوره کې د بلې لپاره شرایط را منځته کیږي او په هره نوې دوره کې نوې ځانګړنې وي او د تیرې دورې ځانګړنې تر ډیره هم پکې روانې وي. دمخه مو وویل چې ادبي دورې په هر هیواد کې په جلا ډول ډلبندې کیږي. د بیلګې په ډول په ځینو هیوادونوکې د شاهانو د کورنیو، په ځینو کې د تاریخونو او په ځینوکې د تاریخي پیښنو له مخې جلا کیږي. په هره ادبي دوره کې اثار له یو بل سره توپیر لري او یو له بل څخه اغیزمن وي. په دې معنا چې په یوه دوره کې بله دوره رازیږي. په هره نوي دوره کې نوې ځانګړنې هم وي او د تیرې دورې ادبي خواوې هم تر ډیره ځایه پکې روانې دي. د ادبي تاریخ په څیړلو کې یو څیړونکی مجبوریږي تاریخې پیښنو ته ورننوزي او د هغوی دننه د ادب دورې وټاکي. دا کار ستره ستونزه بللای شو، ځکه د څیړونکو نظریو له بله توپیر لري او هرڅوک یې په خپله خوښه ټاکي. دا کار باید ونشي او څیړونکي په دې کې شخصي ذوق داخل نه کړي. اروانښاد محمد صدیق روهي لیکی، ادبي تاریخ د ادبي جریانونو تاریخ دی. کله چې یو ادبي مکتب خپل ځای بل ته خوشي کوي، د ادب تاریخ بله دوره پیلیږي. ادبي مکتبونه له ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي پیښنو سره اړه پیدا کوي. کله ناکله ادبي دورې د تاریخ د سترو پیښنو او د پاچاهانو د کورنیو له مخې جلا شوي وي. محمد صدیق روهی په دې هکله (د پښتوادبیاتوتاریخ) په نامه کتاب کې اشاره کوي، وایي که چیرې د شاهانو د کورنیو په اساس دورې وویشل شي، نو د ادبي سبکونو یا ژانرونو له تحلیل سره مرسته نشي کولای. ځکه دا د کوم پاچا په امر او حکم منځته راتلای نشي. دغه راز موږ ادبي دورې د تاریخونو په اساس هم نه شو ټاکلی، ځکه تاریخونه ثابت وي، حال دا چې پر ادبي خواوو د نوو اغیزو رامنځته کېدل مجرد او ثابت نه وي او یو دم د خریړي په څیر سر نه راپورته کوي.

که چیرې دادبي تاریخ دورې د سیاسي، ا قتصادي او اجتماعي دورو په اساس وویشل شي، دیوې ادبي دورې دننه نور زیات ادبي جریانونه رامنځته کیږي. د مثال په توګه په پانګه والۍ دوره کې زیات ادبي مکتبونه راپیدا شوي دي، نو د یوې تاریخي دورې تر سرلیک لاندې ټول ادبي جریانونه مطالعه کولای شو.

موږ په پښتو ژبه کې هم دورې په بیلا بیلو ډولونو ویشل شوي دي:

پوهاند حبیبي د پښتو ادب دورې په څلور برخو ویشلي دي:

لومړۍ دوره یې تر اسلام دمخه بللي ده. دویمه یې د اسلام له پیل څخه تر ۱۰۰۰ هــ پورې، دریمه یې له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۳۰۰ هــ ق پورې او څلور مه یې له ۱۳۰۰ هــ ق راوروسته.

پوهاند رښتین لومړۍ دوره له ۱۰۰ څخه تر ۸۰۰ پورې، دویمه یې له ۹۰۰ هــ ق څخه تر ۱۱۰۰ هــ ق پورې، دریمه یې له ۱۱۰۰ – ۱۲۵۰ هــ پورې څلورمه یې له ۱۲۰۰ څخه تر ۱۳۵۰ هــ پوری بللی ده.

د روهي صاحب په اند هره دوره پراوونه لري. یوه دوره لا پای ته رسیدلې نه وي، چې دننه یې سبکونه او ژانرونه راځي او نور ادبي جریانونه رامنځته کیږي.

پر څلورو دورو د ادبي تاریخ ویشل:

**لرغونی دوره:** په هغې کې قبیلوي نظام دی. له امیر کروړ نه د بایزید روښان تر ظهور پورې په ۱٦ پیړی کې د هغه وخت د مغولي سلطنت په زمانه کې په ادبیاتو کې بدلون راغی. د نمانځنو، ویاړنو او ویرونو موضوعات رامنځته شول. منځنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوره له ۱٦ میلادي پیړۍ څخه تر شلمې پیړۍ پورې رسیږي. په دې دوره کې سیاسي او ایدیولوژیکي مبارزه پیل کیږي. میا روښان رامنځته کیږي، د خټکو مبارزې پیلیږي. خوشحال خټک د پښتو ادبیات د مضمون، شکل او قالب له مخې غني کړل، لکه مثنوي، غزل، قصیده، رباعي او مخمس په ادبي اثاروکې زیات شول. د منځنۍ دورې ادبیاتو له پخوانیو هغو سره د شکل او مضمون له مخې توپیر پیداکړ. معنوي صنایع رامنځته شول، تخیلات رامنځته شول. د حمید او کاظم شیدا په څیر نازکخیال شاعران په کې رامنځته شول. په منځنۍ دوره کې درې پړاوونه، فکري، سیاسي او هنري رامنځته شول. فکري د بایزید روښان، سیاسي د خوشحال خان او هنري د رحمان بابا، حمید مومند او حنان بارکزی او نور.

**اوسنۍ دوره** د شلمې پیړۍ له دویمې لسیزې څخه پیلیږي. دا دوره په خپله انکشاف نه کوي. په دې دوره کې هم یو شمېر پړاوونه رامنځته کیږي. د روانۍ، ویښتیا او اوښتون پړاوونه او څلورم د سمون پړاو بللی شو. د مضمون او محتوا له مخې په اوسنۍ دوره کې نوي فکري او سیاسي تمایلات او نور هنري میتودونه، نوي ادبي ژانرونه لکه ناول، لنډه کیسه، نوی شعر، طنز او داسې نور رامنځته کیږي.

د شلمې پیړۍ په لړ کې د روښانتیا په پړاو کې چې شرایط برابر شول، فابریکې جوړې شوې او په فرهنګ کې بدلونونه رامنځته شول، ښوونځي جوړ شول او ښځینه ښوونکې استخدام شوې (افغانستان در مسیر تاریخ)

د روښانتیا پړاو: ادبي جریان له خپل پخواني چوکاټ څخه ووت. پوره رسالت یې په غاړه واخیست. ادبیات د زیار او زحمت د روښانولو لپاره وکارول شول، ولس ویښ شو او د استبداد پر خلاف مبارزه پیل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوارلسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرحه | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | په ټولنیز ژوند کې د ښځو ونډه | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | دلوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– په ټولنه کې به د ښځو پر حقونو او دندو پوه شي.<br>– په ټولنه کې به د ښځو دریځ او ارزښت وپېژني.<br>– عملا به په کور، چم او ګاونډ کې د ښځو دریځ ته د درناوۍ د زمینې په چمتو کولو کې رغنده ګامونه پورته کړي.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سره ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، اوریدل، سوال، ځواب، ډله ییز کار او یوکسیزکار | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوي توکي | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک او تباشیر | |
| د ارزونې لارې او وسیلې | شفاهي، عملي، څارنه او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم او د کورنۍ دندې کتل | ۴ دقیقې |
| د انګیزې رامنځته کول | ښوونکی د ټولنې پر جوړښت او په هغې کې د نارینه اوښځو د شتون په اړه له زده کوونکو څخه د یو څو پوښتنو له لارې په لوست پیل کوي. | ۶ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی دې په ټولنه کې د نارینه او ښځو پر دریځ رڼا واچوي او څرګنده دې کړي چې د ژوند د طبیعي پرمختګ او ټولنیز توازن لپاره ښځې او نارینه یو بل ته څومره اړتیا لري.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته معلومات ورکوي چې د ښځو او نارینه برابروالی د بدني زور او طاقت له مخې نه، بلکې د انساني حقونو له مخې دی؛ دواړه یوشان حقونه لري.<br>– ښوونکی دې ددې ویناوو په اړه زده کوونکو ته څرګندونې وکړي، چې "د هر بریالي نارینه تر شا یوه ښځه شتون لري." او "ښځه په یو لاس زانګو او په بل | – زده کوونکي دې له ښوونکي سره په بحث کې ونډه واخلي او ځانونه دې پر دې پوه کړي چې د ټولنې د رغنده پرمختګ لپاره د نارینه او ښځو توازن څومره اړین دی.<br>– زده کوونکي پر دې مفهوم ځانونه پوهوي چې د ښځو فزیکي جوړښت له نارینه ګانو سره توپیر لري. ښځې په فزیکي لحاظ له نارینه ګانو څخه کمزورې دي، خو په خلقت او انساني جوړښت، اړتیاوو او حقونو کې یوشان دي او یو له بل سره توپیر نه لري.<br>– زده کوونکي ددې ویناګانو پر مفهوم ځانونه پوهوي او له ښوونکي سره پرې بحث کوي:<br>• د هر بریالي نارینه تر شا یوه ښځه شتون لري. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| جهان زنګوي." | • ښځه په یو لاس زانګو او په بل جهان زنګوي. |
| - ښوونکی په دې ټکي رڼا اچوي چې څنګه کولای شو، په کورنیو او له هغې وروسته په ټولنه کې د ښځوپه وړاندې تاوتریخوالی له منځه یوسو. د ښځو د انساني او شرعي حقونو د اعادې لپاره څه کول په کار دي. | - زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه هغه لارې چارې لټوي او خپل نظر څرګندوي چې د ښځو په وړاندې د موجود تاوتریخوالي د له منځه وړلو لامل کېږي. په همدې ډول د ښځو انساني او شرعي حقونه په ګوته کوي او لیکي یې. |
| - ښوونکی دې په دې اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي چې آیا د ښځو په وړاندې د پرتو ستونزو له منځه وړل یوازې د ښځو کار دی او که نارینه هم باید په هغې کې رغنده رول ولوبوي. | - زده کوونکي دې ټول په ګډه د ښځو په وړاندې پرتې ستونزې ونوموي او ودې وایي چې ایا ښځې کولای شي په یوازې سر هغه له منځه یوسي او که د نارینه ګانو مرسته او همکاري هم ورسره اړینه ده. |
| - ښوونکی دې په وار لس تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوبولي چې د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د ښځو په وړاندې پرتې ستونزې بیان کړي. | - زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او په خپل کلي، کور، بانډې، ولسوالی، ولایت یا بلې کومې سیمې کې د ښځوپه وړاندې د پرتو ستونزو په اړه خبرې کوي. |
| - ښوونکی دې له زده کوونکو څخه یوه غونډه جوړه کړي. په غونډه کې دې پورته بیان شوې ستونزې یو په یو وڅېړي. | - زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم په غونډه کې برخه اخلي او پورته بیان شوې ستونزې یو په یو څېړي. |
| - ښوونکی دې پنځه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوبولي چې په ټولنه کې د ښځو پر دریځ یو په یو خبرې وکړي. | - پنځه تنه زده کوونکي د وونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او په کور او ټولنه کې د ښځو ود دریځ په اړه څرګندونې کوي. |
| - ښوونکی دې زده کوونکو ته یو څو دقیقې وخت ورکړي چې فکر وکړي د هېواد ځوانان او پېغلې څنګه د راتلونکي لپاره کار او د یووالي او وحدت احساس پیاوړی کولای شي. | - زده کوونکي خپل فکر ازمويي او هغه لارې چارې لټوي چې له مخې یې ځوانان او پېغلې د خپل هېواد، راتلونکي او ملي وحدت د پیاوړتیا په اړه کار کولو ته رابولي. وروسته په خبرو کې برخه اخلي او خپل نظر له نورو زده کوونکو سره شریکوي. |
| - ښوونکی د هر درسي ساعت په پای کې زده کوونکو ته کورنۍ دنده سپاري. | - زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي او په کورونو یا کتابتونونو کې وربانډې کار کوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

**زرغونه انا:** د احمدشاه بابا مور وه. ژوند یې تر۱۰۷۴هق پورې یقیني دی.

**عایشه دراني:** د تیمورشاه په وخت کې په کابل کې اوسیده. د یعقوب علي خان لور او د دري ژبې شاعره وه.

**رابعه بلخي:** په څلورمه پیړۍ کې یې ژوند کاوه. په ۳۲۹هـــ ق کال کې مړه شوې ده .

**بي بي نیکبخته:** د شیخ الله داد لور وه. د ارشادالفقراء کتاب یې لیکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**میرمن الایي:** د جلال الدین لور، د با یزید روښان لمسۍ او د شیخ عمر د زوی، احداد میرمن وه. د روښاني غورځنګ په مبارزو کې یې ګډون کړی و. په ننګرهارکې د نجونو یوه لیسه د الا یي په نا مه نومول شوې ده.

**غازي ادې:** د انګریزانو د دویم تیري په وخت کې ژوندی وه. په جګړو کې یې برخه اخیستې ده. د لوګر اوسیدونکې وه. د غازیانو درمل به یې کول. غازي محمد جان خان وردګ ورته یو آس هم ورکړی و.

**ملالۍ:** د میوند اتله ملالۍ، په ۱۲۹۷هـــ ق کال د برات د میاشتې په ۱۷نیټه د میوند په د ښته کې د انګریزانو په وړاندې دافغانانو د جګړې اتله وه. ددې د اتلتوب له امله انګریزانو سخته ماتې وخوړه او له هېواده تېښتې ته اړ شول. دا لنډۍ هغې ته منسوبه ده:

که په میوندکې شهید نه شوې

خدایږو لالیه بي ننګۍ ته دې ساتینه

**اضافي معلومات:**

ښځې په هره ټولنه کې له نارینه وو سره په سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، تعلیمي او نورو ډګرونوکې له خپل استعداد او وړتیا سره سم کار کوی.

ښځې زیاتره له زور زیاتي سره مخامخ وي. هر زور زیاتي په خپل وار د ښځو ژوند تریخ او له مرګ سره یې مخامخ کړي دي. له بده مرغه لا تر اوسه په ډیرو هیوادونو کې خپل روا حقونه ورته ورکړ شوي نه دي او یا لږ ورکړ شوي دي. ښځې د ټولنې نیمایي برخه جوړوي. همدغه ښځې دي چې د نړۍ پوهان یې روزلي دي، په یوه لاس زانګو زنګوي او په بل لاس جهان زنګوي.

د ۱۸۷۵م کال د مارچ پر اتمه نېټه د لومړي ځل لپاره په امریکا کې ښځو د خپلو حقوقو د لاسته راوړلو لپاره لاریون وکړ، خو په ډزو ځواب ورکړ شو. له دې پاڅون وروسته د نورو هېوادونو ښځو هم لاسونو ورکړل او خپلو مبارزو ته یې زور ورکړ. په پای کې د همدې مبارزو له امله په ۱۹۱۰ کال کې د مارچ اتمه د ښځو د نړیوالې ورځې په توګه وبلل شوه. له هغه تاریخ وروسته د نړۍ په ټولو هیوادونو کې دغه ورځ نمانځل کیږي.

د اسلام په سپیڅلي دین کې تر بل هر فرهنګ دمخه ښځو ته انساني لوړ حقونه ورکړ شوي دي. د لومړي ځل لپاره د نجونو ژوندي ښخول پای ته ورسول شول. د ښځو عزت او حیا خوندي شوه د واده کولو او د میړه د خوښولو اختیار یې تر لاسه کړ. د نکاح په وړاندې یې مهر واجب شو. د نفقې او د ژوند د نورو سهولتونو مسؤولیت یې د میړه په غاړه شو... .

زموږ د هیواد د اساسي قانون په اساس ښځو ته حقوق ورکړل شوي چې له نارینه ووسره یو ځای د ټولنې په ټولو کارونو کې د خپل فزیکي توان په کچه اودغه رازپه دولتي ادارو کې کاروکړي .په سیاسي ګوندونو، پارلمان او د دولت په لوړو څوکیو کې د کار کولو اجازه و لري . زموږ په هیواد کې د غازي امان الله خان په وخت کې د ښځو حقوق ته پام وشو، چې په سیاسي او اجتماعي مسایلو کې ګډون وکړي. د هغه وخت د اساسي قانون په جوړولو کې ښځو ګډون وکړ او په ښوونځیو کې د زده کړې اجازه ورکړل شوه.

په ۱۳۵۷ کال کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان ښځو د اسیایي هېوادونو د ښځو په کنفرانس کې ګډون وکړ چې په سریلانکا کې جوړ شوي و. همدا اوس زموږ په دولتي ادارو، پارلمان او کابینه کې ښځې موجود دي او په ښوونځیوکې $\frac{1}{3}$ برخې زده کوونکي نجونې دي .

د اسلام دین د جنس د توپیر مخالف دی، خو که چیرې په رښتینې توګه څوک په اسلام کې د ښځو د حقوقو په هکله څیړنې وکړي، په ټولنیزو او سیاسي چارو کې د ښځو نظر ته پوره درناوی شوی دی. مثلا کله چې مسلمانان د دویم ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره مدیني منورې ته ننوتل .په هغوی کې ښځې هم وې، دغه راز په لومړي ځل په اسلام کې ښځو ته د سیاسي ازادۍ حق ورکړ شوی دی. اسلام ښځو ته د انتخاب حق ورکړی دی. زموږ د اساسي قانون ۳۵ ماده هم وایي چې د افغانستان اتباع نارینه او ښځې سیاسي احزاب جوړولی شي. دا هغه قانون دی چې د افغانستان ددیني علماوو په حضور کې د افغانستان د خلکو د استازو له خوا تصویب شوی دی . په هیواد کې په پارلماني ټاکنوکې ښځو ته د خپلوحقوقو د ورکړې په خاطر برخه ورکړل شوه له ۱۲میلیونو رایوڅخه په سلوکې تر۴۰زیاتې د ښځو رایې وې دغه راز د ولسي جرګې له ۲۴۹څوکیو نه د راجستر شووکسانو نه ۳۵۰یې ښځې وې.

سره له دې چې په هیوادکې ښځوته د حقوقود ورکولو غږ شوی دی خو دغه غږ به هغه وخت لا ښه عملي شي چې ښځو ته د پوره زده کړې او د کار زمینه چمتو شي او د نارینه وو له خوا ورته حقوق ورکړل شي او دغه راز د مدنیت لمنه تر کلیو پورې ورسیږي. نارینه وو ته او په تیره بیا تعلیم یافته خلکو ته لازمه ده په ښځو باندې د زور زیاتي کړی ماتي کړي.

دغه راز د افغانستان ټول خلک او دغه راز ځوانان هم باید د ښځو د حقوقو پر ارزښت پوه شي او د ټولنې په متوازنه وده کې د دغو حقوقو د رعایت په اغیزمنتوب باوري شي او بشري حقوق یې ترسره شي.

دا لازمه ده چې ځوانان په دې پوه شي چې دغو حقوقو ته په خپله کورنۍ، کلي، سیمه، خپل شاوخوا کې توجه وکړي او نوروته یې هم پر عملي کولو ټینګار وکړي . ځوانان باید په دې ټکو وپوهول شي چې له ښځو پرته ټولنه نیمګړې ده، بشریت نیمګړی دی او دهغوی له ونډې پرته د ټولنې او هېواد وده ناشونې ده. د ښځو د حق د لاسته راوړلو لپاره باید ښځې او نارینه په ګډه هلې ځلې وکړي .

د ښځو د حقوقو په برخه کې اخځونه:

میرمنومجله، ۱۲ ګڼه، ۱۳۴۷ کال.

میرمنو مجله، ۳ ګڼه، ۱۳۶۲ کال.

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه ۱۳۸۴ کال.

قانون اساسي ۱۳۸۴ د عدلیې وزارت .

په افغانستان کې پرښځوتاوتریخوالی، څیړنیز رپوټ ،۱۳۸۷هـــ ش

۷–جامعه مدني مجله ۳ګڼه،۱۳۸۴کال،۱۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| وخت | د مطلبونو شرح | د مطلبونو سرلیکونه |
|---|---|---|
| | ژمنه | د لوست موضوع |
| | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې ترلاسه کړي:<br>– د ژمنې پر ارزښت او اهمیت به پوه شي.<br>– ښه اخلاق به وپېژني، په ځانونو کې به یې پیاوړي او له بدو اخلاقو څخه به ځانونه وژغوري.<br>– د انسان د شخصیت په جوړېدو کې به د حیثیت، وقار، باور او نورو ښو اخلاقو ونډه او اغېز درک کړي.<br>– له ښو اخلاقو سره به یې مینه لا نوره هم زیاته شي.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په خپلواک ډول سرته ورسولای شي. | د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې |
| | لوستل، لیکل، اوریدل، سوال او ځواب، ډله ییز کار او یوکسیزکار | د تدریس لارې |
| | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک، تباشیر | د تدریس وسیلې او مرستندوي توکي |
| | شفاهي، عملي، څارنه او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | د ارزونې لارې او وسیلې |
| ۴ دقیقې | روغبړ، ا حوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم او د کورنۍ دندې کتل | د زده کړې او تدریس فعالیتونه |
| ۶ دقیقې | ښوونکی د ښو اخلاقو په اړه خبرې کوي او د یوې بېلګې په وړاندې کولو نوی لوست پیلوي. | د انګیزې رامنځته کول |

| ۳۵ دقیقې | د زده کوونکو د زده کړې فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه |
|---|---|---|
| | – زده کوونکي له ښوونکي سره په خبرو کې ونډه اخلي، ښه او منلي خویونه له نامنلو او ناوړو خویونو څخه بېلوي. پر دې ځانونه پوهوي داسې خویونه او اخلاق شته چې له یو ټولنې پلې ته توپیر کوي، د بېلګې په توګه په لویدیځه نړۍ کې زیاتره نارینه له ښځو سره د مخ په ښکلولو روغبړ کوي، په داسې حال کې چې زموږ په ټولنه کې دا نامنلي اخلاق دي. د ربښتینولی، د امانت د ساتلو د درواغو د نه ویلو او نور په څېر اخلاق شته چې په ټولو انساني ټولنو کې یو شان دي. | – ښوونکی په بېلا بېلو ټولنو کې د ښو او منلو خویونو په اړه څرګندونې کوي او د هرې ټولنې له دود سره سم د منلو او نامنلو اخلاقو په اړه غږیږي. وایي، کېدای شي ښه اخلاق له یوې ټولنې څخه بلې ته توپیر ولري، خو داسې اخلاق شته چې په ټولو ټولنو کې یو راز ارزښت او اهمیت لري، لکه ربښتیا، صداقت، امانت، پر وعدې وفا او نور. په دې توګه د ښو اخلاقو د تعمیم او له بدو اخلاقو څخه ځان ژغورل په زده کوونکو کې پیاوړي کوي. بیا دې په لوست کې راغلي کیسه زده کوونکو ته له یاده ووایي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| وروسته دې زده کوونکو ته ووايي چې کيسه په کتاب کې له ځان سره ولولي. | |
| – ښوونکی دې د پورته فعاليت په دوام پنځو تنو زده کوونکو ته ووايي چې لوست د کتاب له مخې په وار ولولي. | – پنځه تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د کتاب له مخې لوست لولي. هڅه کوي چې په لوستلو کې د ويالندې اصل ته پام وکړي. |
| – ښوونکی دې دوه، درې تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوغواړي چې د ښو اخلاقو د ګټې او د بدو اخلاقو د زيانونو په اړه خبرې وکړي. له زده کوونکو دې وغواړي چې که په اړونده موضوع کې يې کومه کيسه ياده وي، ودې وايي. | – دوه، درې تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او د ښو اخلاقو د ګټې او د بدو په زيانونو خبرې کوي. که کومه کيسه يې ياده وي، وايي يې. |
| – ښوونکی دې دوه تنه زده کوونکي په وار د ټولګي مخې ته راوغواړي چې د يو انانسر يا د راډيو – تلويزيون د وياند په څېر خبرې وکړي. په سريزه کې دې د ژمنې د ارزښت په اړه يوه لنډه تبصره وکړي او بيا دې يو، يو زده کوونکی د وينا لپاره رابولي. | – دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي. د ښو اخلاقو په اړه لنډه تبصره کوي او بيا يو تن زده کوونکی د وينا د اورولو لپاره رابولي. |
| – ښوونکی دې د کيسې پيغام زده کوونکو ته څرګند کړي او يا دې له زده کوونکو وغواړي چې څرګند يې کړي. | – زده کوونکي د کيسې پر پيغام ځانونه پوهوي او ډاډ ترلاسه کوي، چې د رښتيا ويلو او نيکو اخلاقو په سرته رسولو يې ټولنيز شخصيت لا پسې وده کوي او پياوړی کيږي. |
| – ښوونکی دې درې تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوبولي، د وفا، ميړانې او احسان په اړه خبرې دې وکړي، چې په کيسه کې له سزا څخه د ځوان د بچېدو لامل شول. | – درې تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او د هغو درې خويونو په اړه خبرې کوي چې په کيسه کې د ځوان د ژغورلو لامل شول. |
| – ښوونکی دې څو تنو زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې نوموړې کيسه په خپله ژبه نورو زده کوونکو ته واوروي. | – څو تنه زده کوونکي د لوست کيسه په خپله ژبه نورو زده کوونکو ته اوروي. |
| – ښوونکی دې د لومړيو دوو درسي ساعتونو په پای کې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې په پيغلو او ځوانانو کې د ښو اخلاقو د روزنې پر اړتيا او ارزښت ليکنه وکړي. په وروستي ساعت کې د لوست د پای کورنۍ دنده ورکړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي او په ښکلو او منلو جملو او ښه متن يې چمتو کوي، په ټولګي کې يې لولي او د ټولګي په خپرونې کې يې د خپرولو لپاره کتنپلاوي ته ورکوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

ابوذر غفاري چې اصلي نوم يې جند بن جناده و، بنو غفار قبيلې ته منسوب، له مدينې منورې څخه اتيا ميله لېرې د بدر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاوخوا کې هغې لارې ته نژدې اوسېده، چې له مکې مکرمې نه د شام او فلسطین په لورې تللې وه.
**دیت:** له هغه مال څخه عبارت دی چې د انسان د نفس د وژنې په بدل کې لازمیږي. په اسلام کې د دیت اندازه سل اوښان ټاکل شوې دي.
د فعالیتونو په اړه معلومات او د پوښتنو ځوابونه

**اضافي معلومات:**
د حضرت عمرﷺ د پلار نوم خطاب و. په (۵۸۴ م) کال کې د فجار له جنګ څخه دمخه په مکه مکرمه کې زیږېدلی دی؛ یعنې له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه دیارلس کاله کشردی. نوموړي دکوچنیوالي عمر هم په مکه مکرمه کې تېر کړی او په مکه مکرمه کې لوی شوی دی. په کوچنیوالي کې یې خپلې مېږې او پسونه څرول. د ځوانۍ پر مهال د لوړې او دنګې ونې خاوند او غښتلی قوي ځوان و. له هرچا سره په مقابله کې بریالی و. د سر نیم ویښتان یې رژیدلې و، غومبوري یې نرم او غنمرنګ و. په لاره به پیاده تلو. داسې به معلومېده چې په څه شي سپور دی. د حضرت محمدﷺ د بعثت په (۵) کال د(۲٦) کلنۍ په عمر د اسلام په مبین دین مشرف شو. دده په مسلمانېدو سره د اسلام دین نور په ښکاره دعوت پیل وکړ. کله چې حضرت عمرﷺ خلیفه شو، دده زړه د ایمان په رڼا ډک و. دده اعمالو هم له دغه ځایه سرچینه نېولې وه. حضرت عمرﷺ له اسلام څخه مخکې زړورتیا او شجاعت کې مشهور و. د اسلام له راوړلو څخه وروسته یې زړه په ایماني رڼا ډک او نرم و. د عقل قوه یې ډېره تېزه او د ټینګې ارادې څښتن و. په رحم او عدالت کې یې په خپل وخت او راوروسته زمانه کې مثال نه درلوده. د زیاتو معلوماتو لپاره د حضرت عمرفاروق د عدالت ځوبېلګې په دې ډول دي.
وایي، یوه ورځ حضرت عمربن خطابﷺ له څو نورو صحابه کرامو سره په سفر روا ن و، د لارې په اوږدو کې یې یوه لویه رمه ولیدله چې په څړ لګیا وه. رمې ته ورنژدې شول. شپونکی یې راوغوښت. له سلام او احوال پوښتنې وروسته یې وویل یو پسه پرموږ خرڅ کړه. شپونکی په ځواب کې وویل، زه خو غلام یم. دا پسونه مې د بادار دي او زه یې د خرڅولو واک نه لرم. حضرت عمرﷺ د ده د ازموینې لپاره ورته وویل: "کله چې کورته لاړې، بادار ته به دې ووایې چې پسه خو لیوانو وخوړ. غلام ورته په ځواب کې وویل، زه خو به خپل بادار ته دا پلمه وکړم، خو د اخرت په ورځ به خپل لوی بادار، اللهﷻ ته څه ځواب ووایم. د دې خبرې په اورېدو سره حضرت عمر بن خطابﷺ حیران شو او تصمیم یې ونیو چې دا سړی باید نور له غلامۍ څخه خلاص او آزاد ژوند وکړي. له غلام څخه یې وپوښتل: "ته دې بادار په څو روپۍ اخیستی یې؟" غلام ورته د هغه وخت څو روپۍ وښودلې. ده سم دلاسه هغه پیسې ورکړې او ورته ویې ویل، دا پیسې دې بادار ته ورکړه او ځان پرې آزاد کړه.

په یوه بله واقعه کې داسې راغلي دي، چې حضرت عمرفاروقﷺ به د خپل خلافت په وخت کې د شپې له خوا د مدینې منورې په کوڅو کې ګرځېده او د خپل رعیت له حال او احوال نه به یې ځان خبراوه. یوه شپه په یو کور کې ناوخته څراغ بل و. حضرت عمرفاروقﷺ چې ولیده، نوکور ته نژدې ورغی. ویې لیدل چې واړه ماشومان ژاړي او مور یې ورته وایي غلي شئ، اوس کټو پخیږي. کله چې حضرت عمرفاروقﷺ دا حالت ولیده، نو له هغه ښځې څخه یې د کور د ننوتلو اجازه واخیستله. کور ته ورننوت او د ماشومانو له مورڅخه یې پوښتنه وکړه په کټو کې دې څه شی باندې کړ د؟ ښځې په ځواب کې وویل، په کټوکې هیڅ شی نشته. هسې ماشومان پرې غلطوم. حضرت عمرفاروقﷺ د دې کار په لیدلو ډېر خپه او په بیړه روان شو. بیت المال ته لاړ او یوه بوجۍ اوړه او نور خوراکي توکي یې راواخیستل. پخپله شا یې د ورږو ماشومانو کورته راوړل. د ماشومانو مورته یې ورکړل او ورته یې وویل چې ماشومانو ته څخه ډوډۍ پخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځليکونه:**

– اسلا مي تاريخ، راشده خليفه ګان، ليکوال استاد رضوان الله (لودين)، د چاپ کال (۱۳۸۷) همدرد چاپ تږلنه، ميا اسلام پلازه، جلال اباد.

– سيرت النبي صلی الله علي وسلم، لومړی ټوک، مولف محمد عبدالمطلب بن هشام

– اسلامي سياست، مولف مولانا ګوهررحمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپاړسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو څرګندونې | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | د پښتو لیکنښو سمه کارونه | |
| د زده کړې پوهنیزې مهارتونه او ذهنیتې موخې | زده کوونکي به د لوست په پا ی کې وکولای شي چې لاندې موخو ته ورسېږي:<br>– لیکنښې به وپېژني او په لیک لوست کې به د لیکنښو د کارولو پر اړتیا وپوهیږي.<br>– په لیکلو کې به د لیکنښو په کارولو کې وړتیا ترلاسه کړي.<br>– زده کوونکي به په دې ډاډمن شي چې د لیکنښو په پام کې نیول لیکل او لوستل سموي.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د متن د پای فعالیتونه به په یوازې توګه سرته ورسوي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، پوښتنې او ځوابونه او ډله ییز فعالیتونه | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوي توکي | کتاب، تخته، تباشیر، قلم، د لیکنښو لیکلي کارتونه او که امکان ولري سلایدونه او فلش کارتونه | |
| د ارزونې لارې او وسیلې | شفاهي پوښتنې، تحریري پوښتنې او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخیستل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقیقې |
| د انګیزې رامنځ ته کول | ښوونکی دې پر تخته دا جملې ولیکي:<br>"غواړم ستاسو په شرکت کې کار وکړم. د دوو کلونو لپاره مې د جرالډین په شرکت کې کار کړی دی. داسې کوم شی مې نه دی پلورلی چې افتخار مې نه دی په برخه شوی. که له تاسو سره کار وکړم، نو ډاډه یم چې همداسې به وي."<br>اوس وګورئ، که د لیکنښو ځایونه بدل کړو، معنا به یې څه وي؟<br>"غواړم ستاسو په شرکت کې کار وکړم د دوو کلونو لپاره. د جرالډین په شرکت کې مې کار کړی دی. داسې کوم شی مې نه دی پلورلی. افتخار مې نه دی په برخه شوی. که له تاسو سره کار وکړم، نوداډه یم چې همداسې به وي." | ۶ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی پرتختې د پورته دوو لیکنو د پرتلې له مخې په لیکنه کې د لیکنښو د اهمیت په اړه خبرې کوي او د زده کوونکو پام ورته اړوي. | – زده کونکي پورته دوو لیکنو ته ګوري او دې ټکي ته پام کوي چې که په یوې لیکنې کې لیکنښې نه وي کارېدلې یا په ناسم ډول کارېدلې وي، د لیک په معنا | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| - ښوونکی له پورته فعالیت وروسته د لیکنښو په اړوند د زده کوونکو پوهه او د لیکنښو د ارزښت په اړه د هغوی نظر معلوموي. | کې څومره نیمګړتیا رامنځته کیږي. - زده کوونکي په لیکنه کې د لیکنښو د ارزښت په اړه د ښوونکي پوښتنو ته ځوابونه ورکوي. |
| - ښوونکی د کتاب له مخې یو په یو پر لیکنښو خبرې کوي او له زده کوونکو سره یوځای یې په بېلګو کې تمرینوي. | - زده کوونکي متن ته ګوري او بېلا بېلې لیکنښې پېژني او د هغوی پر کارولو ځانونه پوهوي. |
| - ښوونکی لوست پر زده کوونکو لولي، د لیکنښو بېلا بېلو بڼو او د کارونې ځایونو ته یې د زده کوونکو پام اړوي او په هرځای کې لازمې څرګندونې کوي. | - زده کوونکي په وار سره لوست د کتاب له مخې لولي، هرې لیکنښې ته پام کوي، د کارونې ځای یې په ځیر سره ګوري او د ښوونکي څرګندونو ته غوږ نیسي. |
| - ښوونکی زده کوونکو ته وخت ورکوي، چې یو لنډ پراګراف ولیکي او د لیکنښو ډولونه پکې وکاروي. | - زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه یو پراګراف لیکي او د لیکنښو ډولونه پکې کاروي او څو تنه یې د ټولګي په وړاندې نورو ته لولي. |
| - ښوونکی زده کوونکو ته په جملې کې د کلمو د ځای د بدلون، پر کلمو د خج او فشار راوړلو، د پوښتنې او ندایي د نښو په کارولو د جملې په معنا کې د بدلون په اړه د بېلګو په راوړلو زده کوونکو ته معلومات ورکوي. | - زده کوونکي په جملو کې د کلمو د ځای بدلون یا په جمله کې پر کومې کلمې فشار ته پام کوي او ګوري چې د جملې په معنا کې څه توپیر راغلی دی. بېلګې یې راوړي. |
| - ښوونکی دې د جملو ډولونه، ساده او مرکبه زده کوونکو ته وروپېژني او د جملې معترضه برخه دې په یوې بېلګې کې وروښايي. | - زده کوونکي ساده او مرکبې پېژني اوګوري چې د جملې معترضه برخه د جملې په کومه برخه کې راځي، څنګه پېژندل کیږي اوو که چېرته همدا برخه له جملې وایستل شي، په جمله کې توپیر راځي او که نه. |
| - ښوونکی په لیکنه کې په خپل ځای کې د لیکنښو په کارونه ټینګار کوي او د تکرار او تمرین له لارې یې پر زده کوونکو زده کوي. | - زده کوونکي په یوې لیکنه کې د لیکنښو د کارولو ځایونه پېژني او د تمرین له لارې یې زده کوي. |
| ښوونکی دی د لومړي او دویم ساعت په پای کې زده کوونکو ته په خپله خوښه کورنۍ دنده ورکړي او د دریم ساعت په پای کې دې د لوست د پای کورنۍ دنده ورکړي. | - زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي او په کورنو کې یې سرته رسوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول**

په یوې جملې کې د کلمو د ځای بدلون او یا پر کومې کلمې د خج راوړل د جملې معنا بدلوي.

وګورئ: زه پوهنتون ته ځم. یوه بیانیه جمله ده او پوهنتون ته تګ بیانوي. خو که ووایو: پوهنتون ته زه ځم. نو ټینګار په شخص کیږي، یعنې بل څوک، بلکې زه پخپله پوهنتون ته ځم. که چېرته فشار د جملې په دویمې برخې، یعنې، پوهنتون، واچول شي، بیا داسې معنا ورکوي، چې ځای (پوهنتون) تر پوښتنې لاندې راځي. داسې نورې بېلګې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساده جمله، هغه جمله ده چې یوازې له مبتدا او خبر څخه جوړه شوې وي او یوه معنا او مفهوم افاده کړي، لکه: زما نوم ننګیالی دی. ګلاب ښه هلک دی.

مرکبه جمله، هغه جمله ده چې د مبتدا او خبر له برخو زیاتې برخې ولري، یا مبتدا تشریح کوي او یا هم خبر بیانوي، لکه: ګلاب، چې یو ښه او تکړه هلک دی، ټولو ته ګران دی.

د جملې معترضه برخه، دا برخه یه یوې جملې کې د کامې، یا دش د لیکنښو په راوړلو بېلیږي او که چېرته له جملې وایستل شي، جمله نه نیمګړې کیږي، لکه:

زمری، چې په زړورتیا مشهور دی، یو وحشي ځناور دی.

په پورته جمله کې که (چې په زړورتیا مشهور دی) له جملې وایستل شي، داسې ویل کیږي: زمری یو وحشي ځناور دی. جمله نه نیمګړې کیږي.

**اضافي معلومات**

دا الهي قانون دی چې انسانان کله یوله بل سره خبرې کوي نو د خبرو په بهیر کې کله دمه کوي، کله پوښتنه کوي او کله په کومه خبره ټینګار کوي. دا مسایل د لیکنښو د سمې کارونې له لارې سرته رسیږي. لیکنښې یو شمېرعلامې دي چې په لیکنه کې کاریږي. که په لیکنه کې هره یوه په خپل ځای ونه کارول شي، لیکنه خوندوره او معناداره نه وي او که په خپل ځای راوړل شي، لیکنه پوره معنا ورکوي، مطلب ترې اخیستل کیږي او په لوست کې د تېروتنو مخه نیول کیږي. په وینا کې د لیکنښو افاده د ځنډ، د غږ دبدلون، د اهنګ د ټیټولو او لوړولو او نورو له لارې ترسره کېږي. د لیکنښو د کارولو مهمه او اساسي موخه د جملو اوعبارتونو د مفهوم وضاحت اوصراحت دی. لیکنښې موږ په دې پوهوي، د یوې جملې کلمې څنګه څنګ په څنګ ولیکو چې په اسانی سره ترې معنا واخیستل شي او د لیکنې د هرې برخې توپیر وشي. لیکنښې د نړۍ په هره ژبه کې کاریږي، خو توپیر یې دادی چې په ځینو ژبو کې کیدا ی شي بڼې یې تغیر موندلی وي او یا د شمېرله مخې په یوه ژبه کې تربلې ډېرې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوولسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | قيام الدين خادم | |
| د زده کړې، پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پا ی کې به زده کوونکي لاندې موخې ترلاسه کړي:<br>– استاد قيام الدين خا دم به وپيژني.<br>– د استاد خادم په علمي او فرهنگي هلو ځلو به پوه شي.<br>– پښتو ژبې ته به د استاد خادم د خدمت په اړه معلومات تر لاسه کړي.<br>– د استاد خادم ليکلي اثار به وپيژني.<br>– په ټولنه کې به د يو شاعر او ليکوال پر ارزښت پوه شي.<br>– د ليک او وينا ژبه به يې پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په يوازې سر سرته ورسولای شي. | |
| د تدريس لارې | يو کسيز، دوه کسيز، ډله ييز | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوی توکي | د ښوونکي چمتو کړي کارتونه، د استاد خادم انځور او د اثارو چارت | |
| د ارزولو لارې او وسيلې | شفاهي، ليکنې، څارنيز او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولگي تنظيم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخيستل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقيقې |
| د انگېزې رامنځته کول | ښوونکی د لاندې او هغې ته ورته نورو پوښتنو له لارې کولای شي پر نوي لوست پيل وکړي:<br>– د هېواد د ليکوالو او شاعرانو او د هغوی د اثارو پېژندل څه گټه لري؟<br>– تاسې کوم شاعران پېژنئ؟<br>ستاسو په اند شاعر او ليکوال خپلې ژبې او ټولنې لپاره څه ارزښت لري؟ | ۶ دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی د يو شمېر پښتني ليکوالو او شاعرانو نمونه اخلي او د پښتو ژبې د ودې او پراختيا په لار کې يې خدمتونه بيانوي. | – زد کوونکي له ښوونکي سره د پښتني ليکوالو او شاعرانو د نومونو په اخيستلو کې ونډه اخلي او د پښتو ژبې په ودې او پراختيا کې د هغوی پر خدمتونو ځانونه پوهوي. | |
| – ښوونکی د ټولنې په اصلاح او سمون کې د شاعرانو او ليکوالو رول ته گوته نيسي. | – زده کوونکي په دې ټکي ځانونه پوهوي چې څنگه شاعران او ليکوال د ټولنې په اصلاح او سمون کې ونډه اخلي. | |
| – ښوونکی د ارواښاد قيام الدين خادم ژوند ليک بيانوي او پر اثارو يې خبرې کوي. | – زده کوونکي د ارواښاد قيام الدين ژوند ليک اوري، مهم ټکي يې له ځانونو سره ليکي او د هغه د شعر او | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | لیکنو پر محتوا ځانونه پوهوي. |
| – ښوونکی د استاد خادم د لیکنو له مخې زده کوونکو ته د هغه پر لیدلوري رڼا اچوي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د لوست یو، یو پراګراف لولي او د لوست محتوا ته پام کوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې لوست په وار سره یو یو پراګراف ولولي. که اړتیا وه پخپله څرګندونې کوي. همدارنګه د استاد خادم د نثر بېلګه پر یو زده کوونکي او د شاعر مسلک په بل زده کوونکي لولي او دیکلمه کوي. | – یو شمېر زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم په وار سره د ټولګي مخې ته راځي او د استاد خادم نثر او شعر په مناسب غږ او اواز لولي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته د یوې ادبي غونډې جوړول، د غونډې د مشر، منشي او ویاند ټاکل ورزده کوي او په عملي توګه له زده کوونکو سره د هغې په جوړولو کې مرسته کوي. | – زده کوونکي د یوې ادبي غونډې د جوړولو، له خپل منځ څخه د ټولو ګډون کوونکو په خوښه او رایو یو، یو تن د غونډې د مشر، منشي او ویاند په توګه ټاکي. درې څلور تنه خپلې لیکنې یا ویناوې اوروي او بل برخوال غونډه ارزوي. زده کوونکي د ښوونکی لارښوونو ته ځیر کیږي. |
| – ښوونکی د وخت د موجودیت په صورت کې دوه، دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي او د یو متن او یو شعر د ویلو لارښوونه ورته کوي. | – دوه، دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او د استاد خادم یو متن یا یو شعر دیکلمه کوي. |
| – ښوونکی دې څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوغواړي چې وواییي د یو شاعر یا لیکوال له لیکنو څخه څنګه د هغه د ژوند د مهال وضعه او حالت څېړلی شو. | – د ښوونکي له لارښوونې سره سم دې څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راشي او له بېلګې سره یوځای دې د یو شاعر لیکنې له مخې د هغه د ژوند د مهال وضعه او حالت څرګند کړي. |
| – ښوونکی زده کوونکي په مناسبو ډلو ویشي او د لوست د څلورم فعالیت د سرته رسولو دنده ورته ورکوي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښونې سره سم په ډلو کې تنظیمیږي او څلورم فعالیت سر ته رسوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي، چې په خپله خوښه په خپلو کلو او سیمو کې د شتو شاعرانو یا لیکوالو په اړه خبرې وکړي. | – زده کوونکي دې په خپلو سیمو،کلو اوبانډو کې د کوم موجود شاعر یا لیکوال په اړه دوه، درې دقیقې خبرې وکړي، هغه دې په لنډو جملو کې وروپېژني او د وینا کومه بېلګه دې وړاندې کړي. |
| – ښوونکی د لوست له محتوا سره سم زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | – زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او په کورونو کې یې سرته رسوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**متن ستونزمنې برخې نه لري.**

**د فعالیتونو په اړه معلومات او د پوښتنو ځوابونه**

ښوونکی دې یوه ورځ دمخه څو زده کوونکو ته دنده ورکړي چې په وار سره یو تن د استاد خادم د ژوند، بل د هغه د زده کړې او دندو او بل د هغه د شعر او لیکنو په اړوند لنډې مقالې ولیکي. په بله ورځ زده کوونکي د غونډې جوړولو ته چمتو کوي. د غونډې لپاره یو تن زده کوونکی د مشر، بل د منشي او یو تن د ویاندی لپاره ځانونه نوموي. ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې په وار سره هر یوه نوماند ته رایې ورکړي. د رایو له ترلاسه کولو وروسته د غونډې مشر غونډه جوړوي او په خپلو خبرو یې پرانیزي. ویاند د هر ویناوال نوم اخلي، د ټولګي مخې ته یې رابولي او د ویناوال او د هغه د وینا په اړه لنډه تبصره کوي. وروسته ویناوال په خپل وار خپلې ویناوې اوروي. ټول ناست زده کوونکي د غونډې د بهیر یادداشت اخلي او که پوښتنه ورسره وي، لیکي یې او د غونډې په پای کې یې پوښتي. په پای کې یو تن ګډون کوونکی غونډه ارزوي، په عمومي ډول یې مثبت ټکي روښانوي او ستایي یې. د غونډې نیمګړتیاوې یادوي، خو په ښکلو جملو کې یې رانغاړي، چې د چا د خپګان او نهیلی لامل نشي. د غونډې مشر له برخوالو څخه مننه کوي او غونډه په خپلوخبرو پای ته رسوي. ښوونکی له ټولو برخوالو څخه مننه کوي او خپل د پام وړ ټکي ورته وایي.

اضافي معلومات:

قیا م الدین خادم په ۱۳۲۵ هجري قمري (۱۹۰۷ میلادي) کال د ننګرهار و لایت د کامې ولسوالی د زرشوی په کلي کې په یوه متدینه او روحاني کورنی کې سترګې نړۍ ته غړولي دي. پلار یې مولوي حسام الدین او نیکه یې مولوي علي ګل اخونزاده نومېده، چې د خپل وخت لوی دیني او جید عالمان وو. د خادم د مورني نسب سلسله یې په فقیرصاحب مشهور، عبدالرحمن سیلاني پورې رسیږي. عبدالرحمن سیلاني هم د خپل وخت لوی عالم او فاضل شخص تېرشوی او د مرادعلي (رح) پلار و. مولانا قیام الدین خادم په ختېه زاخیل مومند دی. لومړنی زده کړې یې په خپل کور او کلي کې له خپل پلار او نورو جیدو عالمانو څخه کړي. په صرف، نحو، منطق، تفسیر، حکمت او حدیث کې ښه برلاسی و. د نورو دیني زده کړو لپاره له پېښوره نیولې آن تر هنده رسېدلی. تقریبا ۱۵ کاله یې دغه مسافرتونه کړي. وطن ته له راستنېدو وروسته یې د جلال اباد په یو لومړني ښونځي کې د ښوونکي په توګه رسما په کار پیل وکړ. له څه مودې وروسته په ۱۳۱۱هجري کال د کندهار په پښتوانجمن کې شامل شو. په ادبیاتو کې یې ژوره مطالعه او لوی لاس درلود. د همدغې ژورې مطالعې برکت و چې د لومړي ځل لپاره د کندهار ولایت د پښتو انجمن غړیتوب ور په برخه شو. له همدغه ځایه یې د لیکوالی اساس پیلیږي. خادم په داسې ادارو او علمي موسسو کې کار کړی، چې هلته به علمي مسایل څېړل کېدل. په پښتوټولنه، تالیف او ترجمې، زیري جریدې، دایرۀالمعارف، اتحاد مشرقي، د کندهار طلوع افغان، هېواد، اصلاح د ورځپاڼو د چلوونکي او د پښتوټولنې د علمي مرستیالی دندې یې په ښه شان سرته رسولي دي. ددې ترڅنګ یې دوه درې دورې د پښتو کورسونو لوی مدیراو د پښتوټولنې د یو پیاوړي عالم په توګه کار کړی دی. له خپلې مورنی ژبې، پښتو سربېره په اردو، عربي او په پارسو ژبه یې ښې رواني خبرې کولې. په تحقیق او څېړنه کې یې له همدغو ژبو څخه زیاته استفاده کوله. په شعر او نثر دواړو کې یې خپل نیلی ځغلولی دی. شعر یې له نثره او نثر یې له شعره خوږ دی. په د غو دواړو برخو کې یې زیات شمېر لیکنې کړي دي. دده په هره لیکنه کې پښتو او پښتونولی له ورایه ځلیږي. لیکنه یې ادبي، انتقادي، ټولنیز، سیاسي، روزنیز او ښوونیز رنګ لري. کتابونه یې په دغو دواړو برخو کې لیکلي دي. لومړنی شعر چې (شه بیدار پښتونه) نومیږي، په اتحاد مشرقي کې خپورشوی دی. په نثر کې یې ترټولو خواږه او په زړه پورې اثرونه د نوي ژوندون اوخیالي دنیا په نامه دي. نوموړي کتابونو په ۱۳۲۰هجري کال چاپ شوي دي. خادم تل له ظالم سره مقابله کړې او ظالم یې په هرمیدان کې رسوا کړی. دا هغه کارونه وو چې نوموړي کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغو کارونو له برکته يې د معاصرو ادبياتو د پنځو ستورو په کتار کې ځای نيولی. مشهور چاپي کتابونه يې په دې ډول دي: د کوچنيانو اخلاقي پالنه، څاروان، روهي ګلونه، د مرغلرو امېل، نوی ژوندون، مکارم الاخلاق، پښتونولي، بايزيد روښان، خيالي دنيا، د شريف سرګذشت، نبوغ او عبقريت (فلسفي اثر)، نوې رڼا، د پښتو د تاريخ يوه سرپاڼه، د خوشحال او رحمان موازنه، د څلورم ټولګي پښتوقرائت، پښتوکلي په شپږو ټوکونو کې، معلم پښتو، پښتانه شعراء لومړی ټوک، پارتيان څوک وو، د بابا نصيحت، د پښتو پټی، د پښتو نثر، تاريخي تصورات، لوی سهاک، ادبي قصې، لوی اصحابان، نشنليزم او انټرنشنليزم، افغاني حکومت، معياري پښتو، بلکا، د پښتو څټه او څانګې، نصوص الحکم، د مور مينه، لرغونې پښـتانه قومونه، ټولنپال افغان مانوفيسټ، (د مولانا قيام الدين خادم سياسي افکار) ليکلي او چاپ شوي دي.

په پورته کتابونو سربېره يې يو شمېر زياتې مقالې د وخت په مهمو مجلو او ورځپاڼوکې خپرې شوي دي او شمېر نور کتابونه يې لا تراوسه چاپ ته سترګې په لار دي. په پارسي ژبه، د پښتونولۍ پور، اجتماعي مقالې، ادبي قصه، سورګل ډرا م دی. مجلسي شاعران، کره پښتو د پښتونخوا قصې، مکالمات، سورګل، کانفرانسونه، کره پښتو، پښتو زده کړه، د پښتو شاعري، پښتو په غربي ليکدود کې، رښتين پور، شلمه پېړۍ او پښتانه، د پښتنو قومولي، غوره سندرې، د پښتو شاعري، لرغوني افغان، اينده پښتنو ته، د تنقيد حق، ساتلې خزانه، ريګويدي سرودونه يا(سرودها ی ريګويدی)....

دا هغه اثار وو چې خادم د خپل قوم د هوساينې او خپلې ژبې د پرمختګ لپاره د زړه په وينو وليکل او خپل درديدلي قوم ته يې په ميراث پرېښودل. خادم د ژوند وروستي څو کلونه په کور ناست و، خو بيا هم د هېواد او قوم په غم اخته و. د شعر او نثر په ژبه يې د خپل زړه سوي اهونه ليکل. د ۱۳۵۸ هجري کال د خپل عمر ۷۴ پسرلی لا نه و بشپړکړی چې د ورې په مياشت کې يې له دې فاني نړۍ څخه ابدي او تل پاتې نړۍ ته مخه وکړه او د کامې د ولسوالی د زرشوی په کلي کې په خپله پلرنی هديره کې خاوروته و سپارل شو.

**اخځليکونه:**

اوسني ليکوال، لومړی ټوک ليکوال ،عبدالروف بېنوا

نوميالي شاعران ليکوال، پوهاند صديق الله رښتين

د پښتو ادبياتو تاريخ، اوسنی دوره، د پوهاند زيورالدين زيور درسي کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

<table>
<tr><th>د مطلبونو سرلیکونه</th><th colspan="2">د مطلبونو څرګندونې</th><th>وخت</th></tr>
<tr><td>د لوست موضوع</td><td colspan="2">پښتو ادبي سبکونه</td><td rowspan="6"></td></tr>
<tr><td>د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې</td><td colspan="2">زده کوونکي به د لوست په پای کې لاندې موخې ترلاسه کړي:<br>– د سبک په معنا او مفهوم به پوه شي.<br>– د پښتوادبي سبکونو په اړه معلومات ترلاسه کړي.<br>– د لیکل شوي نثر یا شعر له مخې به د هغه لیکوال یا شاعر وپېژني.<br>– د وینا او لیک قریحه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به له مرستې پرته سرته ورسولای شي.</td></tr>
<tr><td>د تدریس لارې</td><td colspan="2">یو کسیز او ډله ییز</td></tr>
<tr><td>د تدریس وسیلې او مرستندویه توکي</td><td colspan="2">. کتاب، تخته، تبا شیر او کارتونه</td></tr>
<tr><td>د ارزونې لارې او وسیلې</td><td colspan="2">شفاهي پوښتنې، تحریري پوښتنې، عملي کار، یوکسیزې پوښتنې، ډله ییز کار او د ښوونکي د یادداشت کتابچه</td></tr>
<tr><td>د زده کړې او تدریس فعالیتونه</td><td colspan="2">روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخیستل او د تېر لوست ارزونه</td><td>۴ دقیقې</td></tr>
<tr><td></td><td colspan="2"></td><td>۶ دقیقې</td></tr>
<tr><td colspan="2">د ښوونکي فعالیتونه</td><td>د زده کوونکو فعالیتونه</td><td>۳۵ دقیقې</td></tr>
<tr><td colspan="2">– ښوونکی دې د سبک په اړه د زده کوونکو د نظر له معلوملو وروسته هغوی ته سبک ورروپېژني، لغوي معنا دې ورته ووایي او ودې پوهوي چې په ادبیاتو کې له سبک څخه موخه څه ده او په کومو دوو معناګانو کارول کیږي.<br>– ښوونکی څو زده کوونکو تخه دنده ورکوي چې لوست د کتاب له مخې ولولي.<br>– ښوونکی دې د پښتو ادبیاتو په بېلا بېلو پړاوونو کې د موجودو ادبي سبکونو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي، د سبک رامنځته کوونکي دې ورروپېژني او د هر یو ځانګړتیاوې دې ووایي.<br>– ښوونکی دې د هندي ادبي سبک په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي او د ادبي سبک ځانګړتیاوې دې ورروپېژني.</td><td colspan="2">– زده کوونکي دې د سبک د معنا په اړه خپل نظر څرګند کړي. ټول دې په دې بحث کې ونډه واخلي. وروسته دې د خپل ښوونکي خبرو ته غوږ شي، چې په ادبیاتو کې د سبک پر معنا ځانونه وپوهوي. که لازمه وه یادداشت دې واخلي.<br>– زده کوونکي دې د ښوونکي په لارښوونه لوست لولي او د سبک پر معنا او مفوم ځانونه ښه پوهوي.<br>– زده کوونکي غوږ نیسي چې سبک پښتو ادبیاتو ته څه وخت لاره موندلې، څو سبکونه موجود دي او چا رامنځته کړي دي. د هر یو سبک پر ځانګړتیا دې ځانونه وپوهوي.<br>– زده کوونکي ځانونه پوهوي چې هندي ادبي سبک څه شی دی او پښتو ادبیاتو ته یې څه ډول د چا له خوا لاره موندلې ده.</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| – ښوونکی دې زده کوونکي پر څلورو ډلو وويشي. هره ډله دې د روښان، خوشحال ختک، رحمن بابا او حمد مومند پر ادبي سبکونو رڼا واچوي. | – زده کووونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم ځانونه په څلورو ډلو کې تنظيموي او هره ډله د روښان، خوشحال ختک، رحمن بابا او حميد مومند د ادبي سبکونو په اړه خبرې اترې کوي. خپل نظر له يو بل سره شريکوي، د ډلې منشي يادداشت اخلي او يو تن يې د ډلې په استازيتوب ټولګيوالو ته لولي. زده کوونکي پوښتنې کولای شي. |
| – ښوونکی دې يو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته راوغواړي چې په پښتو ادبياتو کې د سبک د مفکورې د رامنځته کېدو په اړه رڼا واچوي. | – يو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او په پښتو ادبياتو کې د سبک د مفکورې د رامنځته کېدو په اړه معلومات ورکوي. |
| – ښوونکی دې يو تن زده کوونکي دنده ورکړي چې د ټولګي په وړاندې ووايي د مسجع نثر ليکنه کله او د چا له خوا پيل شوه. | – يو تن د ټولګي مخې ته راځي او وايي چې مسجع نثر څه راز نثر دی، په پښتو ادبياتو کې کله او د چا له خوا رامنځته شو. |
| – ښوونکی دې دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوغواړي چې د حميد د ادبي سبک ځانګړتيا نورو ته وروپېژني. | – دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د ټولګي مخې ته راځي او د حميد د ادبي سبک پر ځانګړتياوو غږيږي. د اړتيا په وخت کې ښوونکی مرسته ورسره کوي. |
| – ښوونکی دې لوست په لنډو جملو کې تکرار کړي او د کتاب د منځپانګې له مخې دې کورنۍ دنده وټاکي. | – زده کوونکي د لوست تکرار ته غوږ نيسي، ځانونه پوهوي او کورنۍ دنده اخلي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول**

سبک: د مکتب په پرتله ځانګړی اوغونډ دی. يا په بله وينا سبک په خپلو ځانګړو کلياتو کې يوازې د همغه پنځوونکي يا ايجاد ګر څېره ځلوي يا سبک يوازې د يوه هنرمند او ليکوال په اثر کې د مضمون او معنا بېلېدونکې بنسټي ځانګړې ټولګې يا مجموعې ته وايي.

مکتب عام، خپور (غوړېدلی) او يوې ډلې ادبي او هنري پنځوونکيو راچاپېرېدونکی دی. يا په بله وينا ادبي مکتب د يوه ليکوال نه، بلکې د يوې ډلې ليکوالو ځانګړنه ده.

**اضافي معلومات:**

د ژبې او ادب په څېړنه کې د ادبي او شعري سبکونو پېژندنه اړينه ده. سبک په حقيقي معنا د سرو او سپينو زرو ويلې کولو او په قالب کې اچولو ته وايي. په اصطلاح کې د فکر او خيال د څرګندولو يو ځانګړي دود او ډول ته سبک ويل کيږي. د ځينو ليکوالو او شاعرانو سبکونه دومره جوت او څرګند دي چې د ادب مينه وال يې د الفاظو له ټاکلو، د کلماتو له ترکيب او تعبير له ډول څخه په اسانه پېژندلای شي. د بېلګې په توګه، رحمان بابا، خوشحال ختک او عبدالحميد مومند. هريو يې بېلا بېل سبکونه لري چې د فکر او معنا او د الفاظو او تعبيراتو له خوا يې رنګ او ډول له ورايه معلوميږي.

د سبک کلمه ډېره لرغونې او د ادب په ډګر کې په بېلا بېلو معناوو څرګنده شوې ده. د ادبي سبک کلمه هنري ادبياتو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځورګرۍ، معمارۍ، موسيقۍ، مجسمه جوړونې، خطاطۍ او نورو ته هم کارول کېدله. سبک ته په انګليسي کې (style) وايي. د سبک په پېژندنه کې هم معنوي خوا ترڅېړنې لاندې راځي اوهم لفظي خوا. دواړه پکې پوره اغيزه او اثر ښندي. په غربي نړۍ کې د ادبي سبکونو لمن ډېره پراخه ده. ز يات شمېر ډولونه لري. دلته به يې دوه درې هغه نمونې په لنډه او مختصر ډول دروپېژنو:

**۱ – کلاسيزم :**

د لويديځې نړۍ په ادبياتو کې يو هنري مېتود دی چې له پنځلسمې عيسوي پېړۍ راهيسې يې ښه قوت مونډلی دی. کلاسيک ادب هغه ادب ته وايي چې يو ښکاره هدف، سپېڅلی رنګ او ټاکلي چوکاټ ولري. د پخواني ادب پيروي، د طبيعي منظرو انځور، له عقل او منطق سره جوړښت، د ساده ګي او روانۍ خوښول، د ځای او زمانې له غوښتنو سره سمون د کلاسيک ادب ښکاره صفتونه او نښانې ګڼل کيږي. يا په بل عبارت د زمانې، ځای، پوهې، عقل او ښه کره توب په چوکاټ کې دننه ليکوالۍ ته کلاسيزم وايي.

**۲ – رومانتيزم:**

رومانتيزم په ادب کې د يوخاص مسلک او ښوونځي نوم دی چې په نولسمه پېړۍ کې منځته راغلی دی. د دې ښوونځي او ادبي مسلک لوېې نښانې او ښيګڼې دادي: د خيال او فکر ازادي، بې پروايي، لوړ خيالونه، له ادبي قيدو بند نه ځان ايستل، د ښکلا او جمال د خيالي جهان مشغولا، د لغاتو او تعبيرونو پراختيا، د احساس او تخيل لوړتيا او د ژبې او ادب له سمسورتيا څخه عبارت دي. ددې سبک غرض له کلاسيزم سره په ښکاره مخالفت کول دي. په رومانتيزم کې د پخوانيو اصولو پابندي نشته او زاړه او پخواني چوکاټونه پکې ماتيږي. لنډه دا چې رومانتيزم يو نوی هنري مېتود او نوې لاره ده چې د ژوندانه د نندارتون په انځور کې له تخيل احساس او ذوق څخه زيات کار اخلي او پخواني قيدونه اوشرطونه، نه مني.

**۳– رياليزم :**

د رياليزم سبک له رومانتيزم څخه وروسته ميدان ته راووت. په دې سبک کې د ژوندانه انځور او نقشه په اصلي بڼه او رنګ منځته راځي او حالت پکې په ربښتياني ډول ښودل کيږي. مطلب دادی چې ريالستيک ادب د چاپېريال شرطونو ته پوره اهميت ورکوي او حقيقتونه له پامه نه غورځوي. رياليزم د حقيقت او طبيعت ربښتيانۍ پيروی ته وايي. په دې ښوونځي او مسلک کې ښکلا، اسانتيا، ربښتيا، غوره صفتونه ګڼل کيږي او موږ ورته په لنډه ډول د ادب ښار ويلای شو. لنډه داچې رياليزم د پېښو ربښتيانۍ څرګندونه او د هنر طبيعي او اصلي انځورول دي. په لويديځ ادب کې همدا درې لوی او مشهور سبکونه دي، خو ځينې نور سبکونه هم موجود دي چې د ځينو ښيګڼو په وجه په بېلابېلو نومونو ياد شوي دي. لکه سمبوليزم، ناتوراليزم ...، خو دا چې په شرقي نړۍ کې سبک څومره پرمختګ کړی او بيا په ځانګړي ډول په پښتو کې کوم سبکونه موجود دي، هريو يې په لنډه ډول در پېژنو.

**الف– د خوشحال خان خټک سبک:**

خوشحال خان د شهبازخان زوی په ۱۰۲۲ هجري کاال د پېښور په اکوړه کې زېږ يدلی. د خوشحال خټک د سبک تر ټولو لومړنی خصوصيت دادی چې په خپلو اشعارو کې يې د مليت او وطن دوستۍ احساسات په ډېر لوی قوت ګډ کړي او پښتو ته يې د خودۍ او خپلواکۍ پيغام وړاندې کړی دی. په شعرکې يې حماسي برخه ډېره درنه او له قوته ډکه ده. د مضامينو د تنوع او د شعر د اقسامو او انواعو په لحاظ څوک له ده سره برابري نشي کولای. د فکر ازادي، بې قيدي، جرات او جسارت يې ډېر زيات دی، ځکه يې په اشعارو کې بېباکه او بې پروا زړورتوب وينو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده اعترافات او رندانه وینا په دغسې وضاحت او صراحت د نورو په اشعارو کې نه وینو. دی له اقوامو او اشخاصو نه دی ډاربدلی او د عرف وعادت د رسم او راوج په قید کې ډېرنه دې راغلي. اشعار يې له ژوند او ورځنيو پېښو سره ډېر تړاو لري او د خپل وخت حالات يې د شعر په ژبه بيان کړي دي. ځکه يې له اشعارو څخه د عصر او محيط رنګ او ډول ښه له ورايه معلوميږي. په اشعاروکې اخلاقي، تصوفي، اشعار هم شته خو د رحمان بابا د سوز او اخلاص مقام ته نه رسيږي. له دې معلوميږي چې دده په هره برخه کې معلومات درلودل. په اشعارو کې يې د شعر ټول قسمونه، لکه غزل، قصيده، دوبيتۍ، څلوريزه، پنځه ييز، شپږ ييز، لسيز او نور ټول ډولونه راغلي دي او په دې ډګر کې يې پوره پراختيا موندلې ده. د ادبي ارزښت له پلوه تر ټولوغوره او پراخ دی او معنوي او لفظي ښيګڼې يې تر نورو سبکونو زياتې دي. سربېره پردې ادبې استعارې او تشبيه ګانې يې هم له پښتني رنګ څخه نه دي وتلي. د سبک پيروان يې عبارت دي له عليم، موسی، افضل، عبدل، عثمان، ابراهيم، فضيل، حسين، فاضل، فيض محمد، اشرف خليل، قلندر... .

**ب- د صوفي شاعرعبدالرحمان بابا سبک:**

د پښتو ژبې خوږ ژبی شاعر عبدالرحمن بابا رحمت الله عليه په ۱۰۴۲ هجري قمري کال د پېښور جنوب ته په بهادر نومي کلي کې سترګې نړۍ ته پرانيستي. پلار يې عبدالستار نوميد او د مومندو پښتني قبيلې ته منسوب وه. عبدالرحمن بابا په وړکتوب کې د فقهې او تصوف کتابونه په خپل کور او کلي (پيښورکې) کې له ملا محمد يوسفزي څخه ولوستل او د نورو زده کړو لپاره کوهاټ ته تللی او هلته يې لوستي دي. رحمان بابا د وخت لوی عالم و. د ځوانۍ په نوي او تاند پسرلي کې يې دنيايي کارونو ته شا کړه او تل به د خدای جل جلاله په عبادت او رياضت بوخت و. رحمن بابا له کوچنيوالي څخه د لوړ ادبي ذوق او پياوړي استعداد خاوند و. د څوارلس، پنځلسو کلونو په عمر يې په شعر ويلو پيل کړی. بيا په دې لړ کې د استادۍ لوړ پوړ ته رسېدلی. په دغه برخه کې د يو بېل سبک خاوند شوی دی.

رحمان بابا د ساده انشاء خاوند دی او په سبک کې يې فصاحت او بلاغت ډېر مراعات شوي دی. له اشعارو نه يې هرڅوک خوند اخلي. د معنا يو مخ يې هرچا ته ښکاره دی او بل مخ يې خواص وينې او مخصوص خوند او رنګ پکې مومي. د عبارت رواني او عام فهمي يې پر کلام ډېره اغيزه کړې ده، ځکه ټولنيز مقبوليت لري. اشعار يې عارفانه دي. اخلاقي ارزښت لري چې رحمان بابا يې هر چاته صاحب حال او سالک معرفي کړی. له همدې امله خلک ده ته ډېره ښه عقيده لري او دغې عقيدې دده د وينا تاثير ډېر زيات کړی دی. د اشعارو مهم خصوصيت يې دادی چې ډېر بيتونه يې د متلونو په څېر له معناوو ډک دي، چې د استدلا ل کار ترې اخيستل کيږي. دا ځکه دد ه اشعار د ژوندانه په تنګه محدوده دايره کې بند نه وو، په هرځای او هر وخت کې يې هر څوک خوښوي او له هر اړخ سره تماس لري او خلکو ته په حياتي چارو کې ډېره ښه لارښوونه کوي. له همدې امله خلک دده په ديوان فالونه ګوري.

دده اشعار د زمان او مکان په قيد کې نه دي راغلي. هنرمندا ن يې د بزم په مجلس کې وايي او خطيبان يې د منبر په سر لولي، د غم او ماتم خاوندانو ته پکې ډېره ښه تسلي شته او معشوقو ته خورا ډېر ښـــه پيغامونه لري. رحمان بابا په دې حقيقت ښه پوهېده چې ښکلا له عشق او مينې پيداکيږي. رحمان بابا عشق پير او پيشوا ګڼي او د جمله مخلوقاتو پلار يې بولي، لکه چې وايي:

زه عاشق يم سر و کار مې دی له عشقه نه خليل نه داودزی يم نه مومند

د رحمان بابا د سبک پيروان عبارت دي، له: رحمت داوی، قاسم علي خان، يونس خيبري، معزالله مومند، اخوندګدا، حافظ الپوري، ميانعيم متي زي، عبدالعظيم رانيي زی، عبدالرحيم هوتک، مطيع الله، عبدالرسول، ملا لټار شلماني، عبدالغفار هوتک او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج – عبدالحمید مومند**

عبدالحمید مومند د پېښور په ماشوګړ کې زیږېدلی دی. د زوکړې ټاکلې نېټه یې نه ده معلومه، خو داسې ګومان کیږي چې د یوولسمې هجري پېړۍ په وروستیو کې به زیږېدلی وي. په عربي او فارسي ښه پوهېده . په ۱۱۴۵ کې وفات شوی او د پېښور د ماشوګړ په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی. عبدالحمید مومند په پښتو کې د هندي سبک موسس ګڼل کیږي. ده په خپله شاعری کې له نازکخیالی او له تشبه او استعارې نه زیات کار اخیستی دی. موشګافي دده کار و، اسمان ته د شعر په زینو ختلو، د اسمان ستوري د شعرپه لړ کې پیل دده هنر و. دده په سندرو کې د عشق سوز او ګداز ډېره اغېزه کړې ده او له ښکلا سره یې تړاو ډېر زیات دی. په کلام کې یې ځینې لفظي او معنوي پېچلتیاوې شته او ځینې لغات پکې داسې استعمال شوي چې معنا یې ښه واضحه نه ده. په ځینو قافیو کې یې هم ځینې عیبونه موجود دي چې د فن په لحاظ ورته ادبي نیمګړتیا ویلی شو، خو په اشعارو کې یې ادبي خو ند دومره زیات دی چې دغه عیبونه په کې پټ دي . عبدالحمید مومند په مضمون آفرینی کې د لوی لاس خاوند و، په اشعارو کې یې پند و نصیحت او اخلاقي لارښوونې زیاتې دي، چې د ژوندانه په لارو چارو کې تربنه ښه استفاده کیږي. په عشق کې لکه رحمان بابا ډېر پورته ته نه دی ختلی چې د ښکلا له سرحده هم تیرشوی وي، مګر د عشق هنګا مه یې ډېره توده سا تلې ده او د سوز نارې یې ډېرې سوزند ه دي. .په اشعاروکې یې یو خاص ا هنګ پروت دی.

**اخځلیکونه:**

لیکوالي املا اوانشا ،لیکوال استاد ګلاپاچا الفت. چاپ ۱۳۳۹ د دلومیاشت

پښتوادبیاتو تاریخ ،(لرغونې اومنځنی دورې) سرمحقق زلمی هېوادمل لومړی ټوک، دویم چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نولسم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | لور ته چارلي چاپلين ليک | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي، ذهنيتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– چارلي به وپېژني او د هغه له مفکورو سره به بلد شي.<br>– لور ته به د هغه د ليک پر محتوا وپوهېږي.<br>– په ليک کې به د چارلي پيغامونه ومومي او له هغوی به الهام واخلي.<br>– د چارلي د ژوند فلسفه او د هغه شخصيت به ورته څرګند شي.<br>– پر دې به وپوهېږي چې هرڅوک ښايي په ژوند کې څرګند هدفونه ولري.<br>– پر دې به وپوهيږي چې له ليک څخه د چارلي موخه څه شی وه.<br>– د ليک او وينا ژبه به يې پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په يوازې سر ځواب کړای شي. | |
| د تدريس لارې | يو کسيز، دوه کسيز او ډله ييز | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوی توکي | چارتونه او کارتونه او که شونې وي د چارلي چاپلين انځور | |
| د ارزولو لارې او وسيلې | شفاهي پوښتنې او ځوابونه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظيم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخيستل او د تېر لوست ارزونه | ۴دقيقې |
| د انګېزې رامنځته کول | ښوونکی دې د زده کوونکو پام اووم لوست (ډرامې) ته واړوي، زيار دې وباسي د ښاري او کليوالي چاپېريال له شرايطو سره سم د زده کوونکو پام د ډرامو، ټوکو او مسخرو له لارې د واقعيت بيان ته واړي. دا ټکی دې روښانه کړي، هر چېرته داسې افراد شته چې خلک خندوي او د خوږې خندا له لارې هغه واقعيتونه ورته بيانوي چې په عادي خبرو اترو کې نشي څرګندېدای. ښوونکی د چارلي پر ژوند باندې د رڼا د اچولو له لارې پر لوست پيل کوي. | ۶دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵دقيقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی د انګېزې د راپيداکولو په دوام لوست داسې لولي چې ټول زده کوونکي ورته سترګې او غوږ شي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته وخت ورکوي چې لوست له ځانه سره ولولي او په ليک کې د چارلي | – زده کوونکي لوست ته غوږ نيسي. د چارلي په ليک کې هغه پيغامونه ګوري چې د ودې په اند يو پند پکې پروت دی.<br>– زده کوونکي لوست له ځانه سره لولي. هغه پيغامونه چې دمخه يې په ګوته کړي، له ځانه سره ليکي او د هر يو | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| پیغامونه پیدا او ولیکي. | پر مفهوم ځان پوهوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته وخت ورکوي چې په خپله خوښه په خبرو اترو کې برخه واخلي او خپل نظر څرګند کړي. | – زده کوونکي په وار د خبرو اجازه اخلي او له لیک څخه تر لاسه شوي پیغامونه په ګوته کوي او تبصره پرې کوي. |
| – ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې آیا له لیک څخه د چارلي موخه خاصه وه او که عامه. | – زده کوونکي د ادبي لیکونو په اړه خپله پوهه زیاتوي او پر دې ځانونه پوهوي چې خپلې لور ته د چارلي لیک یو ادبي لیک دی او موخه یې ټول لوستونکي دي، نه یوازې خپله لور، جرالدینه. |
| – ښوونکی د زده کوونکو پام په ډرامه کې کمیډي او ترژایدي صحنو ته اړوي او پر هرې یوې رڼا اچوي. | – زده کوونکي ځانونه پوهوي چې ولې ټولنیزې ناخوالې د ډرامو د ننداري له لارې پر ستیژ لوبول کیږي. د کمیډي او تراژیدي ډرامو اغیز ته پام کوي. |
| – ښوونکی زده کوونکي هڅوي چې څو تنه د ټولګي مخې ته راشي او لیک په خپله ژبه ووایي او هر پیغام چې ورته ډېر خوند ورکړی وي، روښانه کړي. | – څو تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او لیک په خپله ژبه وایي. که په لیک کې یې کوم پیغام تر نورو ډېر خوښ شوی وي، په ګوته دې کړي. |
| – ښوونکی دوه، درې تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته رابولي چې د چارلي چاپلین د شخصیت په اړه خبرې وکړي. | – دوه، درې تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او د چارلي د شخصیت په اړه څرګندونې کوي. |
| – ښوونکی د کمیډي او تراژیدي ډرامو د لوبولو لپاره موضوعګانې ټاکي او له زده کوونکو غواړي دوه، دوه تنه یې په خپله خوښه د نورو په وړاندې ولوبوي. | – دوه، دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي په وړاندې کمیډي او ترژیدي ډارمې لوبوي. |
| – ښوونکی د لوست لنډیز وایي او د لیک پیغامونه یو ځل بیا په ګوته او د زده کوونکو جدي پام ورته واړوي. | – زده کوونکي غوږ نیسي او د لیک پیغامونه د زړه په غوږونو اوري او د چارلي چاپلین شخصیت په ذهن کې انځوروي. |
| – ښوونکی لوست په پای کې پر لیکل شوي کورنۍ دندې سربېره زده کوونکو ته دنده ورکوي چې په کورونو کې د لیک پیغامونه ولیکي او په بله ورځ یې ټولګي ته راوړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي او په کورونو کې یې سر ته رسوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول :**

نویل (عیسوي اختر: د ناجو ونه، چې د عیسوی اختر یا د عیسوي نوي کال په شپه په څراغونو سینګاریږي.)، تولیسدروم (د یو ځای نوم دی.)، تاتار (مغول، د مغولو قوم)، میترو (تر ځمکې لاندې اورګاډی)، کولیان (په خیمو کې اوسیدونکي قومونه، چې له یو ځای څخه بل ته کوچ کوي، سندرې وایي، فالونه ګوري، غلبېلونه او چمبې جوړوي او پلورې یې)، سرکس (د ستیژ پر سر له وحشي حیواناتو «زمری، پیل، اوښ، ...» سره لوبې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیک د متن د بیغامونو برخې:

- نوم يې پېژني؟ چارلي! هو،زه چارلي يم. زه يو زوړ سړی يم. نن ستا وار دی. وناڅه! زه په هغه ټوټې، ټوټې او شکېدلي پتلون کې نڅېدم او ته د شهزيو په وربښمينو جامو کې ناڅې. دا نڅاوې او تر هغو زيات د نندارچيانو د لاسونو پړکا به تا کله اسمانونو ته يوسي. څه! هلته لاړه شه! خو کله ځمکې ته هم راځه او د خلکو د ژوند ننداره کوه! پيغام: ځان اوخپل تېر تاريخ له ياده مه باسه. پيغام (هيڅکله خپل ځان مه هېروه اومه مغروره کيږه.)
- ته ما نه پېژني، جرالدوينې. هغه پخوانۍ شپې، هو... تاته مې کيسې کولې، خو هيڅکله مې تاته خپله کيسه ونه کړه. دا کيسه په اورېدو ارزي ... د هغه وږي انسان کيسه چې د لندن په ډېرو ټيټو او سپکو کوڅو کې به يې سندرې ويلې، نڅېده به او خيرات به يې ټولاوه. دا زما کيسه ده. پيغام (خپل او د خپلې کورنۍ پخواني وخت او حالت ته پام)
- ما د لوږې مزه څکلې ده. ما د مېرمنې د نشتوالي درد ګاللی او ترهغې زيات ما د هغه انسان رنځ احساس کړی چې له غروره يې سمندر په زړه کې څپې وهلې، خو د لاروي د خيرات يوې سکې د هغه غرور په اوبو لاهو کاوه. پيغام: (له اړتيا او احتياج څخه ځان ساتل.)
- جرالدينې، په کومې نړۍ کې چې ته اوسيږې، هلته يوازې نڅا او موسيقي نه ده. د نيمې شپې پر مهال چې د تياتر له پرتمين سالون څخه راوځې، هغه شتمن له يوې مخې هېر کړه چې لاسونه درته پړکوي او ستايي دې. د هغه ټکسي چلوونکي د حال پوښتنه وکړه چې تا کور ته رسوي. د هغه د مېرمنې پوښتنه وکړه. که مېرمنه يې اميدواره وي او د راتلونکي ماشوم د جامو پيسې نه لري، د پيسو چيک راوباسه او په پټه يې د هغې د مېړه په جيب کې کېده. ما په پاريس کې خپل د بانک استازي ته سپارښتنه کړې چې ستا دا راز لګښتونه په پټو سترګو ومني، خو د نورو لګښتونو لپاره بايد څرګندتياوې ولرې. پيغام: (له بېوزلو سره مرسته.)
- کله کله په سرويس يا ښاري ميترو کې په ښار کې وګرځه. خلکو ته وګوره او لږ ترلږه د ورځې يو ځلې ځانته ووايه چې: "زه هم د هغوی له ډلې څخه يوه يم." ګرانې لورې، ته د هغوی له ډلې څخه يوه يې، نه له هغو څخه زياته. مخکې تر دې چې هنر چاته د الوتلو وزرې ورکړي، زياتره ترې غبرګې پښې هم اخلي. پيغام: (ځان تر نورو پورته نه ګڼل او له لويۍ او غرور ډډه کول.)
- که کله هغه ځای ته ورسېدې چې يوه شېبه د خپلې نڅا له نندارچيانو څخه ځان پورته وګڼې، هماغه مهال صحنه پرېږده اوځان ژر پاريس ته ورسوه. ماته هغه ځای ښه معلوم دی. هغه ځای د پېړيو پېړيو دمخه د کوليانو پسرلنۍ ځانګو وه. هلته به د ځان په څېر نڅاګرې وګورې، چې له تا څخه ښکلې دي، چالاکه دي او له تانه ډېرې مغرورې دي. هلته د "شانزليزه" ړندوونکې شغلې نشته. پيغام: (په نړۍ کې له ځانه ټيټو خلکو ته کتل او په خپل دريځ نه نازېدل.)
- ګرانې لورې، اعتراف وکړه. تل داسې يو څوک شته چې تر تا غوره ناڅي. تل داسې څوک شته چې تر تا ښکلې وي. پر دې پوهه شه د چارلي په کورنۍ کې هيڅکله څوک داسې بې ادبه نه و چې کوم بېوزلي ته ناوړه خبره وکړي. پيغام: (له غرورو ډډه کول.)
- ښايي زه ومرم او ته ژوندۍ واوسې. زما هيله داده چې هيڅکله بېوزله ژوند ونه کړې. له دې ليک سره مل يوسپين چک درلېږم. هرڅومره پيسې چې غواړې پکې وېې ليکه او وايې اخله. خو هرکله چې دوه فرانکه لګوې، ځانته ووايه چې دويم فرانک زما برخه نه ده. هغه د يو نوموړکي برخه ده چې نن شپه ورته اړتيا لري. پيغام: (صدقه او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببوزلو سره مرسته.)

- د پیسو او شتو په اړه له دې امله درسره خبرې کوم چې زه د هغې بدوالی ښه پېژنم. ما ډېره موده په سرکس کې تېره کړې. تل د هغه چا په اړه اندېښمن وم چې په یو نري پړي تلل، خو، لورې، دا حقیقت تاته وایم چې د نري پړي په پرتله خلک د ځمکې پر مخ زیات لویږي. ښایي چې کله د نړی ډېر ښکلی الماس تا وغولوي. هغه شېبه به دا الماس تا ته د سرکس د پړی په څېر وي او تا به هرو مرو وغورځوي. پیغام (له لویې ډډه کول.)
- په زړو او ګاڼو زړه مه تړه. ځکه ددې نړۍ تر ټولو ستر الماس لمر دی. له نېکه مرغه دا الماس د هرچا پر غاړه ځلیږي پیغام: (د دنیا په مال زړه نه تړل.)
- خو، که کومه ورځ دې د یوچا په لمر زړه بایلود، له هغه سره یو زړه اوسه. مور ته مې دې ویلي چې په دې اړه درته لیک ولیکي. هغه مینه ترما ښه پېژني. هغه د یو زړه د پېژندنې لپاره ترما غوره ده. پوهیږم چې ستا کار ډېر ستونزمن دی. پیغام: (د حیا ساتل او له خیانت ډډه کول.)
- پر ستیژ باندې له نریو وریښمینو جامو څخه پرته بل څه ستا بدن نه پټوي. د هنر لپاره انسان د ستیژ سر ته لوڅ لغړ راتلای شي، خو بېرته باید له مخکې څخه هم پاک او سوچه راکښته شي. په دې نړۍ کې داسې هیڅ غوره شی نشته چې یوه نجلۍ دې د هغې لپاره خپل یو نوک هم چاته ښکاره کړي. پیغام: (د حیا ساتل.)
- لوڅوالی زموږ د زمانې ناروغتیا ده. زه زوړ سړی یم، ښایي خبرې مې خندنۍ اوسي. خو زما په ګومان ستا لوڅ بدن باید د هغه چا برخه وي چې تاته یې لوڅ روح ګران دی. پیغام: (حجاب، حیا او وفا)

بده نه ده، که په دې اړه ستا فکر لس کاله دمخه وي، د ستر له مهاله مه ډارېږه! دا لس کاله تا نشي زړولای!!! ... .
پیغام: (د حجاب، حیا او پردې رعایت.)

**اضافي معلومات:**

سرچارلز اسپنسر چاپلین د هنر په نړۍ کې په چارلي چاپلین مشهور دی. ۱۸۸۹کال د اپریل په ۲ نېټه په یوه انګلیسي کورنۍ کې سترګې دنیا ته غړولي دي. چارلي په ماشومتوب کې له تفریحې پروګرامونو او موسیقي سره خورا زیاته مینه درلوده. مور او پلار یې دواړه د لندن د تر ټولو ستر سالون هنرمندان او ښکلي سندرغاړي وو. ده د خپل مور او پلار په پله پل کیښود چې دواړه هنرمندان او د تیاترکارکوونکي وو چارلي چاپلین لا د درې کلوکوچنی ماشوم و چې مور او پلار یې یو له بل څخه جلا شول. د چارلي چاپلین روزنه د مور په غاړه شوه. پلا ر یې له چارلي سره اړیکې کمې کړې. په چارلي او په مور یې د بدمرغۍ شپې او ورځې راغلې او د چارلي چاپلین د وړکتوب د ناز او نخرو عمر په خوارۍ او غریبۍ کې تېر شو. بیا هم د چارلي مور خپل همت له لاسه ورنه کړ، شپې او ورځې، میاشتې کلونه تېر شول، یوه ورځ یې مور په تیاتر کې د سرتیرو لپاره په ژوندۍ بڼه پروګرام وړاندې کاوه. سرتېرو هغه څه چې په صحنه کې موجود و، د صحنې پر لور غورځول. ناڅاپي یو توکی د چارلي د مور پر سر ولګیده او مور یې په سرو وینو ککړه له صحنې څخه ووتله او په روغتون کې بستر شوه، خو پر ځای یې پنځه کلن چاپلین هغه مست او عصبي نندارچیان په خپلو زړه وړونکو او ښکلو سندرو ارام کړل. له همدغه ځایه د چارلي د موسیقي او فلم جوړولو وخت پیلیږي. چارلي د خلکو په زړونو کې ځای پیدا کوي. له همدغه مهاله د چارلي له کورنۍ څخه بدمرغي کډه کوي او په هغه ستر سالون کې کار پیلوي چې مور او پلار یې په کلونو کلونو پکې د تیاتر ننداره وړاندې کړې وې. چارلي هم پکې داسې رول ولوباوه، چې د ټولو خلکو په زړونوکې یې زیات محبوبیت پیداکړو. له څه مودې وروسته یې د استون په نامه یو فلم جوړونکي شرکت سره کار پیل کړ. لومړی فلم یې کمیدي و چې د ژوند جوړولو په نوم و. ددې فلم په جوړېدو سره لا یې نور هم شهرت تر لاسه کړ. په ۱۹۱۴ م کال چاپلین نوموړې کمپنی ته دوه نور فلمونه هم جوړ کړل. له دې فلمونو جوړولو نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ژوند داسې ليکي:
ما د جامو د څېړولو کومه مفکوره نه درلوده. هغه جامې چې په لومړي فلم کې مې درلودې نه مې خو ښېدې. د لباس خرڅولو خونې په لارکې دې پایلې ته ورسېدم، چې یو لوی پرتوګ او لوی بوټونه او ځانګړې خولۍ پرسرکړم. باید زما ټول شیان یو له بل سره مخالف وي، تنګه کورتۍ، لوی بوټونه او کوچنۍ خولۍ. خو زه نه پوهېدم چې ځوان ښکاریدم که نه. کله چې ما دا جامې واغوستې خپلو جامو ما ته یو ځانګړی احساس راکړ .
چارلي د هنر په نړۍ کې زیات فلمونه د تیاتر ننداریې ته وارڼدې کړې او د نړۍ زیاتو هېوادونو ته یې سفرونه کړي او په دغه برخه کې یې د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې زیاتې جایزې هم ترلاسه کړي دي.
د چارلي چاپلین وروستنی فلم ( کنـــــتسي از هنګنګ) نومیږي، چې په ۱۹۶۷ زیږدیزکال کې یې جوړکړی دی. د دغه فلم ځینې نیمګړي ټکي درلودل، نو له همدې امله یې کارګرداني دومره بریالۍ نه وه. پاتې دې نه وي چې په چاپلین باندې په وړوکوالي کې ډېرې سختې شپې او ورځې تېرې شوې وې. دده ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې له غریبو او بېوزلو سره خورا زیاته همدر دي در لوده او په هره برخه کې به یې ورسره همکاري کوله.
چارلي چاپلین د ۱۹۷۷زیږدیز کال د دسمبر په ۲۵ نېټه ومړ. چاپلین یو داسې هنرمند و چې په خپلو ټولو فلمونو کې یې خیالي انځورونه خپلې بشري ټولنې ته وړاندې کړي دي. د څو فلمونو نومونه او د جوړښت نېټې یې په دې ډول دي.
ولګرد: ۱۹۱۵، دنده: ۱۹۱۵، بانک : ۱۹۱۵، شپه په ننداره کې: ۱۹۱۵، د پلورنځیو څېړنه: ۱۹۱۶، یو ساعت سهار: ۱۹۱۶، ارامه دښته:۱۹۱۷، کډوال: ۱۹۱۷، د یوسپي ژوند:۱۹۱۸، د پلار زوی: ۱۹۲۱، پاریسي ښځه: ۱۹۲۳، د طلا پلټونکي:۱۹۲۵، د ښار روښنايي ګاني:۱۹۳۱، نوی عصر: ۱۹۳۶، لوی دیکاتور: ۱۹۴۰
په نیویارک کې سلطاني: ۱۹۵۷ او داسې نور زیات شمېر فلمونه یې ولیکل او خپلې ټولنې ته یې وړاندې کړل چې د هر فلم په وړاندې کولو سره یې د خلکو په زړونو کې لا زیات ځای وموند.

**اخځلیکونه:**

ــ نړیوالې نامتو څېرې

ــ نړۍ ادبیات، لیکوال امیرجان د ښووونې او روزنې د پوهنځي استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | نشه يي توکي (هيروين) | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– په عمومي توګه به د نشه يي توکو پر زيانونو او د ځوانۍ د پړاو پر حساسيتونو وپوهيږي.<br>– د نشه يي توکو له کاروني څخه به يې کرکه پيدا شي.<br>– نور ځوانان به د نشه يي توکو پر زيانونو وپوهوي او پر نشې د روږدي کېدو مخه به يې ونيسي.<br>– په خپل کلي او ګاونډ کې به له کروندګرو سره مرسته وکړي چې د کوکنارو او چرسو د کرکيلې پر زيانونو يې وپوهوي او په دې توګه د هغوی د کرلو مخه ونيسي.<br>– د ليک او لوست ژبه به يې پياوړې شي.<br>– د لوست د پای فعاليتونه به په يوازې سره ځواب کړای شي. | |
| د تدريس لارې | لوستل، ليکل، پوښتنې او ځوابونه، ډله ييز او يو کسيز فعاليتونه. | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوی توکي | درسي کتاب، توره تخته، تباشير، کتابچې، قلم او د امکان په صورت کې پر نشې د روږدو کسانو عکسونه | |
| د ارزولو لارې او وسيلې | شفاهي ارزونه، پوښتنې، ډله ييز فعاليتونه او د آزادې سيالۍ فعاليتونه او نور | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظيم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخيستل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقيقې |
| د انګېزې رامنځته کول | د نشه يي شخص د ژوند او حالت د انځورولو او د يو زده کوونکي له خوا پر نشې د يو روږدي شخص د تمثيل له لارې د لوست پيلول. | ۶ دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | ۳۵ دقيقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی په روانــي لحـاظ د ځـوانۍ د دورې پـر حساسيتونو غږيږي او په دې پړاو کې پــه اســانه د ځوانانو د انحراف په اړه معلومات وړاندې کوي.<br>– ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د نشې او پر نشې باندې د روږدو انسانانو پــه اړونــد خپــل معلومات نورو ته وړاندې کړي.<br>– ښوونکی له زده کوونکو غواړي چې پر نشه يي توکو باندې د روږدی کېدو د لاملونو پــه اړونــد خپــل نظريات وړاندې کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نيــسي او دې ټکي ته پام کوي چې څنګه د ځوانۍ په پړاو کــې يــو ځوان ژر او اسانه ښوييدلای شي.<br>– زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې ســره ســم د ټولګي مخې ته راځي او د نشې او يا پر نشې باندې د روږدي شخص په اړه خپلې تجربې بيانوي.<br>– زده کوونکي په خپل وار د خپلو تجربو له مخــې پــر نشې باندې د روږدی کېدو لاملونه بيانوي او خبــرې اترې پرې کوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښوونی زده کوونکو ته د نشه يي توکو پـر زيـانونو خبرې کوي او يو په يو يې ورته بيانوي. ښـوونکی د نشه يي توکو د بېلا بېلو ډولونو نومونـه اخلـي او د هغې له جملې څخه هيرويين زده کوونکو ته وروپېژني.
- ښوونکی لوست پر زده کوونکو لولي.
- ښوونکی د لوست لنډيز وړاندې کوي او د نشه يـي توکو بدني، اخلاقي، اقتصادي او ټولنيز زيانونه په ډېر څرګند ډول زده کوونکو ته بيانوي.
- ښوونکی له زده کوونکو غواړي چې په ټولنه کې پـر نشې د يو روږدي شخص د ټولنيز دريځ په اړه خبرې وکړي.
- ښوونکی په ټولګي کې د زده کوونکو يـوه غونـډه جوړوي او د کتاب له دريم فعاليت سره سم يې پـر مخ وړي.
- ښوونکی له زده کوونکو غواړي ووايي چې په خپـل چم او ګاونډ کې څنګه د کوکنـارو د کرکيلـې د مخنيوي په اړه د کروندګرو قناعت ترلاسه کـولای شي.

ښوونکی د هر درسي ساعت په پای کې د لوست په اړوند کورنۍ دنده ورکوي.

- زده کوونکي پر دې ځانونه پوهوي چې د نـشه يـي توکو په کارونې په ټولنې کې رنګارنـګ اخلاقـي او جنايي جرمونه پيداکيږي، جسمي، ذهنـي او اخلاقـي روغتيا له منځه وړي، فردي شتمنی په اوبو لاهو کوي او آن ټوله ټولنه له خطر سره مخامخ کوي.
- زده کوونکي لوست لولي او د هيروييـنو او د هغـې د زيانونو په اړوند خپل معلومات پراخوي.
- زده کوونکي ښوونکي ته غوږ نيسي او د نشه يي توکو د ناوړو پايلو او زيانونو په اړه خپله پوهه پراخوي.
- څو تنه زده کوونکي پر نشه يي توکو د روږدي شخص د ټولنيز دريځ په اړه خبرې کوي.
- زده کوونکی د ښوونکي له لارښوونې سره سم غونډه جوړوي، د غونډې مشر، د مشر مرستيال، منـشي او وياند ټاکي. څو تنه زده کوونکي د نشه يـي توکـو د کرکيلې، سوداګرۍ، لېږد رالېږد او پر هغې د روږدي کېدو په اړه مقالې ليکي. غونډه جوړيږي او له معمول سره سم يې کار پر مخ ځي. يو تن زده کوونکی په پای کې د غونډې بهير ارزوي او د پريکړه ليک په وړاندې کولو غونډه پای ته رسيږي.
- زده کوونکي په دې اړه فکر کوي چې څنګه کـولای شي کروندګرو ته قناعت ورکړي په خپل کروندو کې د کوکنارو او چرسو له کرکيلې لاس واخلي.
- زده کوونکي د کورنۍ دندې په اخيستلوځانونه پوهوي او په خپلو کورونو کې يې سر ته رسوي.

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

هيرويين سپين رنګ ته مايله قهوه يي رنګه ماده ده چې له مورفينوڅخه لاسته راځي. هېروين د هغو نشه يي توکو پـه ډلـه کې راځي چې د روږدي کېدو خطر يې ډېر لوړ دی. هيرويين د مورفينو له تقطير څخه لاس ته راځي. هيرويين يې لـومړي په طبابت کې د مورفينو پر ځای کارول. کله چې څرګنده شوه دا مواد له مورفينو څخه هم خطرناک دي، نو د هغې پـر جوړولو او کارولو يې بنديز ولګاوه. دا داسې وخت و چې ډېر خلک پرې روږدې شوي وو. روږدو خلکو هغه پـه بـېلا بېلو ډولونو کارول، لکه څکول، تر پوستکي لاندې او په رګ کې پيچکاري کول او نور. هيرويين، مـورفين او اپـين د انسان بدني او فزيکی وړتيا او جنسي قوه لومړی کمزورې کوي او بيا يې له منځه وړي. پر هيروييینو اتيا سلنه خلک پـر دې ناروغيو اخته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– په ۱۳٦ مخ کې د نشه يي توکو د لوست په پای کې، له فعاليتونو وروسته د پيرمحمد کاکړ د شعر په اتم بيت کې، «ګازر» د دوبي او جامو پريمنځونکی په معنا دی.

**اضافي معلومات:**

هيرويين د مورفين له کورنۍ څخه دي. د استيلاسيون او سرکې په زياتولو يې له بوی څخه مخنيوی کيږي. دا ماده ډېره ترخه او بې بويه ده. دا توکي د سختو او قوي مرګوني نشه يي توکو له ډلې څخه دی او له ترياکو څخه لاسته راځي. کيماوي نوم يې "دای استيل مورفين" دی. نوموړی توکي لومړی ځل په ۱۸۷۴م کال د يو انګليسي عالم له خوا کشف شو. په ۱۸۹۰م کال يو شمېر نورو الماني عالمانو پر نوموړې ماده باندې څېړنې او تحقيقات ترسره کړل. د څېړنو په پايله کې ثابته شوه چې له دې مادې څخه د انسانانو د ځينو ناروغيو، لکه: نري رنځ، د تنفسي سيستم په خرابوالي او نورو ناروغيو د درملنې لپاره کار اخيستل کيږي. په ۱۹۹۰م کال کې هيرويين د اغيزمنې درملنې په توګه پر مورفينو باندې د روږدو کسانو لپاره وکارول شول. ترياک لومړی پر مورفينو او وروسته په هېرويينو بدلېږي. مورفين له ترياکو څخه تقريبا سل ځلې او هيرويين له مورفينو څخه تقريبا څلور پنځه ځلې قوي دی. له همدې کبله هيرويين د ډېر خوږ او درد د له منځه وړلو لپاره د قوي نشه يي توکو په ډله کې شمېرل کېږي. استعمال يې خورا زيات خطر لري، ځکه چې په اسانۍ سره سړی روږدي کولای شي. که چېرته په دغو ناوړو زيان رسوونکو توکو اخته کسان ۳٦ ساعته د دغو توکو له کارولو څخه بې برخې شي، د ډېر سخت رېږدل ورته پيدا کيږي او آن ټول بدن يې بې واکه او بې حاله کيږي او رمباړې وهي. خو ب دومره پرې غالب وي چې په شپو شپو يې سر له بالښته نه پورته کېږي. کله خو په دغه حالت کې له مرګ سره هم مخامخ کېږي. په ډېره لږه موده کې له ورځني ژوند څخه وروسته پاتې کېږي او د ټولنې پر اوږو بېتې کېږي. هيرويين له کوکنارو څخه د نورو جوړو شوو نشه يي توکو، لکه اپين، مورفين او کودين په څېر د بدن د بېواکه کولو او سستۍ راوستلو اغېز لري. هيرويين په بدن کې د تودوخې احساس رامنځته کوي، چې لامل يې د ځينو رګونو پړسېدل دي. همدا راز قبضيت هم رامنځته کولای شي. د هېروينو ډېر کارول د بېسدۍ (کوما) او تنفسي جهاز د کار د پر ېنبودلو په صورت کې د مرګ لامل کېدای شي.

د هيروينو د ډېرې کارونې له امله د بدن اړتيا ډېرېږي او لږه اندازه بيا نه بس کيږي. اخته کس د لازم اغېز د ترلاسه کولو لپاره د هيرويين زياتې اندازې ته اړتيا پيدا کوی او يا يې بايد د کارولو طريقه بدله کړي. دا د هېرو ينو يوه ډېره خطر ناکه او بده ځانګړتيا ده. ځيني خلک د اغېز د درجې د لوړولو اويا د چټک اغېز د ترلاسه کولو په خاطر هيرويين په رګ کې پيچکاري کوي. دا کار کېدای شي چې د وينې د زهري کېدو، د دانو د راختلو او پړسوب د رامنځته کېدو لامل شي. پردې سربېره د هيروينو کارول ټولنيز او اقتصادي زيانونه، ډول ډول فزيکي او رواني ناروغۍ رامنځته کوي. دلته د يو څو هغو نومونه اخلو:

د ايډز او ژيړي ناروغي، د زړه د ټکان لوړېدل، د وينې فشار لوړېدل، د سترګوکمزوري کېدل، د بدن د وزن ټيټېدل، د فزيکی وړتيا له منځه تلل، له خلکو ګوښه کيدل، د حافظې کمزوي کېدل، د معدې کوچني کيدل، د بولي سيستم ګډوډي، پر سخت نس ناستي اخته کيدل، د لټې او کمزورۍ احساس، له پزې او سترګو څخه د اوبو تلل، شهواني وړتيا له منځه تلل.

**اخځليکونه:**

د درملو او نشه يي توکو په اړه اساسي معلومات، د نوي کور او نوي ژوند د لسمې کليزې په وياړ.

د نشه يي توکو په زيانونو پوهېدل، د چاپ کال ۱۳۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوویشتم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | درواغجنه ونه | |
| **د زده کړې** **پوهنیزې، مهارتي، ذهنیتي موخې** | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– د درواغو او نورو ناوړو اخلاقو پر زیانونو به وپوهیږي.<br>– له ښکو اخلاقو سره د مینې او له بدو هغو څخه د ژغورولو وړتیا به پکې پیدا شي.<br>– د ټولنې د یو سالم غړي په توګه به ښکمرغه او سوکاله ژوند ولري.<br>– د وینا او لیک ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سر ځواب کړای شي. | |
| **د تدریس لارې** | لوستل، لیکل، سوال او ځواب، انفرادي او ګروپي فعالیتونه | |
| **د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي** | کتاب، تخته، تخته پاک، تباشیر او مارکر | |
| **د ارزولو لارې او وسیلې** | شفاهي پوښتنې او ځوابونه او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| **د زده کړې او تدریس فعالیتونه** | روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخیستل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقیقې |
| **د انګېزې رامنځته کول** | له زده کوونکو څخه د ورته ولسي کیسو په اوریدلو «لېوه او شپون» او د «درواغو مزل لنډ دی.» د متل د تشریح له لارې دې په نوي لوست پیل وشي. | ٦ دقیقې |
| **د ښوونکي فعالیتونه** | **د زده کوونکو فعالیتونه** | **۳۵ دقیقې** |
| – ښوونکی زده کوونکو ته د ښو او بدو اخلاقو او د هغوی د پایلو په اړه معلومات ورکوي؛ په هر فرهنګ کې د ښو اخلاقو او بدو اخلاقو تر منځ توپیرونه ورته څرګندوي او هغه ناوړه اخلاق، چې په ټولو فرهنګونو کې یوشان دي، لکه: دروغ، ټګي، چل ول، منافقت، غلا، د ژمنې نه سرته رسول، ... په ګوته کوي. | – زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نیسي، د دروغو، خیانت، درغلۍ او نورو ناوړو اخلاقو پر زیانونو ځانونه پوهوي. هڅه کوي هم پخپله او هم خپل ملګري او شاخوا خلک د ښکو اخلاقو پر ګټو او د بدو اخلاقو پر زیانونو وپوهوي. | |
| – ښوونکی له زده کوونکو غواړي چې که کومه اخلاقي کیسه یې زده وي د ټولګیوالو دمخه دې ووایي. | – بیا دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او یوه اخلاقي کیسه نورو ته اوروي. همدا راز له کیسې څخه په لاسته راغلی پند رڼا اچوي او نور زده کوونکي پرې خبرې ترې کوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| – ښوونکی په لوست کې راغلې کيسه زده کوونکو ته کوي، له کيسې څخه په لاسته راغلي عبرت ټينګار کوي او زده کوونکي پرې پوهوي. | – زده کوونکي ښوونکی ته غوږ نيسي او کيسې ته ښه پام کوي او ګوري چې دروغ او خيانت څه پايلې لري. |
| – ښوونکی د دراغجنې کيسې لوست يو يو پراګراف پر زده کوونکو لولي. | – زده کوونکي د ښوونکی په لارښوونه يو يو پراګراف لوست لولي. |
| – ښوونکی څو تنه زده کوونکي په وار سره د ټولګي مخې ته راغواړي چې کيسه په خپله ژبه نورو ته ووايي. | – څو تنه زده کوونکي په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راځي او کيسه وايي. |
| – ښوونکی دوو تنو زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د ټولګي مخې ته راشي او د پوښتنو او ځوابونو په ډول کيسه له يو بل وپوښتي. لکه: جمال او کريم چېرته تللي وو؟ څه شی ترې ورک شوی و او ولې؟ د زړو سکې چا وموندلې؟... | – دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د ټولګي مخې ته راځي او له بېلګې سره سم ټوله کيسه د پوښتنو او ځوابونو په څېر په خپل منځ کې د ډيالوګ په توګه وايي. د ټولګي ټول زده کوونکي د فعاليتونو به ځوابولو کې ونډه اخلي او خپله وينا او خبرې تمرينوي. |
| – ښوونکی دې په وار سره د لوست د پای فعاليتونه په ټولګي کې په زده کوونکو سرته ورسوي او په خپله دې مرسته ورسره وکړي. | – څلور تنه زده کوونکي د ټولګی مخې ته راځي او د ښوونکي له لارښوونې سره سم د نېکو او بدو اخلاقو په اړه دوه، دوه دقيقې خبرې کوی. |
| – ښوونکی په وار څلور تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي چې دوه تنه يې د نېکو او دوه تنه نور يې د بدو اخلاقو په اړه دوه، دوه دقيقې خبرې وکړي. | – څلور تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي، دوه تنه يې د نېکو او دوه تنه يې د بدو اخلاقو په اړه خبرې کوي او بېلګې يې وړاندې کوي. |
| – ښوونکی يو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته رابولي چې د درواغو د ناوړه پايلو به اړه خبرې وکړي. | – يو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته راځي او د دروغو په ناوړو پايلو خبرې کوي. دا متل څېړی، چې وايي: «هرڅه چې خام وي پخيږي، خو چې انسان يو ځل خام شو، بيا نه پخيږي.» |
| – ښوونکی زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي چې د اخلاقو په اړه څو کرښې ادبي ليکنه وکړي. د لوست د پای کورنۍ دنده دې د اوونۍ په وروستي درسي ساعت کې ورکړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي او په ډېره ښه ادبي ليکنه کې يې سرته رسوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فعالیتونو په اړه معلومات او د پوښتنو ځوابونه.**

**د شپون او لېوه کیسه**

یو وخت یو شپانه د خپل ساعت د تیرولو لپاره د رمې د څرولو پرمهال چیغې او نارې سورې پیل کړې: «ای خلکو، لېوه راغلی، لېوه. ټول پسونه یې راځخه وداړل.» خلک لرګي، ټوپکونه او نور وسایل په لاس راغلل، ګوري چې لېونه نشته او شپون خاندي.

بله ورځ یې بیا دا سې نارې سورې پیل کړې: «او خلکو، د خدای لپاره. ژر راشئ چې لېوه مې میږې وخوړلې.» خلک راغلل. دا پلا هم لېوه نه و او خلک بېرته په غوسه ولاړل.

د خدای کارونه و، بله ورځ په رښتیا لېوه راغی. د رمې سپی یې هم وداړه، څو پسونه یې ټپي کړل او یو یې له ځانه سره کش کړ. شپون ډېرې نارې سورې ووهلې. «ای خلکو، د خدای لپاره! لېوه راغی، ټول پسونه او میږې یې وداړلې، راشئ، مرسته وکړئ.» هیڅوک یې مرستې ته رانغلل. شپون په خپله غلطۍ پوه شو او په خپل کار پښېمان شو، خو ګټه یې ونه کړه او دا تاوان یې وکړ چې تر پایه یې چا په خبره باور نه کاوه.

****

دروغ له کورنۍ پیلیږي. هغه مهال چې د کورنۍ غړي، مور، پلار او نور مشران د کوچنیانو په مخ کې په ډېرو عادي خبرو کې دروغ ووايي، نو ماشوم یې زده کوي. لکه مور له کوره بهر وځي. ماشوم ته وايي، «روغتون ته ځم یا فاتحې ته ځم، ...» او له راستنیدو وروسته بیا د بل ځای د تګ کیسه ورته کوي، نو ماشوم ور ته پام کوي او په زړه کې یې ګرځي چې مور یې ورته دروغ ویلي دي. یا دروازه ټکیږي، پلار نه غواړي چې میلمه وګوري، نو ماشوم ته وايي، «ورشه ورته ووایه چې پلار مې په کور کې نشته، چېرته تللی دی.» دا او داسې نور هغه لارې چارې دي چې ماشومان یې له مخې د دروغو ویلو چل زده کوي.

****

دوه مخي منافقت دی. متل دی چې وايي: «غل ته وايي، غلا کوه، کور والا ته وايي بیدار اوسه!» دوه مخې یا منافقت له زړه سره د خولې نه سمون او ملګرتیا ده. په زړه کې یو څه وي او په خوله بل څه وايي. منافقت او دوه مخې ناوړه عمل دی، د سړي وقار او شخصیت ته زیان رسوی.

****

**اضافي معلومات**

لنډه کیسه داسې پېژندل شوې ده:

«لنډه کیسه هغه ده چې مرکزي پېښه پکې د لمر حیثیت لري، نورې پیښې د ستورو په شان د هغه په شاوخوا ګرځي او په هغې پورې تړلې وي چې په اصل کې ټول یوه منظومه جوړوي.»

«لنډه کیسه هغه ده چې لنډه وي.» او نور.

له کو م وخت نه چې انساني ژوند پیل شوی له همغې ورځې سره سم کیسې او داستان هم پیل شوي دي. تر ننه د ټولو انسانانو د ژوند د مثبتو او منفي خواوو کیسې له یو نسل نه بل نسل ته سینه په سینه رانقل شوي او په دې وروستیو کې په لیکلي ډول مونږ ته رارسیدلي. لومړی د فولکلوري کیسو په راټولولو پیل شوی. دا کیسې ډېرې لرغونې او لومړنۍ کیسې وې چې اوس یې هم په ځینو ځایو نو کې بیلګې ترسترګو کېږي اوپه دغو کیسو کې د هماغه وخت د انسانانو فکرونه، تحلیلونه او د هماغه وخت کړه وړه مونږ ته بیانوي. داچې داخبره ثابته شوه چې کیسې له پخوانه شته دي، نو ښکاره ده چې اوسنی لنډ ې کیسې هم د پخوانو کیسو زیږنده دي خو په ځینو تو پیرونو سره. لومړنی لنډ ه کیسه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوید یځ کې دود شوه اوپه هماغه ځای کې یې ادبي اوهنري شکل ترتیب شو اوځانګړی فني چو کاټ ورته وټاکل شو. او په شرق کې د زړو اریایي کیسو ټولګه چې (پنجا تنترایا پنجا کیانه) نومیږي ډېره مشهوره ده چې د نړۍ په زیاتوژبوهم ژباړل شوې ده. له اروپایي اولوید ځې ټولنې څخه وروسته په پښتو کې دلسمې پیړۍ نه راپدې خوا په لیکنی بڼه نثري کیسې لید ل شوي چې له نن څخه تقریبا درې ، څلورسوه کاله پخوا لیکل شوي اوله اوسنۍ لنډې کیسې سره ډېر مشترکات هم لري اود دغو زړو کیسو بڼه بېلګه (ورک زوی څنګه پیداشو) کیسه ده چې د پښتو ژبې د لرغونو کیسو د شتوالي پخلی کولی شي.

اوس را ځو ګورو چې پښتو ژبې ته کله او څه وخت په دغې نوې بڼې سره لنډ ې کیسې لاره پیدا کړه او لومړنی لیکوال یا ژباړونکی څوک و؟

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه لنډه کیسه دلومړي ځل لپاره په ارو پایي ټولنه کې په (۱۸) پیړۍ کې منځته راغله چې وروسته یې بیا اردوادب ته مخه کړه او داردو ادب نه پښتو ژبې ته د ژباړې په ډول رادننه شوه. چې لومړنی سرلاری یې په کوزه پښتونخوا کې اروا ښاد سید راحت زاخیلی و. لومړنۍ کیسه یې( شلېدلې پڼه) نومېدله. له ده څخه وروسته دغې برخې ته زیاتو لیکوالو مخ ورواړاوه چې د څو تنو نومونه یې په دې ډول دي. لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي، ماسترعبدالکریم، مهدي شاه مهدي، همیش خلیل، یوسف کاکاخیل، منشي احمدجان، زیتون بانو...چې هر یو یې زیات شمېر لنډې کیسې لیکلي اوچاپ کړي او د مینه والو ادبي تنده یې پرې ماته کړې. اوس د لنډې کیسې د موضوعاتو لمن ډېره پراخه شوې ده او ټول هغه څه، چې انسان ورسره په بشري ټولنه کې په یوه اوبله بڼه مخامخ او په انساني ژوند پورې اړه لري، انسان یې د خپلې پوهې او عقل په مرسته د درک او احساس ځواک لري، د لنډې کیسې موضوع ګرځیدای او لنډه کیسه پرې لیکل کېدای شي. د لنډې کیسې د جوړښت اساسي توکي عبارت دي، له:

۱پلاټ – خاکه – طرحه ۲ پیلامه – ۳ کرکټر(کردار) یا کرکټرونه – ۴ سپنس (تجسس) یا ذهني هڅه او تلوسه – ۵ مکالمې او منظرکشي– ٦ تخیل (خیال پردازي) – ۷ د کیسې پایله او انتباه. دا هغه ضروري ټکي دي چې د لنډې کیسې لیکوال یې باید په نظرکې ونیسي. دلته به هره برخه په لنډ ډ ول در وپیژنو.

پلاټ (طرحه– خاکه):

په کیسه کې د راغلې پېښې او واقعې طرحې ته خاکه "پلاټ" ویل کیږي. د ځینو لیکوالو په اند پلاټ د ملا تیرګنډل کېږي. او د کیسې ټول کړه وړه که ښه وي که بد، په پلاټ پورې اړوندېږي. ضروري نه ده چې په لنډه کیسه کې کومه واقعه پیښه شوې وي، خامخا دې واقیعت ولري. هره پیښه چې پکې راځي که د لیکوال ذهني پیداوار او تخلیق هم وي، حقیقت ته نږدې وي، چې لوستونکي یې لولي نوخامخا به همداسې شوې وي.

**دکیسې پیلامې:**

د هرې چارې پیلامه تر ادامې ګرانه او مشکله وي. باید له پوره غور او فکر نه پکې کار وا خیستل شي. ددې سره سره پیلا مه زیاتره لیکوالان د خپل ذوق له مخې کوي. خو ځینې داسې لارې چارې شته چې اوس هغه معیارګرځیدلي دي. خو ځیني لیکوال په دې عقیده دي چې د لنډې کیسې پیلا مه باید په داسې زړه راښکونکو جملو او ټکو پیل شي، ویونکی دې ته اړ کړي چې کیسه ترپایه پورې ولولي، خو په ادبي، هنري لیکنو کې دا کار په دوو لارو معمول دی. یوه لاره داده چې کیسه له پای نه شروع کوي او د لیکنې په فني او هنري مهارت پیل ته راځي او بیا په کیسه کې د شاملې موضوع پیښه بشپړوي. بله لاره داده چې لیکوال د کیسې د ټولو نه غوره مکالمه یا په واقعه او پیښه کې حساس ټکي لومړی بیان کړي او بیا دې نورو پیښو تفصیل. ګټه یې داده چې په لوستلو سره یې ویونکي ته فکري هڅه او تجسس پیداکیږي او تر پایه یې په خورا ذوق او مینې لولي. وچ په وچه د کیسې پیلونه د کیسې خوند له منځه وړي اغیز یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمیږي. راپورتاژیکه بڼه پیداکوي.

**کرکټر یا د کیسې کردار (اتل)**

هغه چاته ویل کیږي چې په خپلو کړو وړو، ویناوو او پیښو کیسه رامنځته کوي. کرکټر له خنډونو سره د مقابلې په میدان کې له مختلفوحالاتو نو سره مخامخ کیږي، غورځي پرځي، خو د خپل توان او وس له پرمختګ څخه لاس نه اخلي. کیدای شي د یوې لنډې کیسې په پیښنه کې زیات کرکټرونه را ښکاره شي، خو مرکزي کرکټر یکې هغه وي، چې د پیښې جزئیات په مجموع کې د هغه په شا او خو را څرخې، د پیښې په جریان کې په ورو راسربېره کیږي اوبیا یوې پایلې ته رسیږي.

**سپنس ( پلټنه او ذهني هڅونه):**

پلټنه او هڅونه، نه یوازې په لنډه کیسه کې، بلکې په هره هنري او ادبي لیکنه کې، لازمي اوضروري توکي دی. لیکوال یې باید په خپل فن او هنر داسې ترتیب راوړي چې لوستونکي او اوریدونکي د لوستنې یا اورېدنې په اوږدو کې یو ډول فکري هڅونې کې را ښکېلوي. غوښتنې او یو ښتنې ورسره پیدا کېږي. داڅه وشول؟ ولې وشول؟ او ددې ترڅنګ یې د راتلونکو پیښنو په اړه لېوالتیا شبېه په شبېه لا پسې زیا تیږي، چې نور به څه وشي. دغه کشمکش له پیل نه ترپایه پورې روان وي. هر څومره چې دا برخه غښتلې او پیاوړې کېږي، هومره د لوستونکي او اوریدونکي مینه او هڅه زیاتیږي.

**مکالمې او منظر کشي:**

مکالمې د مرکزي کردار او نورو فرعي کردارونو په حالاتو رڼا اچوي او کیسه پر مخ بیايي. څومره چې په کیسه کې دغه برخه ځواکمنه وي، هومره کیسه ښه په زړه پورې کیږي. په لنډه کیسه کې مکالمې د ډرامې او ناول په اندول کمې وي د ډرامې په څېر کردار په لنډه کیسه کې پخپله څه نه وایي. بلکې لیکوال له پیښنو سره په ارتباط کې د هغه فکري او ذهني، تولنیز حالت بیانوي او کیسه مخکې بیایي د مکالمو په شان منظرکشي هم کیسه مخکې بیایي، کردارونو ته ښکلا وربښي او د پیښنو طبعیوالی په ګو ته کوي.

**تخیل (خیال پردازي):**

تخیل اوخیال پردازي نه په نورو هنري او ادبي لیکنو کې کار اخیستل کیږي. د خپل ذهني تخلیق پیښې او کردارونه په داسې بڼه وړاندې کوي چې واقیعت ته نژدې وي او په ټولنیز ژوند کې د هغو د کېدو امکانات زیات لیدل کېږي. په دغه برخه کې لیکوال د روانشناس په څېر خیالي شخصیتونه په خیالي فضاکې مخې ته ږدي او د خیالاتو او تصوراتو په رڼاکې په هغو څېړنه او تحقیق کوي. د هغو افعالواعمالو خصلتونو طبیعي تصویر اخلي. که څه هم په هغه کې لږ طبیعوالی هم موجود وي چې انساني ذهن په هغې شکمنوي، کیسه بې خونده کوي او بیا د لیکوالی په خامی او ناکامی دلا لت کوي.

**د کیسې پایله او انتباه:**

هره لیکنه چې لیکوال شروع کوي، پیل، اوج او پای لري. د کیسې کرکټرونه کردارونه، د مکالمې، اعمال، افعالو او منظرکشی په وسیله ورو ورو مخ پروړا ندې ځي. ناڅرګند اړخونه یې څرګند او اچول شوې غوټې ورو ورو خلاصیږي، ترڅو کشمکش وروستي پړاوته ورسیږي. هغه مقصد، اغیز او تاثر چې د کیسې لیکونکی یې نورو ته رسول غواړي، بشپړشي. په دې برخه کې زیات غور په کار دی. د کیسې پایله په داسې ډول وشي چې لوستونکي او اوریدونکي ته کټ مټ شي د حقیقت په څېر وبریښي. لیکوالان د لنډې کیسې پایله په دوه ډوله کوي. لومړی داسې چې لیکونکی، لوستونکي یا اوریدونکي له ځانه سره د تخیل په وزرونو ډېر لوړ لوړ خیژوي او بېرته د نتیجې ښودلو پرځای له هغې لوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| **کشالي سره مخامخ کيږي او د کيسې ليکونکی فيصله د لوستونکو او اوريدونکو قضاوت ته پريږدي.**<br>**دويم ډول، ليکوال په پايله کې هرڅه په پوره صراحت سره وايي او د لوستونکو او اوريدونکو ذهني ذکاوت او ازموينې ته څه نه پريږدي.** |
| **اخځليکونه:**<br>**دليکوالی فن، محقق سيد محي دالدين هاشمي، دويم چاپ.**<br>**پښتولنډه کيسه او ادبي ټوټه، سيد نظيم سيدي، چاپ کال ۱۳۸٦ لمريز.** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ويشتم لوست

## د تدريس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرليکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | ارزاني خويشکی | |
| د زده کړې پوهنيزې، مهارتي او ذهنيتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– ارزاني خويشکی به وپيژني.<br>– د ارزاني د ليکوالۍ او شاعرۍ په اړه به معلومات تر لاسه کړي.<br>– د ارزاني د پوهې، ليکوالۍ او شاعرۍ په اړه به نورو ته معلومات وړاندې کړای شي.<br>– د ارزاني نظم به روان ولوستلای شي او په معنا او مفهوم به يې وپوهيږي.<br>– د ارزاني چاپ شوي اثار به وپېژني.<br>– په خپلواک ډول به د متن د پای فعاليتونه حل کړای شي. | |
| د تدريس لارې | لوستل، پوښتنې او ځوابونه، وينا او خبرې اترې | |
| د تدريس وسيلې او مرستندوی توکي | کتاب، تخته، تخته پاک، تباشير، د امکان په صورت کې ټولګي ته د ارزاني د ځينو اثارو راوړل | |
| د ارزولو لارې او وسيلې | شفاهي پوښتنې او ځوابونه او د ښوونکي د يادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدريس فعاليتونه | روغبړ، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظيم، د کورنۍ دندې کتل، د حاضرۍ اخيستل او د تېر لوست ارزونه | ۴ دقيقې |
| د انګېزې رامنځته کول | روښاني پير ته په کتنې او د روښان په ګډون د هغه پير د څو تنو شاعرانو د نومونو ا خيستلو او د هغه وخت د وضعې او حالت د بيانولو له لارې او يا د ښوونکی د شخصي تجربو له مخې د نوي لوست پر تدريس پيل کيږي. | ۶ دقيقې |

| د ښوونکي فعاليتونه | د زده کوونکو فعاليتونه | وخت |
|---|---|---|
| – ښوونکی په اتم لوست کې روښاني دورې ته په کتلو او د پير روښان او د هغه د لارويانو په اړه د څرګندتياوو له لارې د زده کوونکو په مرسته پر نوي لوست پيل کوي.<br>– ښوونکی له زده کوونکو څخه پوښتي چې د پوهانو، ليکوالو او شاعرانو د ژوند او د هغوی د اثارو لوستل څه ګټه لري؟<br>– ښوونکی لوست د کتاب له مخې لولي. د نظم پر ستونزمنې برخو رڼا اچوي. لغتونه يې معنا کوی او مطلب يې څرګندوي. | – زده کوونکي د کتاب د اتم لوست د معلوماتو له مخې د بايزيد روښان په پير کې د ښوونکي پوښتنو ته ځوابونه وايي او د نوي لوست پيل ته ځانونه چمتو کوي.<br>– زده کوونکي د پوهانو، ليکوالو او شاعرانو د ژوند ليک او د هغوی د ليکنو د لوستلو او پر هغې د ځان پوهولو په اړه خپل نظر له نورو زده کوونکو سره شريکوي.<br>– زده کوونکي ښوونکي ته غوږ نيسي، کتاب ته ګوري، ستونزمنې کلمې او د نظم عبارتونه له ځانه سره ليکي او د لوست په پای کې يې له ښوونکي | ۳۵ دقيقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| – ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي چې لوست لــه ځانه سره ولولي او د نظم پر مفهوم ځانونه پوه کړي.<br>– ښوونکی له زده کوونکو غواړي د ارزاني نظم پــه وار ولولي او د یوه یوه بیت پر معنا او مفهوم خبرې وکړي.<br>– ښوونکی دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخــې تــه را غواړي، یوه تن ته لارښوونه کوي چې د روښان د ادبي سبک په اړه خبرې وکړي او بل تن د روښاني دورې د لیکوالو او شاعرانو د لیک او شعر پر محتوا او موضوع خبرې کوي.<br>– ښوونکی له دوو زده کوونکو څخه غواړي چې پــه وار سره د ارزاني په شعري ځانګړتیاوو خبرې وکړي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته په عمومي توګه پښتو ژبې ته د روښاني غورځنګ پر ارزښت زده کوونکو ته معلومات ورکوي.<br>ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې په کور کې د ارزاني زیږیدنه، مړینه، ځای، شعري ځانګړتیاوې او د ژوند د څرنګوالي په اړه یوه مقاله ولیکي. | پوښتي.<br>– زده کوونکي لوست له ځانه سره لولي او پر مفهـــوم یې ځانوه پوهوي.<br>– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي پــه لارښـــوونه د ارزاني نظم لولي او پر مفهوم یې خبرې کوي.<br>– دوه تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي، یــو د روښان د ادبي ســـبک او بـــل د روښـــاني دورې د شاعرانو او لیکوالو د لیک او محتوا په اړه خبـــرې کوي.<br>– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې ســـره سم د ارزاني په شعري ځانګړتیاوو او له پښتو ژبـــې سره د ارزاني د مینې په اړه خبرې کوي.<br>– پښتو ادبیاتو ته د روښاني دورې ارزښت څــه شـــی دی؟ زده کوونکي پر دې ارزښت ځانونه پوهوي.<br>– زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه په کورونو کې خپله کورنۍ دنده سرته رسوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

* ښاغلی ښوونکی دې د مهربانۍ له مخې په درسي کتاب کې د ارزاني دا بیت:

نن کامل لره وردرومه  د خپله چار کړه سرانجامه،

پر دې بیت:  نن کامل لره وردرومه  خپله چار کړه سرانجامه،  سم کړي او له «د خپله چاره» څخــه دې «د» وباسي.

دا فلک دایم په رقص، کله سعد کله نحس: له دې شعر څخه مفهوم د فلک ګرځېدل دي، چې د نجومیانو پــه وینا کلــه انسان ته نېکمرغي راولي او کله هم بد مرغي. له دې شعر څخه څرګندیږي چې ارزاني د نجوم په علم کې لاس درلود.

**اضافي معلومات:**

د پیر روښان په مریدانو کې ډېر شاعران تیر شوي دي. د ځینو دیوانونه لاسته راغلی او چاپ شوي او د نـــورو یـــوازې یوڅو نمونې حالنامې خوندې ساتلې. د حالنامې له مخې نوموړي شاعران په دې ډول دي:

خلیفه مودود، حاجي ګدای سړبنی، داود درویش، ابابکر، خواجه محمد، علي محمد مخلص، ارزاني، دولت، واصـــل او نور.

ارزاني د پیر روښان د ملی مبارزې او نهضت د لارې یو تکړه مجاهد او یو پوه عالم و چې د با یزید غوندې یې په څلورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو (پښتو، پاړسي، عربي او هندي) ليکل او لوستل کولای شول.
د ارزاني د زيږيدو ځای او نېټه په تذکرو او تاريخونو کې په روښانه توګه نه ده څرګنده شوې، يوازې دومره پته شته چــې هغه د پنجاب په قصور ښار کې اوسيدلی دی. ارزاني د خپل وخت دوديزې زده کړې په هند کې سرته رســولي او بيــا د خپلو ورونو (ملا علي او ملا عمر) سره يو ځای د پير روښان په مخلصو مريدانو کې شامل شوی، په ملی نهضت کې يــې ټينګ ملګرتوب کړی او د روښان د مفکورې د خپراوي لپاره يې هلې ځلې کړي دي.
ارزاني په قام سړبن، څمند، خيشکی دی. ( خيشکی، خويشکی) په لومړي سر کې د ارغستان د علاقې اوســيدونکي وو، خو د زمانې د ځينو مسايلو له کبله په مهاجرت مجبور شوی دی، چې ځينې يې له پښين څخه ملتان ته ولاړل او هلته اباد شول. ځينې د غزني په شاوخوا کې ميشته شول، بيا له غزني څخه کابل ته او بيا له دې ځای څخه غوربند ته کوچيدلی او هلته اباد شوي دي چې تر اوسه پورې يې خپل کلتور او ژبه ساتلې ده. همدا ډول يو شمېر د کندهار د ارغنــداب پــه ولسوالۍ کې استوګنه لري. په هندوستان باندې د بابر د ورووستۍ حملې په لښکر کې د نورو پښتنو قبيلو په څنــګ کــې خويشکو زياته برخه اخيستې او د پاني پټ په جګړه کې له ابراهيم لودي سره د بابر په مرسته جنګيدلی دي. د خويــشکو د قبيلې کوم خلک چې له بابر سره هند ته تللي وو، تر اوسه په « افاغنه قصوريه» مشهور دي. (وګورئ پښتانه د تاريخ په رڼا کې ۱۳۲٦ مخ)
د خويشکو ځيني خلک په پشين او کندهار کې هم ميشته دي. ددې خلکو څه کورونه د نوښار په تحصيل کې د لنــډې سيند پر غاړه په خيشکی نومي کلي کې استوګنه لري. دغو خلکو هم خپله ژبه او کلتور ساتلی دی.
ارزاني په پښتو ژبه کې د لومړنيو ديوان لرونکو شاعرانو له ډلې څخه د لومړي قطار لومړی شاعر شميرل کيــږي، چــې بشپړ ديوان لري او د زمانې له سيلابونوڅخه خوندي پاتې شوی دي. ديوان (کليات) يې اوس چاپ شوی دی.
د ارزاني د ژوند او زمانې په باب تر هغه وخته پورې معلومات نه و چې د دغه ديوان قلمي نسخه نه وه ميندل شوې. تــر هغې پورې ډېرو اديبوهانو او تذکرو ليکونکو دده په برخه کې ډول ډول نظريې څرګندې کړي دي، خو کلــه يــې چــې ديوان پيدا او وپلټل شو، هلته داسې اسناد راڅرګند شول چې د ارزاني د ژوند پته ترې څرګنده شوه.
د ارزاني د ژوند او شاعرۍ زمانه د لسمې پيړۍ پای او د يوولسمې پيړۍ لومړي وختونه وټاکل شول. د هغه لــه خپلــې وينا څخه د هغه ژوند تر (۱۰۱۰) هــ ق کال پورې يقيني دی.

ارزاني دا کلام کښلی پــه الف تسع سنه دی (۱۰۰۹هــ)

سره له دې چې د ارزاني په باب تذکره ليکونکو اديبوهانو ډېر څه ويلي، خو موږ يې دلته په لنډ ډول سره د يوڅو پوهــانو نظريې رانقلوو:
د ميا روښان مريد او د ديوان خاوند دولت لوانی پخپل ديوان کې د ارزاني شاعرۍ ته داسې ګوته نيولې ده:

بې ميرزا، بې ارزاني، بې مخلص ياره بل شاعر برابر نه دی پښتون ستايو

د خوشحال خان مشر زوی، اشرف خان هجري د دولت تر څنګه ارزاني د خپل دور بلبل بولي او وايي:

ارزاني دولت د خپل دور بلبل و
نن يې وللي زمانې د شعر فرد دی

د لرې پښتونخوا اديب او څيړونکی ښاغلی هميش خليل د ارزاني په باب داسې وايي:
«ارزاني د خپل دور يو فصيح او بليغ شاعر و چې د پښتو نه يې علاوه په فارسي، عربي او هندي کې هم اشعار ويلي او په دغو ژبو کې يې، لکه د پښتو ديوانونه پرېښي دي.»
ښاغلی استاد ښينوا د ارزاني په برخه کې داسې وايي: «ارزاني په پښتو ژبه کې د لسمې هجري پيړۍ له لومړنيــو ديــوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرونکو شاعرانو څخه دی، چې بشپړ دیوان یې د زمانې له افاتوڅخه خوندي پاته شوي دی ... .
ارزاني ته ځکه روښاني ويل مناسب دي چې د بايزيد روښان مخلص مريد او په ملي مبارزو کې د هغه ټينګ ملګری او پخپل ديوان کې یې ځو ځایه بايزيد روښان د (پير) او کامل په نامه یاد کړی دی، د هغه د افکارو د تبلیغ لپاره یې ډېر زيار ايستلی او آن هند ته یې سفرونه کړي دي.» د ميا روښان د ملي نهضت لوی مخالف، اخوند درويزه د ملا ارزاني په باب داسې ليکلي دي:
«ارزاني ډېر ځيرک، تيز فکره شاعر او عالم و، په عربي، فارسي، هندي او پښتو کې به یې شعرونه ويل او د خيرالبيان په ليکلو کې یې لوی لاس درلود.
مشهور انګريز ختيځپوه ميجر هانري جارج راورټي (۱۸۲۵ – ۱۹۰۶) د خپل اثر «د پښتو ګرامر» په سريزه کې يادونه کړې: «دا ملا د بايزيد انصاري له مشهورو، معروفو ادبي معاونانو او مرستيالانو څخه و.»
د ارزاني اثار:
ارزاني په پښتو ادب کې د ډېرو اثارو خاوند دی، خو زياتره اثار یې ورک دي او يوازې د ځينو اثارو نومونه يې ځينو تذکره ليکونکو ذکر کړي دي. کوم هغه ا ثرونه چې د زمانې له سيلابونو او دښمنانو څخه پاتې شوي او تر موږه رارسيدلي، دادي: پښتو اشعارو ديوان: ارزاني په پښتو کې يو بشپړ ديوان لري چې د دغه ديوان څو نسخې په دې وروستيو وختو کې د ادبپوهانو ګوتو ته راغلي او په همدې توګه د ارزاني د ژوند ډېر تياره ګوټونه روښانه شوي دي.
د ارزاني د ديوان يوه قلمی نسخه د ښنوا په ځانګړې کتابخانه کې وه. دغه نسخه دوې برخې لري. په لومړۍ برخه کې یې غزلې او نور او په وروستی برخه کې څلوريزی راغلي دي، چې دا پښتو ادب ته د ارزاني يو ابتکاري خدمت دی. د ارزاني د ديوان بله نسخه په برتش موزيم کې خوندي ده. همدارنګه يوه نسخه یې د پېښور موزيم په کتابخانه کې هم موجوده ده. څلورمه یې د پېښور په پښتو اکاډيمۍ کې شته.
پخپله د ارزاني له خولې د هغه وينا دلته رانقلوو، چې د ديوان په اړه یې ويلې دي.

| | |
|---|---|
| د فقير پښتو ديوان دی | دا ديوان حقانی خوان دی |
| دی ريخته په څلور ژبو | دی بيان په ځو الوان دی |

د ارزاني بل اثر چې اخوند درويزه او پوهاند حبيبي د ( چهار رما) په نامه او مستر راورټي او پوهاند رښتين او ښنوا د ( چهار رساله = چهار رما) په نامه يادکړي دي، خو له بده مرغه دغه اثر لا نه دی موندل شوی.
دارزاني ځينې نور اثار چې يوازې نومونه يې ذکر شوي، د ارزاني بې نومه مجموعه، د حضرت رسول صلی الله عليه وسلم خوب، د ارزاني نثر (هندي، عربي او فارسي) ديوانونه، د ارزاني مکتوبات، مراة المحقيقن او نور په ځينو ليکنو کې ذکر شوي دي.

د ارزاني شعر او شاعري
څنګه چې دمخه اشاره وشوه ارزاني د روښان د مسلک تعليمات او تبليغات د شعر په داسې ژبه بيان کړي چې سړی پرې پوهېدای شی او په دې هنر کې ددغې دورې له شاعرانو څخه مخکې دی. په عمومي توګه د ارزاني د اشعارو شکل په وړوکي سيلاب يعني په اته څپه ييز سيلاب کې ويل شوی دی. د هر بيت يوه مسره يې اته سيلابه راځي. دا يوازې دده د اشعارو خصوصيت دی چې ټول ديوان يې په دغه سيلاب کې ويلی. همدا ډول ديوان په مردف ډول راغلی او غزل، قصيده او څلوريزي پکې ليدل کيږي. ښايي وويل شي په موندل شويو ديوانونو کې ارزاني په پښتو ژبه کې لومړنی ديوان لرونکی شاعر دی، چې د پښتو د اشعارو ډولونه يې دود کړل. بيا وروسته د هغه ملګرو په دغه لار قدم اخيستی او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم پرمخ تللي دي.

د ارزاني د شعر په محتوا کې زياتره برخې تصوفي دي چې اخلاقي او مذهبي افکار يې په پښتو ادب کې داخل کړي او په مسلکي توګه يې د لومړي ځل لپاره د يو ادبي مکتب په څېر تصوف او صوفيزم د شعر په ژبه د سلوک او عرفان د پېچلې فلسفې په کړی کې رانغښتي دي. هغه د خدایﷻ له ذات نه پرته بل هيڅ شی ته قايل نه دی. درې فلسفې، چې خـــدای تر هر څه انسان ته نژدی دی، پيروي،کړې ده او بيايې د شريعت زغره اغوستې او د دين په ساتنه کې جګړې تـــه تيـــار شوی دی.

د ارزاني په ديوان کې کوم شی چې ډېر په زړه پورې ايسي، هغه د شاعر له خپلې مورنۍ ژبې سره مينه ده. هغـــه غـــواړي چې پخپله ژبه پښتو، باندې له خپل قوم سره وغږيږي:

د فقير پښتو ديوان دی　　　　دا ديوان حقاني خوان دی

په پښتو ژبه دی وکښلی　　　　فقير ارزاني افغان دی

★★★★

ارزاني په پښتو وکيښ　　　　دا غزل له يوه واره

سره له دې چې د ارزاني په اشعارو کې د عربي، فارسي او هندي ژبو يو څه اغېز ليدل کيږي او د هغې دليل روښـــانه دی چې په هغه وخت کې د عربي مذهبي ژبه او فارسي درباري او هندي محيطي ژبه وه، خو بيا هم څنګه چې شاعر پـــښتون دی، نو په ديوان کې يې د پښتو زاړه او پخواني لغتونه راغلي دي چې اوس يې کارول کم شوي دي.

ارزاني برسيره په نظم، په نثر کې هم غښتلی و. د روښان د نثر په نسبت د هغه نثر ډېر ساده دی. ډېره سجع پکـــې نـــه ليدل کيږي. د ارزاني د اشعارو له لوستلو څخه څرګنديږي چې د ده په ديوان کې د عربي، فارسي، هندي، ترکي کلمـــو څخه پرته د پښتو زړه پانګه او نګه پښتو کلمې راغلي دي. همدارنګه تصوفي اصطلاحګانې او تصوفي مسايلو د ده ديوان رنګين کړی، چې هم د ادبپوهنې او هم د ژبپوهنې له پلوه يې څېړل اړين دي.

**اخځليکونه:**

د پښتو ادبياتو تاريخ، منځنی دوره.

د پوهاند داکتر زيور الدين زيور ، کال: ۱۳۸۶ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درویشتم لوست:

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | | وخت |
|---|---|---|---|
| د لوست موضوع | د معلولیت عوامل | | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– د معلولیت پر معنا به پوه شي.<br>– د معلولیت عوامل، لکه اکتسابي او مورذاتي، به وپېژني.<br>– د معلولیت د عواملو د مخنیوي لارې چارې به زده کړي.<br>– له معلولانو او معیوبانو سره په چال چلن به پوه شي.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سر ځواب کړای شي. | | |
| د تدریس لارې | یو کسیز، ډله ییز او تمثیلي ... | | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي | کتاب، تخته، تباشیر او کارتونه | | |
| د ارزولو لارې او وسیلې | شفاهي پوښتنې، تحریري پوښتنې، عملي کار، یو کسیزې پوښتنې، ډله ییز کار او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | له سلام، روغبړ، حاضري اخېستلو او کورنۍ دندې له کتلو وروسته د نوي لوست پیلول | | ۴ دقیقې |
| د انګېزې رامنځته کول | ښوونکی لومړی د جګړو د ځاني او مالي زیانونو په اړه خبرې کوي او له زده کوونکو غواړي په دې اړه د بېلګو په وړاندې کولو ورسره مرسته وکړي. بیا معیوبیتونه ورپېژني او د هغوی د مخنیوي لارې چارې په ګوته کوي او په دې توګه لوست پیلوي. | | ۶ دقیقې |
| د ښوونکي فعالیتونه | | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵دقیقې |
| – ښوونکی دې د انګېزې د رامنځته کولو په دوام د جګړې د ناخوالو، په جګړه کې په مالي زیانونو سربېره د بشري زیانونو اړوند معلومات چمتو کړي. د معلولیت عوامل او د هغې د مخنیوي لارې چارې دې زده کوونکو ته وروپېژني.<br>– ښوونکی دې له زده کوونکو وپوښتي چې ماین څه شی دی او څنګه ترې ځانونه ژغورلای شو.<br>– ښوونکی دې د لوست متن پر زده کوونکو ولولي. | | – زده کوونکي دې د ښوونکي خبرو ته ځیر شي او د جګړې د ناخوالو په بیانولو کې دې له ښوونکي سره مرسته وکړي. معلولیت، د معلولیت عوامل او له هغې څخه د مخنیوي په لارو چارو دې ځانونه وپوهوي.<br>– څو تنه زده کوونکي دې د نورو په استازیتوب په وار سره د ښوونکي پوښتنو ته ځوابونه ووایي.<br>– زده کوونکي دې لومړی متن له ځانه سره ولولي او بیا دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم هر یو پخپل وار یو، یو پراګراف ولولي او د متن پر مفهوم دې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| - ښوونکی دې پر دوو تنو زده کوونکو د لوست لنډيز ووايي.<br>- ښوونکی دې زده کوونکو ته ووايي چې د لوست د پای فعاليتونه له ځانه ولولي. بيا دې هغوی په پنځو ډلو وويشي. هرې ډلې ته دې يو، يو فعاليت ورکړي، چې پخپلو کې کار پرې وکړي او وروسته د هرې ډلې يو تن استازی نورو ته د خپلې ډلې د کار په اړه معلومات ورکړي. | ځانونه پوه کړي.<br>- دوه تنه زده کوونکي دې د ښوونکي له لارښوونې سره سم د لوست لنډيزبيان کړي.<br>- زده کوونکي د لوست د پای فعاليتونه له ځانه سره لولي، ځانونه پرې پوهوي او بيا د ښوونکي له لارښوونې سره سم په پنځو ډول کې تنظيمېږي. هره ډله په يو فعاليت کار کوي. د ډلې ټول غړي پکې فعاله ونډه اخلي او له پخواني نوبت سره سم يو تن د غونډې مشر او بل تنه يې د منشي په توګه کارکوی، د غونډې فعاليت او لاسته راغلې پايلې ليکي او د کار په پای کې يې پخپل نوبت د ټولګي په وړاندې نورو ته لولي او د پوښتنو په صورت کې له خپل کار څخه دفاع کوي. |
| - ښوونکی د لوست په لومړۍ او دويمه ورځ د ورځنی لوست له مخې زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي او په درېيمه ورځ دې د کتاب له مخې کورنۍ دنده ورکړي. | - زده کوونکي د ښووني له لارښووني سره سم کورنۍ دنده اخلي او په کورونو کې يې سرته رسوي. |

**اضافي معلومات:**

د معلوليت پر عواملو له خبرو دمخه بايد معلوليت وپېژنو. معلول هغه چاته وايي چې د طبيعي يا اکتسابي پېښې په رامنځته کېدو يې د خپل بدن کوم غړی له فعاليت څخه لويدلی او ياکمزوری شوی او يا د نورو عواملو له امله ورته زيان رسيدلی وي. لکه يو ماشوم له موره معيوب زيږي، يو څوک د ماين د چاوديدو له امله د بدن يو غړی له لاسه ورکوی. يو څوک د ترافيکي پېښې يا له يو ځای څخه د لويدو له امله په بدن کې فزيکي زيان مومي... . ډېرداسې کسان شته، چې په ښکاره روغ ښکاري، خو کيدای شي له رواني ستونزو سره مخامخ وي. عصبي، رواني او عقلي ناروغان هم د معلول په ليکه کې راځي. بله ډله ناروغان داسې دي چې د هغوی د بدن غړی موجود وي، خو له فعاليت څخه لويدلی او ياکمزوری شوی وي. زمو ږ په هېواد کې ډېر نارينه، ښځې او يا ما شومان د جګړو د بدمرغيو له امله له معيو بيت او معلوليت سره مخامخ شوي او د ژوندانه شپې ورځې په ستونزو تيروي .معيوبين اومعلولين زموږ د ټولنې غړي دي. بايد په درنه سترګه ورته وکتل شي او مرسته ورسره وشي. د هغو ی لپاره د روزګار زمينه برابره شي، ترڅو پخپلو پښو ودريږي. د معيوبينو اومعلولينو د درناوۍ او ياد لپاره په نړيواله کچه يوه ورځ ټاکل شوې او هرکال نمانځل کيږي. دا ورځ د دسمبر دريمه نېټه ده. په دې ورځ د معيوبينو د ژوندانه اوحقوقو په اړه خبرې کيږې او د نړيوالو پام ورته راګرځول کيږي. موږ په خپل هېواد کې د تېرو څه باندې درېو لسيزو کور ګډو جګړو له امله زيات خلک معيوب شوي دی او هره ورځ دا شمېره زياتيږي. لا زمه ده د معلوليت د عواملو د مخنيوي لپاره په انفرادي، ډله ييز او دولتي کچه او د نړيوالو مرستندويه ادارو په مرسته لازم ګامونه پورته کړو، ترڅو د معلوليت عوامل له منځه يوړل شي.

**اخځليکونه:**

سلا متي مجله ،ځانګړې ګڼه، ۱۳۷۴ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلرویشتم لوست:

### د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | **مرادعلي صاحبزاده** | |
| **د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې** | زده کوونکي به د لوست په پای کې لاندې موخې ترلاسه کړي:<br>– په پښتو ژبه د تفسیر د لیکوال په توګه به مرادعلي صاحبزاده وپیژني.<br>– پښتو ژبې ته به د مرادعلی صاحبزاده په کړې خدمت پوه شي.<br>– د مرادعلي صاحبزاده علمي چاپ او ناچاپ کتابونه به وپېژني.<br>– د هېواد پوهان، لیکوال او شاعران به وپېژني.<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د متن د پای فعالیتونه به په خپلواک ډول حل کړای شي. | |
| **د تدریس لارې** | یو کسیز، ډله ییز، ... | |
| **د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي** | کتاب، تخته، تباشیر، کارتونه او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| **د ارزولو لارې او وسېلې** | شفاهي پوښتنې، تحریري پوښتنې، عملي کار، فردي پوښتنې، ډله ییزکار او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| **د زده کړې او تدریس فعالیتونه** | له سلام، روغبړ، حاضري اخېستلو او کورنۍ دندې له کتلو وروسته د نوي لوست پیلول | ۴ دقیقې |
| **د انګېزې رامنځته کول** | ښوونکی د هېواد د تېرو پوهانو، لیکوالو او شاعرانو د پېژندنې په لړ کې د پښتو ژبې د نامتو لیکوال پنه توګه د مرادعلي صاحبزاده په اړه معلومات وړاندې کوي، په پښتو ژبه د تفسیر یسیر د لیکلو اړتیا او په دې اړه د مرادعلي صاحب خدمتونو ته ګوته نیسي او پر لوست پیل کوی. | ۶ دقیقې |
| **د ښوونکي فعالیتونه** | **د زده کوونکو فعالیتونه** | **۳۵ دقیقې** |
| – ښوونکی په هېواد کې د پښتو ژبې د لیکوالو او شاعرانو د پېژندنې په لړ کې پښتو ژبې ته د مرادعلي صاحبزاده پر خدمتونو رڼا اچوي او په پښتو ژبه د تفسیر یسیر د لیکلو اړتیا څرګندوي. | – زده کوونکي د ښوونکي خبرو ته غوږ نیسي او د خپلو معلوماتو له مخې په هېواد کې ژبې او ادب ته د لیکوالو او شاعرانو پر خدمتونو ځانونه پوهوي او د تفسیر یسیر له نامه او د ژبې په څرنګوالي ځانونه پوهوي. | |
| – ښوونکی د تفسیر یسیر د ژبې د روانۍ او ساده ګۍ په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکوي او په لوست کې د راوړل شوې بېلګې له مخې یې د نوموړي تفسیر له ژبې سره بلدوي. | – زده کوونکي د ښوونکي پر خبرو ځانونه پوهوي او په لوست کې د تفسیر یسیر راوړل شوې بېلګه لولي او د ژبې رواني او ساده ګي یې ګوري. | |
| – ښوونکی د تفسیر یسیر په اړه د افغاني پوهانو پر نظریو | – زده کوونکي غوږ نیسي چې افغاني پوهانو د تفسیر یسیر په اړه څه ویلي دي او د نوموړي تفسیر پر ژبنې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| زده کوونکي پوهوي او رڼا پرې اچوي. | ارزښت ځانونه پوهوي. |
| – ښوونکی له زده کوونکو غواړي چې د لوست له ځان سره ولولي او د فعالیتونو ځوابونو ته ځانونه چمتو کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم لوست له ځان سره لولي. که ستونزې يې درلودې، له ښوونکي يې پوښتي او د لوست د پای فعالیتونو ځوابولو ته چمتووالی نیسي. |
| – ښوونکی په ترتيب سره د لوست د پای دويم، دريم، څلورم او پنځم فعالیت په ټولگي کې په زده کوونکو عملا کار کوي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د لوست د پای په دويم، دريم، څلورم او پنځم فعالیت کې ونډه واخلي او عملا پکې کار کوي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته د لوست د پای په فعالیتونو کې د لومړي فعالیت د سرته رسولو دنده ورکوي. پخپله له زده کوونکو سره د غونډې په جوړولو او د موضوعگانو په ټاکلو او د غونډې په سرته رسولو کې تخنیکي مرسته کوي. ښوونکی هڅه کوي په زده کوونکو کې د ددې فعالیت وړتیا وروزي او د راتلونکو ادبي غونډو پر مخ وړلو ته يې چمتو کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم په ټولگي کې يوه غونډه جوړوي، د غونډې مشر، مرستيال، منشي او وياند ټاکي، څو تنه زده کوونکي دنده اخلي، يو تن د مرادعلي صاحبزاده د ژوند، بل د هغه د ليکنو او اثارو، بل تن د نثر د ځانگړتياوو، بل تن د شعرونو او وروستی برخوال د تفسير يسير د ژبې په اړوند معلومات راټولوي او پخپل وار يې د ستيژ پر سر نورو ټولگيوالو ته وروي. |
| – ښوونکی زده کوونکو ته د يوې جريدې يا خپرونې د جوړولو او پرمخ وړلو دنده ورکوي او لازمه لارښوونه ورته کوي. | – که دمخه په اړوند ټولگي کې کومه خپرونه موجوده نه وي، نو زده کوونکي دې متې ونغاړي او د جريدې، ورځپاڼې، مجلې يا يوې بلې خپرونې په جوړولو او خپرولو دې پیل وکړی او که موجوده وي، نو هماغه دې پر مخ یوسي او په خپل وخت او مهال دې نوې کړي. |
| – ښوونکی د هر درسي ساعت په پای کې کورنې دنده ورکوي. | – زده کوونکي کورنۍ دنده اخلي او په کورونو کې يې سره ته رسوي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

له اوله هيڅ څيز نه و، خاک اوبه نه باد او نار — نه دا ځمکې اسمانونه، نه لمر سپوږمۍ ليل ونهار
نه دا انس و جن حيوان نه نباتات سيندونه غرونه — مگر ذات بې جهات و، تل ثابت په يو قرار
بيا د رب اراده وشوه چې زه وپيژندای شمه — نو پيدا د حضرت نور په محبت کړ کردگار
ناگاه نور شو په جنبش ترې مرغلره شوه پيدا — بيا د قهر نظر وشو نو دوه ځايه کړه قهار
له يوې قطعې يې ساز کړ هغه لوی عرش مجيد — بيا يې باد پسې پيدا کړ په قدرت پسې بسيار
په دويمه قطره باندې بيا نظر د قهر وشه — له هيبته يې اوبه شوه او له خوفه تار په تار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې عرش په اوبو کېښود او اوبه په شا د باد | بیا د ځمکې اسمانونو عزم کړ پروردګار
بیا اوبه شولې په موج ځګ پرې راغی ډېر او تېز | رب ترې سازه کړله ځمکه او هم غرونه او اشجار
او په دغه موج وهلو ډېر لوګي ورځیني ولاړه | نو ترې جوړ شو اسمانونه پکې ستوري بېشمار

(تفسیر یسیر: **۵۷۱** مخه، لومړی ټوک)

(کله چې الله اراده وکړه چې د ځان د پېژندلو لپاره عالم پیدا کړي، نو له نور څخه یې مرغلره جوړه شوه. پر ملغرې د قهر نظر وشو. له ډېره هیبته دوه ځایه شوه. له یوې ټوټې عرش عظیم جوړ شو او له په بلې بیا د قهر نظر وشو، له ډېره ډاره اوبه شوه. عرش یې د اوبو پر مخ کېښود. بیا یې باد پیدا کړ. اوبه یې ددغه باد په شا کېښودې. بیا دا اوبه په ځپو شوې. پر سربې ځګ پیدا شو او لوګي ترې پورته شول. لومړی یې له دې ځګه ځمکه جوړه کړه. غرونه، روزي، سیندونه او ونې یې پکې کېښودې. له لوګي یې اسمانونه جوړ کړل. لمر، سپوږمۍ او رنګارنګ ستوري یې پکې کېښودل. دا هر څه ټول په شپږو ورځو کې سرته ورسېدل. دا کار له الله پرته د بل چا په وس کې نه دی.)

**طریقت :** دلارې، لیارې، لار، اصول او روش په معنا دی. د سلوک دویم منزل دی. په دې منزل کې د ځینو ځانګړو ریاضتونو، عملونو او فکرونو په واسطه سالک د لوی خدای جل جلاله پېژندنې ته رسیږي .
صوفیان وایي طریقت نفسي سیر دی. په دې مزل کې د بشري طبیعت تیارې پر رڼاوو بدلیږي او د انسان بد خاصیتونه، لکه بخیلي، حرص، کبر، قهر، شهوت،کسات، ځان غوښتنه او ځان لیدنه ... پر سخا، قناعت،کمینی، صبر، مینې، پیرزوینې او سرښندنې بدلون مومي. طریقت د باطني تزکیې په نامه هم یادشوی دی.

**اضافي معلومات:**

د مرادعلي صاحب د اثارو په ډله کې یوه هم ارثیه او تراثیه دي. دا دواړه کتابونه د میراث په اړه لیکل شوي دي. ارثیه اصل د او تراثیه یې شرح ده. د تالیف کال یې په دې نظم کې «۱۲۸۱» ښودل شوی. مرادعلي صاحب وایي:

دا میراث مې تحت اللفظ درته ووایه فی الحال | یو په دې چې په اوږده دې طبیعت نشي ملال
او بل دېله چې تفصیل مې په یو نظم کې دی کړی | که شایق یې ویې ګوره چې معلوم شي درته حال
«ارثیه» نوم کتاب دی چې تاریخ یې دی «غفار۱۲۸۱» | بیا مې شرح ده پرې کړې پس له متنه په یو کال
د شرح نوم «تراثیه» دی دواړه کړي دي مراد | رب دې شي پرې مهربانه چې روزي یې کا وصال

تفسیر یسیر، **۲۰۵** مخ

د بل یو شعر بېلګه یې:

څوک چې زهر درله درکا ورکوه ته وله شات | او که ځان له تانه پرې کا بیا شه ورته مات
او که تا کاندي محروم ورکوه ته وله زیات | دا د ښه خویونو سر دی ته به مومې پرې نجات

تفسیر یسیر، **۴۵۰** مخ

په بل ځای کې وایي:

که ملک دی پر موږ کښلي ګناهونه | خو ملک پر ځان دې کښلي رحمتونه
که ګناه له مونږه ډېره شي چاپیره | دی رحیم، کریم، غفور لري نومونه
او رحمت یې پر غضب باندې غالب دی | څه شو، څه شو که یې دواړه دي وصفونه
ځکه نیک په لسو بد په یوه کښل شي | په قـــــــــــــــران کې دي راغلي آیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ربښتيني عذر زر کبيرې ټولې ببښي دی په دې ناطق دي حديثونه

تفسير يسير، ... مخ

**د حمد بېلګه يې په دې ډول ده:**

ای سميعه هم بصيره ای قريبه هم مجيبه ای رحيمه هم کريمه مهربانه ذوالوداده
ای غافره هم غفوره ای غفاره د بد کاره ای وهابه ذوالمنانه بې عوصه دې عطا ده
دا موضع د اجابت ده چې دعا پکې قبليږی ځوک چې خواست په دې ميان کې نو قبوله يې دعا کا
ځکه (چې) دوه اسم ذاته بې فاصله دي راغلي نو دا ځای د عاجزی‌ دی او بايده ډېره ژړا ده
دا عاصي چې سرتا پايه مالا مال دی په ګناهو دايې مخکې دی راوړياو زاري يې تاته داده
چې دی غواړي نهه ځيزونه مغفرت پسې رضوان او حيات ابدی قلب سليم سره له زاده
بل دوام دی د شهود بل سعادت دی د دارينو بل چې تېر شي بې حسابه بل فردوس کې ښه متوا ده
که ته ډک يې له ګناهه بخشش غواړه له اله اميدوار يې د رحمت شه تل زاری کوه مراده
چا چې دې مرادعلي ته دعا وکړه له اخلاصه رب دې دی وروسوييه دواړه کونه تر مراده

تفسير يسير، ۳٦۲ مخ

سميع (اورېدونکی)، بصير (ليدونکی)، قريب (نژدې)، مجيب (قبلوونکی)، ذوالوداد (خاوند د دوستۍ)، وهاب (ښنونکی)، اجابت (قبليدل)، رضوان (رضامندي)، زاد (توښه)، متوا (په جنت کې د ځای نوم دی.)

هر عرض لره يو وخت وي مقرر له ذوالجلاله چې که وړاندې شي يا روستو نفع نه لري ای لاله
لکه څوک چې شي ناروغه دارو غواړي له طبيبه او چې مړ شي وخت يې تير شي فايده نشته بيا دوا له

تفسير يسير ... مخ

**د تفسير يسير د نثر يوه بله بېلګه:**

«هرکله چې ابراهيم عليه الصلوات و السلام (اسمعيل عليه السلام) منی [منا] له راوست او اراده د ذبح يې وکړه، نو ده ورته وويل، چې پلاره، درې کارونه وکړه. يو داچې لاسونه او خپې مې وتړه چې مبادا په وخت د ذبح کې اضطراب ونه کړم او جامې دې په وينو ککړې نشي او بل دا چې سترګې وتړه زما او خپلې او پرمخې مې واچوه چې مبادا په وخت د تيغ راښکلو په وچولي کې مې څه تغير رانشي او شفقت پدري موجب د تقصير او تاخير د امر الهي نشي او بل دا چې کميس مې بيا مور له ورکه، زما تسلي به پرې کوی. نو ابراهيم عليه السلام همداسې وکړه...»

**اخځليکونه:**

پښتو قاموس څلورم ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست

## د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
| --- | --- | --- |
| د لوست موضوع | په پښتو ادب کې د مېرمنو برخه | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– پښتنې لیکوالې او شاعرانې به وپېژني،<br>– پښتو ادب ته به د هغوی پر خدمت پوه شي،<br>– د ښځینه لیکوالو او شاعرانو له اثارو څخه به د هغوی د لیکنو د منځپانگې پر څرنگوالي پوه شي،<br>– د پښتو ادب بډاینه به ورته څرگنده شي،<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سر ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، خبرې کول، ویاندي، اوریدل، پوښتنه او ځواب، ډله ییز کار او یوکسیزکار | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي | درسي کتاب، قلم، کتابچه، تخته، تخته پاک او تباشیر | |
| د ارزولو لارې او وسیلې | شفاهي، عملي، څارنه، گروپي کار او د ښوونکي د یادداشت کتابچه | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | سلام، روغبړ، احوال پوښتنه، د حاضرۍ اخیستل، د ټولگي تنظیم او د کورنۍ دندې کتل | ۴ دقیقې |
| د انگېزې رامنځته کول | ښوونکی د پښتني ادب د بډاینې او په هغې کې د نارینه او ښځینه لیکوالو او شاعرانو د رول او خدمت په اړه د معلوماتو د ورکړې او د زده کوونکو د ونډې اخیستلو له لارې په لوست پیل کوي. | ۶ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
| --- | --- | --- |
| – ښوونکی له زده کوونکو غواړي په بېلا بېلو ادبي پیرونو کې د پښتو ادب د ودې په اړه خپل معلومات له نورو زده کوونکو سره شریک کړي.<br><br>– ښوونکی په پښتو ادب کې ښځینه لیکوالو او شاعرانو ته گوته نیسي، د هغوی د اثارو نومونه اخلي او د اثارو د محتوا په څرنگوالي یې زده کوونکو ته معلومات ورکوي.<br><br>– ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي لوست له ځانه سره ولولي، رامنځته شوې پوښتنه دې ولیکي او په | – څو تنه زده کوونکي په وار سره د خپلو معلوماتو له مخې د پښتو ادب په تاریخي دورو کې د پښتو د ودې په اړه خپل معلومات له نورو سره شریکوي. هڅه کوی یو د بل خبرې تکرار نه کړي.<br>– زده کوونکي هغه پښتنې لیکوالې او شاعرانې او د هغوی د لیک او شعر ژبه پېژني چې تر اوسه یې په اړه معلومات نه درلودل، نومونه او د اثارو نومونه یې لیکي.<br>– زده کوونکي لوست له ځان سره لولي او که کومه پوښتنه ورته پیدا شوه، لیکي یې او د لوست په پای | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| مناسب وخت کې دې وکړي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي د لوست یوه، یوه برخه د ټولګي په وړاندې ولولي.<br>– ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وپوښتي چې د ښځو په واندې کومې ستونزې پرتې دي. | کې یې پوښتي.<br>– زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د لوست یوه، یوه برخه د ټولګي په وړاندې لولي.<br>– زده کوونکي په خپل کور، چم او ګاونډ کې د ښځو ژوند ته ګوري او ټولې هغه ستونزې یو په یو بیانوي، چې د دوی په اند ورسره ښځې او نجونې مخامخ دي. کیدای شي په دې کې ځینې ستونزې یو خپل وي. |
| – ښوونکی له زده کوونکو غواړي د ځوانانو او نجونو په وړاندې د پرتو ستونزو د هوارۍ لپاره کومې لارې چارې په ګوته کولای شي. په دې اړه دې د زده کوونکو یوه غونډه جوړه کړي او هرڅوک دې خپل نظر وړاندې کړي. | – زده کوونکي سوچ وهي څنګه کولای شي نوموړو ستونزو ته د هوارۍ لاره ومومي. په دې اړه دې د غونډې له غړو سره د نظر تبادله وکړي. |
| – ښوونکی دې له زده کوونکو وغواړي په پښتو ادب کې د مېرمنو په ونډې خبرې اترې وکړي. | – زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه په پښتو ادب کې د مېرمنو د ونډې په اړه خبرې اترې کوي. |
| – ښوونکی د لوست لنډیز وايي او د ورځني لوست له مخې زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکوي. | – زده کوونکي د لوست لنډیز ته غوږ ږدي او کورنۍ دنده اخلي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول :**

سپینه ادې یوه لویه پښتنه شاعره وه. د وزیر یارمحمد خان الکوزي د حکومت په وخت کې یې په هرات کې ژوند کاوه. دا مېرمن د نورمحمدخان لور وه.

مېرمن زیبو: د ۱۳۰۰ هجري کلو په شاوخوا کې یې ژوندکاوه او یوه هنرمنده شاعره وه.

مېرمن بله نسته: د اغامحمدخان لور وه. نوموړې مېرمنې د قندهار د زمین داور په ګردي باغران کې ژوند کاوه .

میرمن بي بي تاجه: دا یوه پښتنه شاعره وه. اصلي نوم یې کرم نسا و. په قوم مومنده او د شبقدر د حاجې حیات ګل لور وه.

**اضافي معلومات:**

که موږ خپل تېر ادبي تاریخ ته کتنه وکړو، نو دا به راته څرګنده شي، په خپل ویاړلي تاریخ کې داسې مېړنې او توریالۍ ځوانان تیر شوي چې په هر ډګر کې یې، که سیاسي و یا فرهنګي، خپله توره او قلم ښکاره کړی دی. د یادونې وړ ده دغه ډ ګرونه یوازې ځوانانو تاوده نه دي ساتلي، بلکې ترڅنګ یې په اسلامي او پښتنې ننګ مینې میړنۍ میرمنې هم ولاړې دي چې پښتو ادب ته یې د شعر، نثر او نظم په برخه کې هغومره څه وربښل چې هره برخه یې تر لوړو پوړیو ورسوله. د څو مشهورو هغو نومونه په دې ډول دي:

حلیمه حافظ، توتیا ختکه، ناهید، میرمن زینبه، مېرمن رابعه، مېرمن نیکبخته، نازو انا، سپینه ادې، میرمن روح افزا، میرمن زیبو، میرمن بله نسته، میرمن باجوړۍ، میرمن بي بي تاجه، میرمن سایره، میرمن حمیده، میرمن مستوره، میرمن مطیعه بیګم، الف جانه ختکه، واسعه خویشکې، خیرالنساء شینوارې، میرمن زیتون بانو، بي بي فاطمه، ذکیه حلیم، معصومه عصمتي،.. . په درسي کتاب کې د پورتنیو ټولو پېژندګلوي د نثر او نظم له نمونوسره راوړل یولوی اوسخت کار دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته به د نمونې په ډول یوازې څو تنه په لنډ ډول وپېژنو:

**حلیمه حافظه:**

حلیمه حافظه د ستر پښتون خوشحال خان لور او د عبدالقادرخان خټک سکه خور ده. نوموړې د ( ۱۰۶۵ ) هجري په شاوخوا کې په اکوړي کې زېږېدلې ده .نوموړې د پلار په ژوند دیني علوم ولوستل او وروسته بیا د شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه مریده شوه او د خپل ورور عبداقادرخان په لاس یې د شیخ سعدي لاهوري بیعت وکړ. حلیمه د قران حافظه، عارفه، مسلمانه او عالمه ښځه وه، د تصوف کتابونه یې لوستي و. د عبدلقادرخان خان خټک په کاله کې به یې د کور اوکلي نورو ښځو ته د قران عظیم الشان درس ورکاوه .حلیمه خټکه په پښتو ادب کې د خورا لوی لاس خاونده وه. په خوږه پښتو به یې ښه خوندور اشعار ویل. په اشعارو کې یې مجازي عشق نه ښکاري، بلکې ټوله شاعري یې په حقیقت څرخیږي. د شعر څو بیتونه یې په دې ډول دي.

د اشنا په فکر خوښه هسې شان شوم — نه پوهیږم چې ممتاز که نورجهان شوم
چې یې کړمه ستا په مینه سرفرازه — ثناخوانه په څو رنګه د رحمان شوم
چې مجاز مې د ایاز لاړه له زړه نه — سربلنده تر محمود غوندې سلطان شوم
و هر چا وته چې ګورم واړه دی دی — د جمال په ننداره یې شادمان شوم
غیر فکر مې د زړه نه را بهر شو — پرخلیل و پر عدو باندې یکسان شوم
حلیمې د غماز مکر زیات له حد شو — چې د بیل لپاره نه کا په ګمان شوم

**توتیا خټکه:**

تو تیا خټکه د اشرف خان هجري مور او د خو شحال خټک بي بي وه. دا هم د خپلې نورې کورنۍ د غړو په شان ښه عالمه او فاضله ښځه وه. نور اثار خو یې نه دي معلوم، خو پو هاند صدیق الله رښتین د مولوي نورمحمد قندهاري د پښتوګرامر، تحفته الامیر په حواله د هغې یو غزل رانقل کړی دی. توتیا دا غزل په رتنبور کې د خوشحال خټک د بند په حالت کې ولیکله او ور ویې لیږله. غزل داسې دی:

نور به مخ په ایینه برابر نه کړم — نه به دو اړه سترګې تورې په رانجه کړم
نه به سپین لاسونه سره کړم په نکریزو — نه به نور په رمنځ ساز د سر ویښته کړم
نه به ماتې ماتې څښې په مخ پریږدم — نه به لاندې باندې لب په پاښو سره کړم
چې د مینې یار مې نشته چې یې ګورې — د صورت سینګار زه کوم یوه ته وکړم
درست صورت مې شنې لمبې شي شنې ډېوزې — چې د خپل مین د مینې راز په زړه کړم
که ژوندون تر هرڅه خوږ دی په دنیا کې — اوس بې یاره په ما تریخ شو زه یې څه کړم
هغه یار چې چېرته دی خوشحال دې اوسي — دی دې خپله خوشحالي کړي غم په زه کړم

**نازو انا:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمن نازو د ملي قايد ميرويس خان مور او د سلطان ملخي توخي لور وه. نوموړې په ( ۱۰٦۱) هجري شاوخوا کې پيداشوې وه. د ښالم خان هوتک مېرمن وه .نازو انا يوه لويه عابده او صالحه ښځه وه. څلور زامن يې درلودل. اولادونو ته يې ټول عمر په اوداسه شېدي ورکولې. وايي چې کله سلطان ملخی سورغره ته نژدې په جنگ کې ووژل شو.، نو د نازو انا ورور، حاجې عادل د پلار په انتقام د جنګ ميدان ته ولاړ .کلی اوکور يې نازو انا ته پرېښوده. نو نازو انا توره ترملا کړه او د جنگيالو ځوانانو سره يې کور اوکلی د د ښمنانو له تاړاکه وساته. نازو انا په ادبياتو کې د لوی لاس خاونده وه. ډېر زيات اشعار يې ويلي دي. د اشعارو يو ښکلی ديوان يې درلوده. د پټې خزانې د روايت له مخې د اشعارو شمېره يې تر دوو زرو پورې رسي. په اشعارو کې يې داسې نکات ځای په ځای کړي دي، چې نارينه يې هم نشي اداکولی، لکه دا لاندې رباعي:

سحرګه وه د نرګس لېمه لانده ـــ څاڅکي څاڅکي يې له سترګو څڅېده
ما ويل څه دي ښکليه ګله ولې ژاړې ـــ ده ويل ژوند مې دی يوه خوله خندېده

**مېرمن ز ينب:**

ميرمن زينب د ملي پښتون قايد حاجي مېرويس خان لور وه. په ( ۱۱۱٦) هجري شاوخوا کې پيداشوې، قران کريم او د فقهې کتابونه يې په کور ولوستل او د فارسي مشهورکتابونه يې هم د استاد ملانورمحمد غلجې نه زده کړل. بي بي زينبه ډېره هوښياره او قابله ښځه وه. خپله هم يوه ډېره ښه شاعره وه او د شاعرانو اديبانو قدردانه هم وه. ددې په کلام کې ترحده ډېره شيريني موندی شي. دې بي بي ټول عمر د خدای په عبادت او د قران په تلاوت تېرکړ دی. څه وخت چې د شاه محمود د مړينې اوازه قندهار ته راغله، نو د هغه کورنۍ په دې ډېر خفګان ظاهر کړو او د هغه خور بي بي زينبې دده په مرګ يوه ښکلې او ښايسته مرثيه وويله، چې څو بيتونه يې په دې ډول دي.

غړ سو چې تېر له دې دنيا سو نا ـــ قندهار واړه په زړا سو نا
زړه مې په وير کې مبتلا سو نا ـــ چې شاه محمود له ما جدا سو نا
دا روڼ جهان راته تورتم دی نا ـــ زړه د بېلتون په تېغ کرم دی نا
هوتک غمژن په دې ماتم دی نا ـــ د پاچاهۍ تاج مو برهم دی نا
چې شاه محمود تېر له دنيا سو نا ـــ قندهار واړه په ژړا سو نا
ځوان و مېړه د تورې جنګ و نا ـــ ولاړ د قام په نام و ننګ و نا
افسوس چې مرګ دده په خوا سو نا ـــ قندهار واړه په ژړا سو نا

**اخځليکونه:**

پښتو ادب کې دمېرمنو برخه، د ايم فيل تحقيقي مقاله ،پښتو اکيلومي، پېښور يو نيورسيټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږویشتم لوست:

**د تدریس وخت:** په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | یوهان ولفګانګ فون ګوېټه | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– د نړیوالو ادبي څېرو د پېژندلو په ترځ کې به د یوهان ولفګانګ ګوېټې په ژوند او ادبي خدمتونو پوه شي،<br>– د نړیوالو ادبیاتو متن او محتوا به و پېژني،<br>– کورني او بهرني ادبیات په پرتله کړای شي،<br>– د لیک او وینا ژبه به یې پیاوړې شي،<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سره ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، وینا، پوښتنې، ځوابونه، ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي | درسي کتاب، اړوند توکي، توره تخته، تباشیر او تخته پاک | |
| د ارزولو لارې او وسیلې | شفاهي، تحریري او ګروپي فعالیت | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | روغبړ، حاضري، د کورنۍ دندې کتنه او د تیر لوست ارزونه او د ښوونکي د یاداشت کتابچه | ۴ دقیقې |
| د انګېزې رامنځته کول | ښوونکی د افغاني لیکوالو او شاعرانو د پیژندنې د ارزښت او اهمیت په لړ کې د نړیوالو ادبیاتو او لیکوالو ارزښت ته د ګوتې نیولو او لازمو څرګندتیاوو د ورکولو له لارې نوي لوست ته د زده کوونکو پام اړوي. | ٦ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکي فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی په یوې ټولنې کې د لیکوالو او شاعرانو ارزښت ته ګوته نیسي، د ولس په بیدارۍ او د هغه ولس په فرهنګي بډاینه کې د هغه رول څرګندوي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې له نړیوالو ادبي څېرو او د هغوی د اثارو له منځپانګې سره بلدیدل د زده کوونکو نړۍ لید پراخوي او پوهه یې زیاتوي.<br>– ښوونکی زده کوونکي رابولي چې د کتاب لوست له ځان سره ولولي.<br>– ښوونکی څو زده کوونکو ته دنده ورکوي یو، یو پراګراف لوست په وار سره ولولي.<br>– ښوونکی دوو تنو زده کوونکو ته بلنه ورکوی د | – زده کوونکي د ښوونکي دې خبرې ته غوږ نیسي او ځانونه دې پوهوي چې د یو شاعر او لیکوال ارزښت او اهمیت په څه شي کې نغښتی دی. شاعر او لیکوال څنګه ولس ویښوی او په فرهنګي بډاینه کې څه رول لوبوي.<br>– زده کوونکي ځانونه پوهوی چې د نړیوالو ادبي څېرو او د هغوی د اثارو له منځپانګې سره بلدیدل څنګه د یو چا نړۍ لید له پراخولو سره مرسته کوی.<br>– زده کوونکي لوست لولي او په منځپاګې یې ځانونه پوهوی.<br>– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه یو یو پراګراف لولي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ګویته په اړه یوه، یوه دقیقه خبرې وکړي.<br>– ښوونکی دې له یو تن زده کوونکي څخه وپوښتي چې د نړیوالو لیکوالو او شاعرانو د اثارو په لوستلو د هغوی د اړوندو ټولنو فرهنګي دریځ څنګه ځانته معلوم کړو.<br>– ښوونکی دې له څو تنو زده کوونکو څخه وپوښتي چې پر نړیوالو ادبیاتو پوهیدل څه ګټه لري.<br>– ښوونکی دې دوه، درې تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راوبولي چې ووایي څو نړیوالې ادبي څېرې پېژني، نومونه دې واخلي او اثارو دې وښیي.<br>– ښوونکی د لوست لنډیز وړاندې کوی او د ورځې د تدریس شوي لوست اړوند کورنۍ دنده ورکوي. | – څو تنه زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي او د ګویته په اړه یوه یوه دقیقه خبرې کوي.<br>– یو تن زده کوونکی د ښوونکي له لارښوونې سره سم د ټولګي مخې ته راځي او د پوښتنې په اړوند ځواب وایي. که ځواب بشپړ نه و، نور زده کوونکي دې مرسته ورسره وکړي.<br>– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه دې پوښتنې ته ځواب وایي چې پر نړیوالو ادبیاتو پوهیدل څه ګټه لري.<br>– څو تنه زده کوونکي په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راځي او د ځو تنو نړیوالو ادبي څېرو نومونه او که شونې وه د اثارو نومونه اخلي.<br>– زده کوونکي د لوست لنډیز ته غوږ نیسي، که ستونزه لري، له ښوونکي یې پوښتنه کوي او کورنۍ دنده اخلي. |

**اضافي معلومات:**

ګویته په ۱۷۴۹ کال د اګست په ۲۸ نېټه د فرانکفورت په ښار کې زېږېدلی دی. پلار یې حقوقپوه او مدافع وکیل و. مور یې د جرمني د سویل د حقوقپوهانو له کورنۍ څخه وه. دغه نامتو شخصیت په یوه متمدنه کورنۍ کې را لوی شو او د خپلې کورنۍ له خوا په پرله پسې او منظمه توګه تر ښوونې او روزنې لاندې ونیول شو. ګویته په پنځلس کلنۍ کې د حقوقو د زده کړو د لاسته راوړلو لپاره جرمني یو بل ښار لایپزیک ته لاړ او خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ. نوموړی یو شاعر، ادیب، لیکوال، انځورګر، څېړونکی او انسان پېژندونکی سړی و. ددغه نامتو لیکوال، شاعر ادیب ادبي اثارو د نولسمې پیړۍ په وروستۍ برخه کې په زړه پورې شهرت وموند او ادبي اثارو یې د ادب په نړۍ کې د لوستونکو ځانګړې پاملرنه ځا نته راواړوله.په دویمې نړیوالې خونړۍ جګړې (۱۹۳۹ – ۱۹۴۰) کې په الما ن کې ټول چاپي ادبي اثار له منځه لاړل. د هغه وخت حکومت خپل ټول پام جګړې ته واړاوله، آن د جګړې د پا ی ته له رسېدو څخه وروسته په لسګونو کلونو کې چا د ګویته نوم وانخیست. د ټولو خلکو ترمنځ د دغه نامتو لیکوال د اثارو په اړه تبصرې کیدې چې زاړه او د لوستلو وړ نه دي، خو دې خبرو او تبصرو دومره دوام ونه کړ. ډېر ژر د دغه پېژندل شوې څېرې د ادب د اقبال ستوری، نه یوازې په المان کې، بلکې په ټولې نړۍ کې په ځلا شو.

خلکو نړیواله جګړه له سره تېره کړې او د اتومي خونړۍ جګړې پرخلاف راپا څېدلي وو. ګویته هغه لیکوال او شاعر و چې له نړیوالې جګړې څخه د مخه یې په خپلو اثارو کې جګړه، جګړه مارا ن او د جګړې د زیانونو په اړه ډېر څه ویلي او جګړه کوونکي یې غندلي وو. په دې ترڅ کې یې خپل ادبي رسالت ترسره کړی و. ګویته په خپلو اثارو کې د جګړې او جګړه کوونکو په اړه داسې وایي: «یوه انسانان جنګ ته میل نه لري. جګړه تل د انسان په زیان پای ته رسیږي او یو وژونکې ناروغي ده چې د تاریخ په اوږدو کې یې په زرګونو ا نسا نان له منځه وړي دي... .»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ګویته افکار او اثار:**

ګویته ۱۶۰۰ قطعې شعرونه، څو ډرامې او رومانونه لیکلي دي. دی د یوه ځا نګړې سبک خاوند و او هغه دا چې بې له کومې واسطې یې د خلکو ژوند انځور کړي دي. دده د اشعارو، ډرامو او رومانونو اتلان عادي خلک دي او د اثارو زیا تره برخه یې د خلکو عنعنوي ژوند او د وطن په هکله موضوعات جوړوي. د ادبیاتو په نړۍ کې د ګویته اثار په ډېر ښکلې فورم او محتوا لیکل شوي دي. له همدې امله دده لیکنې د نړۍ په ادبیاتو کې یو ځانګړی ځای لري او د ادب د مینه والو ځانګړې پاملرنه یې ځا نته را اړولې ده. ګویته په خپلو شرقي او غربي دیوانونو کې داسې شعرونه لري چې په هغو کې ده د یو شاعر مقا م او رسالت په ټولنه کې ذ کر کړی او وايي، که چیرې شاعر په عیني توګه د یوې ټولنې واقعیتونه بیان نه کړي، هغه شاعر نه دی. له دې خبرو جوتیږي چې شاعر تل د خلکو له غوښتنو سره سم شعر وايي او د هغوی غوښتنې پکې غبرګوي، خو ښه به دا وي چې د شاعر هره ټوټه شعر د زمانې له غوښتنو سره سم او د عیني واقعیتونو په پام کې نیولو سره د ژوندانه د چاپیریال، سیاسي، اجتماعي مسایل په پام کې ونیسي. سربېره پر دې د ګویته په دیوانونو کې د هغو خونړیو جګړو یادونې هم راغلي چې د ختیځ په پراخه لمن کې پیښې شوې دي. په دغو جګړو کې زرګونو انسانان وژل شوي او شرقي تمدن یې له منځه وړی دی. ګویته سربېره پردې چې شرقي او غربي دیوانونه لري، یو شمېر ډرامې، نمایشنامې او رومانونه یې هم لیکلي، خو له نمایشنامو څخه یې مورږ یوازې د یوې یادونه کوو، چې پرومیته نومیږي، پرومیته یوه منظومه فلسفي نمایشنامه ده، چې شاعر په هغې کې ټولې ټولنیزې، سیاسي ستونزې په ګوته کړي دي او د ظلم او بې عدالتۍ په هکله یې خبرې کړي دي.

**د ګویته مهم اثار دا دي:**

۱- ورتر، ۲- فاوست، ۳- اګمونت، ۴- ایتالیا سفرلیک، ۶- د رنګونو نظري علم (طبعي علوم...)

د ګویته یوه نثري بیلګه:

**خلک او شاعر:**

یوه ورځ یو لوی او پراخه میدان یو دنګ او اوچت غره ته ویل: «ستا په وچولي کې د ژوو نښه هېڅ نشته. ستا پرمخ باندې همېشه د سیلیو او بادونو څپېره لګیږي.» په همدغه وخت کې د ولس خلکو شاعر ته وویل: «ستا سر وکار تل له خیال او اندیښنو سره ده او ستا وجود هېڅ نه دی په کار.» دنګ او لوړ غره په خواب کې وویل: «زه یم چې ستا له سینې نه هر راز بوټي راکارم، د غرمې سوځوونکي تودوخه په خپل سارړه دم باندې سړومه، د توپاني وریځو مخه نیسم، په خپلو ګوتو د واورو بخري جوړوم او زېرمه کوم یې. زما له سینې څخه د اوبو لښتي روانیږي او تاته د ژوند پیغام دروړي.»

شاعر هم خلکو ته وویل: «پریږدئ، چې زه سر په زنګانه کښیږدم او سوچ ووهم. ایا تاسو نه وینئ چې زما د زړه له چینې نه ډېرې خوږې اوبه راخوټیږي چې د بشر تنده ماتوي.»

«ګویته» لوړ خیالونه، ژور فکرونه، د ګل پاچا الفت ژباړه. ۱۳۸۰ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوویشتم لوست:

**د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| **د لوست موضوع** | **د بشري حقونو تاریخچه** | |
| **د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې** | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– بشري حقونه او بېلابېل ډولونه به يې وپېژني.<br>– د بشري حقونو پر منشاء او تاریخچې به پوه شي.<br>– د بشري حقونو د تاریخي ودې او پراختیا په اړه به يې معلومات زیات شي.<br>– د لیک او وینا ژبه به يې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سره ځواب کړای شي. | |
| **د تدریس لارې** | لوستل، لیکل، وینا، پوښتنې، ځوابونه، ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه | |
| **د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي** | درسي کتاب، اړوند توکي، توره تخته، تباشیر او تخته پاک | |
| **د ارزولو لارې او وسیلې** | شفاهي، تحریري او ګروپي فعالیت | |
| **د زده کړې او تدریس فعالیتونه** | روغبړ، حاضري، د کورنۍ دندې کتنه او د تیر لوست ارزونه او د ښوونکي د یاداشت کتابچه | ۴ دقیقې |
| **د انګېزې رامنځته کول** | ښوونکی په اسلام کې د بشري حقونو پر بنسټونو رڼا اچوي، د قران کریم له مخې د زده کوونکو پام د انسانانو برابرو حقونو ته اړوي، چې یو پر بل تفوق او برتري یوازې د تقوا او پرهیزګارۍ له مخې ګڼي او بس. په بشري حقونو اوږدې خبرې اترې کوي او د زده کوونکو مینه نوي لوست ته راپاروي. | ٦ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی د بشري حقونو د توضیح په اړه له زده کوونکو سره مرسته کوي، د اسلام د سپېڅلي دین له مخې بشري حقونه ورپېژني او د مور پلار، ښوونکي، ګاونډي، ناروغ، کشرانو او مشرانو د حقونو په څېر حقونه بیانوي او زده کوونکو ته پوره معلومات ورکوي.<br>– ښوونکی د تاریخ په اوږدو کې د بشري حقونو پر ودې رڼا اچوي او د بشري حقونو د درناوۍ پر اړتیا ټینګار کوي.<br>– ښوونکی زده کوونکو ته بلنه ورکوي چې لوست د کتاب له مخې ولولي او ځانونه پرې وپوهوي. | – زده کوونکي بشري حقونه پېژني او پر دې ځانونه پوهوي چې اسلام بشري حقونو ته په کومه سترګه کتلي، د مور پلار، ګاونډي، ښوونکي، د مشرانو حقونه پر کشرانو او همدارنګه د کشرانو حقونه پر مشرانو، د ناروغ حقونه کوم دي او څنګه ورته درناوی کېدای شي.<br>– زده کوونکي د بشري حقونو پر تاریخي ودې او هغې ته د درناوۍ پر اړتیا ځانونه پوهوي.<br>– زده کوونکي لوست د کتاب له مخې لولي او ستونزمنې برخې يې په نښه کوي.<br>– څو تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د لوست، | |

| | |
|---|---|
| – ښوونکی څو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي او د لوست یوه برخه پرې لولي. | یوه یوه برخه لولي. |
| – ښوونکی څو تنه زده کوونکو ته وایي چې د بشری حقونو په اړه خبرې وکړي او ووایي چې د دوی په اند بشري حقونه څه شی دی او اسلام بشري حقونو ته په کومه سترګه کتلي. | – څو تنه زده کوونکي د ښوونکي په خوښه د بشري حقونو په اړه خبرې کوي او څرګندوي چې د دوی په اند بشري حقونه کوم دي او اسلام بشري حقونو ته په کومه سترګه کتلي. |
| – ښوونکی زده کوونکی په څو ډلو ویشي. هره ډله په ترتیب سره د بشري حقونو، د ښځو د حقونو او د ماشومانو د حقونو په اړه په خپل منځ کې خبرې وکړي، خپل معلومات ولیکي او یو تن استازی یې دې نورو ته ووایي. | – زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه په ډلو کې تنظیمیږي او د ورکړ شوې موضوع په اړه په خپلو کې خبرې کوی او پایله یې یو تن استازی نورو ټولګیوالو ته اورووي. |
| – ښوونکی دوو تنو زده کوونکو ته وایي چې د بشري حقونو د تاریخي ودې او پراختیا په اړه وینا وکړي. | – دوه تنه زده کوونکي د ښوونکي په لارښوونه د بشري حقونو د ودې او پراختیا په اړه وینا کوي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته ووایي چې کوم بشري حق د جګړې یا نورو ناکراریو پر مهال د لنډې مودې لپاره ځنډیږي. | – زده کوونکي د ښوونکي په مرسته هغه حقونو لیکي چې د لنډې مودې لپاره د جګړې پر مهال ځنډیږي. |
| – ښوونکی دې له زده کوونکو څخه په خپل هیواد کې د بشري حقونو د وضعې په اړه پوښتنې وکړي. | – زده کوونکي په خپل هېواد کې بشری وضعه څیړی او په دې اړه خپل نظر څرګندوي. |
| – ښوونکی دې زده کوونکو ته ووایي یو څو اصطلاحګانې او ترکیبونه پیدا او یو تر بله دې پرتله کړي. | – زده کوونکي د اصطلاحګانو او ترکیبونو توپیر پیدا او یو تر بله یې پرتله کوي. |
| – ښوونکی دې د تدریس شوی لوست لنډیز وایي او له مخې یې زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي. | – زده کوونکي د لوست لنډیز ته غوږ ږدی او او له لارښوونې سره سم کورنۍ دنده اخلي. |

**د متن د ستونزمنو برخو روښانول:**

* کنوانسیون: Convention: تړون او معاهده چې په یوې غونډې کې (د دولتونو یا نادولتي موسسو تر منځ) یوې پرېکړې ته قانوني اړخ ورکوي او د برخوالو له خوا لاسلیک کیږي.

* اعلامیه: Declaration: د یوې موضوع په اړه د عمومي خبرونې په موخه د پرېکړې اعلان

* کنفرانس: Conference: د یوې ټاکلې موضوع په اړوند د رابلل شوو ګډون کوونکو ویناوې او خبرې اترې.

* ملت: Nation: د ګډ تاریخ، ژبې، فرهنګ او جغر افیایي پولو دننه تر یوه بیرغ لاندې راټول شوی ولس.

* تعدیل: Amendment: په قانون، پرېکړې، اساسنامې او سندونو کې د لازم او اړین سمون راوستل.

* اساسنامه: Regulation, Statutes, Charter

* دویمه نړیواله جګړه: Second World War

* د کورني اړودوړ او ناکرارۍ پر مهال د عمومي نظم د ساتلو په مخه د لاریونونو، غونډو، ویناوو، رسنیو او شخصي ازادیو او نورو باندې د لنډې مودې لپاره بندیز لګولو کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اضافي معلومات:**

هر انسان ځانګړي حقونه لري چې الله تعالی ورکړي دي. انسان د خپل ژوندانه په ځينو ځانګړو وختونوکې خپل حقوق تر لاسه کړي نه دي او په نورو انسانانو ده چې د هغو د حقوقو د لاسته راوړلو لپاره کاروکړي او حقوقو ورته ورکړ شي. انسان په ټولنه کې خپل طبيعي اومدني حقوق لري، که ورنه کړل شي په ټولنه کې ازادي، مينه، يووالی له منځه وړي او په نتيجه کې زور زياتی رامنځته کيږي. له تاريخي څيړنو داسې جوتيږي چې علماو او پوهانو په خپل وخت کې دداسې نظامونو غوښتنه کړي ده چې پکې د انسان اساسي حقوق تامين شي. د همدغه حقونو د ورکولو لپاره په نړۍ کې د بشري حقوقو د سازمان رامنځته او په ټولو نړيوالو يې غږ کړی چې بايد د بشر حقوقو خوندي او ورته ورکړ شي. خو که چيرې د بشري قوانيو تار يخ ته ځير شو، و به ګورو چې د بشري حقونو په باره کې ددغه سازمان تر رامنځته کيدو د مخه ان د اسلام مبارک دين له پيل نه تر اوسه پورې د بشر حقونو ته درناوی شوی او مسلمانان يې په رعايتولو مکلف شوي دي. د اسلام په مبارک دين کې د بشر د حقونو په باره کې داسې ټکو ته پام اړول شوی دی چې لا تر اوسه د بشر د حقونو په برخه کې ددغه سازمان له خوا پام اړول شوی نه دی چې مونږ يې ډيرې بيلګي لرو:

– هلک او ښځينه ماشومانو ته دوه او دوه نيم کاله شېدې ورکول

– يوې ښځې ته د پلار په ملکيت او ميړه په ملکيت کې برخه ورکول

– زيږيدو دمخه د ماشوم ژوند او روغتيا ته پام اړول

– د ماشو م تر لوييدو پورې د ماشوم ژوند ته پا م اړول او مور ته يې طلاق نه ورکول

داسې ډېرې بيلګې لرو چې لا تر اوسه ورته پام شوی نه دی، د بشري حقونو Human Right له کلمو سره زموږ هيوادوال اوس اشنا شوي دي. ځينې د بشري حقوقو په باره کې ښه نظر لري او ځينې هيوادوال چې په هکله يې پوره معلومات نه لري. نو هميش ورباندې نيوکې کوي. هغوی په دې اند دي چې ګنې د بشري حقونواړوندې ادارې د يو دولت د قانوني بهيرونو د سرته رسولو په برخه کې خنډونه رامنځته کوي. حال داچې د بشري حقونو سازمان يوازې د بشر د حقونو دفاع کوي.

د بشر د حقوقو چې په ۴۳ مادو کې په ۱۹۴۸ کال کې د ۴۸ موافقو رايو په ورکولوسره تصويب شوه، د نړيوالو له خوا يې پلوي زياته شوه او د ميليونو خلکو غوښتنوته يې ځواب ووايه.

بيا وروسته د بشري حقوقو دري سندونه په ۱۹۶۶ کال کې تصويب شول. دعه اسناد په لاندې ډول دي:

۱– د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه ۱۳۴۸

۲– د مدني اوسياسي حقوقو نړيوال کنوانسيون ۱۹۶۶

۳– د مدني او سياسي حقوقو د نړيوال کنوانسيون په ارتباط اختياري پروتوکول

۴– د اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو نړيوال کنوانسيون ۱۹۶۶

– په ۱۹۰۹ کال کې د نوامبر په ۲۰ د ماشومانو د حقوقو نړيواله اعلاميه تصويب شوه.

– په ۱۹۶۵ کال کې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو نړيوال تړون تصويب شو.

– د ۱۹۶۶ کال د دسمبر په ۱٦ د سياسي او مدني حقوقو نړيوال تړون تصويب شو.

**اخځليکونه:**

– ويژه اسناد بين المللي حقوق بشر، کنوانسيون حقوق بشر

– سير تاريخي حقوق بشر،

– د بشري حقوقو د ادارې رپوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اته ویشتم لوست:

### د تدریس وخت: په اونۍ کې د پښتو درسي ساعتونه

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | وخت |
|---|---|---|
| د لوست موضوع | ادبي معاصر نثر | |
| د زده کړې پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې | د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:<br>– پښتو ادبي معاصر نثر او پراختیايي بهیر به يې وپېژني.<br>– د معاصر ادبي نثر د بېلګو په اړه به معلومات پیدا کړي.<br>– ادبي ټوټه، لنډه کیسه، ناول، رومان، داستان، طنز او بېلګې به يې وپېژني.<br>– د لیک او وینا ژبه به يې پیاوړې شي.<br>– د لوست د پای فعالیتونه به په یوازې سره ځواب کړای شي. | |
| د تدریس لارې | لوستل، لیکل، وینا، پوښتنې، ځوابونه، ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه | |
| د تدریس وسیلې او مرستندوی توکي | درسي کتاب، اړوند توکي، توره تخته، تباشیر او تخته پاک | |
| د ارزولو لارې او وسیلې | شفاهي، تحریري او ګروپي فعالیت | |
| د زده کړې او تدریس فعالیتونه | روغبړ، حاضري، د کورنۍ دندې کتنه او د تیر لوست ارزونه، د ښوونکي د یادداشت کتابچه | ۴ دقیقې |
| د انګېزې رامنځته کول | ښوونکی د نظم او نثر په اړه له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي. ولې نثر د نظم په پرتله ډېر کارول کیږي؟ د نظم جوړول څه ستونزه لري؟ بیا د زده کوونکو پام ډرامې ته راګرځوي، چې د همدې درسي کتاب په اووم لوست کې يې لوستې ده. د همدې معلوماتو له مخې نوی لوست پیلوي. | ٦ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده کوونکو فعالیتونه | ۳۵ دقیقې |
|---|---|---|
| – ښوونکی د نظم او نثر په اړه له زده کوونکو څخه پوښتنو وروسته د ډرامې په اړه د زده کوونکو معلومات ارزوي او د اړتیا په صورت کې نور اضافي معلومات ورکوي. | – زده کوونکي د ښوونکو څرګندونو ته غوږ نیسي، پوښتنو ته يې ځوابونه وايي او معلومات وړاندې کوي. | |
| – ښوونکی د ادبي نثر بېلابېلې بڼې زده کوونکو ته ورپېژني او د هرې یوې بېلګه راوړي. زده کوونکي په بحث کې شریکوي. | – زده کوونکي د ادبي نثر بېلابېلې بڼې پېژني او له ښوونکي سره په خبرو اترو کې ځانونه ورګډوي. | |
| – ښوونکی په پښتو ادب کې د معاصر ادبي نثر د تاریخ په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکوي. | – زده کوونکي پر دې ټکي ځانونه پوهوي چې معاصر ادبي نثر کله پښتو ادب ته لاره پرانیسته. پوره معلومات تر لاسه کوي. | |
| – ښوونکی زده کوونکو ته دنده ورکوي، د لوست متن ولولي او ځانونه پرې پوه کړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم لوست لولي او ځانونه پرې پوهوي. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| – ښوونکی د لوست د پای فعالیتونه په زده کوونکو سرته رسوي او په خپله لازمه مرسته ورسره کوي.<br><br>– ښوونکی دې د کتاب د پای فعالیت (د غونډې جوړول او د روان ښوونیزکال د کار د بهیر ارزول) په زده کوونکو عملي کړي او په خپله دې څارنه وکړي. | – زده کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره سم د لوست په پای کې په لیکل شوو ټولو فعالیتونو کې فعال ګډون کوي.<br>– زده کوونکي د ښوونیز کال د پای په غونډه کې، چې د ښوونکي تر څارنې لاندې په ټولګي کې جوړیږي، فعال ګډون کوي او له لارښوونې سره سم د غونډې بهیر پر مخ وړي.<br>– زده کوونکي دې ددې کتاب د محتوا او ژبې په اړوند خپل نظر له ښوونکي سره شریک کړي، چې که عملي اړخ یې درلود، د کتاب په نوې کتنه کې ورته پام وشي.<br>د ټولو زده کوونکو د بریالیتوب په هیله. |

**اضافي معلومات:**

**د ادبي ټوټې بېلګه:**

## ښکالو

د سپلمۍ لویو ګڼو بوټو او ګورو پاڼو کې هوسۍ له څړنه سر پورته، شخوند یې بند کړو. غوږونه یې بوڅ کړل، اریانه ودرېدله. داسې چې له ځانه نه وه خبره. ملخ د سپلمۍ په سرپاڼه ورو ورو غلی غلی راغی. د هوسۍ غوږ ته نږدې شو.

هوسۍ! څه دي؟ ولې خپه یې؟

اهو! دا اوښکې، ولې واښه نه خورې؟ سپرلی تېر شو... واښه وچ څه؟ هوسۍ یوه طرف ته سترګې بکې کړي دي او غوږونه ټکی. ملخ بیا ووې. د چا ښکالو ده، څه؟

هوسۍ دیکه وخوړه. هو! نه، واښه وچ دي او نه ترږې یم. ښکالو ده. د چا ښکالو، تشه ښکالو، بس ښکالو، د چا د یاد ښکالو!!

ملخ: پوه نه شوم؟

هوسۍ: ته لانه وې. دا سپلمۍ وړې وړې وې. زه او اشنامې دلته څرېدو، ښکالو شوه. ما دغه شانې غوږونه بوڅ کړل. دغه شان. اشنامې دغه شان ووې، همدغه شان لکه تا چې ووې...! ډز شو... موږ ټوپ کړ. زه تر باغه... د بادشاه د زوی سرکلي وه... ډمې ګډېدې، غوښې ورتېدې، بېګمې خندېدې، ملکه په تخت ناسته وه، زما د سترګو په اوښکو پوه شوه. لکه چې ته پوه شوې. آخر زنانه عالم و، ما ووې بي بي، مېرمنې! زما د ... تیکې ستا باور چې خانه کې ورتېږي. خو دا څرمن یې ماته راکړه. زه به یې په یوه ونه کې آوېزانده کړم... ورته به ګورم، د زړه سود به پرې کوم.

ملکې ووې: نه، څرمن تاته نشي درکولی، سویلو ووې: نه، هېچرې نه! دې نه به موږ تمبل جوړوو.

ګوره غوږ کښېږده! نن د هغه بادشاه د زوی سنتګیري ده...

تمبل وهلی شي. دغه آواز اورې؟ دا زما... د څرمنې تمبل دی... په مایې آواز خوږ لګې، زما پرې سود کېږي. ښکالو ده، ... زه پرې پوهیږم، ته پرې نه پوهېږې... سود پرې کوم سود!!

((سید راحت الله زاخیلی))

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سفر

شپه تياره وه. لاره اوږده، کنډو او کپرړ دومره کړليچنه وه چې د موټر د هرې ټالې سره به د سورليو له خولې نه يې اختياره د خدايه خير کې چيغه ووتله. موټر هم داسې ښېاکه او ګړندی روان و چې تا ويل ډريور د سورليو له ژوند سره لوبې کوي. ډېر اوږد او لوی موټر و. په سورليو کې سپين ږيري، زلميان، ماشومان، پوره کورنۍ رايوځـاى شـوې وې. سفر اوږد و او ټول پرديسان په دې هم نه پوهېدل چې کله او څنګه به منزل ته ورسيږي. د شپې په توره تياره کې دغـه اوږد سفر له خطر نه خالي نه و او د ډريور بې باکه او تيز چلند خو نور هم خطرناک کړی و. لاره هم اوږده او ګډه وډه وه چې هره ګړی د موټر اوړيدو خطر موجود و. ناستو سورليو اوس د خپل ځان اختيار نه درلود او يوازې د ډريـور پـه ارادې پورې تړلي وو. سورلۍ ټولې وبربېدلې خو يوازې په مخکيني سيټ کې ناست څو کسان د ډريور په شان وو چـې هغه تيز او بې باکه چلند ستاينه به يې کوله او د هغه په څېر به يې د نورو سورليو پورې په کټ کټ خندل او په ډريـور باندې به يې هره شيبه شاباس وايه. داسې برېښېده چې زموږ د ټولو سورليو اختيار د دغه کسانو په واک کې هم و. کلـه چې د موټر رفتار نور هم پسې تيز شو نو زموږ له منځ نه يو سپين ږيري هغه ته د ارام تګ وويل خو د مخکيني سيټ يـو تن هغه په خوله کې وواهه او په ځای يې غلې کښيناوه. يو بل غږ کړ که چراغونه دې خراب شي نو بيا خو بــه پــه دې دښته کې د ليوانو خوراک شو. خو د هغه په خوله کې هم ډريور داسې خبره وچه کړه چې په خپله خبره حيران شو. يـو روحاني سړی چې د ډريور او د هغه د خواته کسانو له مسخرو او خندا نه تنګ شو نو وېې ويل ښه به داوي چې خـدای ياد کړو چې سفر مو په خير شي. خو هغه يو تن په خوله کې وواهه او وېې ويل دا خو جومات نه دی، يو بــل د مــوټر د اوړيدو له خطر نه انديښنه ښکاره کړه، خو په هغه باندې يې دومره وخندل چې بيا بل چا خبرې ته ځان جوړ نه کړ او هر چا خپله خبره په خپل زړه تېروله.

د شپې په تورتم او ورانه ويجاړه لاره کې زموږ اوږد موټر په تيزۍ روان و او هر مسافر له خدايه د خپل ژوند د خيــرات دعا کوله. اوږده لاره، توره شپه او درون موټر د ټولو مسافرو وجودونه له وېرې او وهم نه درانـــه کـــړي وو. اوس نـــو يوازې ډريور او د مخکيني سيټ ناستو کسانو خبرې کولې او نورې سورلۍ داسې چوپ او غلې ناستې وې چې د خپـــل ژوند لحظې يې شمارلې. خدای خبر چې څومره سفر به مو کړی وو. څومره ورانه او ويجاړه لار به مو وهلـــې وه چـــې ناڅاپه ګرز شو او چې موټر دوه درې سر کوندۍ وخوړلې نو بيا مو سترګې پټې شوې او له يو بل نه خبر نه شولو.

څه وخت به و، هېڅ مې په ياد نه دي خو چې کله مې سترګې وغوړولې او خبر شوم نو يوه بله دنيا وه. يو وران او ويجاړ کلی و. هماغه کسان وو خو په هغه ډول نه زموږ په ځان کې کالي نه وو. يوازې سپينې سپينې ټوټې مو له ځان نه تـــاوې وې. هغه پخوانی احساس، حرکت او اراده هم په موږ کې نه وه. هغه اړيکې مو هم يو له بل سره نه وې. په کـــښېناستلو او خوځېدلو هم نه پوهيدو، يو په بل نه ورتلو. څنګه خوځېدلو، څنګه ګرځېدلو، هېڅ پرې نه پوهېدو. زموږ په وس کـــې څه نه وو. موږ ټول مړه وو. هلته ژوند نه و. بس د مړو ښاريه وه. د مړو مالت و. يوه هديره وه. د چا کفـــن زوړ د چـــا څيرې او څوک لغړ وو، د چا قبرونه جوړ او د چا وران وو. موږ ټول بې روحه بتان وو. د مړو زېړې ځېښنلې څېرې يوه خوا او بله خوا بې ځانه خوځېدولو چې له بل سره به د ټکر په وخت کې لکه بې روحه بتان پرمخ يې لوېـــدلو. د ځينـــو ږيرې، ويښتان او نوکان اوږده شوي وو او د ځينو غوښې خو داسې توږل شوې وې چې يوازې د هډوکو اميل بـــه روان وو. د هډوکو کړسا به يې ختله، په يخني، ګرمي او لوږه نه پوهېدو، بې ځانه خوځېدو، بې ځانه ګرځېدو او بـــې ځانـــه غورځيدو. ځکه چې موږ ټول مړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مړو په هديره کې وو. واک او اختيار مو نه پيژانده او نه موله وسه څه کېداى شول.
يوه شپه ما وليدل چې ګورلتۍ (د پشو په څېر يو ځناور دى، چې قبر سورى کوي او نوي مړي خوري.) په يو مړي لګيا دى، خوري يې، مړي هېڅ نشو کولاى او ګورلتۍ د هغه د بدن په هره برخه کې خوله ښخوله. خوله يې له وينو ډکه وه او داسې ښکارېدله چې دغه مړى تازه وو. ګورلتۍ به لا نوره هم خوله وهله خو چې زه يې په نظر شوم نو زما پر لور يې رامنډه کړه او کله چې يې زما په پنډۍ يې خوله ولګوله نو يوه بې اختياره کړيکه مې وکړه، د کړيکې سره سم دم راپاڅېدم، څه ګورم چې زوى مې پښه خوروي، زما وجود سست او له خولو نه لوند خيشت وو، شاوخوا مې وکتل ځان مې وښوراوه، زه ژوندى وم، شکر مې وويست. زوى ته مې غږ کړ. بابا را پاڅېږه چې روانېږو، سفر اوږد دى. زوى مې مخکې او زه ورپسې شوم. همغه موټر ته وختلو چې موږ په کې خپل سفر پيل کړى وو. خو اوس هغه موټر زوړ شوى و، ښيښې يې ماتې او کړکۍ يې لويدلې وې. په هغو سورليو کې هم واړه زلميان شوې وو او ځلميان د سپين ږيرتوب او بوډاتوب مرحلې ته رسېدلي وو.
په مخکيني سيټ کې ناست کسان هم بدل شوي وو او د موټر جلو ته يو بل څوک ناست وو. موږ وختو او موټر روان شو. خو اوس موټر له پخوانه زيات ډارونکى وو، له موټرنه د وينو سوږ بوي راتلو، ځاى ځاى پرې د وينو خاپونه ښکارېدل. داسې ښکارېده چې دې ښامار يو نسل له ستونې نه تير کړى و. اوس هم زموږ موټر روان دى، اوس هم سفر اوږد دى، لاره له پخوانه زياته کندې کندې شوې ده. کړليچونه لاپسې زياته شوې دي. ځاى پر ځاى د موټر نه سورلۍ کېوزي، نوې سورلۍ هم را خېژي ډېره لاره مو وهلې ده، خو منزل نه ښکاري، سفر هماغسې اوږد دى، لاره هم کنده او کپر او کږلېچنه ده. خداى خبر چې منزل، مقصود ته به ورسېږو، که نه؟

**پـــاى**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**